# سیګار

د افغانستان د بیا رغونې لپاره
ځانګړی عمومي پلټونکی

۳۰ جنوري
۲۰۱۰






درې میاشتنی راپور د متحده ایالاتو کانګرس ته

**د سرپاڼي انځورونه (د ښي لور ته):**

**یو په اپیمو روږدی افغان** د پخواني او تخریب شوي شوروي کولتوري مرکز نه ځي، چېرته چې زیاتره وخت نشه يي توکي خرڅول او اخیستل کېږي، د دې لپاره چې په کابل کې د نشه يي توکیو د علاج او رغېدنې په مرکز کې مرسته ترلاسه کړي. (د ایسوسي ایټډ پریس انځور)

**سیګار په وروستیو کې د لوژیستیک سیمییز مرکز جوړول معاینه کړ،** چې د ګډ منطفوي افغان ملي امنیتي ځواکونو د ساحې (JRAC) یوه برخه ده. (د متحده ایالاتو د پوځي انجینیرانو فرقه)

**یو افغان سړی** او د هغه کورنۍ په کابل کې انار خرڅوي، کوم چې د کوکنارو د فصل بدیل دی. (د ملګرو ملتونو د مخدره موادو او جرمونو سره د مبارزې دفتر)

**د روزنې او څارنې له لارې** د افغان امنیتي ځواکونو د اندازې، خپلواکې، او وړتیاوو پیاوړي کول د متحده ایالاتو د دولت له لوړو لومړیتوبونو څخه یوه ده. (د متحده ایالاتو د هوایي ځواک انځور، ماسټر سارجنټ، جیري موریسون)

# سیګار

د افغانستان د بیا رغونې لپاره ځانګړی عمومي پلټونکی

۳۰ جنوري ۲۰۱۰

**د ملي د فاع د صلاحیت ورکولو قانون (پي. ایل. ۱۸۱- ۱۱۰)**
**د افغانستان د بیا رغونې لپاره د ځانګړي عمومي پلټونکي (سیګار) بنسټ کیښود.**

د سیګار د نظارت مشن، لکه چې د قانون په جوړولو کې تعریف شوی، په خپلواک او مقصدي ډول لاره برابرول دي چې

- د هغو پلټنو او معاینو ترسره کول او نظارت چې د هغو پروګرامونو او عملیاتو سره تړلې وي چې د پیسو بودیجې ورته د افغانستان د بیا رغونې لپاره اختصاص شوې او یا په بل ډول په لاس ورکړل شوې وي.
- په هغو تګلارو کې مشرتابه او انسجام، او سپارښتني، چې د پروګرامونو او عملیاتو په اداره کې اقتصاد، استعداد، او اغېزمنتیا ته د ودې ورکولو لپاره جوړې شوې وي؛ او په داسې پروګرامونو او عملیاتو کې د ضیاع، دوکې او ناسم استعمال مخنیوی وکړي او معلوم یې کړي.
- د داسې پروګرامونو او عملیاتو د ادارې سره تړلیو ستونځو او بې کفایتیو په اړه او د پرمختګ او تصحیحي اقدام د ضرورت لپاره د بهرنیو چارو د سکرتر او د دفاع د سکرتر د بشپړ او تازه معلوماتو څخه د خبر ساتلو ذریعې.

د افغانستان په بیا رغونه کې هر هغه ستر قرارداد، رقم، تړون، او یا د بودیجې هر هغه میکانزم شامل دی چې د متحده ایالاتو د حکومت د کوم داسې ریاست یا ادارې لخوا ورکړل شوی وي چې د هغو پیسو په استعمال کې ګډون لري چې د افغانستان د بیا رغونې لپاره اختصاص شوې او یا په بل ډول په لاس کې ورکړل شوې وي؛ د افغانستان سیاسي یا ټولنیزې ادارې تاسیس او یا یې بیا رغوي؛ او د افغانستان خلکو ته تولیدات یا خدمتونه برابروي.

سرچینه: پی. ایل. ۱۱۰ -۱۸۱ "د مالي کال ۲۰۰۸ لپاره د ملي دفاع د صلاحیت ورکولو قانون،" ۲۰۰۸\۲۸\۱.

# د افغانستان اسلامي جمهوریت



د افغانستان د بیا رغونې لپاره
ځانګړی عمومي پلټونکی

۳۰ جنوري ۲۰۱۰

زه خوښ یم چې د سیګار شپږم درې میاشتنی راپور د کانګرس د دفاع او بهرنیو چارو د وزارتونو لپاره برابروم. د پي. ایل ۱۱۰-۱۸۱ د ۱۲۲۹ برخې د غوښتنو په تتبع سره، دا راپور په افغانستان کې د بیا رغونې د پروګرامونو د حالت په اړه یو تازه حال وړاندې کوي او د هغې درې میاشتنی لپاره د سیګار د فعالیتونو سند جوړوي چې په ۳۱ دسمبر ۲۰۰۹ پای ته رسېږي. له ۲۰۰۲ راهیسې، کانګرس د افغانستان د بیا جوړولو لپاره تقریباً ۵۱ ملیارده ډالر مختص کړي دي، او د مالي کال ۲۰۱۱ لپاره اضافي بودیجه شوني ده.

زه افغانستان ته د خپل شپږم سفر څخه همدا اوس راستون شوی یم، چېرته چې متحده ایالاتو د خپلې نوې هغې ستراتیژۍ تطبیقول پیل کړي چې ولسمشر باراک اوباما په دسمبر ۲۰۰۹ کې ښکاره کړې ده. د متحده ایالاتو په سرتېرو او ملکي کارکوونکیو کې زیاتوالی په دې موخه کېږي چې دا هېواد باثباته کړي او یوه د ۱۸ میاشتو داسې د موقعې کړکۍ جوړه کړي چې د افغان دولت دا توان پیاوړی کړي چې د خپل امنیت په برابرولو او خپلو خلکو ته د اساسي خدمتونو په رسولو کې رهبري رول ترسره کړي.

د دې لپاره چې د سرتېرو د زیاتولو د موقع څخه بشپړه ګټه واخیستل شي، د متحده ایالاتو حکومت د هغې طریقې بهترولو ته اړتیا لري په کومه چې دا د بیا رغونې پروګرامونه جوړوي او تطبیقوي. په دې څلورو برخو کې لازمه ده چې نوره پاملرنه وشي:

- د مناسبو بشري او مالي سرچینو برابرول چې د تګلارو اهداف ترلاسه شي
- داسې پیمانې جوړول چې په اغېزمن ډول د پروژې او پروګرام پایلې پیمانه کړي څو دا خبره یقیني شي چې د بیا رغونې اهداف ترلاسه شوي دي
- د قراردادیانو د لا بهتر نظارت موقع برابرول
- د اداري فساد د مخنیوي لپاره د هڅو زیاتول

د انتقال د نوې ستراتیژۍ ستره برخه د متحده ایالاتو او نړیوالو په دې هڅو اتکاء کوي چې د افغان ملي امنیتي ځواکونو (ANSF) روزنه، تجهیزونه او سرپرستي تېزه کړي. د متحده ایالاتو حکومت د ANSF د جوړولو لپاره نږدې ۲۷ ملیارده ډالر – د بیا رغونې د ټولو ډالرو د نیمې نه زیات – ورکړي دي. په ۲۰۰۹ کې، د حکومت د احتساب دفتر او د دفاع وزارت د عمومي پلټونکي دفتر د متحده ایالاتو د روزنکیو او د ایتلافي سرپرستانو کمبود د افغان امنیتي ځواکونو په پیاوړي کولو کې د ستر خنډ په توګه وپېژندلو. د تېرې مۍ په میاشت کې د سیګار یوې پلټنې معلومه کړه چې د ګډ امنیتي انتقال قومانده – افغانستان (CSTC-A)، کومه چې د ANSF د روزلو مسوولیت پر غاړه لري، د خپلو هغو قراردادونو لپاره کافي نظارت نه درلود چې روزنې او سرپرستۍ یې برابرولې. د دې پلټنې د موندنو باوجود، په افغانستان کې د متحده ایالاتو قوماندانانو په دې وروستیو کې ما ته وویل چې هغوی اوس هم روزونکیو، سرپرستانو او د قراردادونو چاروکیو ته عاجله اړتیا لري.

سیګار د متحده ایالاتو د بیا رغونې د هڅو نهه رواني پلټنې لري، چې شپږ یې د امنیت سره تړلې دي، په ګډون د ANSF د اسانتیاو د رغولو د قراردادونو د کتنو او د هغو پروګرامونو جاجونې چې افغان دولت ته د امنیت د مسوولیت د انتقال لپاره د متحده ایالاتو د ستراتیژۍ مرکزي ټکي دي. د بېلګې په توګه، د دې پلټنو څخه یوه د هغې درجې اندازه اخلي د کومې د استعداد د معلومونې سیسټم چې د ANSF د ظرفیت یوه اعتباري پیمانه برابروي.

د نوې ستراتیژۍ د لاندې، متحده ایالاتو او نړیوالو شریکوالو یې په افغانستان کې د دولتدارۍ په بهترولو او د نوې دوامداره اقتصادي ترقۍ په پیدا کولو هم تمرکز کړی دی. د دولتدارۍ په مسلو کې یوه مهمه مسله اداري فساد دی، کومه چې ولسي اعتماد له

منځه وړي او د پرمختګ هڅو ته زیان رسوي. د دې درې میاشتنۍ پر مهال، سیګار د هغې اداري فساد ضد اقدام د برخې په توګه چې مونږ تېر کال پیل کړی و دوه پلټنې خپرې کړې دي. لومړنۍ پلټنې د افغانستان د نظارت د عالي دفتر (HOO) جاج واخیست او معلومه یې کړه چې دا په مهم ډول نور واک، خپلواکۍ او د مرستندویانو مرستې ته اړتیا لري څو د فساد پر ضد یوه اغېزمنه اداره جوړه شي. دویمې پلټنې هغه اقدامات پېژندلي چې د متحده ایالاتو حکومت یې د دې لپاره اخیستلو ته اړتیا لري چې د عدلي امنیت لپاره خپله مرسته لا ښه پلان او منسجمه کړي، کومه چې د قانون د حاکمیت او د عدلي پروګرامونو د دوامدارۍ لپاره مهمه ده.

د سیګار پلټنې یواځې په انفرادي پلټنو نه بلکې په دې هم تمرکز کوي چې دا قراردادونه په سترو پروګرامونو کې څرنګه سمون خوري او څرنګه دا پروګرامونه د متحده ایالاتو د ستراتیژیکو اهدافو ملاتړ کوي. د بېلګې په توګه، په دې درې میاشتنۍ کې سیګار دوه داسې پلټنې خپرې کړې چې د انرژۍ په سکټور کې د پرمختګ سره یې تړاو درلود. یوې د انرژۍ په ټول سکټور کې د متحده ایالاتو او نړیوالو هڅو ته کتنه کړې. دویمې د یوې واحدې پروژې – د ۳۰۰ ملیونه ډالرو په لګښت د کابل د برېښنا پلانټ – جاج اخیستی کوم چې د سختو ځنډېدنو او بې ځایه لګښتونو سره مخ شوی دی. دې پلټنو داسې سیستماتیکې ستونځې پېژندلي چې پایله یې د متحده ایالاتو د ټېکس ورکوونکیو د ډالرو ښخې ضیاع راوتلې، په ګډون د یو عصري ماسټر انرژۍ پلان د نشتوالي، د قراردادونو خراب انتظام، ناسم ارتباط، او د دوامدارۍ په اړه پوښتنې.

سیګار په همدغسې پوره ډول د دوکې معلومولو او د هغې مخنیوې کولو ته ژمن دی. د دې راپور ورکولو په موده کې، مونږ د متحده ایالاتو د بیا رغونې د بودیجو د ساینسي طریقه کار یو تحلیل پیل کړ د دې لپاره چې په سیستماتیک ډول د دوکې او ضیاع د احتمالاتو ښودونکي معلوم کړو. دا تحلیل به د تمرکزي پلټنو او جنایي تحقیقاتو د اهدافو د پېژندلو لپاره وکارول شي. په دې درې میاشتنۍ کې، زمونږ د جنایي تحقیقاتو ریاست ۱۷ نوې قضیې پرانستې او یوه لیکلې سپارښتنه یې کړې چې د متحده ایالاتو په بودیجه د انرژۍ د پروژې د یو ستر ضمني قراردادي پر ضد دې کار نه د ایسته کولو او بندیز د عمل اقدام وشي. سیګار همدارنګه په هغو تحقیقاتو کې هم برخه اخیستې چې پایله یې د دوو قراردادیانو د رشوت په هڅه کې په جزا رسېدل وو.

د سیګار نظارت – زمونږ د پلټنې راپورونه او تحقیقات – د بیا رغونې د هڅو یوه اساسي برخه ده، چې د متحده ایالاتو د ادارو سره د خپل کار په بهترولو او د دوکې، ضیاع او ناسمې استفادې په مخنیوې کې مرسته کوي. مونږ به په قراردادونو او پروګرامونو باندې د دې لپاره راپور ورکولو ته دوام ورکوو چې ستونځې وپېژنو او د سموونکو اقداماتو سپارښتنه وکړو. مونږ به د دوکې او ناقانونه چلند د تورونو تحقیق کوو. مونږ به دا چارې د دې لپاره تعقیبوو چې یقیني کړو چې زمونږ کار بدلون راوړي، او د زیات احتساب او د بیا رغونې د ښو نتیجو په لور مو بوځي.

په ډېر درناوي

ارنلډ فیلډز

د افغانستان د بیا رغونې لپاره ځانګړی عمومي پلټونکی

SPECIAL INSPECTOR GENERAL
مفتش خاص برای بازسازی افغانستان
دافغانستان دبیارغونی خانگری مفتش
AFGHANISTAN RECONSTRUCTION

# د منځپانګې لیست

## لومړۍ برخه

### د افغانستان عمومي کتنه




نوې ستراتیژۍ 3
امنیت 5
دولتداري 6
پرمختیا 7
د نظارت انسجام 9


## دوییمه برخه

### د سیګار نظارت




پلټنې 13
تحقیقات 32
د سیګار بودیجه 34
د سیګار کارکوونکي 35


## دریيمه برخه

### د بیارغونې تازه حال




عمومي کتنه 39
د بودیجو حالت 43
امنیت 59
دولتداري 77
اقتصادي او ټولنیزه پرمختیا 97
دمخدره موادو پر وړاندې مبارزه 111

# د منځپانګې لیست



## څلورمه برخه

### د نورو ادارو نظارت


د نظارت بشپړ شوي فعالیتونه 123

د نظارت روان فعالیتونه 123

د نورو ادارو تحقیقات 133

د نورو ادارو معاینې 133


### ضمیمې


ضمیمه الف: قانوني غوښتنو سره د راپور د حوالو کتنه 136

ضمیمه ب: د متحده ایالاتو د دولت مختص شوي بودیجې 140

ضمیمه ج: د سیګار پلټنې 142

ضمیمه د: د سیګار د مرستې شمېره او تحقیقات 144

ضمیمه هـ: لنډیزونه او مخففات 145


### پایلیکونه


پایلیکونه 148

**د بیا رغونې ننګونې**

قراردادیان د کابل د برېښنا په پلانټ کار ته ادامه ورکوي. په دې درې میاشتنۍ کې، د سیګار پلټنې د دې پروژې معاینه وکړه، کوم چې لا د مخه د ټاکل شوې نېټې څخه یو کال وروسته پاتې ده. دا ځنډ به یې لګښتونه تقریباً لږ تر لږه ۴۰ ملیونه ډالر زیات کړي. (د سیګار انځور)

# 1 افغانستان عمومي کتنه



"مونږ به د دوه طرفه درناوي پر بنسټ افغانستان سره ملګرتیا کوو – څو هغه خلک یواځې کړو چې تخریب کوي؛ هغه خلک پیاوړي کړو چې رغونه کوي؛ چې هغه ورځ رانیږدې کړو چې زمونږ ځواکونه به ووځي؛ او چې یوه داسې تلپاتې دوستي جوړه کړو چې په کومه کې امریکا هیڅکله [د افغانستان] سرپرسته نه، بلکې [د افغانستان] ملګرې وي."

- د متحده ایالاتو ولسمشر باراک اوباما

سرچینه: سپینه مانۍ، مطبوعاتي اعلامیه، "په افغانستان او پاکستان کې د مخ په وړاندې تللو په اړه ملت ته د ولسمشر د بیانیې څرګندونې،" ۲۰۰۹\۱\۱۲.

# د افغانستان عمومي کتنه

د دې راپور ورکولو په موده کې، متحده ایالاتو او نړیوالو ملګرو یې په افغانستان کې د امنیت د بهترولو لپاره پلانونه اعلان کړل. هغوی همداراز د بیا رغونې د داسې نویو ستراتیژیو تطبیقول پیل کړل چې تمرکز یې د افغانستان د اسلامي جمهوري دولت سره په دې کار کې مرسته کول دي چې داسې ظرفیت جوړه کړي چې د خپل امنیت مسوولیت په خپله په غاړه واخلي او خپلو خلکو ته اساسي خدمتونه ورسوي. افغانان په دې توانول چې د خپل راتلونکي مسوولیت په خپله په لاس کې واخلي، متحده ایالات او نړیواله ټولنه د دې لپاره خپلې هڅې تېزوي چې افغان ملي امنیتي ځواکونه (ANSF) جوړ کړي، دولتداري بهتره کړي، او اقتصاد ته وده ورکړي.

## نوې ستراتیژۍ

د دسمبر په میاشت کې، ولسمشر باراک اوباما اعلان وکړ چې متحده ایالات به افغانستان ته ۳۰،۰۰۰ اضافي سرتېري د دې لپاره واستوي چې "اقدام وکړي، په داسې حال کې چې افغان ظرفیت جوړوي کوم چې افغانستان نه زمونږ د ځواکونو په وتلو کې او د مسوولیت د انتقال لپاره لاره هواره کړي."[1] ولسمشر باراک اوباما وویل متحده ایالات اراده لري چې د افغانستان نه د خپلو ځواکونو راایستل د ۲۰۱۱ په دوبي کې پیل کړي. په دې توګه هغه د ۱۸ میاشتو یو ضرب الاجل وټاکه چې د واک د لېږد ستراتیژۍ په لاره واچوي.

ولسمشر وویل چې متحده ایالات به د نړیوالې ټولنې سره نه یوازې د دې لپاره کار وکړي چې د افغان امنیتي ځواکونو د روزنې او سرپرستۍ رواني هڅې زیاتې کړي، بلکې د دې لپاره هم چې یوه داسې نوره زیاته اغېزمنه ملکي ستراتیژي جوړه کړي چې هغه د افغانستان دولت په دې وتوانوي چې د بهتر شوي امنیت څخه ګټه واخلي. متحده ایالات په سلګونو داسې نور اضافي ملکي ماهرین ځای پر ځای کوي چې افغانانو سره په ملګرتیا به د ملي، ولایتي، او د ولسوالی د دولتي ادارو ظرفیت پراخ کړي. د ملکي ماهرینو دا زیاتوالی به په مهمو برخو، لکه زراعت، کې د اقتصادي مرستې په پروګرامونو کې هم ګډون وکړي، کوم چې په سمدستي توګه د افغانانو د ژوند په بهترولو کې مرسته کولی شي.

د ملګرو ملتونو عمومي منشي د ملګرو ملتونو د امنیت شورا ته په خپل تازه راپور کې ویلي چې افغان دولت او نړیواله ټولنه دواړو "دا ضرورت پېژندلی چې په مهم ډول د افغانستان د ملي پرمختیا په ستراتیژۍ ته د دې لپاره بیا پام وکړي چې د دې پلي کول بهتر کړي."[2] د جنوری د میاشتې په پای کې، د برتانیې صدراعظم ګورډن براون، افغان ولسمشر حامد کرزی، او د ملګرو ملتونو عمومي منشي بان کي مون په لندن کې د یو نړیوال کنفرانس کوربانه وو څو د افغانستان د بیا رغونې د اړتیاو بیا جاج واخلي او چې د واک د لېږد د هغې ستراتیژۍ لپاره نړیوال ملاتړ ترلاسه کړي کومه چې د امنیت په بهترولو او د دوامداره دولتي ادارو په جوړولو تاکید کوي کوم چې خدمتونه وړاندې کولی او د افغانانو لپاره اقتصادي پرمختیا ترلاسه کولی شي. په لندن کنفرانس پسې به یو بل نړیوال کنفرانس په پسرلي کې په کابل کې کېږي. د کابل کنفرانس افغان دولت ته یوه موقع برابرولی شي چې د یو



**د ولسمشر لوړپوړي مشاورین** په افغانستان کې د متحده ایالاتو په نوې ستراتیژۍ د ولسمشر باراک اوباما بیانیه اوري کوم چې یې په ویسټ پواینټ اکاډمي کې کړې و. (د سپینې مانۍ انځور، پیټي سوزا)

ستراتیژیک پلان په تړاو د مشخصو پروژو لپاره د نړیوالې بودیجې غوښتنه وکړي.

د متحده ایالاتو حکومت د هغې طریقې بدلول پېلوي چې دا پکې پرمختیایي مرسته په افغانستان او په ګرده نړۍ کې تطبیقوي. د بهرنیو چارو سکرترې هیلري کلنټن د نړیوالې پرمختیا مرکز ته د ۲۰۱۰ د جنورۍ په ۸مه نېټه په خپل تقریر کې د خپل نوي طریقه کار خاکه واضح کړه، په کوم کې چې شامل دي ۱) د پر مخ تلونکیو هېوادونو سره په لا زیاته ملګرتیا کې کار کول چې د مرستې پروګرامونه جوړ او پلي شي او ۲) د پروژو د جوړولو، پلي کولو او جاج اخیستلو لپاره په شخصي قراردادیانو کمه اتکاء کول.[3] دا د دې مانا لري چې متحده ایالات به د بیا رغونې د پروګرامونو لپاره د افغانستان په دولتي ادارو اتکاء زیاته کړي.

د ۲۰۰۲ راهیسې، متحده ایالاتو د افغانستان د بیا رغونې لپاره تقریباً ۵۱ ملیارده ډالر برابر ورکړي دي. د نوې ستراتیژۍ له امله، تمه کېږي چې د اوباما اداره به په مالي کال ۲۰۱۱ کې د افغانستان د بیا رغونې لپاره د اضافي پیسو د اختصاص غوښتنه وکړي.

سیګار د خپل نظارتي مشن د برخې په توګه د قراردادونو داسې تمرکزي پلټنې او د پروګرامونو کتنې ترسره کوي چې د دوکې، ضیاع او ناسمې استفادې مخنیوی وکړي او معلوم یې کړي؛ دا همداراز د متحده ایالاتو نوې پرمختیایي ستراتیژۍ ته ځانګړې پاملرنه کوي. سیګار د دې خبرې اندازه لګوي چې ایا د امنیت، دولتدارۍ، او پرمختیا په سکټورونو کې د متحده ایالاتو په بودیجه د بیا رغونې پروژې او پروګرامونه هغه وسایل او سرچینې لري چې هغه لاسته راوړنې ولري چې متحده ایالات په دې وتوانوي چې د ۲۰۱۱ په پسرلي کې افغانستان نه د خپلو پوځونو ایستل پیل کړي.

## امنيت

د تېرې درې مياشتنۍ څخه راوروسته، امنيت د افغانستان په ټوله زياتره برخه کې خراب شوی، چې د بيا رغونې د هڅې هر اړخ يې اغېزمن کړی دی. ملګرو ملتونو راپور ورکړی چې ملکي تلفات زيات شوي دي او ياغيان د ټولنې مشران او علماء په نښه کوي. تشدد د افغان دولت لا د مخکې نه محدود توان کم کړی چې خلکو ته بنسټيز خدمتونه ورسوي، لدې امله په دولت د خلکو اعتبار کم شوی دی. په امنيت کې خرابوالی "په پرمختګ کې د يوائينې ستر خنډ" په توګه د تشريحولو پر مهال د ملګرو ملتونو عمومي منشي وويل، "ياغيانو د خپلو متوازن واليانو او ولسوالانو په ټاکلو، د ټېکسونو په ټولولو، د خمکو په شخړو کې د "انصاف" اداره کولو، د تورنو جنايتکارانو په اعدامولو، او د رجعتي ټولنيزو عادتونو په نافذولو سره د حکومت د محدود موجوديت څخه استفاده کول زيات کړي دي."[4]

د مرستې په کارکوونکيو چې بشري مرستې رسوي او په هغو قراردادیانو چې د بيا رغونې پروژې ترسره کوي بريدونه زيات شوي دي. د سيګار دوه پلټنو چې په دې درې مياشتنۍ کې خپرې شوي خراب شوی امنيت د متحده اياﻻتو په بوديجو د انرژۍ په سکټور کې د پروژو په بشپړوالي کې خنډ د يو له سترو لاملونو په توګه پېژندلی دی.

د امنيت د بهترولو لپاره د متحده اياﻻتو او نړيوالو د ستراتيژۍ د برياليتوب اتکاء د يو اغېزمن افغان امنيتي ځواک په جوړولو ده. متحده اياﻻتو خپل د بيا رغونې د بوديجې نيمه – تقريباً ۲۷ مليارده ډالر – د افغان ملي اردو (ANA) او افغان ملي پوليسو (ANP) د روزلو او تجهيزولو لپاره مختص کړي دي. سيګار د امنيت په سکټور کې د متحده اياﻻتو په بوديجه د بيا رغونې د هڅې د بېلابېلو اړخونو د معاينې لپاره شپږ رواني پلټنې لري. په هغوی کې دوه پلټنې د بيا رغونې هغو قراردادونو ته کتنه کوي چې په کندز، فراه او ننګرهار ولايتونو کې د افغان پوځ او پوليسو د مرکزونو د جوړولو لپاره شوي دي او يوه پلټنه په کندهار کې د ANSF د ګډ سيمييز مرکز د جوړولو د قرارداد اندازه اخلي.

په نورو دوو پلټنو کې، سيګار همداراز د دې خبرې جاج اخلي چې متحده اياﻻت د ANSF د وړتياو او د ANSF د پرسونل د سمبالښت د سيستمونو پيمانه څرنګه کوي. دا دواړه پلټنې هغه مسلې بحث کوي چې افغان دولت ته د خپل امنيت د ساتلو د مسووليت د انتقال لپاره د متحده اياﻻتو د ستراتيژۍ په برياليتوب کې مرکزي رول لري. لومړنۍ پلټنه اندازه اخلي د ۱) هغو طريقو چې د ANSF د وړتياو د پيمانه او تاييد لپاره کارول کېږي، ۲) د هغې درجې تر کومې چې د تيارۍ د اندازې طريقې د ANA او ANP ترمنځ او په منځ کې مختلفې وي، ۳) د هغې درجې تر کومې چې د وړتيا د درجه کولو سيستم د ANSF د وړتياو يوه اعتباري خاکه وړاندې کوي، او ٤) او د هغو ننګونو، لکه امنيتي چاپېريال، حد چې د ANSF د وړتياو په اندازه کولو کې يې د متحده اياﻻتو د هڅو مخه نيولې ده. دويمه پلټنه د هغه حد جاج اخلي تر کومه چې ANSF داسې دقيق سيستمونه جوړ کړي چې د خپل پرسونل په غاړه ولري.

په داسې حال کې چې متحده اياﻻت او نړيواله ټولنه د افغان امنيتي ځواکونو په جوړولو زور ورکوي، سيګار په دې عقيده دی چې دا خبره ډېره مهمه ده چې د روزنې او سرپرستۍ هڅو ته سمې سرچينې برابرې شوې وي. د امنيت د انتقال ګډه قومانده – افغانستان (CSTC-A) بايد د ځواکونو د تېز شوي عمومي رفتار د اغېزو نګراني وکړي، په کوم کې چې شامل دي د ANSF د بهترۍ د درجو او د هغه حد تعقيبول تر کومه چې د روزنو په واسطه تر لاسه شوی ظرفيت د وخت په تېرېدو دوام کوي. دا ډېره مهمه ده چې ANSF لوژيستيکي ظرفيت او هغه اسانتياوې ولري چې د خپل پوځې او پوليسي ځواک ملاتړ پرې وکړي. د امنيت په سکټور کې د متحده اياﻻتو د بيا رغونې د پروګرامونو د برياليتوب تر ټولو مهمه پيمانه به باﻻخره هغه درجه وي په کومه کې چې افغانان ANSF ته د يو مشروع او اغېزمن ځواک په توګه وګوري.

## دولتداري

د ۲۰۰۹ د نومبر په ۱۹مه نېټه ولسمشر حامد کرزي د دويمي دورې لپاره د افغانستان د ولسمشر په توګه لوړه وکړه، خو وروسته د داسي انتخاباتو چي زياته دوکه پکي شوې وه. دغو انتخاباتو په دولتدارۍ کي سختي ستونځي راڅرګندې کړې، په ګډون د اداري فساد، او د متحده ايالاتو او د نړيوالو ملګرو لپاره د دې سبب شوه چي د نوې اداري څخه غوښتنه وکړي چي د دولتدارۍ د بهترولو او د اداري فساد پر وړاندې د مبارزې لپاره سمدستي ريفورمونه په لاره واچوي. لکه چي د بهرنيو چارو وزيرې کلنټن د نومبر په مياشت کي د المان د بهرنيو چارو د وزير سره د يو مطبوعاتي کنفرانس پر مهال ويلي وو، "مونږ په دې کي ښه واضح يو چي مونږ به د افغانستان د دولت څخه لا زياته تمه کوو."[5]

ولسمشر کرزي خپل د لوړې په بيانيې کي نړيوالي اندېښني بحث کړې او د خپلو ترجيحاتو خاکه يې وړاندې کړه، چي په هغې کي يې ملي پخلاينه او د امنيت مسووليت ANSF ته لېږدول د خپلو لوړو ترجيحاتو په توګه ياد کړل. هغه همداراز وويل چي د هغه اداره د اداري اصلاحاتو، په دولتي ادارو کي د ظرفيت د لوړولو، او د هغو کسانو چي په اداري فساد کي ککړ دي په محاکمه کولو سره د دولتدارۍ بهترولو ته ژمنه ده.

په افغانستان کي د دولتدارۍ د بهترولو لپاره د متحده ايالاتو په ستراتيژۍ کي شامل دي د ملکي ماهرانو شمېره زياتول چي په ملي، ولايتي او د ولسوالي په کچه د افغانستان د عامه ادارو د ظرفيت په لوړولو کي مرسته وکړي او د امريکايي پوځونو له وتلو وروسته يې حکومت کولو ته چمتو کړي. متحده ايالات اراده لري چي د دې کال تر پېله په افغانستان کي د ملکي ماهرانو شمېره ۹۷۴ ته په رسولو درې هومره کړي.[6] د بهرنيو چارو د وزارت (DoS) چارواکي وايي دوی تمه لري چي د ۲۰۱۰ تر پای به په دې شمېر کي ۲۰-۳۰% زياتوالی وکړي. سيګار به وروسته په دې کال کي يوه پلټنه پيل کړي چي معلومه کړي ايا د ملکي ماهرانو دا زياتوالی په ټاکلي وخت شوی او خپل ټاکل شويو اهدافو ته رسېږي که نه.

د متحده ايالاتو حکومت همداراز اراده لري چي په افغانستان کي د بهرنۍ مرستي د پروګرامونو لپاره د کانګرس نه د لا زياتي بوديجي غوښتنه وکړي.[7] د متحده ايالاتو د نوې پرمختيايي ستراتيژۍ د لاندې، د متحده ايالاتو اداري به د افغانستان د دولتي ادارو سره په لا زياته پراخه ملګرتيا کار کوي څو د بيا رغونې پروژې جوړې او پلي کړي. دا کړنلار به د افغانستان په عامه ادارو کي د هغه ظرفيت په جوړلو کي مرسته وکړي چي ډېره اړتيا ده ورته، خو دا د دې غوښتنه هم کوي چي دا ادارې د دې توان ولري چي د مرستندويانو د بوديجو مسووليت په غاړه ولري او د اداري فساد د مخنيوي لپاره ميکانزمونه په لاره واچوي.

له دې امله چي اداري فساد د افغان دولت مشروعيت له منځه وړي او نړيوالو پرمختيايي هڅو ته زيان رسوي، نو د افغان دولت دا وړتيا پياوړې کول چي د اداري فساد سره مبارزه وکړي بايد د متحده ايالاتو د بيا رغونې د ستراتيژۍ مهمه برخه وي. هر څو که سيګار په دې عقيده دی چي دا خبره د افغان دولت لپاره ښه ده چي د بيا رغونې په هر اړخ کي ګډون ولري، خو افغان ادارې هم بايد د بوديجو د سمبالولو او د دوکې، ضياع، ناسمي استفادې او د اداري فساد د نورو ډولونو څخه يې د ساتلو ظرفيت بايد ولري. لدې امله، سيګار تېر کال يو پروګرام پيل کړ چي د دې خبرې اندازه واخلي چي ۱) متحده ايالات او نور مرستندويه هېوادونه د دې لپاره څه کوي چي د اداري فساد د مخنيوي او د قانون د حاکميت د پياوړي کولو لپاره د افغان ادارو ظرفيت لوړ کړي او ۲) هغه حد تر کومه چي بېلابېلي ملي او سيمييزې اداري داسي سيستمونه لري چي د مرستندويه بوديجو صحيح مسووليت په غاړه ولري.

د دې راپور ورکولو په موده کي، سيګار د خپل اداري فساد ضد پروګرام د برخي په توګه دوه پلټني خپرې کړې دي. لومړنۍ پلټني دا خبره معلومه کړې چي د نظارت او اداري فساد پر وړاندې د



**ولسمشر حامد کرزي** په ۱۹ نومبر ۲۰۰۹ د دويمې دورې لپاره لوړه وکړه. هغه نړيوالې انديښنې بحث کړې او د افغانستان لپاره يې د خپلو ترجيحاتو خاکه وړاندې کړه. (په کابل کې د متحده ايالاتو د سفارت انځور، ډان ويلکينسون)

مبارزې د مسوولیت اساسي اداره، د نظارت عالي دفتر (HOO)، په مهم ډول نور واک، خپلواکي، او د مرستندويانو ملاتړ ته اړتيا لري څو يوه اغېزمنه فساد ضد اداره جوړه شي. دويمې پلټنې هغه اقدامات پېژندلي چې د متحده ايالاتو حکومت يې د دې لپاره اخيستلو ته اړتيا لري چې د عدلي امنيت لپاره خپله مرسته لا ښه پلان او منسجمه کړي.

سيګار د خپل فساد ضد پروګرام د برخې په توګه دوه نورې پلټنې هم دا مهال په روان حالت کې لري. يوه د متحده ايالاتو او نورو مرستندويانو دې هڅو ته کتنه کوي چې د افغانستان د کنټرول او احتساب د دفتر (CAO) د وړتياو د پياوړې کولو لپاره يې کوي؛ دويمه د متحده ايالاتو د نړيوالې پرمختيا د ادارې (USAID) لخوا د افغان دولت چارواکيو او مشاورينو ته د معاشونو د ورکولو د احتساب اندازه اخلي.

متحده ايالات او نړيواله ټولنه ټولټاکنو ته د دوامداره ښې دولتدارۍ لپاره د ډېر ضروري کار په توګه ګوري. د تېر کال د ولسمشرۍ او ولايتي شوراګانو ټولټاکنو د انتخابي پروسې کمزورۍ او پياوړتياوې راښکاره کړې. د بېلګې په توګه، هر څو که دې سيستم د دوکې مخنيوی ونکړ، خو د دوکې د معلومولو توان يې درلود. په راتلونکې درې مياشتنۍ کې به سيګار يو وروستۍ راپور خپور کړي چې هغه سبقونه به وپېژني چې د ۲۰۰۹ د ټولټاکنو څخه زده شوي او د انتخابي اصلاحاتو لپاره به سپارښتنې وکړي.

## پرمختيا

د متحده ايالاتو نوې ستراتيژي اقتصادي پرمختيا د افغانستان د تحفظ او ثبات د عمومي هڅې د يو ډېر مهم جزء په توګه رامخې ته کوي. د ملکي ماهرانو د زياتولو زيات تمرکز به د مهمو اقتصادي سکتورونو په بيا جوړولو وي کوم به چې د پرمختګ هغه بنياد جوړ کړي چې په لنډ مهال کې د ياغيتوب د ضعيفولو

لپاره او په اوږده مهال کې د اقتصادي پرمختیا د دوامدارۍ لپاره ضروري دی. اوس د پرمختیا تر ټولو لوړه ترجیح د افغانستان د زراعت د سکټور راجوړول دي کوم چې یو وخت ډېر فعال و.

نوی ستراتیژي په زراعت باندې په دوو لاملونو زور ورکوي. لومړی، د ډېرو افغانانو د ژوند د چارو اتکاء په عادي زراعت ده. دویم، د اپیمو د تولید لپاره کوکنار تر هر بل فصل زیات عاید لاس ته راوړي. د مخدره موادو ناقانونه کاروبار باغیانو ته توان ورکوي، اداري فساد زیاتوي، او ښې دولتدارۍ ته زیان رسوي. بدیلو فصلونو ته وده ورکول چې په زراعت کې د افغانانو قانوني عواید زیات کړي په افغانستان کې د طالبانو د بریالیتوب په شا بوتللو لپاره د متحده ایالاتو مرکزي هدف دی. سیګار پلان لري چې د زراعت په سکټور کې پلټنې ترسره کړي. یوه پلټنه به د بهرنیو چارو د وزارت د ښه چارې ترسره کوونکي د پروګرام جاج اخلي، کوم چې هغو ولایتونو ته انعام ورکوي چې د کوکنارو په کر کې کموالی راولي. بله پلټنه به د زراعت په ټول سکټور کې د متحده ایالاتو او نړیوالو مرستو ته کتنه کوي.

سیګار دا سکټوري پلټنې د دې لپاره ترسره کوي چې د یو سکټور دننه د متحده ایالاتو د پروژو د حالت او هغه درجې اندازه واخلي په کومه کې چې متحده ایالات خپلې هڅې د نورو نړیوالو مرستندویانو او د افغان دولت سره همغږې کوي. هر څو که متحده ایالات په پرمختیایي پروژو کې په یواځې سر تر نورو ټولو زیاته برخه ورکوي، خو د افغانستان بیا رغونه یوه بین المللي هڅه ده، او د ضیاع د مخنیوي لپاره پکې د یو بل سره ښه مربوط پروګرامونه ضروري دي. سیګار د دې کتنو څخه لومړنۍ هغه د انرژۍ په سکټور کې ترسره کړې او د هغې راپور یې په دې درې میاشتنۍ کې خپور کړی دی.

د انرژۍ په سکټور کې د سیګار پلټنې معلومه کړې چې افغان دولت د انرژۍ د سکټور لپاره یو عصري ماسټر پلان نلري. نتیجتاً په ټول هېواد کې د انرژۍ ډېرې پروژې د یوې مربوطې ستراتیژۍ په ځای په یو عارضي طریقه پلې کېږي. د سیګار پلټنه په دې نتیجه هم رسېدلې چې هر څو که نړیوالو هڅو د افغانستان د برېښنا تولید زیات کړی دی، خو افغان دولت بیا هم د موجودو اسانتیاو په دوامي ساتلو کې د سختو ننګونو سره مخ دی. د بېلګې په ډول، د افغانستان د برېښنا استعمال د دې توان کمی لري چې د مشترکینو نه عایدات راغونډ کړي، او د دې ظرفیت کمی لري چې برېښنایي پلانټونه او ټرانسمیشن لاینونه فعال او منظم وساتي.

د دې درې میاشتنۍ پر مهال، سیګار همداراز د USAID د ۳۰۰ ملیونه ډالرو په پروژه جوړ شوي د کابل د برېښنایي پلانټ معاینه هم وکړه. دې راپور ګڼ شمېر داسې فاکتورونه معلوم کړل – د ځمکې د مسلو او د کار د ناواضحو بیانونو نه نیولې د ضمني قراردادیانو د کاري وړتیا او ګمرکاتو د ستونځو پورې – چې لدې امله د جوړېدو چاره وځنډېدله او لګښتونه زیات شول. سیګار دا خبره هم معلومه کړې چې د افغان دولت او متحده ایالاتو دا پرېکړه چې د دوه ډوله تېلو د کارولو اسانتیا چې یا په ډیزلو او یا په درنو تېلو چلېږي د جوړولو لګښتونه زیات کړي او د اوږدمهاله دوامدارۍ مسلې یې راپورته کړې دي. د دوه ډوله تېلو د کارولو اسانتیاوې په چلولو او ساتلو کې د یو ډول تېل کاروونکي اسانتیا څخه ډېرې زیاتې پېچلې وي. سیګار سپارښتنه وکړه چې د USAID د مشن مسوول دې د کابل په برېښنایي پلانټ کې د درنو تېلو د استعمال په معقولیت او مناسبت یوه څېړنه ترسره کړي. د USAID مشن وویل چې دا څېړنه به د ۲۰۱۰ د مارچ د میاشتې پورې تیاره شي.

سیګار عقیده لري چې د داسې ګڼ شمېره پلټنو ترسره کول ضروري دي چې د انفرادي قراردادونو او همداراز د پروګرامونو څېړنه وکړي چې د دې خبرې یو ګټور جاج رامخې ته کړي چې په افغانستان کې د بیا رغونې پروګرام څومره اندازه ښه کار کوي. په عراق او نورو ځایونو کې تجربې دا خبره ښودلې چې د ټېکس ورکوونکو ډالرې زیاتره وخت لدې امله ضایع کېږي چې د پروژو پیمانه د هغوی په جوړښتونو کېږي نه په نتیجو. د بېلګې په توګه، یو قراردادي ښایي په بریالیتوب سره یو داسې برېښنایي پلانټ جوړ کړي چې د قرارداد د غوښتنو سره برابر وي (دا جوړښت)، خو که افغان چارواکي د دې توان ونلري چې دغه پلانټ په دوامدار بنیاد فعال او منظم وساتي، نو نتیجه به یې د برېښنا په رسولو کې زیاتوالی نه وي او د متحده ایالاتو پانګونه به ضایع شي. د سیګار تمرکز پر نتایجو دی. سیګار دا



**افغانستان ته د خپل وروستي سفر** پر مهال، د افغانستان د بیا رغوني لپاره ځانګړی عمومي پلټونکی ارنلډ فیلډز (چپ لوري ته) د CAO د مشر محمد شریف شریفي سره ویني. CAO په افغانستان کې د نظارت تر ټولوستره اداره ده. (د سیګار انځور)

خبره هم په رسمیت پېژني چې د قراردادونو سخت غور چاڼ د دوکې په پېژندلو کې مرسته کوي. د سیګار پلټونکي د دې ادارې د څېړونکو سره له نږدې کار کوي څو جنایي فعالیت معلوم او مخنیوی یې وکړي.

## د نظارت همغږي

لکه چې په تېره درې میاشتنۍ کې یې راپور ورکړل شوی و، سیګار خپلې پلټنې او څېړنې په واشنګټن کې او په کارځای کې د نورو ادارو سره همغږې کوي. د جنوب لویدیځې اسیا د ګډې پلان جوړوونکې ډلې د غړي په توګه، سیګار د نورو عمومي پلټونکو او د حکومت د احتساب د دفتر (GAO) سره هر درې میاشتې وروسته ویني څو په منطقه کې د پلټنې فعالیتونه ورسره همغږي کړي. د جنوب لویدیځې اسیا د ګډې پلان جوړوونکې ډلې یوه ضمني ډله وخت په وخت د دې لپاره ویني چې په افغانستان او پاکستان کې روان او پلان شوی کار بحث کړي. سیګار همداراز په افغانستان کې د متحده ایالاتو د ځواکونو-افغانستان (USFOR-A) په مرکزي دفتر کې د نظارت د همغږۍ لپاره په باقاعده غونډو کې هم ګډون کوي. برسېره پر دې، د سیګار د پلټنو سمبالوونکي – په مرکزي دفتر او په افغانستان دواړو کې – د GAO، د USAID د دفتر د عمومي پلټونکي (OIG)، د بهرنیو چارو د وزارت د OIG، او د دفاع وزارت د OIG څخه د خپلو سیالانو سره په باقاعدګۍ سره خبرې کوي. د نظارت ادارې د دې خبرې یقیني کولو ته ژمنې دي چې د نظارت ټولې مهمې مسلې حل شوې وي او دا چې کومه هڅه نقل نه وي.

د سیګار څېړونکي او څارنوالان د متحده ایالاتو د حکومت په نورو ادارو کې د خپلو سیالانو سره نږدې همکارۍ ته ادامه ورکوي. د جنايي څېړنو لپاره د سیګار د عمومي پلټونکي نایب مرستیال د کتونکیو په هغه پلاوي کې شامل دی چې د نړیوالو قراردادونو د فساد د هدف ځواک (ICCTF) د ګډو فعالیتونو د مرکز نظارت کوي. سیګار همداراز د دې هدف ځواک لومړنی غړی جوړ شو چې د ICCTF د ګډو فعالیتونو مرکز ته یې یو د پوره وخت څېړونکی وټاکه. ICCTF د هغو مرکزي جنايي او ملکي قضیو د مربوطولو اساسي اداره ده چې په جنوب لویدیځه اسیا کې د متحده ایالاتو د لګښتونو په تړاو ترسره شوې دوکې او فساد له امله مخې ته راغلې وي.

**د افغان امنيتي ځواکونو روزل**

په کندهار کې افغان کوماندو د معالجوي کنډک څخه طبي روزنه ترلاسه کوي، کوم چې په مېدان کې د ټپ د پټۍ تړل ښيي. (د ايساف انځور، ايس پي سي کرسټوفر هوبرټ)

# 2 د سیګار نظارت



"مونږ بايد تش د هغو ډالرو اندازه چې مونږ يې
لګوو او د هغو پروګرامونو شمېره چې مونږ يې
چلوو زياته نه کړو، بلکې هغه تلپاتې بدلونونه پېمانه
کړو چې دا ډالر او پروګرامونه يې په ترلاسه کولو
کې مرسته کوي....مونږ داسې ملګري غواړو چې
د پرمختيا سره يې د ښې دولتدارۍ په ښودلو، د
فساد په ورکولو، او خپلې پرمختيا ته د خپلو مالي
ورکړو په کولو سره
ژمنتيا ښودلې وي."

- د متحده اياالاتو د بهرنيو چارو سکرتره هيلري کلنټن

سرچينه: سرچينه: د بهرنيو چارو وزارت، "په ۲۱مه پېړۍ کې د پرمختيا په اړه د سکرترۍ کلنټن څرګندونې،" آنلاين وکتل شو په ۱\۸\۲۰۱۰.

# د سیګار نظارت

کانګرس ته د ۳۰ اکتوبر ۲۰۰۹ د راپور څخه راوروسته، سیګار خپل کارکوونکي زیات کړي او په افغانستان کې د بیا رغوني د پروګرامونو نظارت یې په مهم ډول پراخ کړی دی. دې همداراز د معاینو ریاست د نظارتونو د ریاست لاندې راوستلو سره خپل فعالیتونه هم بهتر کړي د دې لپاره چې د قراردادونو، د انفراسټرکچر د پروژو، او د بیا رغونې د پروګرامونو نظارت پراخ کړي. برسېره پر دې، سیګار خپله د مرستې شمېره د جنايي څېړنو ریاست ته ولېږدوله څو د څېړنې بشپړه پروسه، د جنايي فعالیت د لومړني تور څخه نیولې د یوې بریالی محاکمې تر رسېدنې پورې، نور هم په اغېزمن ډول سمبال کړي.

## پلټنې

د دې راپور ورکولو د مودې پر مهال، سیګار ٤ د پلټنې راپورونه خپاره کړل او ۷ نوې پلټنې یې اعلان کړې، چې په دې توګه یې د ټولو روانو پلټنو شمېر ۱٦ ته راوړه. سیګار همداراز د پلټنې یو ساینسي پروګرام پیل کړی، کوم چې به د دې لپاره د معلوماتو د راایستلو او ناشنا معلومونکي تخنیکونه کاروي چې د افغانستان په بیا رغونه کې د لګول شویو ملیاردونو ډالرو د دوکې او ضیاع احتمال وپېژني. دا پروګرام په دې نیت په لاره اچول شوی چې د ضیاع د راستنولو مواقع، د خراب داخلي کنټرول سیمې، او هغه سیمې وپېژني چېرته چې احتساب وجود نلري.[8]

## د پلټنو بشپړ شوي راپورونه

په دې درې میاشتنۍ کې، سیګار د فساد پر ضد د خپل روان پروګرام د برخې په توګه دوه د پلټنې راپورونه خپاره کړل څو دې خبرې ته کتنه وکړي چې متحده ایالات او نړیوال مرستندویان د دې ظرفیت د جوړولو لپاره څه کوي چې د افغان ادارو دننه د فساد مخنیوی وکړي او د قانون حاکمیت پیاوړی کړي. دا کار همداراز د مهمو افغان ادارو په داخلي کنټرول او د احتساب په پروسیجرونو تمرکز کوي.

- د نظارت د عالي دفتر (HOO)، د افغانستان هغه دفتر چې د نظارت او د فساد پر وړاندې د مبارزې مسوولیت لري، په اړه د سیګار یوې پلټنې معلومه کړې چې HOO په مهم ډول لا زیات واک، خپلواکی او د مرستندویانو ملاتړ ته اړتیا لري چې یوه مهمه فساد ضد اداره جوړه شي.
- د سیګار بله پلټنه د هغو اقداماتو یوه خاکه وړاندې کوي چې د عدلي امنیت لپاره د متحده ایالاتو د مرستې د لا ښه پلان او انسجام لپاره یې اخیستلو ته اړتیا ده. د دې پلټنې زیاته برخه په راز کې ده ځکه چې دا حساس معلومات لري.

دوه هغه نورې پلټنې چې سیګار په دې درې میاشتنۍ کې خپرې کړي د انرژۍ د مهم سکټور په اړه دي:

- د بریښنا د تولید د زیاتولو لپاره د متحده ایالاتو او نړیوالو هڅو په اړه د سیګار یوې اندازې دا خبره معلومه کړه چې د افغانستان اسلامي او جموري دولت یو داسې عصري او مربوط انرژي پلان نلري چې هغه ترجیحات، کاري وختونه، او لګښتونه وړاندې کړي کوم چې ښودل شویو اهدافو ته د رسېدو سره تړاو لري – باوجود د دې چې د ۲۰۰۲ راهیسې په دې سکټور کې د ۲ ملیارده ډالرو نړیواله پانګونه شوې ده.
- د سیګار بلې پلټنې هغه ستونځې معلومې کړې چې د کابل د بریښنایي پلانټ په جوړولو کې د مهمو ځنډېدنو او بې ځایه لګښتونو سبب شوې دي. دې پلټنې دا نتیجه راایستلې چې د دې ۳۰۰ ملیونه ډالرو د پلانټ اوږدمهاله دوامداري اوس هم یوه سخته ننګونه ده.

لاندې ضمني برخې د هغو څلورو پلټنو لنډیز وړاندې کوي چې سیګار په دې درې میاشتنی کې خپرې کړې دي.

**نظارت لپاره د افغانستان عالي دفتر په مهم ډول پیاوړي واک، خپلواکۍ او د مرستندویانو ملاتړ ته اړتیا لري چې یوه اغېزمنه فساد ضد اداره جوړه شي، د سیګار پلټنه ۱۰-۲**

نستان د داسې سیستماتیک اداري فساد سره مخ دی چې د هېواد د خوندي کولو او باثباته کولو لپاره نړیوالو او افغان هڅو ته زیان رسوي. د افغانستان ملي پرمختیایي ستراتیژي (ANDS) اداري فساد د یوې مهمې ستونځې په توګه پېژني او وایي چې د افغان دولت هدف په دولتي او خصوصي سکټور کې د فساد له منځه وړل دي. د افغانستان د سترې محکمې قاضي القضات د یوې ملي فساد ضد ستراتیژۍ نګراني کړې، کومه چې په ANDS کې د یوې مهمې مسلې په توګه شامله کړای شوې وه. په جولای ۲۰۰۸ کې، ولسمشر حامد کرزي HOO جوړ کړ څو د ملي فساد ضد ستراتیژۍ او د اداري اصلاحاتو دواړو د پلي کولو د نظارت او همغږۍ چارې ترسره کړي.

**اهداف**

دا پلټنه د سیګار د پلټنو د هغې لړۍ څخه ده چې په افغانستان کې د فساد پر وړاندې د مبارزې او د قانون د حاکمیت د پیاوړي کولو لپاره د متحده ایالاتو د هڅو جاج اخلي. دې پلټنې درې اهداف لرل:

- د هغې مرستې پېژندل چې د HOO د قانوني پرمختیا د پیاوړي کولو لپاره د متحده ایالاتو او نورو مرستندویانو لخوا ورکړل شوې ده.
- د خپلو چارو په ترسره کولو کې د HOO د کار او کاري وړتیا معاینه کول.
- HOO لپاره د متحده ایالاتو د مرستې د اغېزمنتیا اندازه اخیستل.

**موندنې**

دې پلټنې اوه مهمې موندنې لرلې:

1. سیګار معلومه کړې چې HOO دوه پروګرامونه د بریالیتوب د بېلابېلو درجو سره په کار اچولي دي – چې هغه د دولتي چارواکیو لپاره د خپلو شتمنیو اعلانول او یوه د موټرو د ثبتولو پروسه ده. HOO د دې نه زیات څه کولو توان نلري ځکه چې دا په ظرفیت کې د پام وړ خلا سره مخ ده: دا کافي خپلواکي او حقوقي واک نلري، د دې کارکوونکي ډېر کم دي، او دا د یو شمېر نورو فعالیتي ننګونو سره لاس او ګرېوان ده. سیګار دا نتیجه راایستلې چې HOO د متحده ایالاتو او نورو مرستندویانو څخه لا پیاوړې ژمنې او ښې مربوطې مرستې ته اړتیا لري.
2. سیګار معلومه کړې چې، د نظارت د ادارو د عموماً منل شویو معیارونو او اخلاقي اصولو پر ضد، د HOO عمومي مسوول او مرستیال عمومي مسوول دواړه د ولسمشر په دفتر کې د ولسمشر د

مشاورینو دنده هم په غاړه لري. سیګار عقیده لري چې په یو وخت دوه دولتي دندې لرل کولای شي، او په دې صورت کې یې کوي، چې د ګټو ترمنځ ټکر پیدا کړي.

3. د افغان دولت اوسنی قانون جوړونه HOO ته داسې کافي واک نه ورکوي چې د نظارت یوه اغېزمنه اداره جوړه شي. په داسې حال کې چې HOO معلومات راغونډولی او دا پرېکړه کولی شي چې ایا یو شکایت د نورو دولتي ادارو نوره څېړنه غواړي که نه، دا په خپله د څېړنې یا محاکمې کوم واک نلري، او نه قانون سازي HOO ته د دې د نفاذ مناسب قوت ورکوي. د افغان دولت اداري د فساد په اړه د راپور ورکولو حقوقي مسوولیت نلري، او د هغو دفترونو لپاره قانون داسې کومې مشخصې جریمې ندي منظورې کړې چې HOO سره د همکارۍ نه انکار وکړي. د دې نه هم زیات، د HOO په قانون سازۍ کې د فساد تعریف د اقربا پرورۍ یادونه نه کوي، او د ملکي خدمت قانون نه د ګټو د ټکر تعریف کوي او نه د درواغو د دعوې مسله بحث کوي.

4. HOO دا مهال ۱۰۰ تنه مامورین لري – د عملي د هغو ۵۰۰ غړیو یواځې ۲۰% چې د دې په تشکیلاتي چوکاټ کې پېژندل شوي دي. د دې "د مخنیوي ریاست"، کوم چې دولتي وزارتونو سره د دې لپاره د کار کولو مسوولیت لري چې بیوروکراتیک پروسیجرونه اسان کړي، د خپلو ۲۶ منل شویو چوکیو څخه یواځې ۲ د خصوصي سکټور په معاشونو ډکې کړې دي. د HOO چارواکیو د سیګار پلټونکو ته وویل چې با استعداده کارکوونکي نیول ځکه مشکل دي چې په افغان ملکي خدمت کې د ډېرو وظیفو معاشونه کافي ندي. HOO د افغان ملکي خدمت د کمیسیون سره کار کوي چې یو د معیار پر بنسټ د معاش او درجې سیسټم تطبیق کړي. HOO او د ملګرو ملتونو پرمختیایي پروګرام (UNDP) همدارز په دې پلان هم غور کوي چې UNDP په ملي کچه یو شمېر افغان څوکیو ته د افغان ملکي خدمت د معاشونو نه د لوړ معاش لپاره بودیجه ورکړي.

5. هر څو که HOO د مرستې لپاره تر ټولو زیاته اتکاء پر نړیواله ټولنه کوي، خو دې د متحده ایالاتو او نورو مرستندویانو څخه محدود مالي ملاتړ ترلاسه کړی دی. نړیوالې پرمختیا لپاره د متحده ایالاتو ادارې (USAID) د اکتوبر ۲۰۰۸ څخه تر اکتوبر ۲۰۰۹ پورې HOO ته د افغانستان د اسلامي او جمهوري دولت د ستراتیژیکو اړتیاو د مرستې د پروګرام له لارې ۱ ملیون ډالر ورکړي دي، دا پروګرام د آسیایي بنسټ (ایشیا فاونډیشن) لخوا پلي کېږي. دا پیسې کارکوونکیو ته د معاشونو په ورکولو، د سامانونو په اخیستلو، او په ملاتړه روزنه لګول شوي. د اسیایي بنسټ د بودیجې وړاندوینه تر سپتمبر ۲۰۱۰ پورې د یو نیم ملیون اضافي ډالرو غوښتنه کوي.

6. د HOO نورې زیاترې نړیوالې مرستې د UNDP د احتساب او شفافیت (ACT) د پروژې له لارې راځي، کومه چې د دې لپاره جوړه شوې وه چې افغان دولت سره د فساد د مخنیوي د ظرفیت په جوړولو کې مرسته وکړي. د ACT د ۲۲.۳ ملیونه ډالرو بودیجې څخه، ۷.۳ ملیونه ډالر د دې لپاره مختص شوي چې HOO ته به تر مارچ ۲۰۱۲ پورې ورکول کېږي. د ACT له لارې، UNDP تجهیزات ترلاسه کړي، د معلوماتي تکنالوژۍ ملاتړ یې کړی، د دفتر ځای او موټرې یې په کرایه کړي، د امنیتي چارو لپاره یې پیسې ورکړي، او د HOO بېلابېلو ریاستونو ته یې اضافي نړیوال او ملي مشاورین ورکړي دي.

7. HOO همدارز د ملګرو ملتونو د مخدره موادو او جرمونو د دفتر (UNODC)، د نړیوال بانک د ظرفیت د سمبالښت د پروګرام، د متحده ایالاتو د عدلیې وزارت (DoJ)، او د برتانیې څخه هم محدوده مرسته ترلاسه کړې ده. UNODC، د ملګرو ملتونو هغه اداره چې د فساد پر وړاندې د ملګرو ملتونو د معاهدې (UNCAC) د تطبیقولو مسوولیت په غاړه لري، د HOO سره مرسته کړې چې د خپلې اندازې هغې نګرانۍ ته د افغان وزارتونو ځواب مربوط کړي چې د UNCAC په تطبیق کې د پرمختګ د معلوماتو لپاره یې وکاروي. UNODC د HOO سره

په دې کې هم مرسته کړې چې د شتمنیو د ثبت د ریاست ډاټابیس جوړ کړي. نړیوال بانک یو لړ شمېر هغو ماهرانو ته د لویدیځ د معیار معاشونه ورکړي چې د HOO لخوا په کار ګومارل شوي وو. د [متحده ایالاتو] د عدلیې وزارت، د برتانیې، د UNDP، او د UNODC ځینې چارواکي د HOO د قانون سازۍ د هغو بیا کتل شویو مسودو په تیارولو کې هم مرسته کوي کوم چې HOO ته نور واک ورکړي.

**سپارښتنې**

د هغو مسلو د حل کولو لپاره چې په دې پلټنه کې پېژندل شوې دي، سیګار سپارښتنه کړې چې په افغانستان کې د متحده ایالاتو سفیر دې دا اقدامات وکړي:

- د USAID، HOO، او نورو مرستندویانو سره په مشوره دې هغه شرایط وټاکي په کومو چې د راتلونکي د مرستې بنسټ وي. په دې شرایطو کې به د دواړو خواوو ته د یو داسې منل شوي قانوني ریفورم نافذول وي چې بنسټ یې پر هغو مهمو پرینسپونو وي چې د HOO د واک او خپلواکۍ د پراخولو، او همداراز د HOO لخوا د پېمانه کېدونکیو کاري معیارونو د جوړولو لپاره ضروري وي.
- د مناسبو ډیپلوماتیکو چینلونو له لارې د دې خبرې غوښتنه وکړي چې د HOO عمومي مسوول او د عمومي مسوول مرستیال دې یا د ولسمشرۍ د مشاور د دندې څخه استعفا ورکړي او یا د HOO د څوکیو څخه څو د شخصي خپلواکۍ چاره ترسره شي.
- یوې اداري یا فرد ته دا دنده ورکړي چې د قانوني ظرفیت د جوړولو او قانوني ریفورم دواړو په تړاو، د نړیوالو ملګرو په ملګرتیا، HOO ته د متحده ایالاتو لخوا د ورکول کېدونکي مرستې نظارت وکړي.
- دا خبره یقیني کړي چې ټاکل شوې اداره یا فرد د لوړې کچې د مشاورینو، لکه قاضیان او د فساد پر وړاندې د مبارزې ماهرین، چې HOO سره کار کوي د ټاکلو نظارت وکړي څو د HOO مشرتابه ته دوامداره مشاورت، سرپرستي او ستراتیژیکې مشورې ورکړي.
- د نړیوالې ټولنې څخه غوښتنه وکړي چې د مرستندویانو د انسجام هڅې لا پسې فعالې کړي، او هغه بې شکه په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د مرستې د مشن (یوناما) د چترۍ د لاندې.

**د سمبالښت تبصرې**

په کابل کې د متحده ایالاتو سفارت او د USAID د دې راپور د موندنو او سپارښتنو سره موافقه ښودلې ده. هغوی دا خبره هم یاده کړې چې د فساد ضد د یوې څېړنې مسوده چې اوسمهال د متحده ایالاتو د حکومت تر کتنې لاندې ده د سیګار د سپارښتنو سره سم په HOO کې د مهمو او بهترو بدلونونو تمه پیدا کوي.

**د افغانستان د عدلي چارواکیو د حفاظت لپاره اقداماتو ته اړتیا ده، د سیګار پلټنه ۱۰-۳**

متحده ایالات، چې د افغانستان عدلي سکټور ته په یوازې سر تر ټولو زیاته مرسته ورکوي، د اغېزمنې عدلیې د جوړولو لپاره د پروګرامونو په شکل کې ۱۶۰ ملیونه ډالر پانګونه کړې ده، ځکه چې عدلیه د قانون د حاکمیت او د ښې دولتدارۍ لپاره ضروري ده. د هغو خطرو له امله چې د افغانستان عدلي چارواکي ورسره مخ دي، د هغوی امنیت ساتل د افغان دولت د فساد ضد ملي ستراتیژۍ او ANDS مهم عنصر دی.



**د افغانستان د بيا رغونې لپاره ځانګړی عمومي پلټونکی** (ښي لوري ته) د افغانستان د سترې محکمې د قاضي القضات سره وينې چې د فساد ضد هڅو د پراخولو، د احتساب د ملي ادارو د پياوړي کولو او په افغانستان کې د قانون د حاکميت د بهترولو لپاره ورسره خبرې وکړي. (د سيګار انځور)

**اهداف**

د هغه پروګرام د يوې برخې په توګه چې د افغانستان د فساد ضد وړتياو او د قانون د حاکميت د پياوړي کولو لپاره د متحده اياﻻتو هڅې بحث کړي، سيګار د هغه طريقه کار چې د متحده اياﻻتو د ادارو لخوا د عدلي امنيت د مرستې ورکولو لپاره کارول کيږي او هغو فاکتورونو معاينه کړې چې د دې مرستې په اغېزمنتيا تاثير کولی شي.

د بحث شويو مسلو د حساس نوعيت له امله سيګار د بشپړ راپور ويش يواځې متعلقه ادارې او د کانګرس چارواکيو ته د کنټرول او پټو معلوماتو په توګه محدود کړی دی. سيګار همداراز د راپور يو ښکاره لنډيز هم خپور کړی، د کوم نه چې حساس معلومات ايستل شوي دي.

**موندنې**

د سيګار پلټنې درې مهمې موندنې لرلې:

1. متحده اياﻻت د افغانستان عدلي امنيتي يونټ (JSU)، چې د افغانستان د کورنيو چارو د وزارت د مخدره موادو ضد پوليسو يو متخصص يونټ دی، ته د روزنې او انفراسټرکچر ملاتړ برابروي. د متحده اياﻻتو ګڼ شمېر ادارې – د عدليې وزارت، د دفاع وزارت (DoD)، او د بهرنيو چارو وزارت (DoS) – د JSU سره مرسته کوي. د متحده اياﻻتو د مارشلانو خدمت، چې د عدليې وزارت يو جزء دی، د JSU د پرسونل د محکمې او شخصي امنيت په لړ کې سرپرستي او روزنه کوي. د دفاع وزارت په کابل کې د ٤.٥ مليونه ډالرو په لګښت يوه ودانۍ ډيزاين، جوړه او بوديجه يې ورکړه څو JSU ته ځای او ملاتړ برابر کړي. د بهرنيو چارو د وزارت د نړيوالو مخدره موادو کنټرول او د قانون د تنفيذ د چارو دفتر (INL) د دې ودانۍ د فعاليتونو او انتظام (O&M)

د بوديجو لپاره پيسي ورکړي، او د دې لپاره يې فرنيچر او سامان هم اخيستی. د متحده ايالاتو او افغانستان حکومتونه د عدلي امنيت د مرستې په پراخولو خبرې کوي. په دې بحث کې د دواړو حکومتونو لخوا د دې په اندازه، سايز او بوديجو، او همداراز د يو نور پراخ عدلي امنيتي پروګرام د تطبيق د وخت لپاره وړانديزونه شامل کړای شوي دي.

2. سيګار معلومه کړې چې د متحده ايالاتو حکومت د عدلي امنيت د مرستې د برابرولو لپاره کوم ستراتيژيک طريقه کار نلري او دا چې په ځينو وختونو کې يې هڅې نامربوطې وې. د يوې ستراتيژۍ د مهمو عناصرو کمبود دی – لکه د مشرتابه، د موافقه شويو معيارونو، د خطرې د اندازې، او د پلان جوړونې د يوې داسې پروسې چې لوازمات او شريکوال په نظر کې ونيسي. هر څو که د متحده ايالاتو ګڼ شمېر ادارې د پرمختيا، بوديجو، او د عدلي امنيتي مرستې د پلي کولو مسوولیت پر غاړه لري، خو داسې کومې ادارې يا فرد ته په رسمي ډول دا دنده نده سپارل شوې چې د متحده ايالاتو هڅې همغږې يا رهبري کړي. دا د JSU د ودانۍ په پرانيستلو کې د ځنډېدنو سبب شو. په دې وجه چې د متحده ايالاتو او افغانستان حکومتونو د عدلي امنيت کوم معيارونه ندي جوړ کړي، نو د يو پراخ عدلي امنيتي پروګرام لپاره د متحده ايالاتو او افغانستان لومړني وړانديزونه د سايز، اندازې او لګښت له پلوه ډېر مختلف وو. د دړکې او خطرې اندازې هم د دې لپاره ضروري دي چې، د نورو شيانو تر څنګ، د امنيتي پرسونل د شمېر او همداراز د هغو سامانونو د ډول او کميت هم پرېکړه وکړي چې د عدلي پرسونل د حفاظت لپاره ورته اړتيا ده. د ادارو ترمنځ د مناسب پلان او همغږۍ نشتوالي د JSU د مرکز پرانسته د شپږو مياشتو لپاره وځنډوله؛ برسېره پر دې، د O&M د لګښتونو اټکل اوس د بوديجې د مختص شوې کچې نه زياتېږي.

3. د پلان جوړونې، بشري سرچينو، د قوماندې د جوړښت، او قضاوتي واک سره تړلې اضافي ننګونې د يو پراخ عدلي امنيتي پروګرام پر وړاندې خنډ جوړېدای شي. د بېلګې په ډول، د افغان دولت لومړني وړانديز د معاشونو، درېشيو، سامان، او موټرو د لګښتونو اټکل ورکړ خو د دې اسانتياو لپاره د انفراسټرکچر د هغو غوښتنو چې امنيتي ځواک پرې وروزي او يا په ټول افغانستان کې د دفترونو لګښتونه يې پکې نه وو شامل کړي.

سيګار دا پايله رااېستلې چې د دې خبرې د يقيني کولو لپاره اقدام ته اړتيا ده چې د JSU په جوړولو کې ترلاسه شوې پرمختګ له لاسه ورنکړل شي او د تطبيق ننګونې لدې لارې کمې کړای شي چې متحده ايالات او افغانستان د يو پراخ عدلي امنيتي پروګرام د جوړولو لپاره په شريکه کار وکړي.

**سپارښتنې**

سيګار سپارښتنه کوي چې د متحده ايالاتو سفير دې يوه د سر اداره يا  فتر د دې لپاره وټاکي چې د بين الاداري عدلي امنيتي مرستې د پلان جوړولو او تطبيق انسجام وکړي. سيګار همداراز دا سپارښتنه هم کوي چې دغه د سر اداره يا دفتر دې دا اقدامات هم وکړي:

- د افغان دولت د شريکوالو سره دې د عدلي امنيت د معيارونو په جوړولو او د اوسنيو او راتلونکيو افغان عدلي امنيتي ځواکونو د غړيو لپاره دې د وظيفو د مناسبو تشريحاتو په جوړولو کې مرسته وکړي.
- مهم شريکوال دې په بشپړ ډول په دې پروسه کې راګډ کړي – په ځانګړي ډول هغوی چې د انفراسټرکچر، سامانونو لپاره بنسټيزې بوديجې برابرولی شي، او يا O&M د پلان جوړونې د

پروسي لپاره.
سیګار ځینې اضافي سپارښتنې هم کړې دي چې په دې عامه لنډیز کې نشي شاملېدلی ځکه چې حساس معلومات پکې دي.

**د سمبالښت تبصرې**

په کابل کې د متحده ایالاتو سفارت د راپور د موندنو او سپارښتنو سره موافقه کړې او د هغو اقداماتو خاکه یې جوړه کړې چې د دې سپارښتنو په ځواب کې یې کړې دي. دې خپل د قانون د حاکمیت دفتر د سر د اداري په توګه ټاکلی او د پلان جوړونې یو بین الاداري ټیم یې جوړ کړی چې اړوند شریکوال پکې شامل کړای شوي دي. په داسې حال کې چې سیګار د دې اقداماتو هرکلی کوي، خو بیا هم د امنیت د معیارونو د جوړولو لپاره د افغان دولت د شریکوالو سره د کار کولو په اړتیا ټاکید کوي. سیګار عقیده لري چې د دې سپارښتنې د متحده ایالاتو د ادارو سره مرسته کولی شي چې د یو داسې عدلي امنیتي پروګرام د سایز، اندازې، او تطبیق د پراوونو په اړه پرېکړه وکړي چې بنسټ یې د مهمو عدلي چاروکیو په ترجیحي اړتیاو وي. د دې اړتیاو د ترجیحي کولو لپاره، د متحده ایالاتو او افغان چارواکي دې ته ضرورت لري چې امنیتي معیارونه جوړ کړي او د دغو معیارونو پر بنسټ امنیتي اندازې ترسره کړي.

**د افغانستان د انرژۍ رسول زیات شوي، خو یو عصري ماسټر پلان ته اړتیا شته، او ځنډېدنې او د دوامدارۍ اندېښنې شته، د سیګار پلټنه ۱۰-٤**

متحده ایالاتو، نورو نړیوالو مرستندویانو، او افغان دولت د افغانستان د دې ظرفیت د زیاتولو لپاره یوه لوړه ترجیح ټاکلې ده چې برېښنا تولید او تقسیم کړي. ANDS، چې د افغان دولت لخوا په ۲۰۰۸ کې منظور شوې، په هېواد کې د برېښنا د کچې د زیاتولو لپاره دا څلور هوډمن اهداف ټاکي:

- په غټو ښاري سیمو کې لږ تر لږه ٦٥% کورنیو ته رسېدل
- په غټو ښاري سیمو کې ۹۰% نالمکي جوړښتونو ته رسېدل
- په کلیوالو سیمو کې ۲۵% کورنیو ته رسېدل
- د ۲۰۱۰ تر پای د مشترکینو د فیسونو له لارې د ټولو فعالیتي لګښتونو لږ تر لږه ۷۵% پوره کول

د ۲۰۰۲ راهیسې، نړیوالې ټولنې د انرژۍ سکټور د بهترولو لپاره لږ تر لږه ۲ ملیارده ډالر په لاس کې ورکړي او یا یې ژمنې کړې دي. په دې کې، متحده ایالاتو د ۷۳۲ ملیونه ډالرو څخه زیات ورکړي دي، په ګډون د تقریباً ٤۲۳ ملیونه هغو ډالرو چې د جوړېدو په حال کې شمال ختیځ برېښنایي سیستم (NEPS) ته یې ورکړي دي، کوم چې د دې لپاره جوړېږي چې د شمال ختیځ افغانستان ښارونو او سیمو، په ګډون د کابل، ته ارزانه برېښنا برابر کړي. نړیوالو مرستندویانو د NEPS د پرمختیا لپاره ۱.۲ ملیارده ډالر بودیجه ورکړې او یا یې ژمنه کړې، د کومې زیاتره برخه چې د ټرانسمیشن لاینونو او د ویش د هغو سیستمونو په جوړولو لګېدلې چې برېښنا د ګاونډي هېوادونو تاجکستان، ترکمنستان، او ازبکستان نه راواردوي. برسېره پر NEPS، متحده ایالات یو شمېر نورو داسې پروژو ته بودیجې ورکوي چې د هایدروپاور پلانټونه بیا جوړ کړي، د انرژۍ نوو سرچینو ته پرمختیا ورکړي، د افغانانو تخنیکي ظرفیت لوړ کړي، او شفاف انرژۍ ته وده ورکړي.

**اهداف**

د سیګار دې پلټنې د څلورو عناصرو اندازه اخیستې:

- د افغانستان د انرژۍ د سکټور د پرمختیا لپاره د پروژو د ترجیحي کولو ستراتیژي او اهداف او ضرب الاوقات ټاکل
- د افغانستان د انرژۍ د سکټور او د متحده ایالاتو مرستندویانو د پروژو حالت
- د USAID د انرژۍ-سکټور د پروژو حالت
- د متحده ایالاتو، نړیوالو مرستندویانو، او افغانستان ترمنځ د انرژۍ په پروژو همغږي

**موندنې**

دې پلټنې اته موندنې لرلې:

1. سیګار ته معلومه شوه چې افغان دولت د انرژۍ د سکټور یو داسې اوسمهال ماسټر پلان نلري چې ترجیحات، ضرب الاوقات، او هغه لګښتونه وټاکي چې د انرژي سکټور د اهدافو لاس ته راوړلو لپاره ضروري دي. هر څو که افغان دولت د ANDS د جوړولو لپاره د نړیوالې ټولنې سره یو ځای کار کړی و، خو د مرستندویانو چارواکیو د سیګار پلټونکو ته وویل چې د ANDS اهداف ښه نه وو تعریف شوي، تر اندازې زیات هوډمن وو، او بنسټ یې پر ناسمو معلوماتو و. نتیجتاً، د اسیایي پرمختیایي بانک او نړیوال بانک له مخې، د انرژۍ پروژې د یوې مربوطې ستراتیژۍ د برخې په ځای په یوه عارضي طریقه پلې کېږي.
2. اساساً د متحده ایالاتو او نړیوالو مرستندویانو د مرستو په نتیجه کې، د افغانستان د نصب شوې برېښنا ظرفیت د یو اټکل له مخې ۱۳۹% زیاته شوې – په ۲۰۰۱ کې د تقریباً ۴۳۰ میګا واټه څخه د ۲۰۰۹ د سپتمبر تر میاشتې ۱۰۲۸.۵ میګا واټه ته. برسېره پر کورني تولید، افغانستان د خپلو ګاونډیو هېوادونو څخه هم برېښنا واردوي. NEPS – چې په افغانستان کې په نړیواله توګه تر ټولو زیاته بودیجه ورکړل شوې د انرژۍ پروژه ده – د برېښنا لاینونو او د وېش د هغو سیسټمونو په جوړولو کې کار کوي چې د تاجکستان، ترکمنستان او ازبکستان نه د اضافي برېښنا په واردولو کې ورته اړتیا ده. افغان دولت او نړیوال مرستندویان د دې هېوادونو سره کار کوي چې د برېښنا د اخیستلو یوه داسې اوږدمهاله موافقه وکړي کومه چې بالاخر د ورځې ټوله ۹۰۰ میګا واټه برېښنا لاس ته راوړي.
3. سیګار داسې دوه مهمې مسلې پېژندلې چې د افغان دولت په دې ظرفیت اغېز کولی شي چې د برېښنا تولید او وېش دوامدار او زیات کړي – د برېښنا کاروونکیو نه د عایداتو د راټولولو توان، او د اسانتیاو د چلولو او ساتلو ظرفیت. افغان دولت دا مهال د دې توان نلري چې هغه عایدات راټول کړي چې دا د تېلو او د O&M د لګښتونو د پوره کولو لپاره ورته اړتیا لري. د افغانستان د برېښنا اسانتیاوې د نصب شوي ظرفیت څخه فقط ٦٠% چلېږي چې لامل یې نتیجتاً د تېلو د کمي او د انتظام د نشتوالي د ستونځو سره تړلی دی. د انرژۍ په سکټور کې د افغان دولت د ځینې مالي کمي د پوره کولو لپاره، USAID د ۲۰۰۷ څخه تر ۲۰۰۹ پورې ۱۵.۲ ملیونه ډالر د برېښنایي پلانټونو د O&M لپاره ورکړي دي. دا پلان لري چې د ۲۰۱۱ د اپرېل د میاشتې پورې ۱۵.۳ ملیونه اضافي ډالر ولګوي.
4. متحده ایالات او نور نړیوال مرستندویان د افغان دولت د دې هڅو سره مرسته کوي چې برېښنایي اسانتیاوې په تجارتي بنسټ وچلوي او د دې په چلولو کې د فساد مخه ونیسي. د کنکشنونو لپاره اضافي فیسونه ورکول او میټر کټونکیو ته رشوتونه ورکول، د میټرونو نه تېرېدل، او د نابشپړ عاید بېرته راوړل د افغان دولت دا توان کم کړی چې عاید راټول کړي. د USAID او نورو مرستندویانو

په مرسته، افغان دولت په سپتمبر ۲۰۰۹ کې د ریاست تر کنټرول لاندې برېښنایي اسانتیا شتمنۍ یوې تجارتي اداې ته انتقال کړې. د USAID له مخې، دا اقدام باید تجارتي زیانونه کم، فساد ټیټ، او عاید زیات کړي.

5. د افغانستان د انرژۍ سکټور همدراز د داسې تجربه کاره کاري ځواک د کمې سره مخ دی چې داسې تخنیکي او د سمبالښت مهارتونه ولري کوم چې د پیچلو اسانتیاو د چلولو او ساتلو لپاره ضروري دي. د USAID په ټولو پروژو کې یو د ظرفیت د پرمختیا جزء شامل وي؛ برسېره پر دې، USAID د انرژۍ سکټور کارکوونکیو ته روزنې ورکړې دي. خو، چارواکي وايي چې افغان دولت د روزل شویو کارکوونکیو په ترلاسه کولو کې له مشکل سره مخ دی ځکه چې شخصي قراردادیان لوړ معاشونه ورکوي.

6. د USAID د بودیجې د انرژۍ پروژې د ځنډېدنو او بې ځایه لګښتونو سره مخ شوې دي چې لامل یې خطرناک امنیتي چاپېریال او د معیار د یقیني کولو د نظارت عمومي کمبود دي، دا د ځمکو د حقونو او ګمرکاتو د ستونځو څخه پرته دي. په مالي کال ۲۰۰۹ کې، د USAID د شپږو انرژۍ انفراسټرکچر د پروژو څخه (چې اټکل شوې ارزښت یې ٤۲۲.٦ ملیونه ډالرو) د بشپړېدو د خپل ټاکلي وخت نه شاته پاتې وې. د امنیت خرابوالي په ځانګړې ډول ځینې خاص پروژې اغېزمنې کړې دي، لکه په جنوبي افغانستان کې د کجکي هایډروپاور پلانټ د بېرته جوړولو کار. د دغې پروژې د امنیت لګښتونه د قرارداد د ارزښت د ۹٪ څخه ۳۰٪ ته لوړ شوي دي. USAID د انرژۍ د انفراسټرکچر په خپلو ډېرو پروژو کې د معیار د یقیني کولو د خپلواک پرسونل د کمبود سره مخ دی. اداري د دې ستونځې د حل کولو لپاره یو قراردادي په دنده ګومارلی دی چې د ځینو پروژو خپلواک نظارت ترسره کړي. USAID د دې قراردادي څخه تمه لرله چې د ۲۰۰۹ تر پای به د انرژۍ په پروژو مسلسل راپورونه برابر کړي.

7. USAID د ۲۰۱۲ کال پورې د افغانستان فعالیتي ظرفیت ۱۰۰۰ میګا واټه په زیاتولو سره د اعتباري او ارزانې برېښنا د رسولو یو هدف ټاکلی، خو په نورو مهمو برخو کې یې کوم اهداف او ضرب الاوقات ندي جوړ کړي، لکه د دې لپاره د افغانانو ظرفیت لوړول چې د انرژۍ انفراسټرکچر فعال او سمبال وساتي. برسېره پر دې، هر څو که USAID د جوړښت پیمانې – د تولید ظرفیت، برېښنا ته د لا زیات لاسرسی لرونکو خلکو شمېر، او د روزنې ترلاسه کوونکو خلکو شمېر – د کاري وړتیا د سمبالښت د پلانونو له لارې د قرارداد په کچه تعقیبوي، خو دا پلانونه د USAID سره مرسته نه کوي چې د پرمختګ اندازه په یوه ستراتیژیکه طریقه واخلي.

8. د انرژۍ په اړه د افغانستان بین الوزارتي کمیسیون د انرژۍ په سکټور کې د مرستندویانو د فعالیتونو د انسجام مسوولیت پر غاړه لري. هر څو که داسې ښکاري چې دې کمیسیون په اغېزمن ډول ستري پروژې د یو بل سره مربوطې کړې دي تر څو د شمال او جنوب لویدیځ برېښنایي پلانټونه پر مخ بوځي، خو دا دې ته اړتیا لري چې د انرژۍ په کوچنیو، کلیوالو د معلوماتو شریکول بهتر کړي. د متحده ایالاتو او نړیوال مرستندویانو د انرژۍ د کلیوالو پروژو لپاره په کومو تخنیکي معیارونو موافقه نده کړې، چې دا د دې خطر زیاتوي چې دا ټولنې به په راتلونکي کې یو بل سره د پیوست کېدو توان ونلري. سیګار همدراز د پروژو په کچه د USAID او په افغانستان کې د متحده ایالاتو د ځواکونو ترمنځ د همغږۍ کمبود هم معلوم کړی.

**سپارښتنې**

د دې لپاره چې د USAID د بودیجو د پروژو اغېزمنتیا او په راتلونکي کې د پروژو پلان جوړونه بهتره شي، سیګار سپارښتنه کوي چې په افغانستان کې د USAID د مشن مسوول دې دا څلور اقدامات وکړي:

- د افغان دولت او نړیوالو مرستندویانو سره کار کول چې د افغانستان د انرژۍ ماسټر پلان ترفیع کړي او اړتیاو ته ترجیحي بڼه ورکړي.
- د ظرفیت د لوړولو لپاره مهم هدفونه ټاکل او د انرژۍ د سکټور لپاره د O&M ملاتړ.
- دا خبره یقیني کول چې د جوړښت او نتیجي تطبیقېدونکي معیارونه په تسلسل سره د USAID د انرژۍ په ټولو پروژو کې تطبیق شوي وي.
- په افغانستان کې د متحده ایالاتو د ځواکونو او نړیوالو مرستندویانو سره کار کول چې د انرژۍ د پروژو لپاره عام تخنیکي معیارونه وټاکي.

**د سمبالښت تبصرې**

په کابل کې د متحده ایالاتو سفارت او په افغانستان کې د USAID مشن په یو ګډ ځواب کې د دې سپارښتنو سره موافقه ښودلې ده. هغوی د هغو اقداماتو خاکه وړاندې کړه چې هغوی د دې سپارښتنو د تطبیق لپاره کړي او پلان لري چې وبه یې کړي.

**د کابل د برېښنایي پلانټ د قرارداد ځنډېدنې د بې ځایه لګښتونو سبب کیږي، او دوامداري یوه مهمه ننګونه پاتې کیږي، د سیګار پلټنه ۱۰-۶**

په مۍ ۲۰۰۷ کې، په افغانستان کې د انرژۍ د انفراسټرکچر د بهترولو لپاره د متحده ایالاتو د هڅو په توګه، USAID په دوه ډوله تېلو د چلېدو یو داسې برېښنایي پلانټ د جوړولو موافقه وکړه، چې په ډیزلو یا درنو تېلو د چلېدو توان ولري، او چې د کابل لپاره به ۱۰۵ میګا واټه برېښنا تولید کړي. په جولای ۲۰۰۷ کې، USAID د لوییس برګر ګروپ، انکارپوریشن\بلیک اینډ ویټک جواینټ وینچر سره د افغانستان د انفراسټرکچر او بیا جوړوني د پروګرام (AIRP) د لاندې یو د ۱.٤ ملیونه ډالرو هدف امر قرارداد خپور کړ. دا "په تیزۍ سره" جوړه شوې پروژه د دې لپاره ډیزاین شوې وه چې په دریو بلاکونو کې ۱۸ یا په هر بلاک کې ٦ جنراتورونه ولګوي؛ هر بلاک به ۳۵ میګا واټه برېښنا برابروي. د ټاکل شوي وخت له مخې دا پروژه باید د ۲۰۰۹ د مارچ تر ۳۱مې نېټې بشپړه شوې وای. خو په قرارداد کې یو شمېر بدلونونو د پروژې لګښت تر ۳۰۰ ملیونه ډالرو واړاوه او د دې متوقع بشپړتیا یې ۱۲ میاشتې د ۲۰۱۰ د مارچ د ۳۱مې نېټې پورې وځنډوله. لږ تر لږه ٤۰ ملیونه ډالر اضافي لګښت د پروژې د ځنډېدنو نیغ په نیغه پایله وه.

د USAID د عمومي پلټونکي دفتر (USAID OIG) یو شمېر دغه فاکتورونه – چې USAID، اساسي قراردادي (بلیک اینډ ویټک)، او ضمني قراردادیانو ته راجع کیږي – په جوړېدلو کې د ځنډېدنو او د پلانټ د اضافي لګښت د لامل په توګه پېژندلي دي:

- د تعمیر لپاره د مناسب حق د ځمکې په ترلاسه کولو کې ناتواني
- د کار ناواضح بیان چې د خراب پلان او تطبیق سبب شوی
- د ضمني قرارداد په ورکولو او تحریکولو کې ځنډېدنې
- د ضمني قراردادي د کاري وړتیا ستونځې
- د USAID د قراردادي افسر نه په وخت د منظوریو کمی
- د کار په ځای کې د کیفیت د څرنګوالي څخه د اطمینان نشتوالی
- د USAID او قراردادي ترمنځ نامربوط ارتباط
- د USAID د ټرانسپورټیشن او ګمرکي محصولاتو ستونځې

**اهداف**

سيګار د USAID د بوديجې د هغې هڅې معاينه وکړه چې د کابل په خوله کې يو د ۱۰۵ ميګا واټه بريښنا پلانټ جوړ کړي؛ دا پروژه د پام وړ ځنډېدنو او غټو بې ځايه لګښتونو د تجربې سره مخ شوې ده. د هغې پلټنې د موندنو پر اساس چې د USAID OIG ترسره کړې وه، سيګار د لاندې مسلو معاينه وکړه:

- د پروژې د راپور شويو ځنډېدنو او بې ځايه لګښتونو بنسټ
- دې ستونځو ته د ځواب ورکولو لپاره شوي اقدامات
- ايا افغان دولت به د دې توان ولري چې د پلانټ چارې فعالې وساتي

**موندني**

د سيګار پلټنې دوه ستري موندنې لرلې:

1. د دې لپاره چې هغه ستونځې حل کړای شي چې د USAID OIG او سيګار لخوا راپورته کړای شوې وې، USAID او بليک اينډ ويټک دواړو ګڼ شمېر اقدامات د دې لپاره کړي چې يقيني کړي چې ټول ۱۸ جنراتورونه د ۲۰۰۹ د دسمبر تر مياشتې لګول شوي وي، چې د ۲۰۱۰ د مارچ د مياشتې څخه اخوا د نورو ځنډېدنو مخه نيول شوې وي، او چې د پروژې د لګښتونو په کمولو کې مرسته شوې وي. USAID د معيار د يقيني کولو يو خپلواک شرکت په کرايه رانيولی، کوم چې اوس د کابل د بريښنايي پلانټ په ځای کې کارکوونکي لري. برسېره پر دې، دې اداري د AIRP د ټولو هدف امرونو يوه پراخه داخلي کتنه ترسره کړې څو د پروژې د ځنډېدنو او د بې



**په دې درې مياشتنی کې د کابل** د بريښنايي پلانټ د جوړولو د پروژې په اړه د سيګار پلانټ د پروژې د ځنډېدنو او بې ځايه لګښتونو او د دې معاينه وکړه چې ايا افغان دولت به په راتلونکي کې د پلانټ چارو ته دوام ورکړای شي که نه. (د سيګار انځور)

ځايه لګښتونو سيستماتيک لاملونه وپېژني. بليک اينډ ويټک شرکت تفصيلي د پلي کولو او اړوندو کارونو پلانونه جوړ کړل، په کومو کې چې د کم لګښت د انجينرۍ غوراوي شامل وو. قراردادي په دې هم موافقه وکړه چې د کابل د برېښنايي پلانټ د کار د بشپړولو ټاکلی فيس به له منځه وړي. دې تدابيرو د پروګرام په لګښتونو کې ٥ مليونه ډالر کمی وکړ.

2. د کابل د برېښنايي پلانټ اوږدمهاله دوامداري بيا هم يوه سخته اندېښنه ده. د دغې دوامدارۍ د غټې برخې اتکاء په افغان دولت ده چې لازمي تېل ورته واخلي او O&M لګښتونه پوره کړي. دې لګښتونو ته د پېسو ورکولو لپاره د دې د مخکينيو ژمنتياو باوجود، USAID په دې نتيجه رسېدلې چې احتمال دی افغان دولت د دې دواړو خرچو لپاره نړيواله مرسته وغواړي ځکه چې دولت دا مهال دا توان نلري چې دومره کافي عايدات راغونډ کړي چې د پلانټ د چلولو لګښتونه پوره کړي. هر څو که نړيوال مرستندويان او USAID داسې پروګرامونه تطبيقوي چې افغان دولت سره د دې د مصرف د سکټور په تجارتي کولو کې مرسته وکړي، د USAID چارواکي اټکل کوي چې په دې کې به لږ تر لږه پنځه کاله لګي چې افغان دولت د دې توان پېدا کړي چې د کابل د برېښنايي اسانتيا څخه دومره عوايد راغونډ کړي چې د پلانټ د چلولو لګښتونه پرې پوره کړي.

USAID سيګار ته راپور ورکړ چې دا پلان لري چې د راتلونکيو څو کلونو په موده کې د O&M د زياتې برخې د ملاتړ کار په قرارداد ورکړي. که د ملاتړ د دې مودې نه وروسته د کابل د برېښنا اسانتيا د دې توان ونلري چې کافي عوايد راغونډ کړي، نو USAID ښايي په دې پرېکړه کولو کې د مشکل سره مخ شي چې ايا د فعال ساتلو لپاره بوديجې ورکولو ته ادامه ورکړي او که په پروژه کې د متحده اياlاتو ګډون پرېږدي چې په دې توګه به د ٣٠٠ مليونه ډالرو د اسانتيا راتلونکی په خطره کې واچوي.

USAID د کابل د برېښنايي پلانټ لپاره تراوسه پورې د تېلو نبغ په نبغه مرسته نده ورکړې؛ خو، د افغانستان د اقتصاد د وزير په غوښتنه، USAID د ٢٠٠٨\٢٠٠٩ د ژمي په موده کې د شمال لويديځ کابل د برېښنايي پلانټ لپاره د تېلو مرسته برابر کړې ده. USAID هغه ٢٨ مليونه ډالر د دې هدف



**يو د برېښنا جنراټور**، د کابل په برېښنايي پلانټ کې د ١٨ نه ١. (د سيګار انځور)

# د سيګار نظارت

لپاره کېښودل چې د افغانستان د بيا رغونې د باور د بوديجې لپاره يې بېلې کړې وې او د دې نه يې ١٥.٦ مليونه ډالر خرڅ کړل، چې په دې توګه ١٢.٤ مليونه ډالر دې ته پاتې شوي چې يا به يې د باور بوديجې ته ورکړي او يا به يې په بل هدف کې وکاروي. افغان دولت په رسمي ډول د تېلو د مرستې لپاره ١٢.٤ ډالرو غوښتنه کړې، خو USAID دې وروستی غوښتنې ته تراوسه ځواب ندی ورکړی.

د افغان دولت او متحده ایالاتو دا پرېکړه چې د دوه ډوله تېلو د کارولو اسانتیا جوړه کړي چې د چلولو لپاره د ډيزلو او يا درنو تېلو د کارولو توان لري د دې برېښنايي پلانټ د دوامدارۍ لپاره اضافي اوږدمهاله تاثيرات لري. سيګار پوهېږي چې افغان دولت د دوه ډوله تېلو اسانتيا غوښتله ځکه چې درانه تېل د ډيزلو نه ډېر ارزان دي، او دا هغه بچت دی چې ښايي دا چانس يې بهتر کړی وی چې حکومت دا پلانټ په خپلو سرچينو چلولی وی. د دوه ډوله تېلو د کاروونکي پلانټ د انجينيرۍ او جوړولو لګښتونه د يو ډول تېلو د اسانتيا نه ډېر زيات دي. برسېره پر دې، د دوه ډوله تېلو پلانټونه په چلولو او سمبالولو کې ډېر پيچلي وي، او د هغوی د O&M لګښتونه احتمال دی چې ډېرې زيات وي ځکه چې د درنو تېلو د کاروونکيو جنراتورونو زيانونه زيات وي.

**سپارښتنه**

سيګار سپارښتنه کوي چې د USAID د مشن مسوول دې د کابل په برېښنايي پلانټ کې د درنو تېلو د استعمال په معقوليت او مناسبت يوه واضحه څېړنه ترسره کړي او دا معلومات دې په هغو پرېکړو کې شامل کړي چې د دې اسانتيا د بشپړولو، او همداراز په اسانتيا کې له بشپړېدو وروسته د درنو تېلو د کارولو په تړاو دي.

**د سمبالښت تبصرې**

په کابل کې د متحده ايالاتو سفارت او په افغانستان کې د USAID مشن د دې راپور د موندنو او سپارښتنو سره موافقه وکړه او وې ويل چې په پلانټ کې د درنو تېلو د کارولو د تخنيکي معقوليت او



**د کابل د برېښنايي پلانټ د پلټنې** پر مهال، د سيګار، USAID، او بليک اينډ ويټک پرسونل د کنټرول د خونې معاينه کوي. (د سيګار انځور)

مناسبت یوه واضحه څېړنه د ۲۰۱۰ د مارچ د میاشتې تر پای پورې تیاره کړای شي. هغوی دا هم وویل چې د ۲۰۰۹ د ولسمشرۍ د ټولټاکنو څخه راپیدېخوا په حکومت کې بدلونونه دې خبرې ته موقع برابروي چې "د څېړنې د تخنیکي جوړښت، د پلانټ د څو میاشتو د کار، او د سکټور د تجارتي کولو او د عایداتو د بهترولو د روانو هڅو په رڼا کې" د دوه ډوله تېلو د کارولو د پلان د غوراوي بیا معاینه وکړای شي.

## په دې درې میاشتنۍ کې اعلان شوې نوې پلټنې

د دې راپور په موده کې، سیګار اوه نوې پلټنې پیل کړې دي. په هغوی کې شامل دي څلور د تمرکزي قراردادونو پلټنې – یوه یوه په فراه او کندز ولایتونو کې د افغان ملي اردو د مرکزونو د جوړولو د قراردادونو، او د ننګرهار ولایت په کمبیرې کې، او یوه د ګلوبل سټراتیجیز ګروپ سره د امنیتي خدمتونو د قرارداد. دوه نورې پلټنې د فساد ضد پروګرام د برخې په توګه پیل شوې دي: یوه د متحده ایالاتو او نورو مرستندویانو د هغو هڅو په اړه چې د افغانستان د کنټرول او احتساب د دفتر (CAO) د پیاوړي کولو لپاره یې کوي؛ دویمه د USAID د هغې مرستې معاینه کوي چې د افغان دولت چارواکیو او مشاورینو ته معاشونه ورکوي. یوه بله اضافي پلټنه به هغه قراردادیان وپېژني چې د افغانستان د بیا رغونې لپاره د متحده ایالاتو په سترو قراردادونو کې اساسي ګډونوال دي.

### د تمرکزي قرارداد پلټنه: په فراه ولایت کې د ملي اردو د کنډک د مرکز رغونه

سیګار په فراه ولایت کې د افغان ملي اردو د کنډک د مرکز لپاره د متحده ایالاتو په بودیجه د ۱ پړاو او ۲ پړاو لپاره د متحده ایالاتو د پوځي قول اردو (USACE) د ساختماني قراردادونو معاینه کوي.

دا پلټنه لاندې پوښتنې بحث کوي:

- ایا دغه د کنډک مرکز د قرارداد په شرایطو کې دننه جوړ شوی و که نه، په ګډون د وخت او لګښتونو؟
- د قرارداد د کار او د قراردادي د لګښتونو او پېسو لپاره کوم ملاتړ او اسناد داخل کړای شوي وو، او ایا دا هر څه چې داخل کړای شوي وو د تطبیقېدونکیو غوښتنو سره سم وو؟
- ایا د متحده ایالاتو د قرارداد او نظارت اداره تطبیقېدونکې غوښتنې پوره کوي؟
- ایا افغان ملي اردو، کومې چې د دې مرکز واک په لاس کې اخیستی، دا مرکزونه چلولی او سمبالولی شي؟

دا پلټنه به همدارازهغه ضمني قراردادیان وپېژني چې د اساسي قراردادي لخوا کارول شوي وو او معلوم به کړي چې ۱) کوم ضمني قراردادیان، که کوم وو، د ځای د پرسونل او امنیت د برابرولو لپاره په کار ګومارل شوي وو او ۲) ایا افغان دولت د افغان ضمني قراردادیانو هغه وخت په افغانستان کې د کار کولو منظوري ورکړې وه که نه.

### د تمرکزي قرارداد پلټنه: په کندز ولایت کې د ملي اردو د ۲۰۹|۲م د اساسي مرکزونو جوړول

سیګار په کندز کې د متحده ایالاتو په بودیجه د افغان ملي اردو د ۲۰۹|۲م اساسي مرکزونو د جوړولو د ۱ پړاو او ۲ پړاو لپاره د USACE د قراردادونو معاینه کوي چې دا پوښتنې ځواب کړي:

- ایا دغه مرکزونه د قرارداد په شرایطو کې دننه جوړ شوی و که نه، په ګډون د وخت او

لګښتونو؟

- د قرارداد د کار او د قراردادي د لګښتونو او پیسو لپاره کوم ملاتړ او اسناد داخل کړای شوي وو، او ایا دا هر څه چې داخل کړای شوي وو د تطبیقېدونکیو غوښتنو سره سم وو؟
- ایا د متحده ایالاتو د قرارداد او نظارت اداره تطبیقېدونکي معیارونه پوره کوي؟
- هغه کوم پلانونه دي چې افغان ملي اردو د دغو مرکزونو واک په لاس کې واخلي، انتظام یې سمبال کړي، او د دوامدارۍ لګښتونه یې ورکړي؟

دا پلټنه به همدارز هغه ضمني قراردادیان وپېژني چې د اساسي قراردادي لخوا کارول شوي وو او معلوم به کړي چې ۱) کوم ضمني قراردادیان، که کوم وو، د ځای د پرسونل او امنیت د برابرولو لپاره په کار ګومارل شوي وو او ۲) ایا افغان دولت د افغان ضمني قراردادیانو هغه وخت په افغانستان کې د کار کولو منظوري ورکړې وه که نه.

**د تمرکزي قرارداد پلټنه: د ننګرهار ولایت په ګمبیري کې د ملي اردو د کنډک د مرکز جوړول**

سیګار په ګمبیري کې د متحده ایالاتو په بودیجه د افغان ملي اردو د کنډک د مرکز د ۱، ۲، او ۳ پړاو لپاره د یو USACE د جوړولو د قراردادونو او د ګمبیري رینج کمپلیکس لپاره د یو قرارداد معاینه کوي. سیګار به دا پوښتنې ځوابوي:

- ایا دغه دغه مرکزونه د قرارداد په شرایطو کې دننه جوړ شوی و که نه، په ګډون د وخت او لګښتونو؟
- د قرارداد د کار او د قراردادي د لګښتونو او پیسو لپاره کوم ملاتړ او اسناد داخل کړای شوي وو، او ایا دا هر څه چې داخل کړای شوي وو د تطبیقېدونکیو غوښتنو سره سم وو؟
- ایا د متحده ایالاتو د قرارداد او نظارت اداره تطبیقېدونکي معیارونه پوره کوي؟
- هغه کوم پلانونه دي چې افغان ملي اردو د دغو مرکزونو واک په لاس کې واخلي، انتظام یې سمبال کړي، او د دوامدارۍ لګښتونه یې ورکړي؟

دا پلټنه به همدارز هغه ضمني قراردادیان وپېژني چې د اساسي قراردادي لخوا کارول شوي وو او معلوم به کړي چې ۱) کوم ضمني قراردادیان، که کوم وو، د ځای د پرسونل او امنیت د برابرولو لپاره په کار ګومارل شوي وو او ۲) ایا افغان دولت د افغان ضمني قراردادیانو هغه وخت په افغانستان کې د کار کولو منظوري ورکړې وه که نه.

**د تمرکزي قرارداد پلټنه: د ګلوبل ستریټیجیز ګروپ انکارپوریشن څخه د امنیتي ملاتړ د خدمتونو جوړول**

دا پلټنه، کومه چې په افغانستان کې د خصوصي امنیتي قراردادیانو په اړه د سیګار د کتنې سره تړاو لري (وګورئ "رواني پلټنې")، د دې معاینه کوي چې ایا USACE د قراردادیانو څخه هغه امنیتي خدمتونه چې دې ورته اړتیا لرله په معقول لګښت ترلاسه کړي وو که نه. دا پلټنه به لاندې پوښتنې ځواب کړي:

- ایا د قرارداد غوښتنې د قرارداد په شرایطو کې دننه بشپړې شوې که نه، په ګډون د وخت او لګښت؟
- د قرارداد د کار او د قراردادي د لګښتونو او پیسو لپاره کوم ملاتړ او اسناد داخل کړای شوي وو، او ایا دا هر څه چې داخل کړای شوي وو د تطبیقېدونکیو غوښتنو سره سم وو؟

- ايا د متحده ايالاتو د قرارداد او نظارت اداره تطبيقېدونکي معيارونه پوره کوي؟
- ايا د اساسي قراردادي لخوا کوم ضمني خصوصي امنيتي قراردادیان کارول شوي وو که نه؟ که شوي وو، نو ايا د اساسي قرارداد شرايط په ضمني قرارداد کې شامل کړای شوي وو که نه؟

**د متحده ايالاتو او نورو مرستندويانو د افغانستان د کنټرول او احتساب د دفتر د ورتياو د پياوړي کولو د هڅو کتنه**

دا پلټنه د سيګار د هغه پروګرام برخه ده چې د افغان دولت د ادارو د فساد ضد وړتياو د ملاتړ لپاره د متحده ايالاتو او نورو مرستندويانو د مرستې جاج اخلي. سيګار د CAO د پياوړي کولو لپاره د متحده ايالاتو او نورو مرستندويانو مرسته معلوموي، د دې د وړتياو او کار اندازه اخلي، او دې لپاره د متحده ايالاتو او نورو مرستندويانو د مرستې اغېزمنتيا معلوموي.

**د USAID لخوا تمويل شوي د هغو معاشونو کتنه چې افغان چارواکيو او مشاورينو ته ورکول کېږي**

دا پلټنه، کومه چې د مهمو افغان ادارو د داخلي کنټرولونو او احتسابي پروسيجرونو د اندازې لګولو لپاره د سيګار د هڅې برخه ده، دا اهداف لري:

- د USAID د بوديجې هغه ټول معاشونه پېژندل چې د افغان دولت چارواکيو او مشاورينو ته ورکول کېږي.
- د دې معاشونو د ترلاسه کوونکيو او د معاش د اندازې د پرېکړې لپاره د داخلي کنټرولونو او د احتساب د نورو ميکانزمونو معاينه.
- د ناسم استعمال پر وړاندې د متحده ايالاتو د بوديجو د تحفظ لپاره د دې ميکنازمونو اغېزمنتيا معلومول.

**په افغانستان کې د بيا رغونې د قراردادونو لپاره د سترو ګډونوالو پېژندل**

سيګار دا پلټنه د دې لپاره پيل کړې چې د بيا رغونې لپاره د متحده ايالاتو تر ټولو ستر قراردادونه وپېژني او تشريح يې کړي. دا به د سيګار د راتلونکي تمرکزي قرارداد په پلټنو کې د لارښودنې مرسته وکړي. د حکومت د احتساب دفتر (GAO) سيګار ته د هغه ډاټابيس لاسرسی ورکړی چې د مالي کال ۲۰۰۷ او ۲۰۰۸ او د ۲۰۰۹ د لومړنيو شپږو مياشتو پر مهال په افغانستان کې د قراردادونو د بحث کوونکيو د راپورونو د تيارولو لپاره يې جوړ کړی دی. سيګار د GAO ډيټا تحليل کړې څو په دغه موده کې د ټولو غوښتنو په پوره کولو سره اساسي ګډونوال وپېژني او درجه ورکړي. سيګار به درې هدفونه جاري وساتي:

- دا يقيني کول چې دا ګډونوال او ورسره پېژندل شوي ملګري قراردادونه د افغانستان د بيا رغونې لپاره دي (نه دا چې د متحده ايالاتو د موجوديت د ملاتړ لپاره).
- د پېژندل شويو قراردادونو د بشپړ ارزښت او هدف معلومول.
- په مالي کال ۲۰۰۹ کې د هر قراردادي لخوا د راپور شويو ټولو پوره کړيو غوښتنو او لګښتونو سندول.

سيګار به د بهرنيو چارو د وزارت، دفاع وزارت، او USAID سره کار کوي څو داسې اساسي قراردادیان وپېژني چې افغانستان سره د بيا رغونې د مهمې مرستې داسې فعال قراردادونه لري چې د GAO په ډاټابيس کې ندي ښکاره شوي. د دې هڅې د نقل د کمولو لپاره، سيګار دا کار د جي او ای

د مالي کال ۲۰۰۹ د وروستیو شپږو میاشتو د قراردادونو د غوښتنو د پوره کولو د روان غونډ سره مربوطوي.

## رواني پلټنې

د دې درې میاشتنۍ پر مهال، سیګار په نهو نورو پلټنو کار روان وساته، چې په هغوی کې شامل دي د قرارداد او پروګرام کتنې، او همداراز د سیګار د فساد ضد پروګرام سره تړلې اندازې. دا پلټنې د امنیت، دولتدارۍ، او پرمختیا مسلې بحث کوي.

**د بیا رغونې د بودیجو او پروژو لپاره د ادارو د مدیریت نظارت، کړنلارې، او پالیسیو بیا کتنه**

سیګار یو لړ پلټنې ترسره کوي چې د دې خبرې ارزښت وټاکي چې تطبیق کوونکې اداري د بیا رغونې پرواګرام څه ډول اداره کوي. دا پلټنې د یوې اداري د پروژو د پر مخ وړلو او سمبالولو د توان اندازه اخلي، د کار معیارونه ټاکي، د بودیجو د راتګ کنټرول او حساب نیسي. سیګار د CSTC-A د بیا رغونې د پروګرامونو د نظارت په اړه لا د مخه راپور ورکړی دی. سیګار دا مهال د USAID د بیا رغونې د پروګرامونو د نظارت کتنه کوي.

**په افغانستان کې د ولسمشرۍ او ولایتي شورا ګانو د ټولټاکنو د تیاري او ترسره کولو لپاره د متحده ایالاتو مرستې ته کتنه**

دا پلټنه، چې په انتخابي پروسې د راپورونو د سلسلې دریمه کړۍ ده، یواځې یو هدف بحث کوي: د انتخابي پروسې پیاوړتیاوې او کمزورۍ پېژندل او د انتخابي اصلاحاتو لپاره سپارښتنې کول. د دې کار د یوې برخې په توګه، یوه عامه نظرپوښتنه ترسره کړه څو د ټولټاکنو په اړه د افغانانو نظرونه معلوم کړي. دا همداراز د ۲۰۰۹ د ولسمشریزو او ولایتي شوراګانو د ټولټاکنو په اړه خپلواکو اندازو ته هم کتنه کوي.

**په افغانستان کې د بیا رغونې پروګرامونو ته د امنیت د برابرولو لپاره د متحده ایالاتو د ادارو د قراردادیانو کارولو ته کتنه**

سیګار دا پلټنه د دې لپاره ترسره کوي چې د هغو روانو قراردادونو شمېره او اندازه معلومه کړي چې په افغانستان کې امنیتي خدمتونه برابروي. دا پلټنه به دا اهداف بحث کړي:

- د هغو امنیتي قراردادیانو او پرسونل شمېر معلومول چې په افغانستان کې د مرکزي ادارو لپاره کار کوي.
- د ادارو لخوا د امنیتي قراردادیانو او ضمني قراردادیانو د سمبالښت او نظارت اندازه واخلي.
- هغه حد معلوم کړي تر کومه چې جي ای او عمومي پلټونکیو ټولنې د خصوصي امنیتي قراردادیانو په اړه پلټنې ترسره کړې دي.

**د افغان ملي امنیتي ځواکونو د وړتیاو اندازه**

سیګار دا پلټنه د دې لپاره ترسره کوي چې د وړتیا د هغې درجه بندۍ د اعتبار جاج واخلي چې د ANSF د وړتیاو د پیمانه کولو لپاره کارول کېږي. دا پلټنه به دا اهداف بحث کړي:

- هغه میتودونه پېژندل چې د ANSF د وړتیاو د پیمانه کولو او تصدیقولو لپاره کارول کېږي.
- د هغه حد اندازه کول تر کومه چې د تیارۍ د اندازې میتودونه د افغان ملي اردو او افغان ملي پولیس ترمنځ او په منځ کې جلا جلا دي.
- د هغې درجې معلومول په کومه کې چې د وړتیا د درجه بندۍ سیستم د ANSF د وړتیاو یوه اعتباري خاکه وړاندې کوي.
- د هغه حد پېژندل تر کومه چې ننګونو د متحده ایالاتو د حکومت د دې توان مخه نیولې چې د ANSF د وړتیاو اندازه واخلي.

**د افغان ملي امنیتي ځواکونو د پرسونل د سمبالښت کتنه**

سیګار دا پلټنه د دې لپاره ترسره کوي چې د هغه حد جاج واخلي تر کومه چې ANSF د خپل پرسونل د شمېر لپاره دقیق سیستمونه جوړ کړي دي. دا به لاندې څلور عناصر تشریح او اندازه کړي:

- هغه کچه چې د هغې په اساس د افغان ملي اردو او افغان ملي پولیسو پرسونل شمیرل شوي او تصدیق شوي دي
- د متحده ایالاتو او نړیوالو مرستندویانو لخوا د ANSF د پرسونل د شمارلو د سیستمونو په جوړولو کې شوې مرسته
- هغه ننګوني چې د پرسونل د شمارلو د سیستمونو د معمول د بشپړولو او انتظام سره ملګرې دي
- د هغې کچې معلومول چې د پرسونل ناسمو شمیرو له اضافي ننګونو سره مخ کړي دي، په ټګې سره د ANSF د معاشونو د تولولو په شمول

**په کندهار ولایت کې د کندهار هوایي ډګر نه بهر د ګډو سیمییزو افغان ملي امنیتي ځواکونو د ودانۍ د جوړولو قرارداد ته کتنه**

دا کتنه د سیګار د معاینې په توګه پیل شوې او د دې لپاره پراخه شوې چې د قرارداد د پلټنې د اهدافو سره سمه شي. سیګار د ګډو سیمییزو ANSF ځواکونو د ودانۍ او مرکزونو د جوړولو لپاره د متحده ایالاتو په بودیجه د قراردادونو، چې بشپړېدو ته نږدې دي، معاینه کوي څو لاندې پوښتنې ځواب کړي:

- ایا دغه د انفراسټرکچر پروژې د قرارداد په شرایطو کې دننه بشپړېږي که نه، په ګډون د وخت او لګښت؟
- د قرارداد د کار او د قراردادي د لګښتونو او پیسو لپاره کوم ملاتړ او اسناد داخل کړای شوي دي، او ایا دا هر څه چې داخل کړای شوي د تطبیقېدونکیو غوښتنو سره سم دي؟
- د متحده ایالاتو د قرارداد د ادارې او نظارت معیار څه دی؟
- کوم پلانونه موجود دي چې افغان ملي اردو د دغو مرکزونو واک په لاس کې واخلي، انتظام یې سمبال کړي، او د دوامدارۍ لګښتونه یې ورکړي؟

**د افغاني میرمنو او نجونو لپاره د ځانګړې شویو بودیجو استعمال ته کتنه**

سیګار دا پلټنه د دې لپاره ترسره کوي چې د افغانستان د مېرمنو او انجونو لپاره د کانګرس لخوا د ځانګړې شویو بودیجو پروسه وپېژني، او هغه حد معلوم کړي تر کومه چې د دوی استعمال د متحده ایالاتوي د قانوني غوښتنو سره سم شوی دی. سیګار همداراز د دې خبرې اندازه لګوي چې دا ادارې د دې پروګرامونو اغېزمنتیا څرنګه پیمانه کوي او ادارې د دې پروګرامونو د دوامدارۍ د یقیني کولو لپاره څه کوي.

**په افغانستان کې لوییس برګر ګروپ سره د USAID د قراردادونو د قراردادي کاري ورتیا او د اداري نظارت ته کتنه**
دا پلټنه به د دې قراردادي په اړه د USAID د نظارت اندازه واخلي. د دې اندازې د برخې په توګه، سیګار د USAID د OIG د لوییس برګر ګروپ د کاري ورتیا په اړه د موندنو تحلیل کوي.

**په فراه ولایت کې د توج پول د جوړولو د قرارداد کتنه**
د افغانستان په ولایتونو کې د بیا رغونې په هڅو کې د ولایتي بیا رغونې ټیمونه (PRT) تر هر چا مخکې دي. PRT زیاتره وخت پروژو ته د بودیجو ورکولو لپاره د قوماندان د بیړني ځواب په پروګرام (CERP) اتکاء کوي. سیګار په فراه کې د متحده ایالاتو په مشرۍ د PRT د هغې هڅې اندازه اخلي چې د CERP په بودیجو یې د ۱.۷ ملیونه ډالرو په لګښت پول جوړ کړی.

## د ساینسي طریقه کار پلټنه

سیګار یو د ساینسي طریقه کار پروګرام پیلوي چې پکې به د معلوماتو د راایستلو د تخنیکونو په کارولو سره په پیسو ورکولو کې هغه ګډوډۍ معلومې چې دوکه یا ضیاع ښکاره کوي، او همدارنګ خراب داخلي کنټرولونه او د احتساب نشتوالی معلوموي. دا پروګرام به د سیګار په قانون سازۍ کې د هغه شرط تطبیق پیل کړي چې د بیا رغونې د بودیجو یوه د ساینسي طریقه کار پلټنه دې وشي. د لومړي قدم په توګه به سیګار د دفاع د مالي او حسابي خدمت څخه د هغو ټولو پیسو ډاټا ترلاسه کړي چې د بیا رغونې په پروګرام کې ورکړل شوي دي.

د معلوماتو د راایستلو د تخنیکونو په کارولو سره به سیګار د هغو ګډوډیو څېړنه وکړي چې نور تحقیق غواړي. د نورو تر څنګ، په دې ګډوډیو کې شامل دي د یو کار لپاره ډېر ځله پیسي ورکول، نامعلومو ګډونوالو ته پیسي ورکول، او یا هغه پیسي چې واک، منظوري او ترلاسه کول یې یو سړي ته شوي وي. کله چې دغه ډول ګډوډي معلومه شي، سیګار به داسې پلټونکي وټاکي چې اضافي څېړنه وکړي او یا دغه قضیه تحقیق کارانو ته وسپاري.

د سیاسي طریقه کار دا پلټنه به سیګار سره مرسته وکړي چې په لا ښه طریقه یو داسې طریقه کار جوړ کړي چې د دې لخوا ترسره کېدونکې پلټنې وپېژني. دا به همدارنګ داسې ثبوت برابر کړي چې داخلي کنټرولونه او احتساب برابرولی شي، او همدارنګ د دوکې رابرسېره کولو او محاکمې لار جوړوي او په ناسمه طریقه ورکړل شوې پیسي بېرته راوباسي. سیګار تمه لري چې د ساینسي طریقه کار دا پلټنه به په دې مالي کال کې وروسته نتیجې راوړي.

## پلان شوې پلټنې

سیګار پلان لري چې په بېلابېلو موضوعاتو پلټنې ترسره کړي، په ګډون د تمرکزي قرارداد د پلټنو او د بیا رغونې په مختلفو اړخونو د پراخې کاري ورتیا پلټنې. سیګار به دا پلټنې هغه وخت پیل کوي چې اضافي پلټونکي په کار وګوماري او روان کار بشپړ کړي. هغه پلټنې چې سیګار فکر کوي ترجیحي دي او هیله لري چې د راروانو شپږو میاشتو دننه به یې پیل کړي د لاندې مسلو کتنې پکې شامل دي:

- د اضافي ملکي ماهرانو تطبیق
- د افغانستان د ملي پخلاینې د پروګرام لپاره داخلي کنټرولونه او احتساب
- د انټرنېشنل ریلیف او ډیولپمنټ انکارپوریشن سره د USAID د قرارداد کاري ورتیا او نظارت
- د زراعت د سکټور لپاره د متحده ایالاتو او نورو مرستندویانو ملاتړ
- د دفاع وزارت د ۱۰۰ ملیونه ډالرو د بنې کاري ورتیا پروګرام

- د MPRI سره د CSTC-A د قرارداد کاري ورځتيا او نظارت

## تحقیقلت

په دې درې میاشتنی کې، د سیګار د جنایي تحقیقاتو ریاست په خپلو فعالیتونو کې د پام وړ پراخوالی راوستی دی. دې ۱۷ نوې قضیې پرانستې دي او د اقدام لپاره یې یوه رسمي حواله کړې چې پکې یې د یو داسې قراردادي د له کاره لیرې کولو او بندېز پرې لګولو سپارښتنه کړې چې په افغانستان کې د بیا رغوني په یوه ستره پروژه کې شامل و. دې ریاست همداراز څلور نوې تحقیق کوونکي په کار وګومارل او د سیګار د مرستې د شمېرې او د شکایت د سمبالښت د پروګرام مسوولیت یې هم په غاړه واخیست.

د سیګار د تېر درې میاشتني راپور څخه راوروسته، دوه غبرګ تابعیت لرونکي افغان-امریکایي اتباعو د یوې مرکزي ولسوالی په محکمه کې د متحده ایالاتو د پوځ قراردادي چارواکیو ته د رشوت ورکولو د هڅې له امله د څلور کاله قېد جزا ورکړل شوې ده. سیګار په هغه ګډ تحقیق کې فعاله ونډه اخیستې وه چې پایله یې د دوی د جرم ثابتېدل شول.

## په نړیوالو قراردادونو کې د فساد هدف ځواک

د جنایي تحقیقاتو لپاره د سیګار د عمومي پلټونکي نایب مرستیال د نړیوالو قراردادونو د فساد د هدف ځواک (ICCTF) د مشرتابه پلاوي ته نومول شوی. ایي سي سي ټي ایف د دوکې، ضیاع، او ناسم استعمال د جنایي او ملکي قضیو تحقیق کوي، او د انصاف د محکمې د دوکې د کولو د هدف ځواک د نړیوالې ضمني کمېټې له لارې د مرکزي محاکمو اسانتیا برابروي. ICCTF د دوکې، ضیاع، او ناسم استعمال د جنایي او ملکي قضیو تحقیق کوي، او د انصاف د محکمې د دوکې د کولو د هدف ځواک د نړیوالې ضمني کمېټې له لارې د مرکزي محاکمو اسانتیا برابروي. د دې په غړیو کې د متحده ایالاتو د جنایي تحقیق او عمومي پلټونکي د ټولنې سترې ادارې شامل وې.[9] سیګار همداراز د هغو نهو هدف ځواکونو د غړیو څخه لومړنی و چې یو د پوره وخت تحقیق کار یې د ICCTF د ګډو فعالیتونو په مرکز کې وټاکه، کوم چې په واشنګټن ډي سي کې د تحقیقاتو په مرکزي بیورو کې موقعیت لري. د ګډو فعالیتونو مرکز غړو ادارو ته ستراتیژیک او فعالیتي ملاتړ برابروي، په ګډون د استخباراتي تحلیل، تحقیقي همغږۍ، او محکماتي ارتباط. ICCTF په افغانستان کې درې دفترونه لري. سیګار په ټولو درې واړو ځایونو کې د ICCTF د غړیو سره ګډ تحقیقات ترسره کوي. سیګار همداراز دا هڅې هم رهبري کوي چې د ICCTF د دفترونو شمېره په افغانستان کې نورو هغو ځایونو ته هم وغځوي چېرته چې متحده ایالات د بیا رغوني د پام وړ هڅو ته بودیجې ورکوي.

## د قضیو حالت

د ۲۰۰۹ د اکتوبر د ۱ نېټې څخه د دسمبر تر ۳۱مې، سیګار ۱۷ قضیې پرانستې دي او ۵ نورې یې تړلې دي. دا مهال، سیګار د ICCTF سره په همکارۍ د ۳۷ قضیو تحقیق کوي.

دا د سیګار د وروستي تحقیقاتي فعالیت یو څه سترې نمونې دي:

- دوو افغان-امریکایي اتباعو ته د رشوت ورکولو په هڅه کې جزا ورکړل شوه (په لاندې ضمني برخه کې تشریح شوې).
- سیګار د اقدام لپاره یوه رسمي حواله جاري کړې چې پکې مرکزي قوانینو نه په سرغړونه یې د یو ستر قراردادي د کار نه د لیرې کولو او پرې د بندېز سپارښتنه کړې ده.

- سیګار د هغه جنایي رشوت د تحقیق د ملاتړ لپاره چې د متحده ایالاتو یو مرکزي مامور پکې ککړ و د اوو مرکزي سترو قضاوتونو په څېړولو او د ابادی په درېو لټونونو کې برخه اخیستې.
- اوو نورو تحقیقاتو د ۱۵۰ ملیونه ډالرو په حد کې د دوکې احتمال معلوم کړی دی.

د سیګار په نویو قضیو کې د دوکې کول، د قرارداد دوکه، رشوت، غلا او ملکي تحقیق شامل دي.

## په کابل کې د متحده ایالاتو یو نظامي قراردادي ته د رشوت ورکولو په هڅه ورجینیا کې دوو سړو ته جزا ورکړای شوه

سیګار د رشوت په یو ګډ تحقیق کې فعال رول ولوباوه کوم چې د ۲۰۰۹ د نومبر په ۱۳مه د دې سبب شو چې د الیګزنډریا د ورجینیا د ختیځې ولسوالی لپاره د متحده ایالاتو د ولسوالی په محکمه کې دوه افغان-امریکایي قراردادیان جزایي شي. د کالیفورنیا د ایروین د سیمې ٤٨ کلن روح الله فاروقي لودین، او د نیو یارک ښار ۳۸ کلن حشمت الله فاروقي، چې دواړه ورونه دي، هر یو ته څلور څلور کاله د قېد جزا او ۳۰،۰۰۰ ډالر جریمه د دې لپاره واورول شوه چې د ۲۰۰۹ په لومړیو کې یې کله چې دوی په افغانستان کې وو د متحده ایالاتو د پوځ یو قراردادي چارواکي ته د رشوت ورکولو هڅه کړې وه. قرارداد د ۱۸ ملیونه ډالرو د یو ډیزاین او جوړولو د پروژې و، چې بودیجه یې CERP د لوګر په ولایت کې ورکوله. دې دواړو سړو په متحده ایالاتو کې د قراردادي چارواکي بانک ته د یو ملیون ډالرو په لېږدولو او د هغه استوګنځي ته د یو لګژري موټر د رسولو په وړاندیز سره هڅه کړې وه چې قرارداد په خپل حق کې واخلي. په لودین او فاروقي باندې د تېر کال په لومړیو کې جرم ثابت شوی و. د متحده ایالاتو د ولسوالی قاضي چې دوی ته یې جزا اورولې وه وویل چې د دواړو سړو اعمالو "دې ته لېوالتیا ښودلې وه چې یو داسې سیستم په فساد ککړ کړي کوم چې د یو جنګ ځپلې هېواد د مرستې لپاره جوړ شوی دی."



حشمت الله فاروقي



روح الله فاروقي لودین

## د سیګار تحقیق د بیا رغونې په پروژه کې دوکه رابښکاره کوي

د یو روان تحقیق په نتیجه کې، سیګار د انرژۍ په سکټور کې د بیا رغونې په یوه ستره پروژه کې د ضمني قراردادي لخوا د قرارداد اړوند دوکه رابښکاره کړه. سیګار داسې سند لرونکی ثبوت ترلاسه کړ چې ښودل یې چې دې ضمني قراردادي درواغ دعوه کړې وه، ریکارډ یې غلط کړی و، او د دې توطیه یې کړې وه چې د متحده ایالاتو د حکومت سره دوکه وکړي. نتیجتاً، سیګار د اقدام لپاره یوه رسمي حواله جاري کړه چې دغه ضمني قراردادي دې له کاره لیرې کړای شي او د متحده ایالاتو د حکومت د نورو قراردادونو لپاره دې پرې بندیز ولګي.

## د سیګار د مرستې شمېره

په دې درې میاشتنی کې، سیګار خپله د مرستې تلیفوني شمېره د جنایي تحقیقات ریاست ته انتقال کړه تر څو فعالیتونه تېز کړای شي او د شکایتونو جاج په بهتر ډول واخیستل شي. سیګار اراده لري چې د مرستې د دې شمېرې په اړه په متحده ایالاتو او افغانستان کې بېداري زیاته کړي او د افرادو لپاره مواقعې پراخې کړي چې د بیا رغونې په پروګرامونو کې د دوکې، ضیاع او ناسم استعمال د تورونو په اړه راپور ورکړي.

د مرستې د شمېرې شکایتونو په تلیفون راجستر کېدای شي، د سیګار په وېبپاڼه (www.sigar.mil/fraud)، د لیک له لارې، او مخ په مخ هم. د دې راپور ورکولو په موده کې، سیګار د خپلې مرستې د شمېرې په واسطه ۱۳ شکایتونه ترلاسه کړل. په مۍ ۲۰۰۹ کې د دې شمېرې په کار اچولو راهیسې، سیګار ټول ۸۶ شکایتونه ترلاسه کړي دي. په تورونو کې غلا، د قرارداد دوکه، په

وظيفو کې نا انصافي، د رسول شويو سامانونو او خدمتونو پيسي نه ورکول، د ناقانونه چارو د ښودونکو پر وړاندې غبرګون، او د بيا رغونې د بوديجو ضياع شامل وو. سيګار د دې شکايتونو څخه ۳۲ د مناسبو ادارو عمومي پلټونکو ته لېږلي دي او د ۲۹ نورو شکايتونو تحقيق کوي. سيګار معلومه کړې چې د دې شکايتونو څخه ۲۵ کوم اعتبار نه درلود.

## د سيګار بوديجه

په جولای ۲۰۰۸ کې د عمومي پلټونکي د ټاکل کېدو څخه راپدېخوا، کانګرس ۲۳.۲ مليونه ډالر سيګار ته مختص کړي دي. په دې کې هغه ۷.۲ مليونه ډالر هم شامل دي، کوم چې په جون ۲۰۰۹ کې د مالي کال ۲۰۰۹ د ضميمه يې اختصاص په توګه ورکړل شوي وو او د ۱۶ مياشتو لپاره موجود دي. د سيګار د مالي کال ۲۰۱۰ اختصاصونه ۲۳ مليونه ډالر دي. چې د ضميمه يې اختصاد ۷.۲ مليونه ډالر ورسره يو ځای کړای شي، نو سيګار د مالي کال ۲۰۱۰ لپاره ټول ۳۰.۲ مليونه ډالر لري. دا بوديجه سيګار په دې توانوي چې خپل کارکوونکي او فعاليتونه زيات کړي چې په افغانستان کې د بيا رغونې لپاره د متحده ايالاتو د بوديجو د نظارت لپاره او د دوکې، ضياع، او ناسم استعمال د معلومولو او مخنيوي لپاره زيات شوی ضرورت پوره کړي. انځور ۲.۱ د بوديجو يو لنډيز وړاندې کوي.

## د سيګار کارکوونکي

د دې راپور د مودې پر مهال، سيګار د خپلو مرکزي مامورينو شمېره د ۵۷ څخه ۷۲ ته لوړه کړه. په دوی کې ۶۷ مسلکيان چې د ۳۱۶۱ د واک لاندې مقرر شوي، ۳ په تفصيل د دفاع وزارت څخه، او ۲ په کابل کې د بهرني خدمت اتباع شامل دي. په راتلونکي درې مياشتنی کې، سيګار تمه لري چې ۱۵ نور مامورين ونيسي. د دې لپاره چې د بيا رغونې د پراخېدونکي پروګرام اغېزمن نظارت وکړي، سيګار پلان لري چې د مالي کال ۲۰۱۰ پر مهال د خپلو مامورينو شمېره ۱۱۸ ته او په مالي کال ۲۰۱۱ کې ۱۳۲ ته لوړه کړي.

د دې درې مياشتنی په نويو اخيستل شويو کسانو کې څلور ځانګړي اجنټان، شپږ پلټونکي، او يو انجينير شامل وو. ځانګړي اجنټان په عامه او د قرارداد په دوکه کې د پراخ جنايي تحقيق تجربه

جدول ۲.۱

**د سيګار د بوديجو لنډيز** (په مليونونو ډالرو)

| اختصاص | عامه قانون | اختصاص شوي | موجودي شوي | وخت يې اوړي | مبلغ |
|---|---|---|---|---|---|
| د مالي کال ۲۰۰۸ لپاره ضميمه يي اختصاصونه، ايچ.ار. ۲٦٤۲ | پی. ايل ۲۵۲-۱۱۰ | 6/30/2008 | 6/30/2008 | 9/30/2009 | $2.0 |
| د مالي کال ۲۰۰۸ لپاره ضميمه يي اختصاصونه، ايچ.ار. ۲٦٤۲ | پی. ايل ۲۵۲-۱۱۰ | 6/30/2008 | 10/1/2008 | 9/30/2009 | $5.0 |
| د غبنتلي امنيت، په ناورين کې د مرستي، او جاري اختصاصونو لايحه، ۲۰۰۹ | پی. ايل ۳۲۹-۱۱۰ | 9/30/2008 | 9/30/2008 | 9/30/2010 | $9.0 |
| د مالي کال ۲۰۰۹ لپاره ضميمه يي اختصاصونه، ايچ.ار. ۲۳۴٦ | پی. ايل ۳۲-۱۱۱ | 6/24/2009 | 6/24/2009 | 9/30/2010 | $7.2 |
| د يو ځای شوي اختصاصونو قانون، ۲۰۱۰ ايچ.ار. ۳۲۸۸ | پی. ايل ۱۱۷-۱۱۱ | 12/16/2009 | 10/1/2009 | 9/30/2010 | $23.0 |
| **ټول** | | | | | **$46.2** |

لري. ټول څلور واړه اجنټان – يو ځانګړی اجنټ د کورنيو چارو د وزارت څخه، يو ځانګړی اجنټ د عراق د بيا رغونې لپاره د ځانګړي عمومي پلټونکي (سيګير) څخه، او يو پخوانی مرستيال ځانګړی اجنټ مسوول او يو د تحقيق د مرکزي دفتر د نګراني ډلي ځانګړي اجنټ – په افغانستان کي ځای پر ځای شوي او يا د ځای پر ځای کېدو په پروسه کې دي. د دې درې مياشتنی په پای کې، د جنايي تحقيقاتو څانګې ١٤ تنه عمله لرله؛ دا تمه لري چې د مالي کال ٢٠١٠ پر مهال به ٩ اضافي کسان واخلي.

سيګار په دې درې مياشتنی کې ٦ نوي پلټونکي او يو انجينير نيولی؛ د پلټنې په رياست کې اوس ٢٨ کسان دي. نوي مامورين د GAO، نړيوال بانک، سيګير، او USAID څخه راغلي دي. د مالي کال ٢٠١٠ تر پای، سيګار اراده لري چې ٥٠ تنه نور پلټونکي د ځان سره کړي.

په کابل کې د متحده ايالاتو د سفارت سره د دې د اوسنی موافقې د لاندې، سيګار کولی شي چې ٣٢ تنه کارکوونکي په سفارت کې او په افغانستان کې په درېو سټلايټ دفترونو کې ځای پر ځای کړي. سيګار د سفارت سره د دې لپاره کار کوي چې د دفتر موجوديت پراخ کړي او په افغانستان کې په اضافي ځايونو کې کارکوونکي کېنوي. د دې راپور تر وخته، په افغانستان کې د سيګار د عملي ٧٥% غړي په مستقيم ډول په دې هېواد کې مېشت دي. سيګار د عملي پاتې ځايونه د دې لپاره کاروي چې پلټونکي او تحقيق کوونکي پکې په عارضي توګه د مشخصو مشنونو د ترسره کولو لپاره ځای کړي. يو ځل چې دغه کسان په افغانستان کې خپل کار بشپړ کړي، نو دا کسان د سيګار مرکز ته ستنېږي چې خپل ليکلي راپورونه بشپړ کړي.

**بدیل فصلونه**

یو پلار او ماشومان يې په بازار کې انار خرڅوي. انار روایتي افغان فصلونه دي چې د کوکنارو لپاره د لوړ ارزښت بدیل دي. (UNODC انځور)

# 3 د بيا رغوني تازه حال



"[افغانان] حق لري چې په دموکراتیک ډول د انتخاب شوي حکومتي سیستم سره د امنیت او ارام ژوند نه خوند واخلي. . د خپلو خلکو د دې حق په پېژندلو سره، په راتلونکو پنځو کلونو کې، زه غواړم افغانستان یو داسې هېواد شي چې د خپل ځان د دفاع توان ولري، او چې سوله په ټول ملت حکومت وکړي."

- افغان ولسمشر حامد کرزی

سرچینه: د افغانستان اسلامي جمهوریت، د ولسمشر دفتر، "د افغانستان د اسلامي جمهوریت د ولسمشر د لوړې کولو د غونډې پر مهال د پرانستې وینا،" آنلاین وکتل شوه په ۱۱\۱۹\۲۰۰۹.

# عمومي کتنه

درییمه برخه په افغانستان کې د بیا رغونې لپاره د متحده ایالاتو د هڅو یوه بشپړه کتنه، د ننګونو او سیمییزو پروګرامونو د یو تازه حال په ګډون وړاندې کوي. په هېواد کې د شرایطو دا کتنه د هغو لاسته راوړنو او ننګونو یوه پراخه مقایسه وړاندې کوي چې د بیا رغونې پر مهال رامخې ته شوي دي.

دا برخه په پنځو ضمني برخو کې ویشل شوې ده: د بودیجو حالت؛ امنیت؛ دولتداري، د قانون حاکمیت، او بشري حقونه؛ اقتصادي او ټولنیزه پرمختیا، او د مخدره موادو پر خلاف مبارزه. د امنیت، دولتدارۍ، او د اقتصادي او ټولنیزې پرمختیا ضمني برخې د هغو درېو اساسونو انعکاس کوي چې د افغانستان په ملي پرمختیایي ستراتیژۍ (ANDS) کې ایښودل شوي دي. د مخدره موادو پر خلاف د مبارزې ضمني برخه په هغه مهمه مسله تمرکز کوي چې په ANDS کې پېژندل شوې وه. د دې عمومي کتنې په پای کې د ګرافکس کیلي ښیي چې ګرافکس څرنګه په دې ټوله برخه کې کارول شوي دي.

## موضوعات

درییمه برخه په پنځو پراخو موضوعاتو بحث کوي: د بودیجو تاریخي او اوسني معلومات، امنیتي شرایط، د دولتدارۍ فعالیتونه، اقتصادي او ټولنیز پرمختیایي پروګرامونه، او د مخدره موادو په خلاف د جګړې اقدامات. درې میاشتنۍ ښکارونې چې په دې ټوله برخه کې خپرې دي د یوې مشخصې ضمني برخې دننه د بیا رغونې د هڅو په تړاو په یوې واحدې موضوع تاکید کوي.

د بودیجو د حالت ضمني برخه د هغو پیسو په اړه یو بشپړ بحث وړاندې کوي چې د افغانستان د بیا رغونې لپاره ژمنه شوي او لېږل شوې دي. په دې کې همداراز د متحده ایالاتو په سترو بودیجو، نړیوالو ورکړو، او د افغانستان د اسلامي جمهوري دولت په اړه مشخص معلومات شامل کړای شوي دي. یوه درې میاشتنۍ ښکارونه د افغان دولت د مالي حالت په اړه معلومات ورکوي.

د امنیت ضمني برخه د افغان ملي امنیتي ځواکونو د فعالیتونو په اړه تفصیلات ورکوي، په ګډون د افغان ملي اردو او افغان ملي پولیسو، او په افغانستان کې د امنیت د بهترولو لپاره د متحده ایالاتو او نړیوالو په هڅو بحث کوي. یوه درې میاشتنۍ ښکاروه د سرک د غاړې په ماینونو بحث کوي، کوم چې په افغانستان کې د مرګونو تر ټولو لوی سبب دی.

د دولتدارۍ، د قانون د حاکمیت، او د بشري حقونو ضمني برخه د ښې دولتدارۍ د لاس ته راوړلو په لور د افغان دولت د هڅو او پرمختګ یوه عمومي کتنه وړاندې کوي. دا په عدلي اصلاحاتو، د مخدره موادو خلاف هڅو، او د مذهبي ازادۍ په اړخونو کې د پرمختګ یوه بشپړه عمومي کتنه وړاندې کوي. دا ضمني برخه په ټول هېواد کې د ولایتي بیا رغونې د ټیمونو په کار د بحث سره پای ته رسېږي.

د اقتصادي او ټولنیزې پرمختیا ضمني برخه په هغو برخو کې د بیا رغونې پر فعالیتونو تمرکز کوي چې د زراعت څخه تر ټرانسپورټیشن او عامې روغتیا پورې رسېږي. دا د اقتصادي حالت یو انځور او د هغه پرمختګ تازه حال وړاندې کوي چې د بنسټیزو خدمتونو په رسولو، د زراعتي جوړښت په بهترولو، او د خصوصي سکټور په زیاتولو کې شوی دی. یوه درې میاشتنۍ ښکارونه د افغانستان اقتصاد او د دې ناشنا ننګونې بحث کوي.

د مخدره موادو په خلاف د جګړې ضمني برخه د افغانستان په اقتصاد کې د مخدره موادو د اثر

د کمولو هڅې تشریح کوي. دا د کوکنارو نه پاکو ولایتونو په ترلاسه کولو، په متبادلو پرمختیایي پروګرامونو، او د مخدره موادو خلاف کار د ترسره کولو لپاره د ظرفیت په لوړولو کې د پرمختګ تازه حال وړاندې کوي. دا ضمني برخه د متحده ایالاتو او افغانستان هغه ګډې هڅې ښکاره کوي چې د مخدره موادو پر خلاف یې کړې دي او هغه ننګونې بحث کوي چې د دې هڅو د بریالیتوب په لاره کې خنډ دي.

## د کار طریقه

دریيمه برخه د عامه سرچینو د معلوماتو او ډاټا د کارولو تر څنګ د هغو اضافي معلوماتو نه جوړه شوې ده چې د متحده ایالاتو د ادارو لخوا ورکړل شوي دي. استثنا له هغو ځایونو چېرته چې د سیګار د پلټنو یا تحقیقاتو مشخصې حوالې ورکړل شوي، سیګار د دې ډاټا پلټنه نده کړې؛ دا معلومات د سیګار د نظرونو څرګندونه نه کوي. ټوله ډاټا او معلومات د متن په پاڼلیکونو او یا د چوکاټونو او اعدادوشمار د انځورونو په یادونو کې هغې ادارې ته نسبت شوي دي کوم چې یې راپور ورکړی دی. د دې درې میاشتنۍ پر مهال د سیګار د پلټنو او تحقیقاتو په اړه د یو بشپړ بحث لپاره وګورئ برخه ۲، "د سیګار نظارت."

## د معلوماتو پوښتنې

د معلوماتو پوښتنې د پوښتنو یوه لړۍ ده چې د متحده ایالاتو د ادارو څخه د بیا رغونې په پروګرامونو، او د افغانستان په چارو کې د هغوی د ګډون یا ورکړو په اړه تر‌ې شوې دي. د متحده ایالاتو په هغو ادارو کې چې د دې درې میاشتني راپور د معلوماتو په پوښتنو کې یې ګډون کړی دا لاندې شامل دي:

- د بهرنیو چارو وزارت
- د دفاع وزارت
- د نړیوالې پرمختیا لپاره د متحده ایالاتو اداره (USAID)
- د خزانې وزارت
- د سمندرپورې خصوصي پانګه اچونې اداره

د دې راپور یوه لومړنۍ مسوده له خپرولو وړاندې دغو ادارو ته ورکړل شوې وه څو اړوندې ادارې د دې برخې منځپانګه تایید او تصحیح کړي.

## د پرانستې-سرچینې تحقیق

د پرانستې-سرچینې تحقیق د اتباري سرچینو څخه ترلاسه شوې ډېره تازه، او په عامه ډول ترلاسه کېدونکې ډاټا اتکاء کوي. د هغو سرچینو چې په دې درې میاشتني راپور کې کارول شوي په یوه نماینده لیست کې لاندې سرچینې شامل دي:

- سپینه ماڼۍ
- د متحده ایالاتو هغه اداره چې د معلوماتو په پوښتنه کې ورکړل شوې
- ملګري ملتونه (او اړوندې څانګې)
- د پیسو نړیوال صندوق
- نړیوال بانک
- د امنیت نړیوال مرستندویه ځواک (ایساف)

د پرانستې-سرچینې زیاتره تحقیق د دې راپور په ابتدایي مسوده کې شامل کړای شوی و کومه چې د معلوماتو د پوښتنې ادارو ته د کتنې لپاره له خپرېدو مخکې ورکړای شوې وه.

# په ګرافونو پوهېدنه

ټول اعدادوشمار انځورونه او چوکاټونه د دې درې میاشتنۍ (اکتوبر ۱ تر دسمبر ۳۱، ۲۰۰۹) لپاره د معلوماتو راپور ورکوي، استثنا له هغو ځایونو چې په سرلیکونو او یادونو کې پېژندل شوي.

## د ولایت نقشې

د ولایت نقشې هغه ځایونه ښیي چې په متن کې بحث شوي وي. حواله ورکړل شوي ولایتونه پکې ښکاره کړای شوي دي.



## د افغانستان ملي پرمختیايي ستراتیژۍ (ANDS) ګراف

دا ګرافیک د ANDS د درېو ستنو او د هغوی شپږو مهمو مسلو استازیتوب کوي چې په هغو اغېز کوي. په دې ټوله برخه کې، ستن یا مهمه مسله چې بحث پرې کېږي په حاشیه کې ښکاره کړای شوې ده.




## د پټې چارټونه

دا راپور ډېرې بودیجې او پروژې چې د ډالرو ارزښت یې د ملیونونو څخه تر ملیاردونو رسېږي بحث کوي. د دې شمېرو په ګرافونو کې د دقیق استازیتوب د وړاندې کولو لپاره، د ګرافونو ځینې پټې مات ښکاري (د یوې کرښې وړې کرښې سره) چې د صفر او یوې لوړې شمېرې ترمنځ ټوپ ښیي.




## د ملیاردونو او ملیونونو جلا کول

لدې امله چې دا راپور د بودیجو جزییات په ملیاردونو او ملیونونو ډالرو کې ښیي، دا د پیمانې د دواړو یونټونو د جلا کولو لپاره یوه کتنیزه اشاره کاروي. په ملیاردونو کې راپور شوي ډالر په ابي رنګ ښودل شوي، او په ملیونونو کې راپور شوي ډالر په خړ رنګ کې خرګند کړای شوي دي.




## بودیجې ښودونکي

بودیجې ښودونکي هغه انفرادي بودیجې ښیي چې په متن کې بحث شوي وي. د دغې بودیجې د انتظام مسوولیت لرونکي اداره د بودیجې د نوم نه لاندې په خړ بکس لیست شوې وي. دا ښودونکي په حاشیه کې ښکاره کړای شوي دي.



# د بودیجو حالت

تر دسمبر ۳۱، ۲۰۰۹ پورې، متحده ایالاتو د مالي کال ۲۰۰۲ راهیسې د افغانستان د سوکالۍ او بیا رغونې لپاره تقریباً ۵۱.۰۱ ملیارده ډالر ځانګړي کړي دي. د دې کال په کال زیاتېدونکي بودیجې د ټول حساب بنسټ پر هغه ډاټا دی چې د ادارو لخوا راپور شوې او هغه پیسې چې په مالي کال ۲۰۱۰ کې ځانګړې شوې دي، لکه چې په ضمیمه ب کې ښودل شوي. دا ټولې پیسې په لاندې ډول مختص شوي دي: ۲٦.۷۵ ملیارده د امنیت لپاره، ١٤.۷۵ ملیارده د دولتدارۍ او پرمختیا لپاره، ۳.۷۵ ملیارده د مخدره موادو پر خلاف هڅو لپاره، ۲.۰۵ ملیارده د بشري مرستو لپاره، او ۳.۷۲ ملیارده د نظارت او عملیاتو لپاره. انځور ۳.۱ د متحده ایالاتو د هغو غټو بودیجو یوه عمومي کتنه وړاندې کوي چې په دې هڅو کې برخه لرلې ده.

انځور ۳.۱

د افغانستان د بیا رغونې د هڅو د ملاتړ لپاره د متحده ایالاتو بودیجې (په ملیاردونو کې)




یادونې: شمېرې په ګردي کولو اغېزمنې شوي. الف. ډي او جی، ډي او ډي، ډي او ایس، خزانه، یو ایس ډي ای، USAID، او نورې اداري.

سرچینې: او ایم بي، د سیګار تجربې ته ځواب، 1\21\2010؛ او ایم بي، د سیګار د معلوماتو پوښتنې ته ځواب، 1\8\2010؛ ډي او ډي، د سیګار د معلوماتو پوښتنې ته ځوابونه، 1\13\2010، 1\12\2010، 1\6\2010، 10\14\2009 (ابتدايي شمېرې)، او 10\1\2009، او مالي کال 2010 د ډي او ډي د اختصاصاتو د قانون وضاحتي بیان؛ USAID، د سیګار د معلوماتو پوښتنو ته ځوابونه، 1\15\2010، 1\8\2010، او 10\9\2009؛ ډي او ایس، د سیګار د معلوماتو پوښتنې ته ځوابونه، 1\8\2010 او 10\16\2009؛ ډي او ټي، د سیګار د معلوماتو پوښتنې ته ځواب، 1\6\2010؛ ډي او جی، د سیګار د معلوماتو پوښتنې ته ځواب، 7\7\2009؛ یو ایس ډي ای، د سیګار د معلوماتو پوښتنې ته ځواب، 4\2009.

**ASFF:** د افغانستان د امنیتي ځواکونو بودیجه

**CERP:** د قوماندان د بیړني ځواب پروګرام

**ESF:** د اقتصادي ملاتړ بودیجه

**INCLE:** د نړیوالو مخدره موادو کنټرول او د قانون تنفیذ

**نور:** نورې بودیجې

## د افغانستان د بیا رغونې لپاره د متحده ایالاتو بودیجې

تر دسمبر ۳۱، ۲۰۰۹ پورې، په افغانستان کې د سوکالۍ او بیا رغونې لپاره کال په کال زیاتېدونکي اختصاصونه نږدې ۵۱.۰۱ ملیارده ډالرو ته ورسېدل. دا ټولې پیسې د بیا رغونې د بودیجو په دې پنځو غټو درجو ویشل کېدای شي: امنیت، دولتداري او پرمختیا، د مخدره موادو خلاف جګړه، بشري، او نظارت او عملیات. انځور ۳.۲ د بودیجو په کټګورۍ دا کال په کال زیاتېدونکي اختصاصونه ښيي. په تېر وخت کې راپور شوې کال په کال زیاتېدونکې ټولې بودیجې د اداري تازه ډاټا انځوروي. د متحده ایالاتو د بشپړو اختصاصونو لپاره، وګورئ ضمیمه ب.

د مالي کال ۲۰۰۹ نه تر مالي کال ۲۰۱۰ پورې، کال په کال زیاتېدونکي اختصاصونه ۲۹.۴% زیات شوي – په مالي کال ۲۰۰۹کې د ۳۹.۴۲ ملیارده ډالرو څخه په مالي کال ۲۰۱۰ کې ۵۱.۰۱ ملیارده ډالرو ته. امنیتي څخو تر ټولو زیات جمع اختصاصونه ترلاسه کړي دي. د امنیت لپاره اختصاصونه (۲۶.۷۵ ملیارده ډالر) بیا رغونې لپاره د متحده ایالاتو د ټولې مرستې ۵۲.۴ فیصده جوړېږي. په مالي کال ۲۰۱۰ کې، امنیت تر ټولو زیات جمع اختصاصونه ترلاسه کړي (۳۲.۶%) په نسبت د ۲۰۰۹، بیا په هغې پسې دولتداري او پرمختیا دي، په کومو کې چې د جمع اختصاصونو ۲۷.۶% زیاتوالی راغلی دی.

په مالي کال ۲۰۱۰ کې، تقریباً ۱۱.۶۰ ملیارده ډالر د افغانستان د بیا رغونې د څخو لپاره اختصاص شوي وو، چې د مالي کال ۲۰۰۹ د کچې څخه ۱۳.۸% زیات وو. دا د ۲۰۰۲ راهیسې په افغانستان کې د بیا رغونې د څخو لپاره په یو کال کې تر ټولو زیاتې اختصاص شوې پیسې دي.




د ۲۰۰۲ راهیسې د افغانستان د بیا رغونې په مرسته کې د متحده ایالاتو د څلورو ادارو لخوا ورکړل شوې پیسې ۷۸.۶% (۴۰.۱۱ ملیارده ډالر) جوړوي. د دې پیسو نه، ۷۲.۱% (۲۸.۹۱ ملیارده ډالر) ورکړل شوي، او ۶۲.۸% (۲۵.۲۰ ملیارده ډالر) لګول شوي. لاندې پاڼې د دې بودیجو په اړه لا زیات معلومات وړاندې کوي.

انځور ۳.۲

د دسمبر 31، 2009 سره سم د بودیجې په کټګورۍ سره جمع اختصاصونه (په ملیاردونو)




یادونه: شمېرې په ګردي کولو اغېزمني شوي.

سرچینې: او ایم بي، د سیګار تجربي ته ځواب، 1\21\2010؛ او ایم بي، د سیګار د معلوماتو پوښتنې ته ځواب، 1\8\2010؛ ډي او ډي، د سیګار د معلوماتو پوښتنې ته ځوابونه، 1\13\2010، 1\12\2010، 1\6\2010، 10\14\2009 (ابتدايي شمېرې)، او 10\1\2009، او مالي کال 2010 د ډي او ډي د اختصاصاتو د قانون وضاحتي بیان؛ USAID، د سیګار د معلوماتو پوښتنو ته ځوابونه، 1\15\2010، 1\8\2010، او 10\9\2009؛ ډي او ایس، د سیګار د معلوماتو پوښتنې ته ځوابونه، 1 \8\2010 او 10\16\2009؛ ډي او ټي، د سیګار د معلوماتو پوښتنې ته ځواب، 1\6\2010؛ ډي او جی، د سیګار د معلوماتو پوښتنې ته ځواب، 7\7\2009؛ یو ایس ډي ای، د سیګار د معلوماتو پوښتنې ته ځواب، 4\2009.

په مالي کال ۲۰۱۰ کې د امنیت لپاره اختصاصونه د مالي کال ۲۰۰۹ د اختصاصونو په نسبت ۱٦.۹% زیات شوي دي، د ٦.۵٦ ملیارده ډالرو څخه زیات. د مالي کال ۲۰۱۰ د ټولو اختصاصونو څخه د امنیتي اقداماتو برخه ۵٦.٦% ده، چې ورپسې د دولتدارۍ او پرمختیا فعالیتونه دي د ۲۷.۵% سره. په مالي کال ۲۰۱۰ کې د امنیت لپاره اختصاصونه په یو کال کې دویم تر ټولو ستر اختصاصونه دي؛ له اول لمبر زیات اختصاص (۷.٤۱ ملیارده ډالر) په مالي کال ۲۰۰۷ کې ورکړل شوی و.

انځور ۳.۳ د مالي کال ۲۰۰۲ نه تر مالي کال ۲۰۱۰ د بودیجې په کټګورۍ کلني اختصاصونه ښیي. پټې هغه پیسې وړاندې کوي چې په کټګورۍ اختصاص شوي، او پایي چارټونه هغه برخې وړاندې کوي چې په کټګورۍ اختصاص شوي. دا اعدادوشمار هغه پیسې ښیي چې د اړوندو ادارو لخوا راپور شوي، چې هغه د سمبالښت او بودیجې دفتر (OMB)، د مالي کال ۲۰۱۰ د دفاع وزارت د اختصاصونو قانون (د مالي کال ۲۰۱۰ د ډي او ډي د اختصاصونو قانون)، او د مالي کال ۲۰۱۰ د ټرانسپورټیشن او کور جوړونې او د ښاري پراختیا ادارې، او د اړوندو ادارو د اختصاصونو قانون (مالي کال ۲۰۱۰ د ورکړل شویو اختصاصونو قانون).

## د افغانستان د امنیتي ځواکونو بودیجه

د ګډ امنیت د انتقال قومانده – افغانستان (CSTC-A) هغه اساسي اداره ده چې د افغان ملي امنیتي ځواکونو (ANSF) د جوړولو مسوولیت پر غاړه لري.[10] CSTC-A د ASFF پیسې د دې لپاره

انځور ۳.۳

په مالي کال، پیسو، او فیصدي اختصاصونه (په ملیاردونو)




یادونه: شمېرې په ګردي کولو اغېزمني شوي.

سرچینې: او ایم بي، د سیګار تجربي ته ځواب، 1\21\2010؛ او ایم بي، د سیګار د معلوماتو پوښتني ته ځواب، 1\8\2010؛ ډي او ډي، د سیګار د معلوماتو پوښتني ته ځوابونه، 1\13\2010، 1\12\2010، 1\6\2010، 10\14\2009 (ابتدایي شمېرې)، او 10\1\2009، او مالي کال 2010 د ډي او ډي د اختصاصاتو د قانون وضاحتي بیان؛ USAID، د سیګار د معلوماتو پوښتنو ته ځوابونه، 1\15\2010، 1\8\2010، او 10\9\2009؛ ډي او ایس، د سیګار د معلوماتو پوښتني ته ځوابونه، 1\8\2010 او 10\16\2009؛ ډي او ټي، د سیګار د معلوماتو پوښتني ته ځواب، 1\6\2010؛ ډي او جې، د سیګار د معلوماتو پوښتني ته ځواب، 7\7\2009؛ یو ایس ډي ای، د سیګار د معلوماتو پوښتني ته ځواب، 4\2009.

کاروي چې ANSF ته تجهیزات، اکمالات، خدمتونه، او روزنې برابرې کړي، او همداراز د اسانتیاو او انفراسټرکچر د ترمیم، نوي کولو، او رغولو چارې ترسره کړي.[11]

### د بودیجو حالت

د مالي کال ۲۰۱۰ د دفاع وزارت د اختصاصونو قانون – چې د متحده ایالاتو د ولسمشر لخوا د ۲۰۰۹ د دسمبر په ۱۹مه لاسلیک شو – د ASFF لپاره تر ٦.٥٦ ملیارده ډالرو زیات ورکوي. دا د ASFF لپاره ټوله جمع بودیجه ۲٥.۲۳ ملیارده ډالرو ته رسوي – د افغانستان د بیا رغونې لپاره د متحده ایالاتو د ټولې مرستې تقریباً ٤۹.٥%.[12] د دسمبر ۳۱، ۲۰۰۹ سره سم، د دفاع وزارت راپور ورکړی چې ۱۸.٦۷ ملیارده ډالر موجود کړای شوي دي، د کوم نه چې تر ۱۷.۷٦ ملیارده ډالرو زیات ورکړل شوي، او تقریباً ۱۷.٥٥ ملیارده ډالر لګول شوي. انځور ۳.۴ هغې پیسې ښیي چې په مالي کال د ASFF لپاره موجودې کړای شوي دي.[13]

د سپتمبر ۳۰ نه تر دسمبر ۳۱، ۲۰۰۹ پورې، د دفاع وزارت تقریباً ٤٦۰.۰٦ ملیونه ډالر منلي او تقریباً ۹۷۰.٤۹ ملیونه ډالر یې د ANSF د ملاتړ په پروګرامونو لګولي.[14] انځور ۳.٥ د هغو پیسو یوه جمع پرتله وړاندې کوي چې د ASFF لپاره موجودې شوې، ورکړل شوې، او لګول شوې دي.

## د ASFF د بودیجې فعالیتونه

د دفاع وزارت د ASFF دننه د بودیجې د فعالیت درېو ډلو ته بودیجې ځانګړې کوي:

- د دفاع ځواکونه (افغان ملي اردو، یا ANA)
- داخلي ځواکونه (افغان ملي پولیس، یا ANP)
- اړوند فعالیتونه (اساساً د قید د عملیات)




**د ASFF د بودیجو اصطلاحات**

د دفاع وزارت د ASFF بودیجې د موجودې، منل شوې، یا لګول شوې په توګه راپور کړې.

**موجودې:** د ژمنتیاو لپاره موجودې ټولې پیسې
**منل شوې:** د پیسو د ورکولو ژمنتیاوې
**لګول شوې:** هغه پیسې چې لګول شوې دي

سرچینه: د دفاع وزارت، د سیګار د معلوماتو غوښتنې ته ځواب، ۲۰۱۰\۱۳\۱.

انځور ۳.٥

**د ASFF بودیجې، جمع پرتله (په ملیاردونو)**




یادونې: شمېرې په ګردي کولو اغېزمنې شوي. د ASFF د بودیجو اصطلاحات (موجودې، ورکړل شوې او لګول شوې) او د مالي کال 2005 – 2009 لپاره پیسې هماغسې دي چې د د دفاع وزارت لخوا راپور شوې.

سرچینې: OMB، د سیګار د معلوماتو پوښتنې ته ځواب، 1\21\2010؛ د دفاع وزارت، د سیګار د معلوماتو پوښتنې ته ځوابونه، 10\9\2009 او 1\13\2010.

انځور ۳.۴

**د ASFF لپاره موجودې بودیجې په مالي کال (په ملیاردونو)**




یادونې: شمېرې په ګردي کولو اغېزمنې شوي. د ASFF د بودیجو اصطلاحات (موجودې، ورکړل شوې او لګول شوې) او د مالي کال 2005 – 2009 لپاره پیسې هماغسې دي چې د DoD لخوا راپور شوې.

سرچینې: د دفاع وزارت، د سیګار د معلوماتو پوښتنې ته ځواب، 1\13\2010؛ OMB، د سیګار د معلوماتو پوښتنې ته ځواب، 1\21\2010.

د بوديجي د فعاليت د هرې ډلي لپاره بوديجي بيا د ضمني فعاليت ډلو ته ځانګړې کېږي: انفراسټرکچر، تجهيزات او ټرانسپورټيشن، روزني او عمليات، او دوامداري.[15]

### د بوديجي د فعاليت په ډله بوديجه ورکول

د دسمبر ۳۱، ۲۰۰۹ پورې، تقريباً ۱۷.۵۵ ملياره ډالر لګول شوي دي. د دې پيسو نه، تر ۱۱.۴۷ ملياره ډالرو زيات (٦٥.٤%) د ملي اردو لپاره او تر ٦.۰۰ مليونه ډالرو زيات (٣٤.٢%) د ملي پوليسو لپاره لګول شوي؛ پاتي ۰.۰۷ ملياره ډالر (۰.٤۲%) نورو اړوندو فعاليتونو ته ورکړل شوي.[16]

لکه چې په انځور ۳.٦ کې ښودل شوي، د افغان ملي اردو زياتره بوديجي په تجهيزاتو او ترانسپورټيشن (تر ٤.٩٥ مليارده ډالرو زيات) لګول شو، چې ورپسې د دوامدارۍ په فعاليتونو (تر ۲.۹۹ ملياردہ ډالرو زيات). د افغان ملي پوليسو لپاره زياتره بوديجي د دوامدارۍ په فعاليتونو (تقريباً ۱.٦۸ ملياردہ ډالر) لګول شوي، چې ورپسې د انفراسټرکچر پروګرامونه دي (تر ۱.۵۹ ملياردہ ډالر زيات)، لکه چې په انځور ۳.۷ کې ښودل شوي.[17]

## د قوماندان د بيړني ځواب پروګرام

د قوماندان د بيړني ځواب پروګرام (CERP) په افغانستان کې د متحده ايالاتو قوماندانانو ته دې توانوي چې د خپل مسووليت په سيمو کې د داسې پروګرامونو په ملاتړ سره بيړنيو بشري اسانتياو او د بيا رغوني غوښتنو ته ځواب ورکړي چې د سيمييزو خلکو سره سمدستي مرسته وکړي. د دې بوديجي لاندې پروګرام د هغې وړې کچې د پروژو په نيت دی چې هره يوه د ۵۰۰،۰۰۰ ډالرو نه کم لګښت غواړي. د هغو پروژو چې د ۲ مليونو ډالرو څخه زيات لګښت غواړي اجازه شته خو د متحده ايالاتو د مرکزي قوماندې د قوماندان منظوري يې شرط دی.[18]

انځور ۳.٦

د افغان ملي اردو لپاره د ASFF مصرفونه
د ضمني فعاليت په ډله
مالي کال 2005-دسمبر 2009 (په ملياردونو)




يادوني: شمېرې په ګردي کولو اغېزمني شوي دي. شمېرې د 12\31\2009 سره سمې دي. د ASFF د بوديجو اصطلاحات (موجودي، منل شوي، لګول شوي) هغسې راپور شوي چې د د دفاع وزارت لخوا ورکړل شوي استثنا له هغو چې مشخص شوي.

سرچينه: د دفاع وزارت، د سيګار د معلوماتو پوښتني ته ځواب، 1\13\2010.

انځور ۳.۷

د افغان ملي پوليس لپاره د ASFF مصرفونه
د ضمني فعاليت په ډله
مالي کال 2005-دسمبر 2009 (په ملياردونو)




يادوني: شمېرې په ګردي کولو اغېزمني شوي دي. شمېرې د 12\31\2009 سره سمې دي. د ASFF د بوديجو اصطلاحات (موجودي، منل شوي، لګول شوي) هغسې راپور شوي چې د د دفاع محکمه لخوا ورکړل شوي استثنا له هغو چې مشخص شوي.

سرچينه: د دفاع محکمه، د سيګار د معلوماتو پوښتني ته ځواب، 1\13\2010.

**د بوديجي د فعاليت ډلي:** د هر اختصاص يا د بوديجي د حساب دننه هغه کټګورۍ چې اهداف، پروژې او يا د هغو فعاليتونو ډولونه پېژني چې د اختصاص يا بوديجي لخوا پيسي ورکړل شوې وي

**د ضمني فعاليت ډلي:** هغه حسابي ډلي چې د قوماندې مصرفونه په فعاليتي برخو کې جلا جلا کوي

سرچينه: د دفاع وزارت، "مقررات ۱.۷۲۲۰.م د دفاع د وزارت د بوديجې لاربنود مقررات،" وکتل شو په ۹\۲۸\۲۰۰۹؛ د بحريې محکمه، "د طبي اسانتيا سمبالوونکی لاسکتاب،" وکتل شو په ۱۰\۲\۲۰۰۹، مخ ۵.

### د بودیجو حالت

د مالي کال ۲۰۱۰ د دفاع وزارت د اختصاصونو قانون د CERP لپاره ۱.۰۰ ملیارد ډالر ورکوي چې د پرمختیا فعالیتونو ته وده ورکړي او ملاتړ یې وکړي. دا د CERP لپاره ټوله جمع بودیجه ۲.٦٤ ملیارده ډالرو ته رسوي – په افغانستان کې بیا رغونې لپاره د متحده ایالاتو د ټولې مرستې تقریباً ۲.٥%.[19] د دسمبر ۳۱، ۲۰۰۹ سره سم، د دفاع وزارت راپور ورکړی چې د ۱.٦٥ ملیارده ډالرو څخه زیات اختصاص شوي، د کومو نه چې ۱.٥۹ ملیارده ډالرو څخه زیات منل شوي، او د ۱.۰٦ ملیارده ډالرو څخه زیات لګول شوي دي. انځور ۳.۸ په مالي کال د CERP د اختصاصونه ښیې.[20]

د دفاع وزارت تازه شوي ډاټا د سپټمبر ۳۰، ۲۰۰۹ سره سم په راپور کړیو منل شویو ارقامو کې نږدې د ۲۰ ملیونه ډالرو کموالی ښیې. د سپټمبر ۳۰، ۲۰۰۹ څخه تر دسمبر ۳۱، ۲۰۰۹ پورې، د دفاع وزارت تر ۱۰۲.٥۲ ملیونه ډالرو زیات لګولي.[21] انځور ۳.۹ د هغو پیسو یوه جمع پرتله وړاندې کوي چې د CERP د پروژو لپاره مختص شوي، منل شوي او لګول شوي دي.

### د CERP د راپور ورکولو غوښتنې

د مالي کال ۲۰۱۰ لپاره د د دفاع وزارت د اختصاصونو لپاره د کانګرس د اختصاصونو د کمېټې یو تشریحي بیان څرګنده کړې چې د دفاع وزارت دې ته اړتیا لري چې "په زیاته اندازه خپل سمبالښت او نظارت او د CERP د بودیجو د درخواستونو لپاره خپل جوازونه بهتر کړي." د دې بیان له مخې، هر څو که د دفاع وزارت پلان لري چې په افغانستان کې د CERP د بودیجو استعمال زیات کړي، اختصاصونو لپاره د کانګرس کمېټه اندېښنه لري چې د دفاع وزارت ښایي داسې کافي استعداد لرونکی پرسونل ونه لري چې د دې زیاتو شویو بودیجو نظارت او سمبالښت ترسره کړي.[22]

د دې اندېښنو د لیرې کولو لپاره، د مالي کال ۲۰۱۰ د اختصاصونو قانون د دفاع د سکرتر څخه غوښتنه کوي چې داسې درې میاشتني راپورونه ورکړي چې د هرې درې میاشتنۍ پر مهال د CERP د بودیجې سرچینه، ټاکنه او استعمال بحث کړي. برسېره پر دې، د هغو بودیجو څخه چې موجودې کړای شوي، ۵۰۰ ملیونه ډالر د هغې نه تر پنځو ورځو وروسته نه ورکول کېږي چې د دفاع سکرتر د CERP یوه بشپړه کتنه ترسره کړي او د کانګرس د دفاع کمېټو ته هغه راپور ورکړي چې د دې موندنو تفصیل پکې وي.[23]

### د یوه کال لپاره د CERP غځونه او پراختیا

د مالي کال ۲۰۱۰ لپاره د ملي دفاع د صلاحیت ورکونې قانون د یو مالي کال لپاره د CERP د بودیجو د استعمال واک ته غځونه او پراختیا ورکړه. لکه چې په قانون سازۍ کې یې خاکه وړاندې شوې، د دفاع سکرتر ښایي د بهرنیو چارو سکرتر ته بودیجې ولېږدوي چې د افغانستان د ملي پیوستون د پروګرام ملاتړ پرې وکړي. دا واک یوازې په هغه حالت کې ورکول کېږي چې د دفاع سکرتر پرېکړه وکړي چې دغه لېږدونه به "په افغانستان کې د تروریزم خلاف عملیات یا د ثبات عملیات پراخ کړي." هغه پیسې چې د دې واک لاندې لېږدول کېږي ښایي د ۵۰ ملیونه ډالرو څخه وانه وړي.[24]

دا قانون سازي همداراز د بیا خپلولو هڅو ته هم واک ورکوي. په مشخص ډول، د CERP بودیجې "په افغاني ټولنه کې د هغو افرادو د بیا خپلولو لپاره وکارول شي چې د افغانستان د دولت پر ضد د تشدد څخه یې لاس اخیستی وي." د CERP د بودیجو غځونه او پراختیا ټاکل شوې چې د ۲۰۱۰ د سپټمبر په ۳۰مه نېټه ختم شي.[25]




**د CERP د بودیجو اصطلاحات**

د دفاع وزارت د CERP بودیجې د اختصاص شویو، منل شویو،
یا لګول شویو په توګه راپور کړي.

**اختصاص شوي:** د ژمنتیاو لپاره موجودې ټولې پیسې

**منل شوي:** د پیسو د ورکولو ژمنتیاوې

**لګول شوي:** هغه پیسې چې لګول شوې دي

سرچینه: د دفاع وزارت، د سیګار د معلوماتو پوښتنې ته ځواب، ۲۰۱۰\۱\۲۱.

## د اقتصادي ملاتړ بودیجه

د اقتصادي ملاتړ د بودیجې (ESF) پروګرامونه هڅوادونو سره د هغوی په لندمهاله او اوږدمهاله سیاسي، اقتصادي، او امنیتي اړتیاو کې په مرستو کولو سره د متحده ایالاتو ګټې پر مخ بوځي. د ESF پروګرامونه د تروریزم پر خلاف د جګړې ملاتړ کوي؛ ملي اقتصادونه بهتروي؛ او د یو لا ښه شفاف او مسوول حکومت لپاره د اغېزمنو، د لاسرسي وړ، او خپلواکو حقوقي سیستمونو د پرمختیا لپاره مرسته کوي.[26]

**د افغانستان د ملي پیوستون پروګرام:** په ۲۰۰۳ کال کې د افغانستان د دولت لخوا دا پروګرام په دې موخه جوړ شو چې د افغاني ټولنو دي وړتیا ته وده ورکړي چې د خپلو پرمختیايي پروژې پخپله تعیین، پلان، اداره او څارنه وکړي.

سرچینه: د کلیو د بیا رغونې او پراختیا وزارت، "د ملي پیوستون پروګرام"، آنلاین وکتل شو ۲۰۰۹\۱۴\۱۲.

## د بودیجو حالت

د مالي کال ۲۰۱۰ د جاري اختصاصونو قانون ESF ته تقریباً ۲.۰۴ ملیارده ډالر ورکوي. دا د ESF ټوله جمع بودیجه نږدې ۹.۷۴ ملیارده ډالرو ته رسوي – د افغانستان د بیا رغونې د هڅې لپاره د متحده ایالاتو د ټولې مرستې تقریباً ۱۹.۱%.[27] د دسمبر ۳۱، ۲۰۰۹ سره سم، USAID راپور ورکړی چې تر ۷.۷۰ ملیارده ډالرو زیات اختصاص شوي، د کومو نه چې تر ۷.۵۳ ملیارده ډالرو زیات منل شوي، او تر ۴.۹۷ ملیارده ډالرو زیات لګول شوي دي.[28] انځور ۳.۱۰ په مالي کال د ESF اختصاصونه ښیي. د سپتمبر ۳۰، ۲۰۰۹ نه راپدېخوا، USAID د ESF د پروګرامونو د ملاتړ لپاره تقریباً ۵۶۰.۱۸

انځور ۳.۸

په مالي کال د CERP اختصاصونه (په ملیونونو)




یادونې: په معلوماتو کې ښايي بین الاداري لیږدونې شامل وي. شمېرې په ګردي کولو اغېزمنې شوې دي. د CERP د بودیجو اصطلاحات (اختصاص شوې، منل شوې، لګول شوې) او پېسې هغسې راپور شوي چې د د دفاع وزارت لخوا د مالي کال 2004-2009 لپاره ورکړل شوي.

سرچینې: کانګرس، د اختصاصونو کمېټه، "برخه الف، د د دفاع وزارت د اختصاصونو قانون، مالي کال 2010، مخ. 405؛ د دفاع وزارت، د سیګار د معلوماتو پوښتنې ته ځواب، 1\13\2010؛ OMB، د سیګار د معلوماتو پوښتنې ته ځواب، 1\21\2010.

انځور ۳.۹

د CERP بودیجې، جمع پرتله (په ملیاردونو)




یادونې: شمېرې په ګردي کولو اغېزمنې شوې دي. د CERP د بودیجو اصطلاحات (اختصاص شوې، منل شوې، لګول شوې) او پېسې هغسې ورکړل شوي چې د د دفاع وزارت لخوا راپور شوي استثنا له هغو چې مشخص شوي. د د دفاع وزارت څخه تازه ډاټا د منل شویو ارقامو د هغې نه ټیټه نتیجه ورکړه چې د 9\30\09 سره سم راپور شوې وه.

سرچینې: کانګرس، د اختصاصونو کمېټه، "برخه الف، د د دفاع وزارت د اختصاصونو قانون، مالي کال 2010، مخ. 405؛ د دفاع وزارت، د سیګار د معلوماتو پوښتنې ته ځواب، 1\13\2010؛ OMB، د سیګار د معلوماتو پوښتنې ته ځواب، 1\21\2010.

مليونه ډالر منلي او ۳۸۲.۱۳ مليونه ډالر يې لګولي دي.[29] انځور ۳.۱۱ د ESF د هغو پيسو يوه جمع پرتله وړاندې کوي چې اختصاص شوې، منل شوې او لګول شوې دي.

## د نړيوالو مخدره موادو کنټرول او د قانون تنفيذ

د نړيوالو مخدره موادو او د قانون د تنفيذ د چارو دفتر (INL) يو داسې حساب سمبالوي چې د قانون حاکميت پياوړی کړي او د مخدره موادو د توليد او قاچاق پر وړاندې مبارزه وکړي – د نړيوالو مخدره موادو د کنټرول او د قانون د تنفيذ (INCLE) حساب. INCLE د INL د پروګرام د ډېرو دلو ملاتړ کوي، په ګډون د پوليسو، د مخدره موادو ضد، د قانون حاکميت او عدليه.[30]

## د بودیجو حالت

د مالي کال ۲۰۱۰ د جاري اختصاصونو قانون د INCLE لپاره ۰.۴۲ مليارده ډالر ورکوي. دا د INCLE لپاره د ټوله جمع بوديجه تر ۲.۵۰ مليارده زياتو ډالرو ته رسوي – په افغانستان کې د متحده ايالاتو د بيا رغونې د مرستې تقريباً ۴.۹%.[31] د دسمبر ۳۱، ۲۰۰۹ سره سم، INL راپور ورکړی چې تقريباً ۲.۲۰ مليارده ډالر مختص شوي، د کومو نه چې تر ۲.۰۲ مليارده ډالرو زيات منل شوي، او تر ۱.۶۱ مليارده ډالرو زيات مصرف شوي دي. انځور ۳.۱۲ په مالي کال د INCLE اختصاصونه ښيي.[32] د سپتمبر ۳۰، ۲۰۰۹ څخه راپديخوا، تقريباً ۱۰۳.۲۲ مليونه ډالر منل

انځور ۳.۱۱

د INCLE بوديجې، جمع پرتله (په ملياردونو)




يادونې: په معلوماتو کې ښايي بين الاداري لېږدوني شاملې وي. شمېرې په ګردي کولو اغېزمنې شوې دي. د ESF د بوديجو اصطلاحات (اختصاص شوي، منل شوي، لګول شوي) او پيسې هغسې ورکړل شوي چې د USAID لخوا راپور شوي استثنا له هغو چې مشخص شوي.

سرچينې: USAID، د سيګار د معلوماتو پوښتنه، 1\15\2010؛ او ايم بي، د سيګار د معلوماتو پوښتنې ته ځواب، 1\21\2010.

انځور ۳.۱۰

په مالي کال د ESF اختصاصونه (په ملياردونو)




يادونې: په معلوماتو کې ښايي بين الاداري لېږدوني شامل وي. شمېرې په ګردي کولو اغېزمنې شوې دي. د د ESF د بوديجو اصطلاحات (اختصاص شوي، منل شوي، لګول شوي) او پيسې هغسې راپور شوي چې د USAID لخوا د مالي کال 2004-2009 لپاره ورکړل شوي.

سرچينې: USAID، د سيګار د معلوماتو پوښتنو ته ځوابونه، 1\15\2010؛ او ايم بي، د سيګار د معلوماتو پوښتنې ته ځواب، 1\21\2010.




### د ESF د بوديجو اصطلاحات

USAID د ESF بوديجې د اختصاص شوي، منل شوي، يا لګول شوي په توګه راپور کړي.

**اختصاص شوي:** د ژمنتياو لپاره موجودې تولې پيسې
**منل شوي:** د پيسو د ورکولو ژمنتياوې
**لګول شوي:** هغه پيسې چې لګول شوې دي

سرچينه: USAID، د سيګار د معلوماتو پوښتنې ته ځواب، ۱\۲۱\۲۰۱۰.

شوي، او تقريباً ٦٣.١٤ مليونه ډالر مصرف شوي دي.[33] انځور ۳.۱۳ د INCLE د هغو پیسو یوه جمع پرتله وړاندي کوي چي اختصاص شوي، منل شوي او مصرف شوي دي.

## د افغان دولت د بيا رغوني بوديجي

برسېره پر هغو نړيوالو مرستو چي د افغانستان اسلامي او جمهوري دولت يې د بيا رغوني د هڅو لپاره ترلاسه کوي، افغان دولت هم د دې هدف لپاره بوديجي ورکوي. د افغانستان د مالیي وزارت (MoF) د دغي بوديجي د سمبالښت او پلي کولو مسووليت پر غاړه لري، په کوم کي چي د بيا رغوني د هڅو لپاره د افغانستان بوديجي شاملي وي د ماليي وزارت د هغو نړيوالو بوديجو مسووليت پر هم غاړه لري چي د دولتي وزارتونو له لاري ځي.[34]

## کورنی بوديجه او د بوديجي پلي کېدنه

د دسمبر ۳۱، ۲۰۰۹ سره سم، د متحده ايالاتو د خزاني وزارت (خزاني) اټكل كړى چي د مالي كال ۲۰۱۰\۲۰۰۹ لپاره به د افغانستان بوديجه ۷.۸۷ ملیارده ډالر وي. دا بوديجه په دوو سترو درجو کي ويشل شوې ده: د ۲.۹۷ ملیارده ډالرو اساسي بوديجه او د ٤.۹ ملیارده ډالرو بهرنی بوديجه.[35] انځور ۳.۱٤ په کټګورۍ د دې بوديجي د پيسو يوه خاکه وړاندي کوي.




**د INL د بودیجو اصطلاحات**

INL د INCLE او نورو INL د بودیجو راپور د ټاکل شویو، منل شویو او مصرف شویو په توګه ورکړي.

**ټاکل شوي:** د ژمنتیاو لپاره موجودي ټولي پیسي

**منل شوي:** د پیسو د ورکولو ژمنتیاوې

**مصرف شوي:** هغه پيسي چي لګول شوي دي

سرچينه: د بهرنيو چارو وزارت، د سيګار د معلوماتو پوښتنې ته ځواب، ۲۰۱۰\۲۱\۱.

انځور ۳.۱۳

**په مالي کال د ESF اختصاصونه (په ملیاردونو)**




يادونې: په معلوماتو کې ښايي بين الاداري لېږدوني شامل وي. شمېرې په ګردي کولو اغېزمني شوي. د INCLE د بوديجي اصطلاحات (اختصاص شوي، منل شوي، مصرف شوي) او پيسې هغسې راپور شوي چي د ډي او ايس او INL لخوا ورکړل شوي استثنا له هغې چي مشخص شوي دي.

سرچيني: ډي او ايس، د سيګار د معلوماتو پوښتني ته ځواب، 1\8\2010؛ او ايم بي، د سيګار د معلوماتو پوښتني ته ځواب، 1\21\2010.

انځور ۳.۱۲

**په مالي کال د ESF اختصاصونه (په ملیاردونو)**




يادوني: په معلوماتو کې ښايي بين الاداري لېږدوني شامل وي. شمېرې په ګردي کولو اغېزمني شوي. د INCLE د بوديجي اصطلاحات (اختصاص شوي، منل شوي، مصرف شوي) او پيسې هغسې راپور شوي چي د ډي او ايس او INL لخوا د مالي کال 2002-2009 لپاره ورکړل شوي.

سرچيني: ډي او ايس، د سيګار د معلوماتو پوښتني ته ځواب، 1\8\2010؛ او ايم بي، د سيګار د معلوماتو پوښتني ته ځواب، 1\21\2010.

**هغه بوديجي چي د INCLE حساب ته اختصاص شوي د يو شمېر ترلاسه کوونکيو ملاتړ کوي. هر ترلاسه کوونکي ته اختصاصونه په لاندي کټګوريو کي راځي:**

- **٦٨% کورنيو قراردادیانو ته**
- **۲۰% افغان وزارتونو ته**
- **۷% نړيوالو (بهرنيو) سازمانونو ته**
- **۳% د متحده ايالاتو حکومتي او نيم حکومتي ادارو ته**
- **۲% په متحده ايالاتو کي غېر حکومتي ادارو ته**

يادونه: دا د هغي غېر رسمي ډاټا نه راخيستل شوي، چي د بهرنيو چارو د وزارت لخوا ورکړل شوي.

سرچيني: د بهرنيو چارو وزارت، د سيګار تجربې ته ځواب، ۲۰۱۰\۱۹\۱؛ د بهرنيو چارو وزارت، د سيګار د معلوماتو پوښتني ته ځواب، ۲۰۱۰\۱۹\۱.

### اساسي بودیجه

اساسي بودیجه پیسي د ډېرو سرچینو څخه ترلاسه کوي؛ خېراتي پیسي د اساسي بودیجي د نړیوالو ورکړو یوه د پام وړ برخه تشکیلوي. اساسي بودیجه بیا نوره په دوو ضمني درجو کې تقسیم شوي: فعالیتي بودیجه (۱.۹٤ ملیارده ډالر) او پرمختیایي بودیجه (۱.۰۳ ملیارده ډالر). د افغانستان د مالي کال د درېمي دري میاشتنی په پای کې، د اساسي بودیجي د مصرفونو شرحه ۵۲% وه. د ټیټ مصرف لامل، لکه چې راپور یې د خزاني لخوا ورکړای شوی، په اړوندو وزارتونو کې ټیټ ظرفیت او خراب امنیتي چاپېریال ښودل شوی.[36]

### فعالیتي بودیجه

د نومبر ۲۰۰۹ سره سم، خزاني راپور ورکړی چي د هغو ۱.۹٤ ملیارده ډالرو څخه چي د مالي کال ۲۰۱۰\۲۰۰۹ لپاره یې د فعالیتي لګښتونو بودیجه جوړه شوي وه، ۱.۲۰ ملیارده ډالر اختصاص شوي وو، او د دغو پیسو ۹۹٤ ملیونه ډالر مصرف شوي دي. د خزاني له مخې، افغان دولت خپله فعالیتي بودیجه ۱۰۰% عملي کړې، کوم چي په اساسي ډول سلسله یې لګښتونه پوره کوي لکه حق الزحمي او معاشونه.[37]

### پرمختیایي بودیجه

خزاني همداراز دا راپور ورکړی چي د هغو ۱.۰۳ ملیارده ډالرو نه چي د مالي کال ۲۰۱۰\۲۰۰۹ لپاره یې د پرمختیایي هڅو بودیجه جوړه شوي وه، ۷۷۳ ملیارده ډالر اختصاص شوي او ۵٤۱ ملیونه ډالر د دغو پیسو نه مصرف شوي دي. د خزاني له مخې، افغان دولت د خپلې پرمختیایي بودیجي په عملي کولو کې مشکل لري.[38]

### بهرنۍ بودیجه

د مالي کال ۲۰۱۰\۲۰۰۹ لپاره د افغان دولت بهرنۍ بودیجه تقریباً ٤.۹ ملیارده ډالره وه. بهرنۍ بودیجه اساساً د امنیتي لګښتونو څخه جوړېږي، هر څو که ځیني پرمختیایي بودیجي پکې شاملي وي. د بهرنۍ بودیجي ټوله اتکاء پر نړیواله مرسته وي.[39]

انځور ۳.۱٤

د افغان دولت بودیجه، 2009-2010
(په ملیاردونو ډالرو)




یادوني: شمېرې په ګردي کولو اغېزمني شوي. د بهرنۍ بودیجي ډاټا هغه معلومات انعکاس کوي چې د 9\30\2009 سره سم ورکړل شوي.

سرچیني: خزانه، د سیګار د معلوماتو پوښتني ته ځوابونه، 1\5\2010 او 9\24\2009.

## د افغانستان د بیا رغوني لپاره نړیوالي ورکړې

د نومبر ۲۰۰۹ د مرستندویانو د مالي کتني (DFR) سره سم، د ۲۰۰۲ راپدېخوا ٤۷ هېوادونو د افغانستان سره مرسته کړې ده.[40] د اګست ۲۰۰۹ سره سم، نړیوالي ژمني تقریباً ٦۲ ملیارده ډالرو ته ورسېدلي. د دې پیسو نه، اندازتاً ٤٦ ملیارده ډالر ورکړل شوي او تقریباً ۳٦ ملیونه لګول شوي دي.[41]

د افغانستان د دولتي ادارو د ظرفیت په اړه د پام وړ اندېښنو له امله، ډېر نړیوال مرستندویان اعتباري بودیجي د دې میتود په توګه کاروي چې د افغانستان سره مرسته وکړي، لکه څرنګه چې یې په DFR کې یادونه شوې.[42] د اعتباري بودیجو سرچیني د دې لپاره کارول کېږي چې د افغان دولت فعالیتي او پرمختیایي دواړه مالي لګښتونه ورکړي. دا مهال، درې اعتباري بودیجي د پیسو د ورکولو مرکزي سرچیني تشکیلوي:[43]

- د افغانستان د بیا رغوني اعتباري بودیجه (ARTF)
- افغانستان لپاره د امنیت د ساتلو اعتباري بودیجه (LOTFA)
- د مخدره موادو ضد اعتباري بودیجه (CNTF)

## د افغانستان د بیا رغوني اعتباري بودیجې ته ورکړې

د دسمبر ۲۱، ۲۰۰۹ سره سم، نړیوال بانک راپور ورکړی چې د ۲۰۰۲ راهیسې ۳۲ نړیوالو مرستندویانو ARTF ته تر ۳.۵ ملیارده ډالرو زیات ورکړي دي. دا د فعالیتي او پرمختیايي لګښتونو لپاره ARTF د افغانستان د بودیجې تر ټولو غټه مالي بودیجه جوړوي.[44] د دې مرستندویانو څخه، تقریباً نیم پر کلني بنسټ پیسې ورکوي.[45] انځور ۳.۱۵ هغه پیسې ښیي چې د مرستندویانو لخوا د ۲۰۰۹ لپاره ورکړل شوي دي.

د نړیوال بانک له مخې، د نومبر ۲۰۰۹ پورې د ARTF له لارې دوه ویشتو فعالتو بودیجو ته بودیجې ورکړل شوې دي. نړیوالو مرستندویانو د دې پروژو لپاره تقریباً ۱.۰۰ ملیارده ډالر ټاکلي دي، د کومو نه چې ۷۶۱ ملیونه ډالر لګول شوي دي. هغه بودیجې چې ARTF ته ورکړل شوې دي د سلسله یي لګښت (RC) کړکۍ او د پانګوني کړکۍ ته مختص شوې دي. د RC کړکۍ د دولت فعالیتي لګښتونو ته مالي مرسته ورکوي، او د پانګوني کړکۍ د پرمختیايي بودیجې لپاره اساسي مرسته برابروي. د نړیوال بانک له مخې، د RC کړکۍ له لارې د دې له جوړېدو وروسته ټول ۱.۸۰ ملیارده ډالر مصرف شوي دي د دې خبرې د یقیني کولو لپاره چې دولت بنسټیز خدمتونه لکه تعلیم او روغتیايي علاج ورسولی شي. د پانګوني د کړکۍ ژمنتیاوې په تېرو دوو کلونو کې په اساسي ډول زیاتې شوې دي، د نومبر ۲۱، ۲۰۰۹ سره سم، د مصرفونو شرحه ۷۴% وه.[46]

د افغانستان بیا رغونې ته په خپلو زیاتو پیسو ورکوونکیو کې لاندې شامل دي:
- متحده ایالات
- برتانیه
- اروپايي ټولنه
- نړیوال بانک
- اسیايي پرمختیايي بانک

سرچینه: د مالیې وزارت، "د مرستندویانو مالي کتنه: راپور ۱۳۸۸،" ۱۱\۲۰۰۹، مخ ۱۱.

## LOTFA ته ورکړې

د متحده ایالاتو د نړیوالې پرمختیايي اداري (USAID) له مخې LOTFA هم د افغانستان بودیجې ته په پېسو ورکولو کې مهمه برخه لري. په ۲۰۰۹ کې، نړیوالو مرستندویانو LOTFA ته د ۲۹۲ ملیونه ډالرو ژمنې وکړې، چې په هغو کې تقریباً ۲۶۷ ملیونه ډالر ورکړای شوي دي.[47] انځور ۳.۱۶ د

انځور ۳.۱۵

د 2009 لپاره دARTF ورکړې، د دسمبر 21، 2009 سره سم (په ملیونونو)




یادونې: شمېرې په ګردي کولو اغېزمنې شوې دي. اي سي\اي یو = اروپايي کمیسیون\اروپايي اتحادیه.

سرچینه: نړیوال بانک، "ای ار ټي ایف: د دسمبر 21، 2009 سره سم په مالي حالت د اداري راپور،" مخ 1.

مرستندويه هېواد لخوا LOTFA ته په ۲۰۰۹ کې ورکړل شوې پېسې ښيي. LOTFA، چې د ملګرو ملتونو د پرمختيايي پروګرام (UNDP) لخوا اداره کېږي، داسې سرچينې راوړي چې د افغان ملي پوليسو د ملاتړ لپاره کارول کېږي. LOTFA د افغان ملي پوليسو د سلسله يي لګښتونو او انفراسټرکچر پروژو ته مالي بوديجې ورکوي. LOTFA دا مهال د خپل تطبيق په پنځم پړاو کې دی، کوم چې لاندې ترجيحات لري:[48]

- د افغان ملي پوليسو معاشونه ورکول
- د ادارو پرمختيا
- لاسته راوړل، انتظام، او د پوليسو د ناوسله يي تجهيزاتو او اکمالاتو فعاليتونه
- د پوليسو د مرکزونو بيا جوړونه، انتظام او فعاليتونه
- د جنس ترجيح (د پوليسو انتخاب، په کار ګومارل او روزنه)
- په ځانګړي ډول د جلا شويو پېسو له لارې د هغه درېشه يي پرسونل معاشونه ورکول چې د محابسو د مرکزي رياست لخوا په کار لګول شوي وي

## د مخدره موادو خلاف اعتباري بوديجې ته ورکړې

د DFR له مخې، د جولای ۲۰۰۹ سره سم CNTF ته ٦٥ مليونه ډالر ورکړای شوي دي. هغه سرچينې چې د CNTF له لارې ورکول کېږي هغو سترو پروژو ته د مالي مرستې د ورکولو لپاره کارول کېږي چې د مخدره موادو د کنټرول د ملي ستراتيژۍ د ترلاسه کولو لپاره جوړې شوې وي.[49] د CNTF پر سر د مسووليت زياتره برخه د ماليې او مخدره موادو ضد وزارتونو باندې راځي، په

انځور ۳.۱۶

د 2009 لپاره د LOTFA ورکړې (په مليونونو)




يادونې: شمېرې په ګردې کولو اغېزمنې شوې دي. اي سي = اروپايي کميسيون. سي ايي دي ای = د کاناډا د نړيوالې پرمختيا اداره. UNDP = د ملګرو ملتونو پرمختيايي پروګرام.

سرچينه: USAID، د سيګار تجربې ته ځواب، 1\15\2010.

داسي حال کي چي UNDP، د همدې اداري له مخې، د ملي مشرتابه لاندې د بوديجو اغېزمنه او کافي رسېدنه يقيني کوي.[50] CNTF په پيل کي د دسمبر ۲۰۰۸ د پای ته رسېدو نېټه لرله، خو لدې امله چي د پروژې فعاليتونه پراخ کړای شوي وو، نو د CNTF د پای ته رسېدو نېټه دسمبر ۳۱، ۲۰۰۹ ته غځول شوې وه.[51]

انځور ۳.۱۷

د افغان دولت کورنی عايد، 2009-2010 (په مليونونو)




يادونه: شمېرې په ګردي کولو اغېزمني شوي دي.

سرچينه: خزانه، د سيګار د معلوماتو پوښتني ته ځواب، 1\5\2010.

## کورني عايد

د مالي کال ۲۰۰۹\۲۰۱۰ لپاره، خزاني اټکل کړی چي د افغان دولت عايدات به تقريباً ۱.۰۹ مليارده ډالر وي – دا د لومړي ځل لپاره د ۱ مليارد ډالرو څخه اوړي. د دې لاسته راوړني اساسي نسبت د مالي په راغونډولو کي بهتری ته شوی، لکه چي خزاني يې راپور ورکړی. انځور ۳.۱۷ افغان دولت لپاره د کورني عايد يوه نقشه وړاندې کوي. د افغان دولت د عايد په اساسي سرچينو کي دا لاندې شامل دي:[52]

- تجارتي او د خرڅلاو ټېکسونه (۴۶%)
- د ګمرکاتو عايدات (۳۴%)
- غېر ماليه عايد (۲۰%)

د خزاني له مخې، د مالي کال ۲۰۰۹\۲۰۱۰ د تجارتي او خرڅلاو ټېکسونه تمه کېږي چي ۵۰۰ مليونه ډالر به وي؛ د ګمرکاتو عايد تمه کېږي چي ۳۷۴ مليونه ډالر به وي؛ او د غېر ماليه عايد تمه کېږي چي ۲۱۴ مليونه ډالر به وي. افغان دولت د هر هغې اساسي بوديجې د لګښتونو لپاره چي په کورني عايداتو نه وي پوره شوي د مرستندويانو پر پېسو اتکاء کوي.[53]

# د افغان دولت مالي بودیجې

د افغان دولت ملي بودیجه د افغانستان د ملي پرمختیا د ستراتیژۍ (ANDS) د تطبیق لپاره د مالي بودیجو ورکولو مرکزي واسطه ده.[54] د بودیجې د ملاتړ لپاره د مناسبو مالي بودیجو لاس ته راوړل د هغو اهدافو د پوره کولو لپاره مهم دي چې په ANDS کې وړاندې شوي دي. برسېره پر دې، د ترلاسه کورنیو سرچینو او د مرستندویانو د مالي بودیجو د پانګونې ترجیحول به د ANDS اغېزمن تطبیق ته وده ورکړي، لکه چې د "د افغانستان د ملي پرمختیایي ستراتیژۍ په لومړني کلني راپور" کې یې یادونه شوې ده.[55]

افغان دولت د مالي بودیجو درې اساسي سرچینې لري: کورنۍ عایدات، د مرستندویانو بودیجې، او نورې مالي مرستې.[56]

## د عایداتو راغونډول

افغان دولت په دې کې بریالی و چې د ANDS په کلني راپور کې د اټکل شوي هدف ۷.۳% نه واوړي. د عایداتو په راغونډولو کې زیاتوالی د ANDS په تطبیقولو کې د نورې مرستې لپاره د افغان دولت ترجیح ده، خو د عایداتو اهدافو ته رسېدل او لګښتونه کنټرول ساتل اوس هم یو مشکل کار دی.[57] کورنۍ عاید یوازې تقریباً ٦٤% فعالیتي لګښتونو ته مالي بودیجې ورکوي، په داسې حال کې چې بهرني مرستندویان پرمختیایي لګښتونو ته ۱۰۰% مالي بودیجې ورکوي، لکه چې راپور یې د نومبر ۲۰۰۹ د مرستندویانو د مالي بودیجو په کتنه (DFR) کې ورکړل شوی.[58]

"نړیوال مرستې ورکوونکې د سرچینو د اغېزمنتیا بهترولو ته اړتیا لري، چې د خپلو ټېکس ورکوونکیو د پیسو د ضیاع مخنیوی وکړي، او همدارنګ د افغانستان د بودیجو پروسو ته یو ښه مثال ورکړي."

- انتونیو ماریا کوستا،
د UNODC عمومي مسوول

سرچینه: UNODC، "په افغانستان کې اداري فساد: رشوت څنګه چې د قربانیانو لخوا راپور شوی،" ۲۰۱۰\۱، مخ ۷.

## اصلاحات او د عایداتو په راغونډولو کې نوې ټکلارې

د مالیې وزیر په بودیجه کې یو شمېر اصلاحات شامل کړي دي تر څو د عایداتو په راغونډولو کې د افغان دولت توان زیات کړي.[59] نړیوالې مالي بودیجې (IMF) په پالیسۍ کې د بدلونونو د اړتیا راپور ورکړی تر څو متوقع مالي اهداف لاس ته راوړل شي.[60] ۳.۱ جدول په عایداتو کې د ځینو هغو روانو او پلان شویو اداري اصلاحاتو لیست وړاندې کوي چې په بودیجه کې یې وړاندیز شوی دی.

په پالیسۍ کې بدلونونه دوه مهم اهداف لري. لومړی، د بدلونونو هدف دا دی چې په بشپړ ډول فعالیتي ارزښت زیات شوي ټېکس سره په راتلونکي کې د دې په ځای اینبودل کېدونکي په تیارۍ کې د

۳.۱ جدول

**اداري اصلاحات**

| اصلاحات | تشریح |
|---|---|
| د دولت د تجارتي ادارو بندول او خصوصي سکټور ته ورکول | داسې پروسیجرونه تطبیقول چې د اړوندو تجارتونو نااډا شوي ټېکسونه او هغه مشکلات چې د بندولو د پروسې لاندې د شتمنیو په خرڅلاو یا لېږد کې راپورته کېږي تېرې شي. |
| د مرستندویه قراردادیانو\ضمني قراردادیانو د ټېکس نه استثنا ته بیا کتنه | دا خبره یقیني کول چې د مرستندویانو د ټېکس نه د استثنا دعوې د مرستندویانو د موافقې د نه منلو په اړه په سم ډول تطبیق شوې وي. |
| د سترو او اوسطو ټېکس ورکوونکیو دفترونو (LTO، MTO) غځول | د دواړو دفترونو عمله ۵۰% زیاتول او د استعداد د پیاوړي کولو لپاره پنځه MTO جوړول. |
| په ټولو تجارتي سکټورونو کې د ټېکس بنسټ پراخول | د سکټور پر سکټور بنسټ د نه تعقیب مسلې حل کول. |
| د ګمرکاتو سرحدي پوستو ته د اسیکوډا (ASYCUDA) نوي تطبیق ته ادامه ورکول | د پانګونو او تجارتونو لپاره د ثبت د هغه یوازېني جوړښت پیاوړي کول چې په ۲۰۰۸-۲۰۰۹ کې جوړ شوی و. |
| د عایداتو په راغونډولو کې اړوندو وزارتونو سره مرستې ته ادامه ورکول | د ورکول کېدونکو عایداتو، د پرواز د کښته کېدو او درېدو د فیسونو، او د روانېدو د فیس د راټولولو په زیاتولو تمرکز. |

سرچینه: د مالیې وزارت، "د افغانستان اسلامي جمهوریت: د ۱۳۸۸ ملي بودیجه." مخونه ۳۱-۳۲. 31–32.

تجارتي ترلاسه کولو په ټېکس کي اصلاحات وکړي. دويم، دا بدلونونه غواړي چي په مالي کال ۲۰۰۹ کي د څلورو قوانينو د مسودې په جوړولو سره د ماليې د وزارت لخوا د تولېدونکو يو شمېر ټاکل شويو ټېکسونو او "جنجالي" ټېکسونو ته په معقوليت پيدا کولو سره د ټېکس سيستم اسان کړي، دغه څلور قوانين به په شريکه د افغانستان د ټېکس قانون جوړ کړي:[61]

- د عايد د ټېکس يو بيا کتل شوی او اسان شوی قانون
- يو نوی د تجارتي ترلاسه کېدنو د ټېکس قانون
- يو نوی د ټېکس د اداري قانون
- يو نوی د زيات شوي-ارزښت د ټېکس قانون (ټاکل شوی چي په ۲۰۱۱ کي د تجارتي ترلاسه کېدنو ټېکس ځای ونيسي)

## ننګوني

د DFR له مخي، افغانستان د ظرفيت او فساد د داسي مهمو مسلو سره مخ دی چي د نړيوالو مرستندويانو د دي نالپوالتيا سبب کېږي چي بوديجي د افغان دولت له لاري ورکړي.[62] DFR وايي چي تقريباً ۸۰% بهرنيو مرستندويانو په بوديجو ورکولو کي افغان دولت په ځای پرېښی او پروژې نېغ په نېغه د مرستندويانو لخوا پلي شوي.[63] پاتي ۲۰% د افغان دولت په واسطه ورکړل شوي؛ په دغه اندازه کي هغه مرسته شامله ده چي د اعتباري بوديجو له لاري ورکړل شوي.[64] د DFR له مخي، د مرستندويانو لخوا د مرستي نېغ په نېغه پلي کول د مرستي تاثير او اغېزمنتيا کموي، ځکه چي افغان دولت سره د مشورې د نشتوالي له امله مرستندويان زياتره وخت د بوديجو ورکولو داسي فعاليتونه ترسره کړي چي د افغان دولت په ترجيحاتو کي نه وي.[65] د دي لپاره چي مرسته اغېزمنه وي، DFR وايي چي افغان دولت بايد د سرچينو په سپارلو کي شامل وي او دا چي مرستندويان مشخصو فعاليتونو ته د مرستو ورکولو پر مهال دي ته اړتيا لري چي د افغان دولت په ترجيحاتو د غور کولو لېوالتيا زياته کړي.[66]

DFR وايي چي اداري فساد په افغانستان کي يوه پراخه موجوده مسله ده او دا چي افغان دولت د دي د حل لپاره اقدامات کوي. په مشخص ډول، يو د نړيوال معيار عامه مالي سيستم جوړ شوی دی. برسېره پر دي، په ۲۰۰۵ کي د عامه ماليې او د لګښتونو د سمبالښت قانون او په ۲۰۰٦ کي د هغي قواعدو د بوديجي جوړولو د پروسو په پياوړي کولو کي مرسته کړې ده. برسېره پر دي، د اداري فساد پر وړاندې د افغان دولت د ضعف تحليلونو د هغو برخو په ګوته کولو کي مرسته کړې چي د فساد لوړه خطره لري او د هغو اقداماتو سبب شوي چي دغه خطرې له منځه يوسي.[67]

## خطرې او بې يقيني

افغان دولت لپاره د لا پياوړو مالي ميکانزمونو پر وړاندې تر ټولو ستري خطرې امنيتي وضعه ده، لکه چي د مالي کال ۲۰۰۹\۲۰۱۰ په مالي بوديجه کي ښودل شوي. ناامني په ډراماييي توګه د عايداتو راغونډولو په لار کي خنډ جوړېږي او د "جنجالي" ټېکسونو ادامې ته وده ورکوي. د امنيت اوسنی حالت د تجارت د ودې مخه نيسي او د کټور اقتصاد پرمختګ محدودوي.[68]

د مالي کال ۲۰۰۹\۲۰۱۰ ملي بوديجه همداراز د هغو ادامه لرونکيو بوديجو په اړه چي د ARTF د RC کړکۍ له لاري ورکول کېږي يوه اندېښنه هم معلومه کړي؛ مرستندويانو او افغان دولت په دي موافقه کړې چي په ۲۰۰۹ کي په پيل کولو سره ورکړې هر کال ۲۵ مليونه ډالر کمې کړي. د فعاليتي بوديجي لپاره د ARTF د RC کړکۍ د بوديجي اساسي ميکانزم دی. د فعاليتي مالي مرستي يوه د پام وړ اندازه له لاسه ورکول به، د مالي کال ۲۰۰۹\۲۰۱۰ د ملي بوديجي له مخي، "په يو داسي چاپېريال کي د ترلاسه سرچينو په ترجيحي کولو سره داسي فشار جوړ کړي چي هر څه به يوه ترجيح وي."[69]

دا مهال، د عايد د نويو سرچينو لپاره کوم وړانديزونه نشته، څرنګه چي د مالي کال ۲۰۰۹\۲۰۱۰ په ملي بوديجه کي ښودل شوي. دا دولت دی ته اړ کوي چي په ګمرکاتو او د ټېکس په عايد اتکاء وکړي، چي دا د عايد بنسټ لا پسي اغېزمن کوي. برسېره پر دي، د عايد په موجود بنسټ دا اضافي فشار د عايد اداري دي ته مجبوروي چي تعريف شويو اهدافو ته ورسېږي او يا تري واوړي.[70]

> "تجربې ښودلې چي لا زياتو معلوماتو شريکولو د ټولي نړيوالي ټولني کټه زياته کړې – نه يواځې د افغانستان. پرمختيايي مرسته هغه وخت اغېزمنه ده چي کله مونږ د مرستي د اغېزمنتيا په اړه د پاريس د اعلان د دې پنځو پرينسيپونو پر بنسټ په شريکه کار وکړو: ملکيت؛ برابري؛ همغږي جوړول؛ د پايلو لپاره سمبالښت؛ او دوه طرفه احتساب."
>
> —ډاکټر عمر زاخېلوال،
> د ماليې وزير او
> مشر اقتصادي مشاور

سرچينه: د ماليې وزارت، "د مرستندويانو مالي کتنه: راپور ۱۳۸۸،" ۱۱\۲۰۰۹، مخ ۱.

# امنيت

د ۲۰۰۹ کال د دسمبر د مياشتې په لومړی نېټه د متحده ايالاتو جمهور رئيس د افغانستان لپاره راتلونکي تګلاره اعلان کړه. د نوموړي تګلارې يوه برخه د طالبانو د بهير په شاتګ او د سيمييز امنيت لپاره د ظرفيتونو په لوړوالي ټينګار کوي.[71] د متحده ايالاتو د دفاع وزير د راپور پر بنسټ دغه استراتيژي د لاندينيو هدفونو د تر لاسه کولو لپاره پلي کېږي:[72]

- د دوامدارو پوځي عملياتو له لارې او همدارنګه د خلکو سره د هغوي د اړيکو د شلولو او د مخابراتي او مواصلاتي لارو چارو د پرې کولو له لارې د طالبانو د خوځښت او پرمختګ په شا تمبول.
- د امن لرونکو سيمو څخه لا بهر د طالبانو د زور ماتول، خوځښت يې ګډوډول او په افغانستان کې د القاعده د بيا مېشته کېدلو څخه مخنيوی کول
- طالبانو ته تر داسې کچې ماته ورکول چې د هېواد امنيت د افغانستان د ملي امنيتي ځواکونو (ANSF) له خوا کنټرولېدلای شي. همدا رنګه د افغانستان د ملي پوځ او پوليسو د وړتياوو او ظرفيتونو لوړول تر څو د هغې پواسطه په اتلس مياشتو کې د هېواد د امنيتي چارو مسؤليت هغوي ته وسپارل شي.
- د افغانستان د اسلامي جمهوريت د مهمو وزارتونو د کاري وړتيا او ظرفيت لوړوالی




د متحده ايالاتو د دفاع وزارت په راپور کې دا هم راغلي دي چې پدې هکله به افغانانو ته لا نور زيات مسؤليتونه هم وسپارل شي او چارې به د افغاني جوړښتونو له لارې مخ پر وړاندې ځي.[73] د ۲۰۰۹ کال د دسمبر په مياشت کې د ملګرو ملتونو مشر جوته کړه چې د افغانستان اسلامی جمهوريت به داسې سياسی اصلاحات رامنځ ته کړي چې د هغې پواسطه به د بغاوت په بنسټيزه لاملونو تمرکز وکړي. او د اصلاح شوي دولتداري او د سياسی اغيزناکو پروسو د پلې کولو له لارې به په هيواد کښې سوله رامنځ ته شي.[74] په دې برخه کې هغه کوښښونه چې د سولې او امنيت لپاره تر لاس لاندې نيول شوي دي، تشريح کيږي.

## د امنيت موخې

د افغانستان د ملي پرمختګ استراتيژي (ANDS) په هيواد کې د امنيت د رامنځته کولو د پرمختګ د کچې د اندازه کولو لپاره ځيني معيارونه برابروي. د امنيت د رامنځته کولو د موخو پرمختګ د راتلونکي صفحې په ۳. ۱۲ جدول کې ښودل شوی دی. له وروستی دري مياشتنی راهيسي، د افغانستان ملي پوليسو د ANDS د موخو په وړاندې ډېر زيات پرمختګ کړی دی. څرنګه چې په تيره دري مياشتني کې د پوليسو تعداد ۸۱۵۰۹ تنه او پدې ربع کښې يې شميره ۹۴۹۵۸ ته رسيدلې ده، چې تقريباً ٪۱۶،۵ زياتوالی ښيي.[75]

## د امنيتي وضعې تازه حال

د ملګرو ملتونو د منشي د راپور له مخې د ۲۰۰۹ کال د دسمبر د مياشتې په ۲۸ نېټې د کال په وروستی دری مياشتنی کښې د هيواد امنيتي وضعيت خراب شوی دی.[76] د هېواد د ملي امنيت او اردو وړتياوی لاتر اوسه ناکافي دي، چې په دې اړوند بايد د هغوی د رول او دندو او فعاليتونو د ورپيژندلو لپاره يو مناسب کاری چوکاټ رامنځته شي.[77] پدی دري مياشتنی کې مخالفينو تر ډيره حده په خپل لاس جوړ شوي چاوديدونکي توکي او مهمات کارولي دي او همدا رنګه د هيواد په ځينو شمالي ولايتونو لکه کندز او بغلان کې د جنګ جګړو او زور زياتيو پيښې هم زياتې شوی دي. پداسې حال کښې چې نوموړي دواړه ولايتونه نسبتاً ارام بلل کيږي.[78]

د ايساف د ځواکونو د ګډې قومنداني (IJC) د راپور له مخې، د اتحاد په ځواکونو او نړيوالو اتباعو په ځلورو

جدول ۳.۲

**د امنیت لپاره ستراتیژیک لومړیتوبونه**

| د ANDS د امنیت ستن | د ANDS هدف | اوسنی هدف | حالت | د ANDS د بشپړیدو نیته |
|---|---|---|---|---|
| افغان ملي اردو | ۸۰.۰۰۰ سرتېري (جمع ٦.٦۰۰ په روزنه کې) | ۱۳٤.۰۰۰ سرتېري (تر سپتمبر ۲۰۱۰ پورې) | ۱۰۰.۱۳۱ سرتېري | د ۲۰۱۰ پای |
| افغان ملي پولیس | ۸۲.۱۸۰ مسلکي پولیس | ۱۰۹.۰۰۰ مسلکي پولیس (تر سپتمبر ۲۰۱۰ پورې) | ۹۴.۹۵۸ مسلکي پولیس | د ۲۰۱۰ پای |
| د غیر قانوني وسله والو ډلو بې وسلې کول | په ټولو ولایتونو کې ټولې غیر قانوني وسله والې ډلې بې وسلې شوي | | د ډاپاک لخوا په پام کې نیول شوي ۱۳۲ ولسوالیو څخه ۸۸ یې پاک شوي دي | مارچ ۲۰، ۲۰۱۱ |
| د ناچاودېدلو موادو لرې کول | هغه ځمکنی منطقه چې پر ماینونو او ناچاودېدلو موادو لړل شوې وه ۷۰% کمه شوې | | د ANDS تازه حال: 25% په پام کې نیول شوې ساحه پاکه شوې ده | د ۲۰۱۰ پای |
| | ۹۰ په سلو کې پېژندل شوې ماینونه یا د جګړې پاتې شوي چاودېدونکي مواد سیمې پاکې شوې | | د دفاع وزارت: ۱.۷۰ میلیارده کیلومتر مربع پاکه شوې ده، ۶۹۰ میلیونه کیلومتر مربع پاتې ده | 2012 |
| | ټول اېښودل شوي پرسونل ضد ماینونه تصفیه شوي | | | 2013 |
| د مخدره موادو په وړاندې مبارزه[a] | د کوکنارو د کر لاندې منطقې د ۲۰۰۷ د کچو په پرتله نیمي راکمي کړای شوي | | د کوکنارو د کر لاندې منطقې د ۲۰۰۷ د کچو په پرتله ۳٦% کمې شوې | 2013 |

یادونه: شمېرې په ګردۍ کولو اغیزمني شوې دي. a. د مخدره موادو په وړاندې د مبارزې په اړه د نورو تفصیلاتو لپاره، "د مخدره موادو په وړاندې مبارزه" برخه وګورئ.

سرچینې: د افغانستان دولت، "د افغانستان د ملي پرمختیا ستراتیژي، لنډیز،" مخ ۶؛ CSTC-A، د سیګار د معلومات پوښتنې ته ځواب، ۲۰۱۰\۴\۱ او ۲۰۰۹\۲\۱۰؛ د دفاع وزارت، "په افغانستان کې د سولې او ثبات په لور پرمختګ،" ۶/۲۰۰۹، مخ ۲۸؛ د افغانستان دولت، "د ANDS لومړۍ کلنی راپور ۱۳۸۷ (۲۰۰۹/۲۰۰۸)، دویمه برخه - ضمیمې،" ۲۰۰۹\۱\۸، مخ ۳۶؛ د بهرنیو چارو وزارت، د سیګار د معلوماتو پوښتنې ته ځواب، ۲۰۱۰\۶\۱ او ۲۰۰۹\۲\۱۰؛ UNODC، "د افغانستان د اپیمو سروې ۲۰۰۹: د لاس ته راغلو معلوماتو لنډیز،" ۲۰۰۹\۱۲، مخ ۷.

**مخامخ یا مستقیم بریدونه:** په مستقیمه توګه دسلاح د فایر کولو / ډزولو پواسطه تر سره کېږي

**غیر مستقیم بریدونه:** په غیر مستقیه توګه د سلاح د فایر کولو / ډزولو او همدارنګه د توپونو او راکټونو د کارولو پواسطه ترسره کېږي – نه د نورو اسلحو پواسطه

**پیچلي بریدونه:** دا ډول برید د بېلابېلو اسلحو د کارولو او همدارنګه په خپل لاس د جوړو شویو چاودېدونکو توکو د کارولو، د مستقیم برید او د توپونو د کارولو پواسطه تر سره کېږي

**د IED بریدونه:** دا ډول بریونه د ائتلاف په ځواکونو او په ملکي وګړو تر سره کېږي

سرچینه: IJC، د سیګار د معلوماتو غوښتنې ته ځواب، ۲۰۱۰\۲\۱؛ CSTC-A، د سیګار د معلوماتو غوښتنې ته ځواب، ۲۰۱۰\۴\۱.

کټګوریو لاندې بریدونه ترسره شوي دي: مستقیم بریدونه، غیرمستقیم بریدونه، پیچلي بریدونه، او په خپل لاس جوړشویو چاودېدونکو توکو او مهماتو د کارولو له لارې بریدونه. د ۲۰۰۹ کال دسپتمبر د میاشتې د ۲۱ څخه بیا د دسمبر د میاشتې د ۲۷ نېټې پورې ۴۴۱۲ بریدونه ثبت شوي دي، چې د دې جملې څخه ۱۴۲۳ مخامخ بریدونه د هلمند په ولایت کې ترسره شوي دي. د دې درې میاشتنۍ د بریدونو ډېټا د سپتمبر د میاشتې د ۲۱ نېټې څخه بیا د دسمبر د میاشتې د ۲۷ نېټې پورې ورکړل شوې ده. ترڅو د تېرې درې میاشتنۍ ډېټا سره یې تداوم یقیني شي.[79]

د یاغیانو له خوا د اکتوبر د میاشتې د ۲۸ نېټې برید چې په هغې کې د ملګرو ملتونو د سازمان شپږ کارکوونکي د کابل په یوه میلمستون کې ووژل شول او د دسمبر په ۳۰ نېټه د یاغیانو له خوا د خوست په یوه پوځې اډه برید چې له امله یې د CIA د سازمان اوه تنه کارکوونکي ووژل شول او شپږ تنه نور ټپي شول.[80] په کابل د جنورۍ د میاشتې په ۱۸ نېټه برید چې له امله یې دوه تنه افغان سرتېري، دوه تنه ملي پولیس مړه او یو شمېر ملکي وګړي مړه او یا ژوبل شول.[81]

په نوې استراتیژۍ کښې د متحده ایالاتو جمهور رئیس د سرحد هغې غاړې سره په ځانګړې توګه د افغانستان او پاکستان تر منځ د همغږۍ د رامنځته کولو اهمیت او ارزښت ته اشاره کړې ده.[82] په ټولیزه توګه د افغانستان سرحدونه ۵۵۲۹ کیلومتره اوږدوالی لري. ۲۴۳۰ کیلومتره یې د پاکستان سره؛ ۱۲۰۶ کیلومتره یې د تاجکستان سره؛ ۹۳۶ کیلومتره یې د ایران سره؛ ۷۴۴ کیلومتره د ترکمنستان سره؛ ۱۳۷ کیلومتره د ازبکستان او پاتې ۷۶ کیلومتره د چین سره ګډه پوله لري.[83] د ۲۰۱۰ کال تر پایه به د ایساف ځواکونه او افغان ملي پوځ به شپږ د همغږۍ سرحدي مرکزونه جوړکړي. د نومړو مرکزونو له لارې به په سرحد کې د افغاني، پاکستاني او اتحاد د قواوو تر منځ د همکارۍ او ښه تفاهم چارې اصلاح او ښه والی ومومي.[84]

## د ملکي وګړو ژوبلې او تلفات

د IJC د راپور له مخې په هیواد کې د ۲۰۰۹ کال د سپتمبر د میاشتې د ۲۱ نېټې څخه د دسمبر د میاشتې د ۲۷

نيټې پورې د ملکي تلفاتو شميره ۹۰۳ کسه ښودل شوې ده، چې ۸۳۶ د هغوی افغانان وو. د ملکي وګړو د ژوبلو او تلفاتو هغه کچې چې په ۳.۱۸ انځور کښې ښودل شوي دي په هغې کې د مړو شمېره ۲۸۳ تنه او د ټپيانو شميره ۶۲۰ کسانو ته رسيږي.[85] د ۳.۱۹ انځور ته په کتلو سره نوموړي تلفات د تيرې درې مياشتنۍ پرتله کم دي.[86] د دې دورې د ملکي وګړو د تلفاتو اندازه د مجموعي تلفاتو ۴۳ فيصده ښيي. د ملکي وګړو د تلفاتو اندازه د کندهار په ولايت کښې ترټولو لوړه ده.[87] ددې درې مياشتنۍ د ژوبلو او تلفاتو راپور د ۲۰۰۹ کال د سپټمبر د مياشتې د ۲۱ څخه بيا د دسمبر د مياشتې د ۲۷ نيټې پورې ورکړل لري ترڅو د تيرې شوې درې مياشتنۍ د تلفاتو د راپور ورکولو د لړۍ سره د دوام موندلو پروسه يقيني شي.

په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د مرستې مشن (يوناما) د راپور له مخې د ۲۰۰۱ کال راهيسې په دې هيواد کښې په ۲۰۰۹ کال کې د ملکي وګړو د ژوبلو او تلفاتو اندازه ترټولو کلونو لوړه وه. يوناما په ۲۰۰۹ کال کښې ۲۴۱۲ د مړيني پيښې ثبت کړي دي چې دا د ۲۰۰۸ د مړينو د شمير پرتله چې ۲۱۱۸ تنه ثبت شوي دي ۱۴٪ زياتوالى ښيي. د ملکي وګړو د ژوبلو او تلفاتو د مجموعي شمير څخه چې په ۲۰۰۹ کال کښې د يوناما له خوا راپور وکړل شوي دی ۶۷٪ يي د دولت د مخالفينو او ۲۵٪ يې د دولتي ځواکونو ژوبلې او تلفاتو پورې اړه لري. پاته ۸٪ يې د هغو وګړو ژوبلې او تلفات تشکيلوی چې د دواړه ډلو په ډزو کی او يا د ماينونو او نورو چاوديدونکو توکو او مهماتو د انفجار په نتيجه کې وژل شوی دی.[88]

## افغان ملي اردو

د CSTC-A د راپور په اساس، د ۲۰۰۹ کال د دسمبر د مياشتې د شلمې نيټې پورې د افغانستان د ملي اردو ځواک د سپتمبر د مياشتې د ۶.۱۵۱ کسانو په ورزياتوالی سره ۱۰۰.۱۳۱ تنوته رسيدلی وه.[89] دا چې د ۲۰۰۹ کال د اکتوبر په مياشت کې داسې ګټل شوی وه چې بايد تر ۲۰۱۰ کال پورې د افغان ملي اردو شميره ۱۳۴.۰۰۰ تنه پوځيانوته ورسيږي.[90] د CRS له مخې په کال کې د افغان ملي اردو د زياتيدلو کچې ۲۸.۸۰۰ تنه او اصطحکاک اندازيي ۹٪-۸ دی.[91]

د ملي اردو د زياتيدلو په هکله د ټاکل شوي هدف ته د رسيدلو د لارې پر وړاندې زيات خنډونه او ننګونې شتون لري چې دا ستونزې او ننګونې په هغو سيمو کښې چې بې امنيتي او جګړې دوام لري، ډيرې زياتې رامنځته کيږي لکه د هيواد سهيلي او ختيځې برخې. په دې وروستيو کښې د دې ستونزو او ننګونو د له منځه وړلو په خاطر د افغانستان د اسلامي جمهوريت حکومت د ملي اردو د معاشونو د زياوالي اعلان وکړ. د ملي اردو د اساسي معاش د زياتوالي ترڅنګ د هغو کسانو په معاش کې اضافي زياتوالى را منځته کړي کوم چې په خطرناکو سيمو کې د خپل هيواد او خلکو څخه دفاع کوي.[92] د بيلګې په ډول کوم کسان چې اوس مهال د هلمند، غزنی او کندوز په ولايتونو کې په ملي اردوکښې شامليږي د هغوی مياشتنی معاش ۲۴۰ امريکايی ډالرو سره معادل مبلغ ترلاسه کوي، چې دا مبلغ د پخواني معاش دوه برابره دئ.[93]

د دسمبر د مياشتې په لومړنۍ اونۍ کې ۲۶۵۹ کسان استخدام او د ملي اردو په ليکو کښې شامل شول. د مياشتې

انځور ۳.۱۸

ملکي تلفات




يادونه: د تلفاتو راپور له 2009\21\9 څخه تر 2009\27\12 پورې ورکړ شوی دی.

سرچينه: د سيګار د تجزيې په ځواب کې د IJC ياداښت، 2010\21\1.
د سيګار د معلوماتو پوښتنې ته د CSTC-A ځواب، 2010\4\1.

انځور ۳.۱۹

ټول تلفات په مياشت کې، جولای – دسمبر 2009




يادونه: تلفات تر دسمبر د مياشتې تر 2009\27\12 پورې ثبت شوي دي.

سرچينه: د سيګار د تجزيې په ځواب کې د IJC ياداښت، 2010\21\1؛
د سيګار د معلوماتو پوښتنې ته د CSTC-A ځواب، 2009\2\10؛
د سيګار د معلوماتو پوښتنې ته د CSTC-A ځواب، 2010\4\1.

جدول ۳.۳

| د افغان ملي اردو د سرتيرو جلبيدل، سپتمبر-نومبر ۲۰۰۹ | | |
|---|---|---|
| مياشت | د جلبيدلو هدف | جلب شوي شمير |
| نومبر | 5,442 | 4,303 |
| اکتوبر | 4,408 | 3,811 |
| سپتمبر | 2,400 | 831 |

سرچينه: د دفاع وزارت، "د افغان ځواکونو لپاره وعدی شوي دي،" ۲۰۰۹\۹\۱۲.

موخه ۵۲۵۳ تنه ده. په تیره میاشت کې ملي اردو زیار ایستلی چې د استخدام په هکله هغو موخو ته چې په ۳.۳ جدول کې ښودل شوي دي ورسیږي.[94]

همدا رنګه د افغان ملي اردو یوګڼ شمیر نورو ستونزو او ننګونو سره هم مخ ده لکه د استخباراتي معلوماتو کمښت، د څارني کموالی او د ښمن د ځای، شمیر او ځواک په هکله د خبرتیا موندلو د وړتیا کموالی او داسي نور. سربېره پردې افغان ملي اردو نورې ستونزي هم لري لکه د هوايي ځواک د وړتیاوو کمښت (هوايي ملاتړ)، ناکافي MEDEVAC او نور. اوس مهال دا پورتنی وړتیاوې د متحده ایالاتو او دنورو نړیوالو ځواکونو له خوا برابرېږي.[95]

## د افغان ملي اردو د روزني حالت

د ۲۰۰۹ کال د اکتوبر د لومړی نیټي څخه بیا د دسمبر تر ۲۴ نیټي پورې د افغان ملي اردو د روزني د ادارو له خوا ۱۲۶۲۵ تنه عسکر روزل شوي دي چې د مخکیني درې میاشتنی په تناسب ۹٪ سلنه کموالی لري. د دې ډلې څخه ډیر کسان یې د کابل د پوځي روزنیز مرکز څخه فارغ شوي دي، لکه څرنګه چې په ۳.۲۰ انځور کې ښودل شوي دي. د دې درې میاشتنی نور روزنیز پروګرامونه د چاودېدونکو توکو او نورو مهماتو د خنثی کولو، د وسله والو مخالفیو سره د مقابلې، لوجیستکي چارو سمبالول او همدارنګه د کمانډ او سټاف روزنیز پروګرامونو څخه عبارت دي.[96] د افغان ملي اردو د روزنیزو مرکزونو څخه فارغ شوي کسان د پنځلسو عسکري واحدونو څخه په یوه کې توظیف شول. د دې درې میاشتنی نور فارغین په ۲۰۵ فرقه کښې توظیف او اړوند واحدونو ته لیږل شوي دي.[97]

د ژبې په هکله ستونزې او محدودیتونه د افغان ملي اردو روزني او عملیاتو پر وړاندې ستونزې او ننګوني را منځته کوي. څرنګه چې افغانستان زیاتره خلک په پښتو او درې ژبو خبرې کوي او د یوې ژبې خلک په بله ژبه په اسانی سره نه پوهیږي او زده کړه یې ورته ستونزمنه ده نوله دې کبله په دواړو ژبو د حاکمیت لرونکو ژباړونکو کمښت لیدل کیږي. په بیلابیلو سیمو کې د ژبو توپیرونه د CRS سره سم په دواړو ملي ژبو د وړتیا لرونکو ژباړونکو موندل ګران کار دي.[98]

همدا رنګه په افغانستان کې د سواد ټیټه کچه هم د پوځي زده کړو او روزنو پر وړاندې ستونزې او ننګوني



**د افغان ملي اردو عسکر** د ناټو د قواوو له خوا د ملاتړ شوي د زده کړو او روزنو په پروګرام کې د وسلو د پاکولو او پالني په هکله زده کړې کوي. (د ایساف انځور، ایس پی سي کریسټوفر نیکولاس)

انځور ۳.۲۰

د افغان ملي اردو د روزني فارغین د پروګرام په اساس




الف په مشترک ساحوي مرکز کې، واحدونه جوړیږي، تجهیزات، او لومړني مجموعي روزني ترسره کیږي.

سرچینه: د سیکار د معلوماتو پوښتني ته د CSTC-A ځواب، 2010\4\1.

انځور ۳.۲۱

د ملي اردو د يونټ CM درجې، د وخت نه تر وخت پرتله




يادونې: ښايي دوباره ملاتړ، نيژدي هوايي ملاتړ او MEDEVAC پکې شامل نه وي.
CM1 = ټول معيارونه په مناسب ډول ترسره شوي، کمياتي پېمانې <85%، د رول په فعاليت کې کيفياتي اندازه <85%.
CM2 = زيات معيارونه په مناسب ډول ترسره شوي، کمياتي پېمانې <70-85%، په رول کې د فعاليت کيفياتي اندازه <70-85%.
CM3 = يو څو معيارونه په مناسب ډول ترسره شوي، کمياتي پېمانې 50-70%، د رول په فعاليت کې کيفياتي اندازه <50-70%.
CM4 = هيڅ معيارونه په مناسب ډول ندي ترسره شوي، کمياتي پېمانې <50%، په رول کې د فعاليت کيفياتي اندازه <50%.

سرچينې: د سيګار د معلوماتو پوښتنې ته د CSTC-A ځواب، 2010\4\1.د سيګار د معلوماتو پوښتنې ته د CSTC-A ځواب، 2009\2\10؛ د بهرنيو چارو وزارت OSD، د سيګار د معلوماتو پوښتنې ته ځواب، 2009\8\7.

را منځته کوي. د ناتو د زده کړو او روزنو مشن-افغانستان (NTM-A) او CSTC-A خپل د سواد د زده کړې د روزنو ورکولو وړتيا زياته کړې ده. اوس مهال د سواد د زده کړو او روزنو ورکول د افغان ملي اردو د کيفيت د ښه والي سره مرسته کوي او همدا رنګه د دفاع وزارت د سکرتريت دفتر (OSD) په وينا د ملي اردو سره په کار موندلو کې هم مرسته کولای شي.[99]

عمر هم د افغان ملي اردو انکشاف په وړاندې بله ستونزه او ننګونه بلل کيږي. دا ځکه چې اوس مهال افغانستان د کلونو راهيسې په جګړه کې ښکيل دی او په ملي اردو کې د داسې کسانو شميره چې عمر يې ۳۵ څخه تر ۵۵ کلونو پورې وي، ډيرکم ليدل کيږي. د CRS د راپور پر بنسټ د دې عمر لرونکو لږ شمير کسانو د شتون له امله د نويو عسکرو د روزلو لپاره په ملي اردو کښې د تجربه لرونکو کسانو د رامنځته کېدل زيات وخت ته اړتيالري.[100]

د دفاع وزارت د سکرتريت د دفتر د معلوماتو له مخې اوس مهال افغان ملي اردو يوکم شمير د روزنې ټيمونه او روزونکي لري. لکه څرنګه چې د ۲۰۰۹ کال د دسمبر په مياشت کې ۱۰۴ د عملياتي ښوونکو او د اړيکو ټينګولو ټيمونوته اړتيا وه، کوم چې د زده کړو او روزنو د ورکولو ټيمونه دي او د روزنو په ډګر کې د افغان ملي اردو سره کار کوي. اوس مهال ۶۳ دا ډول ټيمونه کار کوي او د ۲۱ نورو ټيمونو لپاره پلان نيول شويدی. د دفاع د وزارت د سکرتريت دفتر د نړيوالي ټولني سره يو ځای کارکوي ترڅو د نورو روزنکو او د زده کړو او روزنو د برابرولو د ټيمونو د اړتيا دغه تشه ډکه کړی.[101]

## د افغان ملي اردو چمتووالی

د ANSF د مخ پر زياتيدنکي وړتيا د اصلاح او ښه والی د بهير د لا چټکولو لپاره CSTC-A د وړتياوو د



**یو افغان افسر د هغو درسونو په هکله خبري** کوي چې د تروریزم سره د مقابلې د عملیاتو د عملي زده کړو او روزنو په مهال یې زده کړي دي.   (د متحده ایالاتو د سمندري ځواکونو انځور، جي سارجنټ کریستین ایم هارډینګ)

محک (CM) کچو څخه ګټه اخلي، لکه څرنګه چې په ۳.۲۱ انځور کې ښودل شوي ده.[102] د ۲۰۰۹ کال د دسمبر د میاشتې په ۳۱ نیټه CSTC-A راپور ورکړ چې د افغان ملي اردو ۳۴ واحدونه یعني لږ ترلږه ۲۵٪ د هغو واحدونو څخه چې پدې درې میاشتنی کې یې اړتیاوې ارزول شوي دي او کچې یې ټاکل شوي ده د ټولو څخه په لوړه کچې کې ځای لري (CM1) په وروستي درې میاشتني کې د افغان ملي اردو ۳۵٪ واحدونه د وړتیاوو د لوړې کچې (CM1) په محک کښې راغلي دي.  سربېره پردې د لسو نورو واحدونو د وړتیاو کچې هم معلومه شوي دي.[103]

د ناټو د ځواکونو د وینا له مخې، د ۲۰۰۹ کال د اکتوبر میاشت پورې د افغان ملي اردو د ایساف په ۹۰٪ عملیاتو کې ونډه اخیستې او په ۶۲٪ فیصده عملیاتو کښې یې رهبري ترسره کړې ده.[104] د افغان ملي هوایي پوځ خپل پرمختګ ته دوام ورکوي په داسې حال کښې چې د هوایي ځواک غښتلتیا او خوځښتا ته زیات پام اړوی ترڅو د هغې پواسطه وکولای شي چې پوځیان او نور اکمالات په ښه ډول ولېږدوي.[105] د ناټو په وینا په ۲۰۰۹ کال کې د افغان ملي هوایي پوځ د ملي اردو ۹۰٪ د هوایي ځواک اړونده خدمتونه ترسره کړېدي. په هره میاشت کښې افغان ملي هوایي ځواک ۵۰۰۰ تنه مسافر او ۴۰۰۰۰ کیلو ګرامو څخه زیات توکي لیږدولي دي.[106] د CRS د راپور له مخې د افغان ملي هوایي ځواک به تر راتلونکو پنځو کلونو پورې د هوایي برغلونو د ترسره کولو وړتیا ومومي.[107] د ۲۰۰۹ کال د اکتوبر د میاشتې راهیسې افغان ملي هوایي پوځ ۱۸۷ تنه پیلوټان لري چې ددې ترڅنګ ۲۹ یو ډول او ۱۰ بل ډول الوتکې لري.  چې پدې اړوند د ناټو په وینا:[108]

- ۱۷ Mi-17 17- 3DVMi) او 9 Mi-33 هلیکو پترونه
- 5 AN-26 1 ، AN-32 او 2 C-27 ترانسپورتي الوتکې
- 2 L39 ( البتروز) د ټرنګ جت الوتکې

اوس او په نږدې راتلونکې کې د پخواني شوروي اتحاد د ملکونو الوتکو ته د کومو سره چې افغاني پیلوټان بلدتیا لري د تړلاسه کولو په هکله خبرې کیږي. خو د CAPT منظور او تصمیم دادی چې په راتلونکو پلانونو کې د داسې الوتکو د ترلاسه کولو څخه ډډه وشي.[109] پدې ربع کښې هیڅ ډول قرارداد نه دي ترسره شوي.[110] خو په تیره ربع کښې د ۲۳۹۲۱ امریکایي ډالرو په ارزښت ۲۷ قراردادونه ترسره شوي.[111]

## د ملي اردو د انفراسټرکچر حالت

د افغان ملي ردو په زیربناوو او پروژو کې، عسکري بارکونه، قومنداني یا مرکزي دفترونه، د زده کړو او روزنو د مرکزونو وداني، تعلیمي ساحې او میدانونه، د اداري دفترونو وداني، تحویلخاني او ګودامونه او همدارنګه د مراقبت او مواظبت آسانتیاوې ځای لري. د STC-A وینا له مخې د افغان ملي اردو ۱۱ زیر بنایي پروژې د ۱۶۰۶۲ ملیونو ډالرو په ارزښت پلان شوي او د بشپړیدلو کارونه به یې د مهال ویش سره سم د ۲۰۰۹ کال د اکتوبر د لومړۍ نیټې څخه د دسمبر تر (۳۱) پورې وه. د ۱۷۶۹۸ ملیونو ډالرو په ارزښت د تیرې ربعې د ۱۸ پروژو په مقایسې سره. په دې ربع کې هیڅ قرارداد هم نه دی شوې؛ په تیره ربع کې، ۲۷ قراردادونه چې مالي ارزښت یې ۲۳۹.۲۱ میلیونه ډالر وه ورکړل شول.[112]

## د افغان ملي اردو تلفات

د IJC د راپور له مخې د ۲۰۰۹ کال د سپتمبر د میاشتې د ۲۱ څخه بیا د دسمبر د میاشتې د ۲۷ نیټې پورې د افغان ملي اردو ژوبلې او تلفات ۲۳۸ تنوته رسیږي. ۱۷۳ تنه عسکر ټپیان شوی ۶۵ تنو خپل ژوند د لاسه ورکړیدی. د تیرې شوې ربعې څخه د افغان ملي اردو د ژوبلو او تلفاتو شمیره ۴۶٪ راکمه شوېده.  ترټولو زیاتې ژوبلې او تلفات د هلمند په ولایت کې رامنځته شویدي لکه چې په ۳.۲۲ انځور کې ښودل شوي دي.[113]

انځور ۳.۲۲

د افغان ملي اردو تلفات د ولایاتو په اساس




یادونه: د تلفاتو راپور له 2009\21\9 څخه تر 2009\27\12 پورې ورکړ شوی دی.

سرچینه: د سیګار د تجزیې په ځواب کې د IJC یاداښت، 2010\21\1.
د سیګار د معلوماتو پوښتنې ته د CSTC-A ځواب، 2010\4\1.

## د ملي اردو د تجهیزاتو حالت

د CSTC-A په وینا، د ۲۰۰۹ کال د اکتوبر د لومړۍ نېټې څخه د دسمبر تر ۳۱ پورې افغان ملي پوځ ۱۷۹۱

انځور ۳.۲۳

د افغان ملي اردو تجهيزات




سرچينه: د سيګار د معلوماتو پوښتنې ته د CSTC-A ځواب، 2010\4\1.

پايي مخابرې، ۹۸۰ عرادې نقليه وسايط ۱۵۰۹۷ ميله اسلحه ترلاسه کړېده (وګورئ ۳.۲۳ انځور). يواځې هغه اسلحه چې د افغان ملي اردو ته پدې ربع کې اکمال شوی ده ۱۲۳۰۵ ميله M 16A4 ټوپکې وې.[114] کوم غټ توپير چې د تجهيزاتو د برابرولو په برخه کې شتون لري د اسلحو شميره ده کومه چې د هغې شمير د تيرې شوې ربع په پرتله ۷ واره زياته ده.[115]

## افغان ملي پوليس

د CSTC-A د راپور له مخې د ۲۰۰۹ کال دسمبر د مياشتې د ۳۱ نيټې پورې د افغان ملي پوليسو شميره ۹۴۹۵۸ تنوته رسيدلې وه، چې له مئ ۲۰۰۹ کال څخه د ۱۳۴۴۹ پوليسو زياتوالی ښيي.[116] څرنګه چې د ۲۰۱۰ کال د سپټمبر په مياشت کې به نوموړی شميره ۱۰۹۰۰۰ تنوته ورسيږی.[117]

د دفاع د وزارت د راپور له مخې، پدی وروستيو کې د (LOTFA) د افغانستان لپاره د نظم او قانون د پلی کولو د اداری وجهی صندوق د افغان پوليسو لپاره يوه پراخه د پيسو د ورکولو بسته منظوره کړيده. د دي پواسطه به افغان پوليسو ته د اوږدې مودې لپاره معاشونه ورکول کيږي او همدارنګه د هرو دريو کلونو څخه وروسته به د هغوی په معاشونو کې زياتوالی راولي. سر بېره پر دې به د نوموړی بستې څخه د پوليسو په اساسي مياشتني معاش کې ۴۵ امريکايی ډالره زياتيږی. او همدا رنګه د هغو پوليسو ته چې په خطرناکو سيمو کې دندی ترسره کوي اضافي معاش ورکول کيږي.[118]

د افغاني دودونو او عنعناتو له امله ډيرکم شمير ښځينه د پوليسو په ليکو کې شامليږې. په ټولنه کې د ښځينه وګړو د ستونزو د حل لپاره لکه هغه ښځينه چې د جرمونو، زور او زياتی ښکار شوی وې او يايې په خپله ترسره کړی وي د هغو سره د خبرو او مصاحبو ترسره کول، د ښځو تلاشي کول، د ښځو څخه د پوښتنو ګرويږنو ترسره کول او داسی نورو ستونزو او مسايلو د حلولو لپاره د امريکا د بهرنيو چارو وزارت د ښځينه پوليسو لپاره د روزنې يوځانګړی مرکز جوړ کړی دی. د بهرنيو چارو وزارت د ملکي پوليسو مشاورين هم د کورنيو ستونزو د حل د واحد سره کوم چې د کورني زور زياتي پيښوته رسيدنه کوي، مرسته او ملاتړ کوي.[119]

د ۲۰۰۹ کال د اکتوبر په مياشت کې د ملګرو ملتونو پراختيايي پروګرام (UNDP) د پوليسو په هکله يوه سروې خپره کړه او په هغې کې يې د خلکو د نظرياتو يو انځور وړاندی کړيدی. د نوموړی سروې له لارې يې په هيواد کې د جولای د ۹ څخه تر ۲۱ نيټی پورې د ۵۱۵۶ کسانو سره د نمونې په ډول د پوليسو په هکله د خلکو نظريات راغونډ کړي دي.[120] د سروې پايلې ښيي چې ۴۹٪ خلک فکر کوي چې پوليسو جرمونه کنټرول کړي دي او ۴۲٪ خلک پدې عقيده دي چې د دوه کلونو راهيسې د پوليسو اجرااتو ښه والی موندلی دی.[121] اما له بله پلوه

جدول ۳.۴

| د تاوتریخوالي او خونړیو پیښو په اړه د افغانانو پوهه | |
|---|---|
| **د فعالیت ډول** | **د وګړو د هو ځواب (د فیصدي له مخې)** |
| د متحده ایالاتو، ناټو یا ایساف د ځواکونو له خوا هوایي بمبارۍ یا توپونه | 72 |
| د متحده ایالاتو، ناټو او ایساف د ځواکونو له خوا وژل شوي یا ژوبل شوي ملکي وګړي | 69 |
| د ملي اردو او ملي پولیسو له خوا وژل شوي یا ژوبل شوي ملکي وګړي | 67 |
| په موټرو کې بمونه، ځانمرګي بریدونه | 66 |
| د دواړو خواوو په ډزو کې | 64 |
| د طالبانو، القاعده او بهرنیو جګړه مارو له خوا وژل شوي یا ژوبل شوي ملکي وګړي | 60 |
| د پیسو لپاره اختطاف | 59 |

یادونه: دا پورته فیصدي د ټولټال ۵۱۵۶ کسانو څخه د پوښتنې د «هو» ځوابونو پایله ده.
سرچینه: UNDP، "د پولیس د پوهې سروې ۲۰۰۹: د افغانانو پوهه،" ۲۰۰۹\۱۰، مخ ۱۱.

افغانان عقیده لري چې د پولیسو په منځ کې د فساد شتون ستونزه وجود لري: ۵۲٪ خلک فکر کوي چې "ځیني" یا "ډیر شمیر" پولیس د خپل صلاحیت څخه ناروا ګټه اخلي. په کابل کې د پولیسو په لیکو کې د فساد کچې لوړه ښودل شویده. سر بېره پر دې۵۴٪ خلک عقیده لري چې پولیس د نشه ایزو توکو په تجارت کې لاس لري او ۴۴٪ فیصده خلک بیا عقیده لري چې پولیس په جرمونو کې ښکیل دي.[122]

په دې سروې کې د خلکو څخه پوښتل شوي دي چې تیر کال ستاسو په سیمو کې کوم ډول جرمونه او زورزیاتي ترسره شویدي. ډیرو خلکو ځواب ورکړی دی چې "هو" د ناټو او ایساف د ځواکونو د هوایي بمباریو او توپونو څخه واخله تر هر ډول نورو پیښو پورې رامنځته شوي دي، کومې چې په ۳.۴ جدول کې ښودل شوي دی.

د افغانستان د کورنیو چارو وزارت د خپل پرسونل د شتمنیو د ثبتولو کار پیل کړی دی ترڅو د پولیسو د احتساب پروسه رامنځته او په پولیسو کې د اداري فساد او رشوت مخه ونیسی. په دغه پروسه کې د افغان ملي پولیسو د ټول پرسونل ثبت کول، د مخدره موادو په مقابل کې ټیسټ کیدل، بیا تجربه کیدل او د بایو متریک معلوماتو حاصلول شامل دي. تر اوسه پورې د کورنیو چارو وزارت د ۴۱۰۰۰ تنه افغان ملي پولیسو احتساب په کابل کندهار او شپږ نورو د لوړ خطر ولایتونو کې په بریالیتوب سره ترسره کړیده. په نورو پاته ولایتونو کې به د پولیسو د راجسترولو کار د ۲۰۱۰ کال د فبرورۍ په لومړۍ نیټه پیل او هیله کیږي چې د اپریل تر لومړۍ نیټې پورې بشپړه شي.[123]

## د افغان ملي پولیسو د روزنې حالت

د ۲۰۰۹ کال د اکتوبر د لومړۍ نیټې څخه د دسمبر تر ۱۷ پورې د زده کړو او روزنو د مرکزونو څخه ۴۲۸۶ تنه پولیس فارغ شوي دي چې د مخکې ربعې په تناسب ۴۸٪ کموالی ښیي.[124] د افغان پولیسو د زده کړو او روزنو اداري دغه لاندې کورسونه وړاندې کوي:

- د ښارني اساسي پولیس
- د ښارني پرمختللي پولیس
- د افغان عامه نظم پولیس (۱۶ اونیو پروګرام)
- سرحدي پولیس (۶ اونۍ)
- دمخدره موادو پر ضد مبارزه
- د پولیسو د اکاډمي د افسرانو روزنه
- د پولیسو اکاډمی د non-commissioned افسرانو روزنه
- د راتلونکو افسرانو ښوونځی
- په ولایتونو کې د غبرګون ډله (۱۴ اونۍ)



**د افغان ملي پولیسو افسران د روزنې په کورس** کې د زده کړې په حال کې لیدل کیږي چې د مدني چارو د پرسونل پواسطه د غزني د PRT له خوا جوړ شوی دی. دا کورس د خلکو سره د ښو اړیکو ټینګولو، د عملیاتو په وخت کې د پولیس سره د خلکو د ملاتړ د زیاتوالي او د مخالفینو سره د ملاتړ د کموالي په موخه جوړشوی دی. (مشترک ګډ هدف ځواک - PAO 82 انځور، ایم سارجنټ سارا ویب)

- د ولسوالی د پرمختیا د مشرتابه او په اداري پرمختیا تمرکز
- د ولسوالی د پرمختیا آفسر او non-commissioned اساسي افسر
- د ښځینه پولیسو مرکز (۸ اونی)
- د جرمونو د صحنې څیړندوی (۶ اونی)
- د ښځینه استخباراتي پولیسو کورس (۶ ورځې)
- د استخباراتو روزنه (۲ اونی)
- د ښوونکو پرمختیا (۴ اونی)
- د ژوبلو سره د مرستو پرسونل (۸ اونی)
- د جرمونو د څیړنو دیپارتمنت او څارنوالان (۴ اونی)
- د عراده جاتو د چلوونکو روزنه (بیلابیل پروګرامونه)

د ۲۰۰۹ کال د دسمبر د میاشتی د ۲۳ نیټې راهیسې ۵۹۷۲ افغان ملي پولیس په زده کړو او روزنو کې بوخت وه. ځیني پولیس په دې ربع کې فارغ او په ولایاتو کې توظیف شوي دي. دغه پولیس په اوه ولایتونو کې لکه څرنګه چې په ۳.۲۴ انځور کې ښودل شوېده په دندو ګمارل شوي دي. د نومړو فارغانو زیات شمیر د هلمند په ولایت کې توظیف شوي دی.[125]

د افغان پولیسو د زده کړو او روزنو د منطقوي مرکزونو له لارې د پولیسو د بیسوادی لوړه کچې د بیلابیلو تدریسي میتودونو، لکه د نمایش په ډول ښوونو، د عکسونو له لارې د ښووني او همدارنګه د نورو عملي زده کړو او ښونو په واسطه تر زیاته حده را ټیټه کړي ده. سربېره پردې د نومړو روزنیزو مرکزونو پولیسو ته د غیر دولتې موسساتو له خوا هم د سواد د زده کړی ښوونه او روزنه ورکول کیږي چې دغه غیر دولتی موسسی د DOD له خوا تمویلیږي.[126]

د متحده ایالاتو د بهرنیو چارو وزارت د نشه ایزو توکو پر ضد د مبارزې او د قانون د تطبیق د چارو د نړیوال دفترپه وینا، په اوږد مهاله موده کې د افغان پولیسو د پایښت د پولیسو وړتیا ته انکشاف ورکول دي. تر څو هغوی د نړیوالی ټولنې د ملاتړ څخه پرته د پولیسو لپاره د زده کړو او روزنو پروګرامونه پرمخ یوسي. په دې اړوند نړیوالې مرستې د ښوونکو د روزنو د کورسونو د رامنځته کولو له لارې برابریږي. چې په دغه کورسونو کې د پولیسو ملکی بهرنی مشاورین د افغانی روزونکو سره کارکوي.[127] اوس مهال افغان روزونکې د پولیسو د زده کړو او روزنو په سیمه ایزو مرکزونو کې زده کړې ورکوي او پورته ذکر شوی مشاورین د هغوی د کارونو څخه نظارت کوي.[128] د ناټو د وینا له مخې افغان پولیس زیاتو او ګټورو زده کړو او روزنو، په کافی اندازه تجهیزاتو او اکمالاتو ته اړتیا لري.[129]

د پولیسو د پایښت او د هغوی د عملیاتي وړتیاوو د زیاتوالي په خاطر NTM-A د افغان پولیسو په انکشاف کې مرسته کوي او د ولسوالیو او د هغې څخه په ټیټه کچې د پولیسو د بیا رغونې او اصلاحاتو ټینګارکوې. د اروپایي اتحادیې د پولیس مشن (EUPOL) هم پولیسو ته روزنه ورکوي او خپل زیات پام یې د معیارونو او د پولیسو د ډلو ترمنځ د اړیکو د ټینګوالی او په لوړه کچې د پولیسو منجمنت ته اړولی دی. د NTM-A او EUPOL انکشافی فعالیتونه د همغږۍ او نظارت د یوه ګډ بورد او د پولیسو د همغږۍ د نړیوال بورد په واسطه همغږي کیږي.[130]

سر بېره پر دې د افغان پولیسو په روزنه کې د متحده ایالاتو د بهرنیو چارو وزارت هم د کورنیو چارو وزارت سره مرسته کوي. په دې ډول چې هغوي د هیواد د کورنیو چارو وزارت ته مسلکي روزنکې برابروي ترڅو د کورنیو چارو د وزارت د افسرانو سره د پرسونل د منجمنت، اداری چارو، پلان جوړولو او نورو برخو کې مرسته وکړي.[131]

د NTM-A او CSTC-A اداري د کورنیو چارو وزارت سره د نږدې څخه کار کوي ترڅو د افغان پولیسو د روزنې لپاره یوه نوې د زده کړو او روزنو ورکولو اداره را منځته کړی چې د هغې پواسطه افغان پولیس د زده کړو او روزنو د منجمنت نظارت، تطبیق او داسې نورو ټولو چارو مسولیت پر غاړه واخلي. اوس مهال د پولیسو د روزنې مرکزونه د NTM-A قرارداد کوونکو او د ایتلافی قواوو له خوا اداره کیږي. د کورنیو چارو وزارت کوښښ کوي چې د پولیسو د روزنیزو مرکزونو لپاره افغاني وزنکي برابر کړی. په داسې حال کې چې

انځور ۳.۲۴

د افغان ملي اردو فارغین د ولایتي ماموریت په اساس




سرچینه: د سیګار د معلوماتو پوښتنې ته د CSTC-A ځواب، 2010\4\1.

انځور ۳.۲۵

د ملي پوليسو د يونټ CM درجې، د وخت نه تر وخت پرتله




يادونې: يوه يونټ د ولسوالۍ پرمختيايي پروګرام په دسمبر کې بشپړ کړ او په دې اساس درجه بندي شوی نه دی.
CM1 = ټول معيارونه په مناسب ډول ترسره شوي، کمياتي پېمانې <85%، د رول په فعاليت کې کيفياتي اندازه <85%.
CM2 = زيات معيارونه په مناسب ډول ترسره شوي، کمياتي پېمانې <70-85%، په رول کې د فعاليت کيفياتي اندازه <70-85%.
CM3 = يو څو معيارونه په مناسب ډول ترسره شوي، کمياتي پېمانې 50-70%، د رول په فعاليت کې کيفياتي اندازه <50-70%.
CM4 = هيڅ معيارونه په مناسب ډول ندي ترسره شوي، کمياتي پېمانې <50%، په رول کې د فعاليت کيفياتي اندازه <50%.

سرچينې: د سيګار د معلوماتو پوښتنې ته د CSTC-A ځواب، 2010\4\1.د سيګار د معلوماتو پوښتنې ته د CSTC-A ځواب، 2009\2\10؛ د بهرنيو چارو وزارت OSD، د سيګار د معلوماتو پوښتنې ته ځواب، 2009\8\7.

NTM-A زيار باسي ترڅو د افغان پوليسو د روزونکو د ټاکلو او د هغوی د مشخصاتو او وړتياوو د تعينولو پروسه اصلاح کړي او همدارنګه په دې اړوند روزونکو ته د زده کړو د ورکولو لپاره د تکړه روزونکو په ټاکلو ټينګار کوي.[132] د کورنيو چارو د وزارت په اړوند، NTM-A د پوليسو مشرتابه ته د انکشاف ورکولو په موضوع ټينګار کوي چې پدې اړوند به د روزنکو په پروګرام بيا کتنه وکړي او د ټريننګ په ټولو مرکزونو کې به معياری زده کړې او روزنې يقيني کړي.[133]

د کورنيو چارو وزارت پدې ورستيو کې د پوليسو په اکادمي کې د پوليسو د افسرانو لپاره يو شپږ مياشتنی ښوونځی تاسيس کړی دی چې په هغې کې ۹۰۰ تنه افسران زده کړې کوي. سربېره پردې وزارت د ملک څخه بهر د پوليسو د افسرانو لپاره د زده کړو د ترلاسه کولو د لارو چارو په لټه کې دی.[134]

سره له دې چې په وروستيو ربعو کې يو شمير پوليس فارغ شوی خو ۷۰ سلنه د پوليسو پرسونل په ټوليزه توګه مسلکي زده کړه نه لري. زده کړه بايد د پوليسو د افغاني ټيم له خوا ترسره شي، کوم چې اوس مهال يې کمی په سترګو کيږي. د دفاع وزارت له نړيوالي ټولنې سره کار کوي تر څو د زده کړې لپاره د ۱۱۹ ټيمونو د نشتوالی تشه ډکه کړی.[135]

## د افغان ملي پوليسو چمتووالی

د ۲۰۰۹ کال د دسمبر د مياشتې د ۳۱ نېټې راهيسې د افغان پوليسو ۱۲ واحدونو شتون درلود. چې لړ ترلړ ددې واحدونو ۱۲٪ په دې ربع کې په لمړي محک کې راغلي دي (د وړتياوو له مخې).[136] پداسې حال کې چې په تيره ربع کې هم په همدې فيصدې واحدونه په لمړي محک کې راغلي دي ۳.۲۵ انځور وګورئ.[137] دوه نور واحدونه پدې ربع کې طبقه بندي شوي دي.[138]

انځور ۳.۲۶

د افغان ملي اردو تجهيزات




سرچينه: د سيګار د معلوماتو پوښتنې ته د CSTC-A ځواب، 1\4\2010.

## د افغان ملي پوليسو د انفراسټرکچر حالت

: د افغان ملي اردو په شان د افغان ملي پوليسو لپاره د زيربناوو لپاره لکه د بارکونو، مرکزی دفترونو، د ټرننګ لپاره د ودانيو، تعليمي ساحو او ميدانونو، اداري دفترونو، د تحويل خانو او ګودامونو د ودانيو او د څارنې او پالنې د آسانتياوو د برابرولو لپاره قراردادونه کيږي. د CSTC-A د وينا له مخې، د افغان پوليسو د تسهيلاتو ساتنه او پالنه او د هغې پايښت د ملي فعاليتونو او د ساتنې او پالنې د قراردادونو له لارې ترسره کيږي. پدغه ډول قرارداد کې د پوليسو د تسهيلاتو او تجهيزاتو د ساتنې او پالنې په هکله د زده کړو او روزنو ورکول ځای لري. ترڅو د هغې له لارې بالاخره ددغو چارو مسوليت د کورنيو چارو وزارت ته وسپارل شي.[139]

د همغږۍ ګروپ د ۲۰۰۹ کال د دسمبر د مياشتې د ۳۱ څخه راهيسې د ۲۵۰ فعالو زيربناوو د قرارداد په هکله راپور ورکړی دی. په تيره شوې ربع کې دا شميره ۲۶۹ وه. د دې قراردادونو زيات شمير يې د هيواد د شمالي برخو لپاره وه. د ۱۷۴۳۵مليونو ډالرو په ارزښت ۷۷ قراردادونه ترلاس لاندې نيول شوي وه چې بايد پدې ربع کې بشپړ شوی وای. په ټوليزه توګه د ۱۴.۵۰ مليونو ډالرو په ارزښت ۱۷ قراردادونه پدې ربع کې فسخ شول، پداسې ډول چې يو قرارداد د امنيتي ستونزو له امله او پاتې يې د قرارداد کوونکو سره د ستونزو د رامنځته کيدلو له امله فسخ شول. د ۲۰۰۹ کال د اکتوبر د لومړۍ نيټې څخه بيا د دسمبر د ۳۱ نيټې پورې هيڅ قرارداد نه دی ورکړل شوی.[140]

## د افغان ملي پوليسو د تجهيزاتو حالت

افغان ملي پوليسو د ۲۰۰۹ کال د اکتوبر د ۱ څخه د دسمبر تر ۳۱ پورې ۳۰۹ مخابرې، ۵۲۰ عرادې نقليه وسايط او ۱۲۵۷ ميله اسلحه په کار اچولې ده.(۳.۲۶ انځور وګورئ). په دې ربع کې د افغانستان ملي پوليسو تدارکات يواځې ۱۵۱۵ ميله AK-47 ټوپکې او ۳۹۵ عرادې تکتيکی سپک نقليه وسايط دي.[141]

انځور ۳.۲۷

د افغان ملي پوليسو تلفات د ولاياتو په اساس




يادونه: د تلفاتو راپور له 9\21\2009 څخه تر 12\27\2009 پورې ورکړ شوی دی.

سرچينه: د سيګار د تجزيي په ځواب کې د IJC يادابښت، 1\21\2010.
د سيګار د معلوماتو پوښتنې ته د CSTC-A ځواب، 1\4\2010.

## د افغان ملي پوليسو تلفات

د IJC د راپور له مخې د ۲۰۰۹ کال د سپتمبر د ۲۱ څخه د دسمبر تر ۲۷ پورې د افغان ملي پوليسو د ژوبلو او تلفاتو شميره ۲۵۸ تنه ښودل شوی ده: له دې جملې څخه په مختلفو عملياتو او پيښو کې ۱۵۵ تنه پوليس ټپيان او ۱۰۳ کسانو يي خپل ژوند له لاسه ورکړی دی. دا ژوبلې او تلفات د مخکې ربعې په تناسب ٪۵۲ سلنه کموالی ښيي. د ژوبلو او تلفاتو زياتې پيښې د هيواد په سهيلي ولايتونوکې رامنځته شوي دي ۳.۲۷ انځور وګورئ. د ژوبلو او تلفاتو زياتره پيښې د هلمند په ولايت کې رامنځته شويدی.[142]



**د خوست په ولایت کې افغان پولیس** د متحده ایالاتو د ځواکونو سره په شریکو عملیاتو کې په یوه مغاره کې د غیر قانوني وسلو لټون کوي. (د متحده ایالاتو د ځواکونو انځور، ایس سارجنټ اندریو سمیث)

## د غیر قانوني وسله والو ډلو بې وسلې کول

د ملګرو ملتونو پراختیایي پروګرام- د افغانستان د نوي پیل پروګرام په هیواد کې د غیرقانوني وسله والو ډلو د خلع سلاح کولو د پروګرام ملاتړ کوي.[143] دغه پروګرام (ANBP) ټولې وسلې په خوندي او غیر خوندي او همدارنګه په فعالو او غیر فعالو ټولګیو ویشلې او له منځه یې وړي دي.[144] سر بېره پر دې ANBP اداري د خلع سلاح او بیا ځلي ادغام او استقرار کمیسیون یو شمیر کارمندانو ته دنده سپارلې ده چې د همغږۍ د ګروپ په شان د دایاګ DIAG د پروګرام د کوښښونو او فعالیتونو دهمغږۍ کولو په برخه کې فعالیت وکړی. د متحده ایالاتو د بهرنیو چارو د وزارت په وینا، ANBP ټول ۲۵۰ تنه ملي کارمندان، ۶ تنه بین المللی کارمندان او ۷ سیمه ایزې اداری دفترونه لري چې د هغې له لارې د هیواد په ۳۴ ولایتونو کې عملیات ترسره کوي او والیانو/ولسوالانو سره پدې اړوند مرسته کوي او همدارنګه په محلی کچې د نوموړو فعالیتونو تر منځ هم غږی را منځته کوي.[145]

د کورنیو چارو په وزارت کې د (DIAG) واحد په هیواد کې د امنیتی شخصي کمپنیو په شمول د ټولو اسلحو د راجستر کولو مسولیت پر غاړه لري. د LOTFA پیسی د ډایاګ د واحد سره د مرستی په لاره کې لګول کیږي. ANBP د دایاګ د واحد سره تخنیکی ملاتړ کوي او د نوموړی پرسونل د ظرفیتونو د لوړوالي په لاره کې مرستي ترسره کوي. ترڅو دایاګ وکولای شي چې د هیواد په ټولو ولایتونو کې د شخصی کمپنیو اسلحي او نورې غیر قانوني اسلحي راجستر کړي.[146] تردې مهاله د دایاګ په واحد کې ۳۳ تنه افسران مقرر شوي دي او د DOS د وینا له مخي هغوی پدې برخه کې د زده کړو او روزنو ورکول د ۲۰۰۹ کال د اکتوبر په میاشت کې پیل کړي دي.[147]

د افغانستان د دولت د قانون له مخې هر هغه اسلحه چې د افغانستان د اسلامی جمهوریت په دولت کې راجستر شوی نه وي غیر قانوي ګڼل کیږي. د اسلحې د لرلو او ګرځولو لایسنس یا جواز د کورنیو چارو د وزارت له خوا ورکول کیږي. ډایاګ د کورنیو چارو د وزارت سره یو ځای کارکوي ترڅو دا پروسه ښه والی ومومي ځکه چې دا پروسه اوږد مهاله او ستونزمنه بلل کیږي (د DOS د وینا له مخې).[148]

## حالت

د ډایاګ په وینا، هر غیر قانوني وسله وال ګروپ چې د پنځو او یا د دې څخه زیاتو وسله والو کسانو لرونکی وي او د یوی قوماندې او کنترول د میکانیزم لاندی فعالیت کوي، غیر قانوني وسله واله ډله بلل کیږي. دا ډله د افغانستان د اسلامی جمهوریت د حکومت او یا د ائتلاف د قوځونو یوه برخه نه تشکیلوي.[149] ډایاګ د ۲۰۰۹ کال د اکتوبر د میاشتی د لومړۍ نیټې څخه د دسمبر د ۱۹ نېټې پورې ۱۷ غیر قانوني ډلې خلع سلاح کړیدي او ۲۴۵ میله اسلحه یې راغونډه کړیده. د دسمبر د میاشتی د ۱۹ نیټې پورې ډایاګ د هیواد په ۱۳۲ ولسوالیو کې فعالیت پیل کړیدی چې د دې جملې څخه ۸۸ ولسوالیو د ډایاګ پروګرام سره خپل رضایت ښودلی دئ (د دفاع د وزارت په وینا). پدی دوران کې د کورنیو چارو وزارت ۱۴۹۹ میله اسلحه راجستر کړیده او همدارنګه امنیتي ځواکونو ۲۴۱ میله اسلحه نیولې چې ډایاګ ته یې وسپارې.[150] ۳.۵ جدول کې د ډایاګ پرمختګ تشریح شویدی.

جدول ۳.۵

**تر نن پورې د بې وسلې کولو په اړه پرمختګ**

| **سرچینه:** | **د وسلو شمیر** |
|---|---|
| د ډایاګ لخوا راغونډ شوي وسلې | 45,830 |
| د ملي امنیت د ادارو لخوا راغونډي شوي/ضبط شوي وسلې | 11,815 |
| ځانګړي وسلې چې د کورنیو چارو په وزارت کې ثبت شوي دي | 18,961 |
| د شخصي امنیتي شرکتونو ثبت شوي وسلې | 16,927 |
| د ایساف لخوا له مینځه وړل شوي وسلې، اټکل | 14,000 |
| **ټول** | **107,533** |

یادونه: دا معلومات تر ۲۰۰۹/۱۲/۱۹ پورې دي.
سرچینه: د سیګار د معلوماتو پوښتنې ته د بهرنیو چارو وزارت ځواب، ۲۰۰۹/۱۲/۱۱.

## د امنيتي ځواکونو عمليات

د DOS د وينا له مخې د امنيتي ځواکونو سيمه ايزو افسرانو د ANBP د وسلو د راغونډولو له ټيم سره د وسلو په راغونډولو کې مرسته کوي چې هغوی په ټولو ولايتونو کې د وسلو د راغونډولو مرکزونه رامنځته کړيدی. وسلې د پخوانيو قومندانانو له خوا ډاياګ ته د سپارلو څخه وروسته په ګودامونو کې د افغانستان د دفاع وزارت له خوا ساتل کيږي. چې بيا روغې او فعاله وسلې د افغان ملي اردو ته ورکول کيږي.[151]

## ننګونې

يو شمير تمويل کوونکو ډاياګ ته د پيسو ورکول درولي دی. دا ځکه چې هغوی د احتساب، د ځينو موضوعاتو د پامه غورځول، د تائيد او تصديق او ځيني نورو موضوعاتو او مسائلو په هکله اندېښمن دی. نوله دې امله د پيسو د برابرولو موضوع د داياګ د فعاليتونو د پرمخ وړلو او د داياګ پروسې ته د پايښت ورکولو په لاره کې ستونزې رامنځته کوي (د DOS د وينا له مخې). USAID يو تمويل کوونکی دئ خوله بده مرغه مالي ملاتړ ته د دوام ورکولو وړتيا نه لري. دا ځکه چې دې پروګرام ته د پيسو ورکولو د ميکانيزم په وړاندې ځيني قوانين وضع شوي دي. UNDP ددې پروګرام د پايښت لپاره ۲ مليونه ډالره ورکړيدي. د جاپان هيواد او ځيني نورو وړو تمويل کوونکو هم د داياګ د پروګرام د ملاتړ په تکل کې دي.[152]

د متحده ايالاتو او د داياګ استازو د داياګ رول د خلع سلاح شويو کسانو لپاره د افغانستان د سولې او بيا پخلاينې او استقرار پلانونه تر بحث او څيړنې لاندې نيولي دی.[153] د ملګرو ملتونو د مشر په وينا زيات شمېر خلع سلاح شوي کسان غواړي چې په ملي اردو او يا ملي پوليسو کې استخدام شي.[154] د سولې پخلاينې او د بيا استقرار د پلان د انکشاف يوه برخه د احتساب او تائيد د يوه غښتلي ميکانيزم رامنځته کول دی. نړيواله ټولنه د خلع سلاح شويو کسانو د پامه غورځولو په هکله او هم دا چې آيا نوموړي کسان به داسې حالت کې د تل لپاره خلع سلاح پاته شي او که نه، انديښنه لري. ډيری افغانان د اسلحو د تسليمولو ته چمتووالی او رضايت نه ښکاره کوي. دا ځکه دوی فکر کوي چې دغه اسلحه به په راتلونکې کې د دوی دفاع او ساتنې لپاره پکار شي. سربېره پردې ډېر وګړي زړې او قديمي اسلحې د داياګ پروګرام ته سپاري او نوې او فعاله اسلحه د ځان سره ساتي.[155]

د DoS په وينا، د ايساف استخبارات دا ګڼي چې ډيری ياغيان چې د اسلحو ورکولو ته غاړه ايښې وه همدې پورته چل ول څخه يې کار اخيستی دی. اړونده مقامات داسې انګيري چې پاته غيرقانوني ډلې به د وسلو د ورکولو په اړوند د ځانه مقاومت وښيي.[156]

## د ناچاودېدلو موادو ليرې کول

د ۲۰۰۱ کال د اپريل د مياشتې د لومړی نېټې څخه د ۲۰۱۰ کال د مارچ ترپايه چې د ۱۳۸۸ شمسي کال سره سمون خوري دوه موسسو د ماينونو د کنترول او پاکولو فعاليتونه پرغاړه اخيستی دی چې د DMC او UN-MACCA څخه عبارت دي. DMC لومړنی موسسه ده چې خلکو ته د ماينونو او نورو د جګړې څخه پاته شويو چاوديدونکو توکو د خطر او د هغو څخه د ځان ژغورلو په هکله د خبرداری زده کړې ورکولو مسئوليت پرغاړه لري. پدې اړوند دا موسسه د پوهنې د وزارت سره يوځای کارکوي.[157] MACCA موسسې په کليوالو سيمو کې د ماينونو د پاکولو او د هغې په هکله د پوهاوي مرکزونه جوړ کړي دي (په ټول هيواد کې). يعنې په ګرديز، هرات، جلال آباد، کابل، کندهار، کندز او مزار شريف کې. په نوموړو مرکزونو کې کاملاً افغانان کارکوي. هغوي د ماين پاکې د فعاليتونو، د نظارت همغږی کولو او ارزوني چارې په ټولو ولايتونو کې ترسره کوي.[158] MAPAپروګرام چې د ملګرو ملتونو پواسطه ۱۹۸۹ کال پيل شوی او د MACCA له خوايي نظارت ترسره کيږی په هيواد کې د ماين پاکې لپاره بل غټ مرسته کوونکی بلل کيږي.[159]



**يوه کور ته نږدې په خمکه کې ښخه مرمی** چې د نا چاودلو توکو او مهماتو د لټون په مهال موندل شوې ده. (د متحده ايالاتو د پوځ انځور، ايس ايف سي ليوناردو توررس)

د کار، ټولنيزو چارو، شهيدانو او معلولينو وزارت په هيواد کې يواځنی ستره اداره ده چې د ماينونو او چاوديدونکو توکو څخه د معلول او معيوب شويو کسانو سره د مرستو د ترسره کولو د چارو نظارت او راپور ورکولو مسوليت پرغاړه لري. دغه وزارت د نورو وزارتونو او ذيدخله مراجعو د هغو فعاليتونو څخه نظارت کوي او د ماينونو څخه د متاثرينو سره د مرستې په لاره کې يې ترسره کوي.[160] د جګړې څخه د پاته شويو

چاودیدونکو توکو د له منځه وړلو ترڅنګ د متحده ایالاتو د بهرنیو چارو وزارت له خوا د CWDP د پروګرام له لارې د منازعاتو د متاثرینو د حفاظت لپاره د انساني همدردي مرستې برابروي. دغه پروګرامونه د PM/ WRA له خوا اداره کیږي.[161]

## حالت

د یوناما د وینا سره سم په هیواد کښې د ۲۰۰۹ کال د جنوري څخه بیا د دسمبر د میاشتې پورې ۴۸۷۶۹ د پرسونل ضد ماینونه، ۶۴۴ د ټانک ضد ماینونه، ۱۰۹۲۵۲۷ د جګړو د وخت څخه پاته شوي چاودیدونکي توکي له منځه وړل شوي دي. سربېره پردې پدې دوران کښې ۴۰۲۹۰۳ تنه ښځو او انجونو، ۶۱۲۶۶۵ تنه سړیو او هلکانو ته د ماینونو د خطر په هکله د خبرداري زده کړې ورکړ شويدي.[162] د ماینونو د خطر په هکله د تعلیماتو د ورکولو مؤسسو په زرګونه خنثی شوي ماینونه د ماینونو په هکله د زده کړو او روزنو په مهال خلکوته په عملي توګه ښيي.[163]

د ټولنې پر بنسټ د ماین پاکي پروګرامونه اکثراً په هغو سیمو کې چې د ماینونو د شتون له اړخه خطرناکې بلل کیږي او همدارنګه غیر دولتي مؤسسو او نورو قراردادکوونکو ته ګواښ ګڼل کیږي، پلي کیږي. MACCA د ټولنې په کچې د ماین پاکي ۴۳ ټیمونه پلان کړیدي چې له دې جملې څخه ۲۳ ټیمونه یې د جون د میاشتې راهیسې فعال دي.[164]

## د افغان ملي امنیتي ځواکونو (ANSF) عملیات

د DOS د راپور له مخې د ANSF هغه غړي چې په هیواد کښې د ماینونو او د جګړې د وخت څخه د پاته شویو نورو چاویدونکو توکو د را ایستلو او شنډولو کارونه ترسره کوي هغوی ته د متحده ایالاتو د ځواکونو (USFOR-A) او CSTC-A له خوا زده کړې او روزنې ورکول کیږي او د هغوي د فعالیتونو څخه څارنه ترسره کوي. د ANSF د ماینونو د رایستلو او شنډولو روزنه د نوموړې اداري د چاودیدونکو موادو د شنډولو او مبارزې، همدارنګه د ملي اردو د انجنیري د ښوونځي له لارې چې په مزار شریف کښې موقعیت لري، ورکول کیږي.[165]

د PM/WRA اداره سربېره پردې چې د بشر دوستي کارونه ترسره کوي د ناکاره او د خطر څخه ډکو اسلحو په له منځه وړلو کښې مرسته کوي. د DoS د وینا له مخې، سربېره پردې د PM/WRA د ANSF سره د ناکاره اسلحو او نورو چاودیدونکو توکو د ذخیره کولو د منجمنټ، او امنیت په برخه کښې تخنیکي مرسته کوي.[166]

د DoD د راپور مطابق د ۲۰۰۹ کال د دسمبر د میاشتې په پیل کې د ۱۰۰۰ تنو څخه زیاتو د ایساف پوځیانو د افغان ملي اردو سره یوځای په هغو عملیاتو کښې چې د قهر کوبرا په نامه یادیده او د هلمند د ولایت د نوزاد په سیمه کښې د جګړه مارو په وړاندې ترسره شول، برخه واخیسته. د دغو عملیاتو اساسي موخه د افغانستان جمهوري دولت او نورو مؤسسو ته د فعالیت لپاره د امنیت برابرول وه، نو ځکه هغوی سیمه د چاودیدونکو توکو او ماینونو څخه پاکه او په سیمه کې یې د خلکو بیا میشته کیدل شوني کړل.[167]

## ننګونې

د ماینونو د څارنې مؤسسې د وینا پر بنسټ د افغانستان د اسلامي جمهوریت حکومت راپور ورکړی دی چې په هیواد کې د ماین پاکولو عملیات به د پنځو کلونو لپاره ۵۰۰ ملیونو امریکایي ډالرو لګښت ته اړتیا ولري.[168] په پیل کښې د ماین پاکولو د پروګرامونو پیسې د نړیوالو تمویل کونکو له خوا برابریدلې، لیکن MAPA اعلان کړی دی چې د افغانستان حکومت باید د ماین پاکي د لګښتونو د پوره کولو لپاره په ټینګه د پیسو ورکوونکو منابعو لټون وکړي.[169]

## ائتلافي ځواکونه

ناټو د ۲۰۰۹ کال د اکتوبر په میاشت کې NTM-A اداره رامنځته کړه ترڅو هغه د افغان ملي اردو د لوړې

**په اګست ۲۰۰۹ کې زیات کوښښونه پیل شول چې څلور ملیونه متر مکعبه ځمکه د ماینونو او نورو نا چاودلو مهماتو څخه د افغانستان د نظامي پوهنتون د ساحې لپاره  پاکه کړي. د متحده ایالاتو د پوځ انجینیران (USACE) او CSTC-A په ګډه سره د یوه مشورتي ګروپ په مرسته کار کوي. د سطحي ماینونو د موندلو د نویو تجهیزاتو چې د یوه متر څخه تر څلورو مترو پورې تر ځمکې لاندې مینونه کشف کولای شي د کارولو له لارې زیات چاودېدونکي توکي موندل شویدي. د ماینونو او نورو چاودېدونکو توکو د رااېستلو ټیم په هرو لسو ورځو کې ۱۰۰۰ دانې نا چاودلي توکي موندلي دي چې په دې کې د توپونو دستګاوې، د توپونو مرمۍ، لاسي بمونه، وړې اسلحې، ماینونه او خوشه ایز بمونه شامل دي.**

سرچینه: USACE، "له خطره ډک ملکیتونه: USACE د افغانستان تر ټولو له ماینونو څخه ډکه سیمه پاکوي،" ۲۰۰۹\۲\۹.

کچې په زده کړو او روزنو نظارت وکړي او همدارنګه ددي زده کړو او روزنو رهبري په غاړه واخلي.[170] نو پدې اړوند NTM-A د امریکا د متحده ایالاتو د قیادت لاندې CSTC-A سره يوځای کارکوې ترڅو د زده کړو او روزنو پراخه پروګرامونه رامنځته او د افغان ملې امنيت د ځواکونو د زده کړو او روزنو رهبرې پرغاړه واخلي.[171] د NTM-A غتې برخې د OMLTS او د پوليسو د OMLTS زياتوالی او همدا رنګه د ANSF د زده کړو او روزنو د بنسټيزو مرکزونو زياتيدل دې. د NTM-A د رامنځته کيدلو سره په يوه وخت کې، ناټو IJC هم تاسيس کړه ترڅو هغه د ANSF رهبری او ترينګ ټيمونه تنظيم او اداره کړي. پداسي حال کې چې NTM-A د ANSF په بنسټيزه روزنه، تعليم او د تخصص پرمختيا په فعاليتونو تمرکز لري، د کورنيو چارو او د ملې دفاع د وزارت پرمختيايي فعاليتونه د CSTC-A له خوا اداره کيږي. د ANSF لپاره د زده کړو او روزنو د يوه زيات کامل او متحد جوړښت په رامنځته کيدلوکې مرسته کوي پداسې حال کې چې د عين پروګرامونو د بيځايه او بياځلې تکراريدلو څخه مخنيوی کوي.[172] NTM-A په ډاګه کړه چې د هغوی ماموريت د ګڼو کارنو د ترسره کولو، شفافيت او د ملک د امنيتي چارو د واګو سپارل دي.[173]

ناټو په ۲۰۰۸ کال کې د افغانستان لپاره د پراخه او اغيزناک ليدلوري په درلودلو سره څلور لاربښوونکي اصول رامنځته کړل.[174] دغه اصول تريوي کچې تعديل شوي دي. د ۲۰۰۹ کال د اکتوبر په مياشت کې د ناټو د دفاع وزيرانو غونډه چې په Brostislona کې جوړه شوې وه په هغي کې د افغانستان لپاره دغه لاندې لمړيتوبونه په ګوته شويدي:[175]

- د افغانستان ولس ته پاملرنه
- د ANSF د ظرفيتونو لوړوالی
- ښې دولتداري ته ارتقا ورکول
- په منطقه کې دګاونډو هيوادو سره د ښو اړيکو ټينګول لکه پاکستان

د ۲۰۰۹ کال د دسمبر په څلورمه د ايساف د بهرنيو چارو وزيرانو د افغانستان لپاره د لمړيتوبونو په هکله د بحث او څيړنې لپاره سره راغونډ شول چې پدې لمړيتوبونو کې د افغانستان د وګړو خوندي ساتل، د امنيت د ساتلو لپاره د افغانانو د ظرفيتو لوړول او د پرمختيا او ښې حکومت داری لپاره د آسانتياو او زينې برابرول شامل دي. د امنيت د ساتلو لپاره د ظرفيتونو د لوړوالي په موخه ايساف اړونده هيوادونه وهڅول ترڅو هغوی د لازياتو زده کړو او روزنو د ورکولو، د تجهيزاتو د برابرولو او بالاخره د ANSF د پايښت لپاره پيسی ورکړې.[176]

د ۲۰۰۹ کال د اکتوبر د ۱۳ نيټې څخه د ملګرو ملتونو د امنيت شورای د ايساف ځواکونو د کار موده د ۱۲ مياشتو لپاره نوره هم و غزوله. د ۱۸۹۰ شميرې تصويب نامه د ايساف غړو هيوادونو غږ کوي چې هغوی بايد د ايساف ځواکونو د لا ځواکمنتيا لپاره د پرسونل، تجهيزاتو او نورو منابعو د برابرولو مرسته وکړې او د ايساف غړي هيوادونه هڅوي چې هغوی بايد دا منابع د ANSF د لا چټک پرمختګ لپاره وکاروې ترڅو افغانان د دې اړخه د خود کفايي موخې ته ورسيږي.[177]

د ۲۰۰۹ کال د دسمبر په لومړی نيټه د امريکا د متحده ايالاتو جمهور رييس راتلونکي کال کې افغانستان ته د نورو ۳۰۰۰۰ عسکرو د ليږلو اعلان وکړ. او ددي ترڅنګ به په نړيوالو ځواکونو کې هم زياتوالی راځي.[178] نوموړي پوځونه به د هيواد په سهيلی او ختيځو سيمو کې ځای پر ځای کيږي. سربېره پر دي د دسمبر په مياشت کې د دفاع وزير هم د ۵۰۰۰ څخه تر ۷۰۰۰ پوري د نورو هيوادونو د عسکرو د زياتيدو په هکله هيله ښرګنده کړه.[179]

## د ائتلافی ځواکونو تلفات

د ۲۰۰۹ کال د سپتمبر له ۲۱ د دسمبر تر ۲۷ پورې، ايتلافی ځواکونو ۷۱۶ تنه ژوبل او يايې خپل ژوند د لاسه ورکړې دي. د دي جملې څخه ۸۹ تنه په بيلابيلو پيښوکې وژل شوې او ۶۲۷ تنه نوري ټپيان شويدي ( د IJC د راپور له مخې). په دي دوره کې د ايتلاف د قواوو د ټولو ژوبلو او تلفاتو ٪۳۴ د کندهار او هلمند په ولايت کې پيښې شوې دي. ۳.۲۸ انځور وګورئ[180]

**د پوځي ځواکونو زياتيدل به په روښانه توګه په لوجيستيک باندې اغيزه ولري. زيات شمير پرسونل، بارونه او اکمالات بايد انتقال شي. په افغانستان کې د تجهيزاتو ليږدول يوه ننګوونه بلل کيږي دا ځکه چې دغه هيواد اوبو ته لار نه لري او ډيرغرنی دی او لارې يي ډيرې سختي او ستونزمنې دي. د افغانستان ٪۵۰ تجارتي مالونه د کراچۍ د بندر څخه د پاکستان له لارې دی هيواد ته انتقاليږي؛ ٪۳۰ يي د شمالي بندرونو څخه د اورګاډي پټلۍ کاروي او ٪۲۰ يي د هوا له لارې چې ډير زيات لګښت لري. د هيواد د شمالي بندرونو څخه د مالونو د انتقال په هکله د زياتو معلوماتو لپاره د "اقتصادي او ټولنيزه پرمختيا" برخه وګورئ.**

سرچينه: د دفاع وزارت، "د لوژستيک کسان د افغانستان د ترانسپورټيشن دندې ته اماده دي،" ۲۰۰۹\۹\۱۲.

انځور ۳.۲۸

د ايتلافي ځواکونو تلفات د ولاياتو په اساس




يادونه: د تلفاتو راپور له 2009\21\9 څخه تر 2009\27\12 پورې ورکړ شوی دی.

سرچينه: د سيګار د تجزيي په ځواب کې د IJC يادا‌ښت، 2010\21\1.
د سيګار د معلوماتو پوښتنې ته د CSTC-A ځواب، 2010\4\1.

# په خپل لاس جوړ شوي چاودیدونکي توکي

په افغانستان کې د شوری اتحاد د اشغال او ورپسي د کلونو جنګ جګړو څخه وروسته يو زيات شمير چاوديدونکي توکي، ماينونه، مهمات او داسي په افغانستان کې پاته دي.[181] چاوديدونکو توکو د جوړولو د وړتيا شتون به تجارتي ټکنالوژي ترلاسه کولو د زميني برابروالی او د چاوديدونکو توکو د جوړولو آسانه ټرينګ، ډيرو خطرناکو چاوديدونکو توکو او اسلحو جوړول يي په ډير لږ لګښت ښوني کړيدي. د JIEDDO په وينا.[182]

## اغيزې

د IJC په وينا، د ۲۰۰۹ کال د سپتمبر د ۲۱ څخه د دسمبر تر ۲۷ پورې په ائتلافي قواوو او نړيوالو ملکي وګړو، د په خپل لاس د جوړو شويو چاوديدونکو توکو او بمونو په کارولو سره ۸۳۶ بريدونه ترسره شوي دي.[183] د تيرکال په دوران کې ددې ډول توکو ۳۱۷۰ چاودنو د ۸۵۰ څخه زيات ملکي وګړي وژلي دي. ټول هغه مرګونه چې د IED پواسطه پيښ شويدي ۳۶ سلنه يې ملکي خلک دي چې پدې کې زيات شمير ماشومان دي. د ماينونو د څارني په وينا د ملکي کسانو د خطره ډک خوځښت او فعاليتونو کي سفرونه، تفريح د څرځای ته د حيواناتو بوتلل، دلرګيو راغونډول، د اوبو راوړل شامل دي.[184]

په افغانستان کې د IED ډير ډولونه لري. دری ډوله عام او معمول يي عبارت دی له : هغه IED چې د فشار پواسطه انفجار کوي، د واير سره د تماس په واسطه انفجار کوي او دريم ځانګړی IED دي.[185] د ملګرو ملتونو د منشي د وينا له مخې فشار پواسطه د منفجر کيدونکو IED په کارولو کې زياتوالی راغلی دی.[186] همدارنګه ددې ترڅنګ د لرې څخه د ريموټ کنټرول پواسطه د منفجر کيدونکو IED کارول هم عموميت لري ( د د ماينونو د څارني په وينا).[187]

## د IED پر ضد د مبارزې زده کړې او روزنې

د متحده ايالاتو د مرکزي قومندانی به وينا IED په افغانستان کې د عسکرو د مرګ او ژوبلو ترټولو ستر عامل دي.[188] ددې تهديد سره د مبارزې لپاره د ۲۰۰۹ کال د سپتمبر په مياشت کې پدې ارونډ د ټرينګ يو (JIEDDS) امتحاني پروګرام Tidal sun پيل کړيدی چې ددې ټرينګ له لارې به د IED سره د مبارزې لپاره ځانګړي او متخصص ټيمونه تربيه کړل شي. د IED سره د مبارزې په هر ټيم کې به ۵ يا ۶ متخصصين کارکوي.[189] هغه ټيمونه چې د نوموړي پروګرام له لارې زده کړې ترلاسه کړې بيا هغوی چاوديدونکي توکي، د کيمياوي مواد، د انفجار ډول او کيفيت او داسې نورې اړونده مواد، معاينه، تحليل او تجزيه کوي ترڅو د هغې پواسطه د بريد او چاودنې په هکله اړين معلومات ترلاسه شي.[190]

JIDDO د نورو مؤسسو سره په ګډه د IED ضد د مبارزې په فعاليتونو



**د IED د راايستلو او له منځه وړلو** لپاره د متحده ايالاتو او د ايتلافي قواوو د سنډا نومې د ماين پاکولو او ماين ضد نقليه وسايط کاروي چې دا وسايط يو ډول ځانګړي بازو ګان لري. (انځور د فرانسې د د دفاع وزارت څخه)

کې برخه اخلي.[191] د مختلفو ادارو او ارګانونو د چاوديدونکو توکو د څيړنې متخصصين لکه د الکولو، تمباکو، اسلحو، چاوديدونکو توکو متخصصين او همدارنګه د دفاعی استخباراتو اداره، د استخباراتو مرکزي اداره او د ملي استخباراتو مرکز- پدې ورستيو کې د IED پر ضد د مبارزې ټيمونه د تکتيکو د کارولو، د چاودنې څخه وروسته د څيړنو تخنيکونو او د اسلحو تخنيکي استخباراتو په باره کې روزلي دي.[192]

د 2009 کال د نوامبر د مياشتې په ۲۱ نيټه د متحده ايالاتو د دفاع وزارت د سرک د غاړې د ماينونو د تهديد د له منځه وړلو لپاره د يوه کاري ګروپ د جوړولو اعلان کړی دی.[193] د غه کاري ګروپ به د نورو فعاليتونو تر څنګ د هغو تجربو په هکله څېړنه وکړي چې د مجاهدينو او د شورې اتحاد د درې لسيزو جګړو په دوران کښې تر لاسه شويدي. د نويو تکتيکونو د ښه والي په هيله به د IED سره د مبارزې په لاره کښې د پام وړ تخنيکونه او تګ لارې و کارول شي.[194]

## د IED پر وړاندې عملي اقدامات

د IJC درراپور له مخې د 2009 کال د سپتمبر د مياشتې د 21 څخه بيا د دسمبر د مياشتې د 27 نيټې پورې په ټولنيزه توګه ۱۵۸۰ IED توکي چاوديدلو څخه تر مخه موندل شوي دي.[195] د چاوديدلونکو توکو او مهماتو د خنثی کولو د ماهرانو ټيمونه د IED د خنثی کولو او يا له منځه وړلو لپاره د بيلا بيلو موادو او وسايلو څخه کار اخلي لکه – پرمخ تللي روبوټونه، او به او پلاستيکي بوتلونه او داسی نور توکي.[196]

د IED پروړاندې د مقاومت او خونديي پاته کيدلو لپاره د ماينونو او نورو نا څاپه بريدونو پر وړاندې کلک، مقاوم او خونديي نقليه وسايط توليد شويدي. چې د دا ډول نقليه وسايطو (V) ډوله مخکنی برخه او زره داره بهرنې برخې او تختې په هغې کې سپاره کسان دچاودنو، ماينونو او IED د ګواښ او ژوبلوڅخه

خوندي ساتي. پدې اړوند د CRS د راپور له مخې، هغه ځواکونه چې MRAP کاروي د هغو د ژبلو او تلفاتو کچې ۶ سلنه ده نو پدې اساس MRAP تر ټولو خوندي او د ژوند ژغورنکي نقليه وسايط ګڼل کيږی.[197] ځانګړئ سنډا ډوله نقليه وسايط (MRAP) چې د سړك په سر د شکمنو چاودیدونکو توکو / IED ماينونو د کره کولو لپاره د يو ډول هايدروليکی بازو څخه ګټه اخلي او په دې ډول نوموړي توکي خنثی او یا له منځه وړي.[198]

همدا رنګه په افعانستان کښې پوځیان يو ډول نوي ديزاين شوي د چاودیدونکو توکو / IED ضد نقليه وسايط چې د (M-ATV) په نامه یا دېږي هم کاروي. دا ډول نقليه وسايط د مخکنيو MRAP ډولونو پرتله سپک او د مانوروونو د تر سره کولو زياته وړتيا لري. سر بېره پردې دا ډول وسايط د يو ډول ځانګړو جمپنونو سيستم لري چې د هغې پواسطه کولای شي چې د افغانستان په نا همواره لارو سړکونو، غرونو او رغونو کې په بريا ليتوب سره تګ او خوځښت وکړي. د (M-ATV) نقليه وسايط هم د MRAP د وسايطو په شان (V) ډوله جوړښت د ماينونو د له منځه وړلو او خنثی کولو لپاره کاروي او همدا رنګه د خوندي توب او ژوند ژغورلو وړتيا يې هم د MRAP په شان ده.[199]

د افغانستان ملي پوليسو او د ايساف ځواکونو د ۲۰۰۹ کال د نومبر په ۸ مه نيټه ۲۵۰ ټنه د بمونو د جوړولو لپاره شکمن مواد نيولي او ۱۵ کسه يې پدې تړاو د هيواد په سهېل ختيځو برخو کښې نيولي دي. په نوموړو موادو کښې ۱۰۰۰ بوری الومنيم نايتريت کيمياوي سره (چې هره بوری يې ۱۰۰ پونډه وزن لري) د يوه ګودام څخه تر لاسه او ۴۰۰۰ بوری يې هغې ته نږدې د يوه بل ځای څخه نيول شوې دي، شامله ده. همدا رنګه نوموړو ځواکونو ۵۰۰۰ توکي اړونده پرزې اوشيان چې IED په جوړولوکې کارول کيږي هم نيولي دي.[200]

اړونده لابراتوارونه او نورې ځېرنيزې او تحليلی منابع به په کار واچول شي تر څو د تروريستانو او جګړه مارانو په پېژندنه کې چې د دې بمبونو او IED د جوړولو مهارت او مسئوليت پر غاړه لرې، زمونږ سره مرسته وکړي.[201] د خبرونو، ټوليزې ميډيا، د سيمه ايزو حکومتي مامورينو او د خلکو د استازو پواسطه بايد د IED سره د مبارزې په لاره کې د هيواد والو د ونډې اخيستلو اهميت او ارزښت خلکوته روښانه کړل شي.[202]

د دفاع وزارت د وينا له مخې د IED سره د مبارزې مشن د چاودیدونکو توکو د موندلو او خنثی کولو سره پای ته نه رسيږي. بلکه هغوی بايد سره بېره پردې د خلکو سره نږدې اړيکې ټينګې کړي، د هغوی اعتماد تر لاسه کړي او خلک وهڅوي چې د IED سره د مبارزې په فعاليتونو کې ونډه واخلي.[203]

د دښمن د توطئو، پلانونو او بريد ونو په هکله د راپور ورکولو په مقابل کې چې په پايله کې يې د دښمن د پلانونو د شنډولو او هغوی ته د ماتې ورکولو لامل کيږي او د دښمن وسلې او مهمات نيول کيږي. داسې کسانو ته د انعامونو د پروګرام له لارې د ۵۰ امريکايي ډالرو څخه بيا تر ۱۰۰۰۰ امريکايي ډالرو پورې انعام ورکول کيږي.[204] پدې اړوند د ايساف په وينا، د 2009 کال د اکتوبر د لومړۍ نېټې راهيسې ۱۵۰ تنه افغانانو د دا ډول راپورنو او همکاريو په بدل کې انعام تر لاسه کړی دی.[205]



**دغه IED** د استرلیایي او افغان ملي اردو له خوا کشف او له منځه تللې ده. (د ايساف انځور)




# دولتداري، د قانون حاکميت، او بشري حقوق

څرنګه چې د افغانستان د ولسواکۍ ټاکنې په هیواد کې د زور زیاتیو او درغلیو له امله د ننګونو سره مخامخ شوې، نو د متحده ایالاتو د جمهور رئیس او د ملګرو ملتونو د مشر په شمول د نړۍ زیاتو رهبرانو د افغانستان د بیا ودانولو لپاره په هیواد کې د ښې دولتداري په شتون ټینګار وکړ.[206] د دې راپور د خپرېدلو تر مهاله په لندن کې د افغانستان د ښې دولتداري د رامنځته کولو او د سولې او ثبات د ټینګښت په باره کې د ۲۰۱۰ کال د جنوري د میاشتې په ۲۸ نیټه د یوه نړیوال کنفرانس د دایرېدلو پلان جوړ شو. د نوموړي کنفرانس کوربه توب د افغانستان جمهور رئیس محترم حامد کرزي، د ملګرو ملتونو مشر او د انګلستان د لمړي وزیر پرغاړه وه. پدې کنفرانس کې د ایساف د غړو هیوادونو د بهرنیو چارو وزیرانو، د افغانستان د ګاونډیو هیوادونو استازو، سیمییزه قدرتونه ګډون کوي. د ناټو د سازمان د غړو استازو، د ملګرو ملتونو استازو، د اروپا اتحادیې او نورو نړیوالو سازمانونو لکه نړیوال بانک، او داسې نورو د ګډون تمه کیده.[207]

د افغانستان لپاره د متحده ایالاتو ستراتیژي د هیواد لپاره د نویو تګلارو رامنځته کېدلو ته ګوته نیسي. چې په دغه تګ لاره کې یوه غښتلې ملکي ستراتیژي چې د بین المللي ټولنې په ګډون سره رامنځته شوې وي ځای لري. د متحده ایالاتو جمهور رئیس بارک اوباما د ۲۰۰۹ کال د دسمبر د میاشتې په لومړۍ نېټه په خپله بیانیه کې د افغانستان د اسلامي جمهوریت خپلواکي او خود کفایي د کچې دلوړ والي د اړتیا او اهمیت په هکله وینا وکړه او د هغې په ترڅ کې یې په هیواد کې د فساد د مخنیوي او د حکومتي کار کونکو په احتساب ټینګار وکړ. سر بېره پردې هغه افغانانو ته د امنیت د چارو د واک سپارلو د یوه کاري چوکاټ او مهال ویش په اهمیت، هم زور واچاوه. ترڅو افغانان په چټکۍ سره لاس په کار او د خپلې دولتداري ټول مسئوولیتونه په خپله غاړه واخلي.[208]

جمهور رئیس وویل: موږ باید افغانستان د حکومت او امنیتي ځواکونو ظرفیتونه او وړتیاوې تقویه کړو تر څو په راتلونکې کې د خپل حکومت مهم مسئوولیتونه پر غاړه واخلي.[209]

د دی نوې ستراتیژي د اجزا وو له مخې د متحده ایالاتو د بهرنیو چارو وزارت په افغانستان کې د دولتداري او د قانون د حاکمیت لپاره په هیواد کې د کارپوهانو د زیاتوالي د پلانونو خبر ورکړیدی. همدا رنګه د بهرنیو چارو وزارت په هیواد کې د وزارت خانو د ملاتړ او حمایت لپاره د تخنیکي مشاورینو د شمېر زیاتوالي د پلانونو خبر ورکوي. د دې پلان له مخې د بهرنیو چارو وزارت، USAID، د امریکا د کرهنې د وزارت، د امریکا د عدلیې وزارت، د مالیې وزارت او د امریکا د متحده ایالاتو دنورو ادارو څخه به ملکي مشاورین افغانستان ته و لیږل شي. د بهرنیو چارو وزارت دا هیله لري چې د افغانستان په مهمو ادارو او کچو کې د ملکي مشاورینو د زیاتوالي له لارې به د افغانستان حکومت د درغلیو څخه پاك او اغېزناك شي.[210]

## تازه رامنځته شوي حالات

د ۲۰۰۹ کال د نومبر دمیاشتې په دویمه نېټه د افغانستان د ټاکنو خپلواك کمیسیون د افغانستان د جمهور رئیس حامد کرزي د بیا ځلې ټاکل کېدلو اعلان و کړ. دغه اعلان د یو لړ ناندریو او درغلیو څخه د ډکو ټاکنو په پای کې پداسې حال کې وشو چې د کاندیدانو د ډلې څخه یوه هم ۵۰% د ملت رایې و نه ګټلې

شوي. ډاکتر عبدالله عبدالله د دوهمې دورې په ټاکنو کې د نه ګډون کولو فېصله وکړه او په دې ډول يې د ټاکنو د خپلواک کميسيون لپاره ملت ته د فيصلې د اورولو لپاره لاره خلاصه کړه.[211]

د ټاکنو د پايلو د اعلان څخه وروسته نړيوالې ټولنې په ولسمشر حامد کرزي غږ وکړ چې بايد په کابينه کې مناسب وزيران غوره کړي ترڅو د دولتداري چارې اصلاح او د فساد مخه ونيول شي. د ملګرو ملتونو د مشر په وينا د ۲۰۰۹ کال د جمهورې رياست د ټاکنو د بې نظميو په پام کې نيولو سره نوی حکومت بايد خپل قانونيت پداسې ډول وښيي چې د ټولنې او پرګنو استازي توب کوي.[212]

د ۲۰۰۹ کال د دسمبر په ۱۹ نيټه محترم حامد کرزی په لمړي ځل د خپلې کابينې غړي ولسي جرګې ته ورو پيژندل ترڅو د ولسي جرګې څخه د اعتماد رايي ترلاسه کړي.[213] په پايله کې د ولسي جرګې له خوا يو زيات شمير ورپيژندل شوي وزيران چې يوه ړکې ښځينه وه رد شول.[214]

د جنورې په نهمه نيټه ولسمشر حامد کرزي د دوهم ځل لپاره د خپلې کابينې لپاره بله ډله وزيران ولسي جرګې ته ورو پيژندل.[215] د جنورې په شپاړسمه ۷ تنه وزيرانو د ولسي جرګې څخه د اعتماد رايي ترلاسه او ۱۰ پاته وزيران د اعتماد د رايو په اخيستلو بريالي نه شول. تصويب شوی وزيران به د بهرنيو چارو، عدليې، د نشه ايزو توکو پر ضد د مبارزې، حج او اوقاف او د کليو د بياو دانولو او پراختيا د وزارتونو په څوکيو کار وکړي.[216]

**ولسي جرګه:** ولسي جرګه پارلمان ته وايي چې ۲۴۹ استازي لري

سرچينه: CRS، "افغانستان: سياست، ټاکنې، او د دولت کړه وړه،" ۲۰۰۹\۲\۱۱، ۲ مخ.

## دولتداري

د افغانستان د ملي پرمختيا استراتيژې، د دولتداري چارو په پرمختيا ټينګار کوي ځکه چې دا پرمختيا د افغانستان د حکومت د ملي ليد لورې د ترلاسه کولو او د يوې پاييښت لرونکې فعالې ټولنې د رامنځته کولو لپاره ډېر مهم او اړين ګڼل کيږي.[217] د غښتلې دولتداري د رامنځته کولو په لاره کې درې ستړې ننګونې شتون لرې: فساد، د دولتي سکتورونو د ظرفيت کموالی او د جنس د انډول نشتوالی.[218] د دې ننګونو پر وړاندې د مبارزې لپاره ANDS په يو زيات شمير ډګرونو تمرکز ته اشاره کړيده چې پدې کې د غښتلې IEC شتون، په حکومتي اداراتو کې د اصلاحاتو رامنځته کول او داسې نورو پروګرامونو شتون ، چې په حکومت کې د ننه د فساد پرضد مبارزه وکړي.[219]

### د فساد پرضد مبارزه

د متحده ايالاتو د جمهور رئيس او د بهرنيو چارو د وزارت په شمول نړيوالې ټولنې په افغانستان کښې د اداري فساد د لوړې کچې د شتون په هکله خپله انديښنه ښودلې ده.[220] د شفافيت د نړيوال معيار له مخې « د اداري فساد تعريف او تشريح لست». له مخې افغانستان په (۱۷۹) درجه کې راځي چې ددې څخه وروسته دوهم هيواد سوماليا د فساد په لوړه کچې کې ځای لري.221 ۳.۲۹ انځور په لست کښې په تيرو پنځو کلونو کې د افغانستان په درجه بندي بيا کتنه شوې ده. ۳.۳۰ انځور د خلکو په نظر په ۲۰۰۹ کال کښې د هغو هيوادونو درجه بندي ښيې جه ترټولو بد حالت لري.

جمهور رئيس حامد کرزي د اداري فساد د منځه وړلو لپاره د پلانونو جوړولو اعلان کړئ دئ. په هغې کې د اداري سيستم ساده کول او د حکومت له لارې د نړيوالو ډونرانو د پيسو د ترلاسه کولو په سيستم کې د احتساب پروسې ځواکمنتيا شامله ده.[222]

اداري فساد امن او ثبات د خطر سره مخ کوي، د پرمختيا په لاره کې خنډونه رامنځ ته کوي او بالاخره په ملک کې د ډيموکراسي په رامنځته کولو کې ستونزې پيداکوي کوي. ددې سروې له مخې په ډاګه شويده چې په افغانستان کې اداري فساد پراخه لمن غوړولې، بنسټيز او سيستماتيکه بڼه يې غوره کړيده.[223] په دې وروستيو کښې د (OPIC) اداري په ډاګه کړيده ده چې د هيواد د مالياتو او جواز ورکولو په دفترونو کښې د اداري فساد د لوړې کچې شتون د شخصي سکتورونو د پروژو د بريالي‌توبونو په وړاندې خنډونه رامنځته کوي.[224]

پدې ربع کې د افغانستان د ( HOO) اداري د تفتيش په هکله راپور خپور کړيدی او په هغې چې

انځور ۳.۲۹

د اداري فساد درجه بندي، 2005 – 2009

افغانستان په مقابل د ټولو سروي شويو هيوادونو




يادونه: افغانستان په 2006 کال کې درجه بندی شوی نه وه.

سرچيني: نړيوال شفافيت، "کلنۍ راپور: 2005،" 2005، مخ 17؛ نړيوال شفافيت، "کلنۍ راپور: 2007،" 2007، مخ 27؛ نړيوال شفافيت، "کلنۍ راپور: 2008،" 2008، مخ 51؛ نړيوال شفافيت، "د فساد د کچې اندازه کول 2009،" آنلاين وکتل شو 2010\11\1.

انځور ۳.۳۰

اداري فساد: تر ټولو بدنامه هیوادونه، 2009
د 180 ملکونو په مینځ کي درجه بندي شوي




یادونه: برابري د 176 لپاره له مینځه یوړل شوه 177 له درجه بندۍ څخه

سرچینه: نړیوال شفافیت، "د اداري فساد درجه بندي 2009،" انلاین وکتل شو 1\13\2010.

ویل شویدي چې ( HOO) مؤسسوې، بهرنی او شخصي آزادي چې د نظارت د یوه بریالي اورګان لپاره اړینه بلل کیږي لاتر اوسه نه ده ترلاسه کړی. د تفتیش د پروسي له مخي دا هم په ډاګه شویده چې ( HOO) لا تراوسه د عملیاتی ننګونو سره لاس په ګریوان دی چې په هغي کښي د ماهر پرسونل نه د لاس رسي محدودیت هم شامليږي. سربېره پردې تفتیش موندلي ده چې د امریکا متحده ایالات چې د ( HOO) د ملاتړ مسؤلیت پر غاړه لري خو ددي اداري د ملاتړ او مرستي لپاره یي کوم دفتر یا شخص ندی ګمارلی.[225] SIGAR اداري د (HOO) د ظرفیتونو د لوړوالي په خاطر یو زیات شمیر سپارښتي کړیدي. د لازیاتو معلوماتو لپاره دوهمه برخه ( د SIGAR نظارت) وګورئ.

"موږ به د هغو افغان وزارتونو، والیانو، او سیمییزو مشرانو ملاتړ وکړو چي د اداري فساد په وړاندې مبارزه کوي او د خلکو لپاره خدمت کوي. موږ تمه لرو هغه کسان چي اغیزمن نه دي یا په اداري فساد ککړ دي ورسره حساب وشي."

- د متحده ایالاتو ولسمشر باراک اوباما

سرچینه: سپینه مانۍ، مطبوعاتي اعلامیه، "په افغانستان او پاکستان کې د مخ په وړاندې تللو په اړه ملت ته د ولسمشر د بیانیې څرګندونې،" ۲۰۰۹\۱\۱۲.

## په دولتي اداروکي د ظرفیتونو لوړوالی

د دولتي اداري لپاره د ANDS اهداف د افغانستان د حکومت د کاري چوکات د کیفیت او ظرفیتونو په لوړوالي ټینګار کوي.[226] یوه لاره چې د هغې پواسطه د امریکا متحده ایالات د افغانستان د حکومت سره ددې اهدافو په ترلاسه کولو کښي د مرستي لپاره د پلانونو جوړول دي. د DoS په وینا چې له مخي به یې په افغانستان کښي د داسي وزارت خانو زیاتوالئ به د وزارت خانو د ظرفیتونو د لوړوالي، د مرستو د اغیزناک توب او په قرارداد کوونکو د امریکا د متحده ایالاتو د تکیه کولو په کموالي کښي مرسته وکړي.[227] د وزارت خانو سره په مستقیمه توګه د مرستوکولو بندیز لګیدلئ دئ او د امریکا د متحده ایالاتو ۱۰٪ مستقیمي مرستي د اداري فساد د راکمولو په مقصد کمي شویدي. لیکن د افغانستان او پاکستان لپاره د امریکا د متحده ایالاتو ځانګړي استازي ویلي دي چې د ۲۰۰۹ کال د مي په میاشت کښي به دا رقم ۴۰ څخه تر ۵۰ سلنه زیاد شي، ترڅو د هغې پواسطه د وزارتونو په ظرفیت کښي بنه والی رامنځته شي.[228]

د USAID د راپور له مخې د افغاني او خارجي مشاورینو د معاشونو ترمنځ زیات توپیر شتون لري. ( چې د دونرانو له خوا ورکول کیږي او د هغو حکومتي مامورینو چې د افغانستان د دولت له خوا ورکول کیږي). دې توپیرته د نړیوال بانک له خوا د دویم ډول ملکي خدمت نوم ورکړل شویدي. په همدې ډول د USAID یادونه وکړه چې ددې خبرې جوتول مشکل برېښي داچې د مشاورینو د مشورې ورکولو، لاربښووني او مخکښتوب کارونه به کله پای ته رسیږي او پر ځاي به یې د افغانستان د دولت مامورین ددې کارونو د ترسره کولو دندنه په غاړه اخلي.[229]

د معاشونو په هکله د ننګونو سره د مبارزې په اړوند، USAID او د هغه تطبیق کوونکو شریکان پلان لري چې ۲۰۱۰ کال د جنورۍ په میاشت کښې د ټولو تادیاتو او معاشونو د رسېدلو کار د افغانستان حکومتي مقاماتو پورې وتړي او د معاشونو په اړوند ټولې مرستې د USAID څخه د On budget د مستقیم انتقال له لارې د افغانستان د مالیې د وزارت په واسطه د ملکي تخنیکي مرستو د پلان په ذریعه ترسره کړي. ددې کار په ترسره کولو سره USAID امید کوي چې د مختلفو منابعو له خوا د تادیاتو څخه مخنیوئ وشي او ټول تادیات د حکومت د معیارونو سره سم اجرا شي. پدې اړوند د ملکي تخنیکي مرستو پلان د ولسوالیو، ولایتونو او ملي کچې د تخنیکي مشاورینو په استخدام او ګمارولو تمرکز کوي.[230]

۳.۶ جدول د USAID د پلانونو په هکله معلومات برابر شوي دي چې پدې پلانونو کښې د ۲۰۱۰ کال لپاره د ملکي اداري سیستم د تجدید پروګرامونه د زړو پروګرامونو تجدید او د نویو اجرااتو پر بنسټ د ولایتي ګورنرانو د معاشونو مسائل ځای لري.

بله موضوع په اداري چارو کښې د افغانستان د حکومت د ظرفیتونو لوړوالی دئ. په هیواد کښې د مقررۍ پروسه سیاسي بڼه لري. د DoS د وینا له مخې د ولسوالۍ د دولتي کارکوونکو تقرر به د سیمه ایز حکومت د یوه پلوه بورد او یوه ځانګړي مشورتي بورد په شریکه همکاري سره تر سره کیږي. پداسې حال کښې د لوړو څوکیو تقرر د جمهور رئیس له خوا ترسره کیږي. د سیمه ایز حکومت بې پلوه بورد د کاندیدانو او ځانګړې مشورتي بورد سپارښتنه کوي. د Dos د راپور پر بنسټ داچې د افغانستان جمهور رئیس د ټولو مقرریو په هکله زیات حاکمیت لري نو د قابلیتونو څخه سوا نور فکتورونه هم پدې اړوند تر زیاته حده اغېزه لري چې دا خبره د افغانستان په حکومت کښې د حل یوه بله لاره ممکن د وړاندیزشوې د ملي کچې څخه لاندې د حکومت داري په پالیسي کې نغښتې وي. د Dos د وینا له

**ځانګړی مشورتي بورد:** پنځه کسیزه شورا: دوه غړي یې د افغانستان د ولسمشر له خوا ټاکل کیږي. د DoS په وینا په سر کې دا بورد د زیاتو ستونزو سره مخ وه خو بیا د یو لړ مشورو له لارې له بنه شو او په اړوند یې د ژمنتیا غوښتنه وشوه. اوس مهال د بورد بیا کتنه د والیانو او ولسوالانو د ټاکلو لپاره د استندرد یوه برخه ګڼل کیږي.

سرچینه: DoS، د سیګار د معلوماتو پوښتنې ته ځواب، ۲۰۱۰\۶\۱.

جدول ۳.۶

**د ۲۰۱۰ کال لپاره د USAID د اداري اصلاحاتو پروګرام**

| اوسنی پروګرام | د نویو شویو پروګرامونو پلانونه |
|---|---|
| د حکومتي پروګرام د مرکز د ملاتړ پروګرام (۲۰۰۳ - مارچ ۲۰۱۰): دا پروګرام د آسیا فونډېشن له خوا سپانسر شوی دی. دغه پروګرام د اداري چارو دفتر، HOO، او د بهرنیو چارو وزارت ته تخنیکې مرستې او معاشونه برابروي. | نوي شوي پروګرام: USAID د دریو نویو تخنیکي مرستو د میکانیزمونو د رامنځته کولو پلان لري، چې د موجوده پروګرامو پرځای عملي شي. دغه میکانیزمونه به د دریو مؤسسو سره چې به یي ملاتړ وکړي د بحث او څیړنې په اساس رامنځته شي. دغه پروګرامونه به: د اداري چارو دفترونه، HOO او د بهرنیو چارو وزارت ملاتړو کړي. |
| د ظرفیتونو د لوړوالي پروګرام: دا پروګرام د زیات شمیر وزارتونو او د حرفوي زده کړو د ادارو لپاره د ظرفیتونو د زیاتوالي او معاشونو د رسولو خدمتونه ترسره کوي. پدې خدمتونو کې د مشاورینو عرضه کول ځای لري ترڅو هغوی حکومتي اداري د با کیفیته کارمندانو رامنځته کولو لپاره وهڅوي. | د افغانستان د ملکي ملاتړ پروګرام: دغه نوي شوي پروګرام به د انفرادي وزارتونو پرځای د اداري اصلاحاتو د خپلواکې اداري د ظرفیتونو د لوړوالي او د ملکي خدماتو د کمیسیون، تمرکز وکړي. همدارنګه په دې پروګرام کې د متحده ایالاتو د ملاتړ څخه د بې نیازه کیدلو استراتیژي هم شامله ده. |
| تردې دمه کوم پروګرام نه دی ځای پرځای شوئ. | د اجراآتو پر بنسټ د والیانو بودیجه: دغه نوی پروګرام به هر والي ته د میاشتې ۲۵۰۰۰ امریکایي دالره د عملیاتي لګښتونو له پاره ورکړي، او د دې بودیجې مصرف کول به تر څارنې لاندې ونیسي. |
| د ښاروالي د برخې پروګرام: دا پروګرام پر وړو زیر بناوو او بعضې تخنیکي مرستو تمرکز لري. تردې دمه پروګرام ۶ ښاروالی د پوښښ لاندې راوستلې دي. | د ښاروالي د برخې پروګرام (نوی شوی): دا پروګرام به په درې ډوله فعالیتونو تمرکز وکړي: ښاروالی د کارمندانو د ظرفیت په لوړوالي، د ښاروالانو لپاره د خدمتونو د تادیه کولو بودیجه، او د ښاروالۍ په کچې د مالیاتو د زیاتیدلو د سیستمونو رامنځته کول. د دې پروګرام پلانونه به لږتر لږه ۴۲ ښاروالۍ ترخپل پوښښ لاندې راولي. |

سرچینه: USAID، د سیګار د معلوماتو پوښتنې ته ځواب، ۲۰۱۰\۵\۱.

مخې ددې پالیسي د لزوم دید له مخې باید د ولسوالیو اداري تشکیل د وړتیاوو پر بنسټ رامنځته شي. نوې کابینه به دغه پالیسي په خپله لومړۍ غونډه کښې د نظر څخه تیره کړي.[231]

د Dos د وینا له مخې په ټولیزه توګه د افغانستان د اسلامي جمهوریت د حکومت د کاري ځواک وړتیاوې لاتراوسه کمزورې پاته دي. د دولت ډیر شمیر کارکوونکو وړتیاوې د اړونده کارونو د ترسره کولو لپاره صحیح او مناسب کیفیت نه لري او یا هغوۍ د نومړوي دندې د ترسره کولو لپاره مناسبې زده کړې او روزنې نه دي ترلاسه کړي او حتی لا تردې پورې چې په ځینو حکومتي ادارو کې ( لکه د ملي پولیسو په ځواکونوکې د بې سواده کسانو شتون یوه ننګونه ده. د کار د قواوو د وړتیا او کیفیت د ښه کولو او لوړولو لپاره د امریکا متحده ایالات د حکومتي ادارو سره د کار قواوو ته د هغوي د کار په ځاۍ کښې د زده کړو او روزنو د برابرولو د پروګرامونو د تطبیق له لارې مرسته کوي. د بیلګې په ډول د امریکا په مالي مرسته د یوه خپلواک ملي ترینګ سنټر له لارې د حقوقو د پوهنځي فارغانوته روزنه ورکوي. همدارنګه د نومړوي ترننګ سنټر له لارې د ملکي خدماتو د کمیسیون سره مرسته کوي. دغه کمیسیون به (۱۶۰۰۰) تنه ملکي مامورین په مختلفو مسلکونو کښې لکه تدارکات، مالي منجمنت، د پروژې منجمنت او بشري منابعو په برخه کښې و روزي.[232]

## د ټاکنو لپاره د ظرفیتونو لوړوالی

د ۲۰۰۹ کال د دسمبر په میاشت کې د ملګرو ملتونو عمومي منشي د ټاکنو د سیستم په اصلاحاتو ټینګار وکړ چې دغه اصلاحات باید د ۲۰۱۰ کال د پارلماني ټاکنو څخه ترمخه رامنځ ته شي. د ملګرو ملتونو عمومي منشي دا څرګندونه ۲۰۰۹ کال د جمهوري ریاست په ټاکنو کې د زورزیاتیو او درغلیو د شتون په نظرکې نیولو سره کړېده. د اصلاحاتو لپاره په وړاندیز شویو اقداماتو کې په افغانستان کې د ټاکنو په پنځو عناصرو کتنه او بیاځلي غور شامل دی:[233]

- د ټاکنو د خپلواک کمیسیون د غړو د ټاکلو لپاره د میکانیزم بی طرفي
- د ټاکنو د سازمان لپاره د پاینت لرونکي جوړښت رامنځته کول
- د رایې ورکوونکو د راجستر د سیستم اصلاح لپاره مناسبې لارې غوره کول
- د داخلي نظارت او تفتیش یا څارنې لپاره د میکانیزمونو جوړول
- د ټاکنو لپاره د قانوني کاري چوکاټ جوړول

> "ټاکنو د هغه څه نه پرده پورته کړه چې افغانستان لاتراوسه نه دی ترلاسه کړې. د نیمګړتیاوو شتون د دې دلیل نه دی، هغه څه مو چې ترلاسه کړیدې ترک یې کړو او اوس باید په هغه باندې نور څه وشي."
>
> د ملګرو ملتونو عمومي منشي
> بانکي مون

سرچینه: ملګري ملتونه، "د ملګرو ملتونو د سرمنشي راپور: د افغانستان وضعیت او د نړیوالې سولې او امنیت لپاره د هغه اغیزې،" ۲۰۰۹\۱۲\۲۸، مخ ۱۱.

د Dos د راپور له مخې هغه طریقه چې د هغې پواسطه ټاکنې ترسره شوې د حکومت په هکله یې د خلکو په فکرونو ډیره اغیزه نه درلوده، سره له دې نړیوالو څارونکو هم نظر څرګند کړی دی داچې: د هیواد د اقتصادي او ټولنیز ثبات په اړوند دې پروسې د خلکو باور ته زیان اړولی دی.[234] سربېره پردې د بانکونو د راپور له مخې یو زیات شمیر کسانو د شخصي بانکونو څخه خپلې پیسې ویستلي او همدارنګه په کابل کې د بهرنیو هیوادونو په وینا د افغانانو له خوا د ویزو د ترلاسه کولو لپاره د عریضو شمیره زیاته شوې وه.[235]

پدې ربع کې د ټاکنو خپلواک کمیسیون اعلان وکړ چې پارلماني ټاکنې (د ولسي جرګې لپاره) به د ۲۰۱۰ کال د مي په میاشت کې ترسره کیږي.[236] خو سره له دې هم، د ولسوالیو ټاکنې، چې په پام کې وې په ۲۰۱۰ کال کې ترسره شي، د نامعلومې مودې لپاره وځنډول شوې.. د (CRC) د وینا پر بنسټ د دوامداره فساد شتون او افغاني ماهرو کارمندانو کمښت ددې پروسې د ځنډېدلو یو لامل ګڼل کیږي.[237]

## دقانون جوړونې په اړه تازه معلومات

د اساسي قانون د حکم له مخې ملي شورا هر کال په دوه دورو کې د نهو میاشتو لپاره ملاقات کوي. د ووټ د اخیستلو لپاره هره شورا باید د اړینو غړو په شتون/حضور سره غونډه جوړه کړي: د شورا اکثریت

غړي باید حاضر وي.[238] کوم راپور چې د Dos له خوا ورکړل شوئ دئ د هغې له مخې د ۲۰۱۰ کال د جنوري په ۶ نیټه په کابل کې د امریکا د سفارت په اټکل پدې نیټه د ملي شورا په غونډه کې ۱۵٪ سلنه د شورا غړي حاضر وه.[239]

۳.۱۳ انځور د افغانستان د دواړو شوراګانو په هکله تفصیل وړاندې کوي. د CRS د وینا له مخې، د ولسي ټاکنو د ځنډېدلو له امله د مشرانو د جرګې د دوه په دریمې برخې د ځوکیو مسؤلیت د ولایتي شورا ګانو ته متوجه کېږي. پداسې حال کې چې معمولاً ولایتي شوراګانې، یواځې یو پر دریمه برخه د ځوکیو نیسي.[240]

د ۲۰۰۳ کال راهیسې ملي شورا د جرمونو په هکله ۱۷ قوانین تصویب کړیدي. د INI په وینا پداسې حال کې چې ۲۰۰۷ او ۲۰۰۹ کال کې هیڅ ندي تصویب شوي. (۳.۳۲ انځور وګورې).[241] د Dos د راپور له مخې، په افغانستان کې د قانون د تصویب کېدلو پر وړاندې غټې ننګونې قومي او منطقوي توپیرونه او د رسمي سیاسي پارټیو/ ډلو او جوړښتونو نشتوالی بلل کېږي.[242]

انځور ۳.۳۱

د افغانستان د ملي پارلمان ځانګې




سرچینه: CRS،"افغانستان: سیاست، ټاکنې، او د دولت کارونه، " 2009\2\11.

## افغان احصائیه

په افغانستان کې ملي احصائیه هیڅکله نه ده بشپړه شوې.[243] د احصائي بشپړول د افغانستان د حکومت لپاره د نفوس دیټا برابروي ، چې له مخې یې ملي اقتصاد او د فقر د کچې په تعینیدولو کې مرسته کوي. ANDS هدف ټاکلئ وه چې باید د هیواد احصائیه د ۲۰۰۸ کال ترپایه ترسره شي. اما د هغې پرځائ د احصائي د کار پیل په ۲۰۱۰ کال کې په نظر کې نیول شویدئ.[244] UNFPA د احصایي د ترسره کولو د کار ځنډ امنیتي اندیښني په ګوته کوي، لیکن د احصایي د مرکزي دفتر ( CSO) په وینا په هیواد کې د دوولسیزو څخه د زیات وخت لپاره جګړو ددې دفتر وړتیاوي په بشپړه توګه بې اغېزې کړیدي.[245]

د ملي احصایي د بشپړولو لپاره تیر کوښښونه هم د ستونزو سره مخ شویدي. د (۱۹۷۹) کال کوښښ د شوروي اتحاد د یرغل له امله له منځه ولاړ. د ۲۰۰۸ کال د اګست په میاشت کې UNFPA کوښښ پیل کړ ترڅو د ۲۰۰۵ کال د ملي احصایي د کار ملاتړ وکړي. لیکن نوموړې پروژه هم د پامه

انځور ۳.۳۲

د افغانستان د جنایي قانون تصویب کیدل، په کال




سرچینه: INL، د سیګار د معلوماتو پوښتنې ته ځواب، 2010\11\1.

غورځېدلو او یا ځنډ سره مخ شوه او د نوموړي کوښښ په هکله هيڅ معلومات نشته.[246] CIA په اټکل د افغانستان اوسنی نفوس د ۲۸ مليونو څخه زيات دئ.[247]

## د عدلي او قضايي چارو اصلاحات

د Dos په وينا، د افغانستان د عدلي او قضايي قانون کاري چوکاټ لا کمزورئ دی. سره لدې چې ځيني قوانين د مشاورينو او د قانون د متخصصينو په مرسته تجديد شوي دي. Dos ويلي دي چې پدې اړوند په ټوليزه توګه کاري چوکاټ د حکومتي مقاماتو ته د روښانه طرف په ښودلو او د وطنوالو د اساسي حقونو د تعين لپاره نيمګړی او ناکافي دي.[248] په تخميني ډول ٪۸۰ سيمه ايزې قضيې او شخړې د سيمه ايزو مخورو او مشرانو د غونډو او جرګو له لارې حل او فصل کيږي.[249]

د افغانستان حکومت پدې پوه شوئ دئ چې د عدلي او قضايي په سيستم کې د غښتلو اصلاحاتو رامنځته کول او د قانون حاکميت د اقتصادي ودې او پرمختګ لپاره بنسټيز اهميت لري. ځکه چې د اقتصادي ودې په پايله کې د کارموندلو فرصتونه زياتوالئ مومي او د غربت کچې ټيټيږي.[250] ۳.۷ جدول کې د عدلي او قضايي سيستم د اصلاحاتو هدفونه تشريح شوي دي.

د دې لپاره چې امريکا د افغانستان سره دغو مقصدونو د ترلاسه کولو په لاره کې مرسته کړې وي، خپلو اهدافو ته يې په عدلي او قضايي سيستم کښې د محسوس کيدونکو اصلاحاتو په رامنځ ته کولو تمرکزورکړئ دئ.[251] ۳.۸ جدول کې د INL دوه هدفونه چې په ځانګړې توګه د عدلي او قضايي سيستم په اصلاحاتو او په دې لار کښې د پرمختګ په هکله د معلوماتو په نوي کولو تمرکز کړی دئ ښودل شوي دي.

جدول ۳.۷

**د عدالت او قانون د حاکميت لپاره ستراتيژيک لومړيتوبونه**

| د ارزونې معيار شمير | په افغانستان کې د قانون د حاکميت د ارزونې معيار | هدف د بشپړيدلو نيټه |
|---|---|---|
| 1 | د اساسي قانون سره سم به د ټولو مسلکي او اقتصادي قوانينو لپاره يو چوکاټ جوړ شي، کوم چې به ټولو قضايي او د قانون جوړونې ادارو په واك کې ورکړل شي. | د ۲۰۱۰ پای |
| 2 | د قضاء د برخې ټولې ادارې به د افغانستان په ټولو ولايتونو کې په کار پيل وکړي او ددعوو د فيصله کولو متوسط وخت به، چې څومره کېدای شي راکم کړل شي. | د ۲۰۱۰ پای |
| 3 الف | د فساد له قانون نه د غلطي استفادې او د بشپړې پروسې کموالي سره تړلې دنظارت پروسه به زر پيل شي. | د ۲۰۱۰ پای |
| 3 ب | د قضايي سيستم د مسلکي توب، باور او د کليدي ادارو د تقويې لپاره سمونونه رامنځته کول (د عدليې وزارت، قضا، د لوی څارنوال دفتر، د کورنيو چارو وزارت او د ملي امنيت رياست). | د ۲۰۱۰ پای |
| 4 | عدلي او قضايي جوړښت به ورغول شي، او زندانونه به د ښځو او نويو ځوانانو لپاره بيلې برخې ولري. | د ۲۰۱۰ پای |

سرچينه: د افغانستان اسلامي جمهوري دولت، "د افغانستان ملي پرمختيايي ستراتيژي: دولتداري، د قانون حاکميت، او بشري حقونه،" مخ ۶۵؛ د افغانستان اسلامي جمهوري دولت، "د افغانستان تړون،" ۱\۲-۳۱\۱\۲۰۰۶، مخ ۸.

**د ۱۹۸۵ کال راهيسې يواځې اتو هېوادونو احصائيه نه ده بشپړه کړې: افغانستان، انګولا، د کانګو جمهوريت، جيبوتي، اريتريا، لبنان، مباينمار او ټوګو.**

سرچينه: د ملګرو ملتونو د احصايو څانګه، "د ټولو هيوادونو لپاره د احصايي معلومات،" آنلاين وکتل شو ۱\۱۱\۲۰۱۰.

جدول ۳.۸

| د INL د عدلي او قضايي چارو د اصلاحاتو هدفونه | |
|---|---|
| **د لوړې کچې هدف** | **د ربعې په اساس نوي شوي** |
| د ښځو ماشومانو او لړکيو په شمول د افغانستان د وګړو زياتې برخې ته د عدل او انصاف په چارو تمرکز کول | د INL او JSSP لپاره طرزالعمل تعديل کړئ دئ، د ښځو او ماشومانو سره يې مرستې پراخه کړي دي. د دې کوښښونو د يوې برخې په توګه INL د عدليې وزارت د هغه رياست سره د نږدې څخه کار کوي چې د ماشومانو د عدلي او قضايي چارو مسئوليت پر غاړه لري. |
| د افغانستان حکومت وهڅول شي تر څو هغه، د شته عنعنوي عدلي قضايي ميکانيزم په نوي ميکانيزم کې د ادغام کولو په هکله مناسب ګامونه اوچت کړي | INL او JSSP له لارې په رسمي عدلي او قضايي سيستم کې د عنعنوي عدلي قضايي سيستم د ادغام کولو لپاره د افغانستان د حکومت د پاليسي په انکشاف کې مرسته کول. کاري ګروپ تصميم نيولی دی چې په دې کار کې د ټولو وزارتونو د شمول پروسه پيل کړي. د تېرې دورې په فعاليتونو کې د ښځو د چارو وزارت او د افغانستان د بشري حقوقو خپلواک کميسيون د نوموړي کار د پرمخ وړلو څخه پريکون کړی وه. اوس مهال JSSP کوښښ کوي چې دواړه اداري د دې کار د ترسره کولو لپاره وهڅوي. |

سرچينه: INL، د سيګار د معلوماتو پوښتنې ته ځواب، ۱۹۱\۲۰۱۰.

## د جنايي ګړنلارو قانون

د ۲۰۱۰ کال د جنوري راهيسې د افغانستان ملي شورا د جرمونو د طرزالعمل د قانون په مسوده لا تر اوسه بيا کتنه نده ترسره کړې. د راپور مطابق په تېره ربعه کې دغه مسوده د جرمونو د قانون د اصلاحاتو د کاري ګروپ له خوا چې مشري يې د عدليې او قضايي سکټور د ملاتړ پروګرام او د ملګرو ملتونو د نشه ايزو توکو او جرمونو پر ضد د مبارزې د دفتر له خوا کيږي، د ۲۰۰۹کال د جون په مياشت کې عدليې وزارت ته ورکړل شوه. INL راپور ورکړی دی چې د جرمونو د طرزالعمل قانون (CPC) د نوي اساسي قانون او اړونده چارو سره په سمه توګه چلند کړی تر څو د اسلامي قانون تر سيوري لاندې نړيوال معيارونه مراعات کړي. INL ويلي دي چې د جرمونو د طرزالعمل د اصلاحاتو پر وړاندې تر ټولو غټه ننګونه د عدليې د وزير بدلون دی، دا ځکه چې په رائس کې د بدلون منځته راتلل د ټولې اداري کارونه د اوږدې مودې لپاره فلج کوي.[252] د حامد کرزي د کابينې د عدليې نوي وزير د ۲۰۱۰ کال د جنوري په مياشت کې وټاکل شو.[253]

د INL د وينا له مخې د CPC عناصر د کوم منظم پلان څخه پرته پلي کيږي او د امريکا د متحده ايالاتو د عدليې وزارت مشاورين د نوي او زاړه CPC تر منځ د ليکل شويو فعلي قوانينو د يقيني کيدلو لپاره توپير نشي کولای. د امريکا د متحده ايالاتو د مالي مرستو په واسطه د نهو DoJ مشاورينو ملاتړ کيږي، کوم چې په مستقيمه توګه د جرمونو د عدلي او قضايي کاري ګروپ، د غټو جرمونو کاري ګروپ او د فساد د ضد يونټ سره کار کوي.[254]

### د افغانستان د عدلي او قضايي سکټور د ملاتړ پروګرام

د افغانستان د JSSP د پروګرام مشورتي مسئوليتونه پراخ شوي دي، چې په دې وروستيو کې د افغانستان د محکمې سيستم هم پکښې شامل شوی دی. پخوا دې پروګرام يوازې د عدليې په وزارت او لويه څارنوالي تمرکز درلود. سربېره پر دې د دې لپاره چې JSSP پروګرام د افغانستان د سترې محکمې او د ښوونو او روزنو په چارو کې د مشورې د ورکولو او لارښوونې کارونو ته دوام ورکړي، JSSP پلان لري چې قاضيان په ساحوي تربيوي پروګرامونو کې شامل کړي، ولايتي قاضاينو ته د ځانګړي ټريننګ په شمول.[255] ۳.۹ جدول د JSSP د تيرې شوې ربعې د فعاليتونو د معلوماتو تفصيل وړاندې کوي.

**د افغانستان د JSSP مشن:**
**"د هېواد د جرمونو د عدلي او قضايي سيستم د سکتور د انکشاف او تقويه کولو لپاره د افغانستان سره د مرستو ترسره کول. تر څو د هغې پواسطه د محاکماتو او د عدلي او قضايي سکتور مسلکي پرسونل هېواد والو ته منصفانه او اغېزناکه خدمتونه وړاندې کړي."**

سرچينه: JSSP، "مشن،" آنلاين وکتل شو ۱\۱۱\۲۰۱۰.

جدول ۳.۹

| د JSSP دري میاشتنی نوي حال | |
|---|---|
| **د فعالیتونو تشریح** | **د مشورتي خدمتونو برخي** |
| د څارنوالانو او د جرمونو د څېړني د ډیپارټمنټ (CID) پولیس په پنځو ساحوي مرکزونو کي زده کړي او روزني ترلاسه کوي. | روزنه |
| د JSSP د کاري ګروپ د تعدیل له لاري د هغي مسئولیتونو پراختیا موندلي ده، تر څو پدي مسئولیتونو کي د لوی څارنوالي او د عدلیي د وزارت د عامه چارو د دفترونو پرسونل ته د روزني ورکول هم شامل شي. | |
| INL د ACU لپاره د مرستو دوه پروګرامونه برابر کړي دي چي په هغه کي موټرسایکلونه، موبایل تیلیفونونه، کمري، کمپیوټرونه، او د دفترد تجهیزاتو برابرول شامل دي. | مشوره |
| JSSP هر ساحوي مرکز ته یو باتجربه مشاور برابروي، چي هغه به د ولایتونو په مرکز کي قاضیانو ته مشوري او لارښووني ورکوي. | |
| INL په کابل کي یو تجربه لرونکی ولایتي مشاور ګمارلی چي هغه د هیواد په هر ولایت کي د زده کړو او روزنو د پروګرامونو او د ظرفیت د لوړوالي د اړتیاو بررسي کوي. | |
| JSSP د حقوقو او قانون د برخي مشاورین، د لوېي څارنوالی د دفتر، ACU او د عدلیي په وزارت کي د ظرفیت لوړوالی خپل خدمتونه عرضه کوي. هغوی په خپلو ورځنیو فعالیتونو کي د لوی څارنوال، عدلیي وزیر او معینانو سره مرستي کوي. | د ظرفیت لوړوالی |
| INL د جرمونو قانون د اصلاحاتو د کاري ګروپ سره د مرستي لپاره نړیوال مشاورین برابروي چي هغوی د بورډ او د CPC د قانون د مسودي د بیا تنظیمولو مسوولیت په غاړه لري. د لومړیتوبونو د پلي کولو او د اصلاحاتو راوړلو لپاره هم د لوېي څارنوالی دفتر ته مشاورین برابروي. | |

سرچینه: INL، د سیکار د معلوماتو پوښتني ته ځواب، ۱۹/۱/۲۰۱۰.

### د اصلاحاتو د رامنځته کولو د سیستم د ملاتړ پروګرام

دا پروګرام د INL هغه برخه ده چي د افغانستان د حکومت د زندانو اصلاح کولو لپاره کار کوي. په ټولیزه توګه د دې پروګرام هدف د افغانستان د حکومت سره د خوندي زندانونو په جوړولو، تنظیمولو، د زندانونو د عصري سیستم د رامنځته کولو چي د بندیانو د سوکالی وړتیا ولري، مرسته کول دي. اوسمهال د امریکې ۳۵ مشاورین په CSSP کي په کار بوخت دي.[256]

د INL په وینا هغه ننګوني چي د دې پروګرام په وړاندې شتون لري د پیسو نشتوالی، د زندانونو د مرکزي ریاست د مامورینو کموالی، په زندانونو کي زیاته ګڼه ګوڼه، او د یوه متبادل ځای نشتوالي څخه یادونه کولای شو.[257]

په ۲۰۱۰ کال کي د CSSP لپاره د INL په اهدافو کي د زور زیاتیو څخه د خلکو پام اړول، پخلاینه او بیا ځلي استقرار او د بیا رغولو پروګرامونه ځای لري. همدارنګه په ټول هیواد کي د CPD په ملګرتیا د زندانونو لپاره د متبادلو ځایونو موندل، د زندانیانو د طبقه بندي د سټنډرډ سیستم تطبیقول دي. همدارنګه INL پلان لري چي د هیواد ټولو برخو ته د اصلاحاتو مشاورین ورسیږي او په دې ډول د ولسوالیو په کچې هم په مهمو زندانونو کي په دې اړوند روزني او مشورې تر سره شي.[258]

INL راپور له مخي په دې ربع کي CSSP دغه لاندې فعالیتونه تر سره کړي دي:[259]

- د انګلستان د هیواد سره په شریکه د CPD ساتونکو ته په لښکرګاه کي روزنه ورکړې ده او پدې وسیله یې د بندیانو په سوله ایزه توګه نوي ځایونو ته په لیږدونه کي مرسته کړې ده
- تقریباً د ټولو ولایتونو په زندانونو کي د CPD د اصلاحاتو او بیا تنظیمولو د آزمایښتي پروسو کي چي لومړیتوب یې درلود، د یوه بې پرې مشاور په توګه دنده تر سره کړې ده.
- د سلو څخه زیاتو ساتونکو ته یې زده کړې او روزني ورکړي دي چي په دې کي ۲۸ تنو ته د عاجلو پیښو د چټک غبرګون او ۲۷ کسانو ته د کمپیوټر د زده کړو ورکول هم شامل دي.

جدول ۳.۱۰

| د افغانستان د عدلي او قضايي سکټور سره د معاشونو په برخه کې د INL مرسته | | | |
|---|---|---|---|
| د بوديجو حالت | هغه پروګرامونه چې مرسته ورسره شوې | مبلغ | بوديجه |
| د INL د راپور له مخې د افغانستان د بيا ودانولو د په ۲۰۰۷کال د روم په کنفرانس کې يې<br>حمايتي فنډ مامورينو له خوا نوموړي فنډ ته د دې وعده شوې ده. دغه پيسې به د افغاني<br>پيسو د ليږدولو پروسه ډېره سسته ده. د ۲۰۰۹ کالتحقيقات کوونکو د معاشونو ورکولو لپاره<br>د ډسمبر د مياشتې د ۳۱ نيټې راهيسې دغه پيسې د يو خوا کښېښودل شوې دي.<br>امريکا د متحده ايالاتو په سفارت کې پرتې دي. | | ۵ ميلونه ډالر | د افغانستان د بيا ودانولو د ملاتړ بوديجه |
| ټولې پيسې د افغانستان د نظم او قانون حمايتي فنډ دا پروژه په دوه کلونو کې پای ته رسيږي<br>ته ليږدول شوي دي او د هغه څخه د اصلاحاتو او دا پيسې به د اصلاحاتو د کارمندانو<br>کارمندانو ته معاشونه ورکول کيږي. نوموړې د معاشونو په ورکولو کې<br>اداري د دغو پيسو وېش د ۲۰۰۹ کال په اکتوبر کېوکارول شي.<br>پيل کړی دی. | | ۱۰ ميلونه ډالر | د قانون د حاکميت د باور بوديجه (LOTFA) |

سرچينه: INL، د سيګار د معلوماتو پوښتنې ته ځواب، ۱۹\۱\۲۰۱۰.

همدارنګه INL د اصلاحاتو د راوستلو افغاني کارمندانو ته د معاش د ورکولو لپاره ځانګړې بوديجه هم برابره کړې ده.[260] ۳.۱۰ جدول همدارنګه INL د اصلاحاتو د راوستلو افغاني کارمندانو ته د معاش د ورکولو لپاره ځانګړې بوديجه هم برابره کړې ده.

## د عدلي او قضايي اصلاحاتو لپاره روان پروګرامونه

د افغانستان د عدلي سکټور لپاره د متحده ايالاتو په مرستو کې د عدلي پروګرامونو سمبالښت او مالي ملاتړ شامل دي، چې په هغه کې د عدلي چارو بشپړونه، د حقوقي زده کړې او روزنې ښه کول، او د اداري فساد پر ضد پرمختللي پروګرامونه شامل دي.[261]

### د عدلي او قضايي چارو سمون او انسجام

د DoS په وينا د افغانستان د اسلامي جمهوري دولت د زياتو وزارتونو تر منځ د منظمو اړيکو او تفاهم نشتوالی او همدارنګه د نا منظمو او نا همغږو خدماتو عرضه کول ، د کفايت او شفافيت د نشتوالي لامل ګرځېدلی دی، چې په دې کښې د جرمونو د قضياو په څيړلو کې د ستونزو رامنځ کيدل هم شامليږي. په افهام او تفهيم کې نيمګړتيا د يوې خوا د فساد د زياتوالي سبب کيږي او له بله پلوه د متهم حقوق تر پښو لاندې کيدلو ته لار هواروي. د دې ستونزو سره د مقابلې لپاره INL د زندان د ريکارډونو د بيا کتنې، تنظيمولو او د اړتيا په صورت کې قضيې ته د پای ټکي د اېښودلو لپاره، د پروګرام حمايت او ملاتړ کوي. د DoS د راپور له مخې د دې پروګرام د فعاليتونو په واسطه د ۱۲۰ تنو څخه زيات بنديان د زندان څخه خوشې شوي دي. په داسې حال کښې چې نوموړي بنديان د هغوی د دوسيو د خلاصېدلو څخه وروسته بيا هم د اداري ستونزو او مغشوشتيا له امله په زندان کې بندي پاتې شوي وه.[262]

### د قانون په هکله زده کړې او روزنې

DoS د افغانستان د عدلي او قضايي چارو کارمندانو/ مسلکي کسانو ته د زده کړو او روزنو کورسونه برابروي، چې په دې کسانو کې څارنوالان، د تحقيقاتو پوليس او قاضيان شامل دي. دغه زده کړې او روزنې د لوړې کچې جرمونو د قضيو د څېړلو په موضوعاتو تمرکز کوي.[263] سربېره پردې افغان قانون پوه مشاورين (هغه چې د اساسي قانون او د جرمونو د قانون په برخه کې تخصص لري) د هيواد په ۲۵ ولايتونو کې د ۸ ساحوي مرکزونو له لارې د لازمو مشورو او ظرفيتونو د زياتوالي خدمتونه وړاندې کوي.[264]

INL د حقوقو د برخې زده کړو او روزنو او عدالت ته د لاسرسي د پروګرامونو حمايت کوي. چې په دې ربع کې نوموړي پروګرام پراختيا موندلې تر څو په هغې کې د افغانستان په درې پوهنتونو کې

د حقوقو د محصلینو لپاره د عملي کارونو پروګرام شامل شي. همدارنګه دا پروګرام د کابل په امیریکن یونیورسټي کې د حقوقو د عصري تعلیمي نصاب د انکشاف لپاره مالي مرسته کوي. INL پلان لري چې د تعلیمي نصاب د انکشاف کار نورو پوهنتونونو ته هم وغزوي.[265]

سربېره پر دې عیناً په امریکا متحده ایالتو کې د حقوقو ځانګي افغاني استادانو ته د تعلیم په برابرولو په لاره کې مرسته کوي. INL په ۲۰۰۸ او ۲۰۰۹ کال کې د حقوقو د ځانګي استادانو ته د امریکا په متحده ایالاتو کې د ماسټرۍ د ترلاسه کولو لپاره مرستې کړې دي. او پلان لري چې په ۲۰۱۰م کال کې هم دې کار ته دوام ورکړي.[266]

## په عدلي او قضايي سکټور کې د فساد پر ضد مبارزه

DoS د عدلیې وزارت په شمول د افغانستان په ټولو ادارو کې د فساد پر ضد د مبارزې پروګرامونو پر اهمیت ټینګار کړی دی. د DoS/INL په وینا: فساد عدلي او قضايي پروګرامونو ته د ځو لارو څخه زیان اړوي، لکه: فساد بهرني کمکونه کوي، د قانوني او اصولي فعالیتونو څخه مالي مرستې په بله بیايي، د با اعتباره مشاورینو او مامورینو مونډل ګرانوي.[267] د امریکا متحده ایالت د افغانستان اسلامي جمهوریت د فساد په وړاندې مبارزې اوږد مهاله کوښښونو ته د ځو لارو څخه پاینت ورکوي:[268]

- مالي، مادي، تخنیکي، او ACU ته مشورتي حمایت ورکول او همدارنګه د تحقیقاتو او څېړنیزو خدمتونو عرضه کول، کوم چې به د غټو جرمونو د کاري ګروپ او جرمونو د عدلي او قضايي چارو د کاري ګروپ ملاتړ کوي.
- د پولیسو، تحقیق، دفاع او په عدلي او قضايي برخه کې د ظرفیتونو د لوړوالي د کوښښونو حمایت او ملاتړ، چې د ورکشاپونو تدویر، د قضیو څېړلو عملي کارونو او د لا فعال عدلي او قضايي سیستم د رامنځ ته کولو چارې هم پکښې شاملېږي
- د وزارتونو په کچې د ظرفیتونو زیاتوالی تر څو د هغې پواسطه په ستره محکمه، لویې څارنوالي په دفترونو او د عدلیې په وزارت کې شفافیت، نظارت او منجمنټ ښه والي ومومي
- په منطقوي کچې د قانون د نفاذ په ورکشاپونو او نورو فعالیتونو کې (په اسیا او منځني ختیځ کې) د افغانستان د وزارتونو ګډون کول
- عدلي او قضايي مامورینو ته لارښوونه، کومه چې د قاضیانو او محققینو له خوا د کاري او مسلکي اخلاقو د کارولو سبب کیږي

علاوتاً د INL په وینا هغوی یوه د بیا کتنې پروسه رامنځ ته کړې ده چې د هغې پواسطه د قرارداد کوونکو د خریداري درخواستونو او بلونو بیا کتنه کیږي. تر څو دا خبره یقیني شي چې بلونه درخواستونو سره مطابقت لري او په افغانستان کې د عادلانه بازار سره د مقایسې وړ دي. ناویلي پاتې نشي چې، INL د راپور له مخې د متحده ایالاتو سفارت د فساد په هکله د راپور ورکولو یو سیستم جوړ کړی دی چې د هغه له لارې د فساد د هغې قضیې تعقیب کیږي چې د متحده ایالاتو د منابعو او مالونو په حق کې شوي وي. د متحده ایالاتو سفارت به د فساد په هکله د راپور ورکولو له مخې لاس په کار کیږي.[269]

## بشری حقوق

د افغانستان د بشري حقونو خپلواک کمیسیون (AIHRC) د ۲۰۰۹ کال د دسمبر په میاشت کې راپور ورکړی دی چې د افغانستان حکومت د بشري حقونو په اړوند ځیني پرمختګونه کړي دي، چې په دې پرمختګ کې د حقوقو د نوي قانون ننګه او ملاتړ، د نوي پالیسیو او پروګرامونو رامنځ ته کول دي چې له مخې به یې د بشري حقونولا ښه ستنډرډونه ترویج او پراختیا ومومي. لیکن د بشري حقونو د خپلواک کمیسیون په وینا د افغانستان حکومت د دې وروستیو هلو ځلو او کوښښونو سره سره لا تر اوسه تبعیض او کمزورې عدلي او قضايي ادارې شتون لري.[270]



**پدې وروستیو کې UNHCR د ژمي په ساره موسم کې** هېواد ته دبېرته را ستنېدونکو ، داخلي بېځایه شویو کسانو، او نورو بې وزله کسانو سره د کابل په ښار کې د مرستو بهیر پیل کړیدي. (د یوناما انځور، فردین واعضي)

## کډوال او په هیواد کې د ننه بې ځایه شوي کسان/ کورنی

د کډوالو او بېځایه شویو کسانو په هکله د ANDS موخې په یوه ټولیز اصل تمرکز کوي چې هغه: د ټولو کسانو لپاره پخپله خوښه د بېرته راستنېدلو د چارو بنه او کافي منجمنټ او په ګټوره توګه د هغوی د بیا ځلي استقرار او ځای پر ځای کول او همدارنګه هغوی ته د معیشت د لارو چارو موندل دي.[271]

د ۲۰۰۲ کال راهیسې پنځه میلیونه افغان کډوال خپلو کورونو/ هیواد ته راستانه شوي دي چې تقریباً د دغه اندازې څخه زیات شمېر یې د ۲۰۰۴ کال راپدې خوا هیواد ته راګرځېدلي دي.[272] د بېرته راستنېدونکو دا بهیر د هیواد په نفوس کې ۲۰ سلنه زیاتوالی راوستلی دی. د ۲۰۰۹ کال د راپور له مخې UNHCR داسې اټکل کوي چې د هیواد په ځینو سیمو کې د نفوس درېمه برخه راستانه شوي کسان دي. د دې اداري د راپور له مخې راستانه شوي کسان سرپناه، اوبه او د معیشت موندلو لپاره مرستو ته اړتیا لري. د راستانه شویو خلکو ځوان نسل د ځینو ستونزو او اندېښنو لکه ماشومان کارکولو ته اړ کول، اختطاف او په کم عمر کې اجباري ودونه او داسې نورو اندېښنو سره مخ دي. د بېرته راستانه شویو کسانو اړتیاوې د کار نشتوالی، د منابعو کموالی، په ځینو سیمو کې د امنیت او ثبات په هکله اندېښنې زیاتوي.[273] په ۲۰۱۰ کال کې د UNHCR د بېرته راستانه شویو کسانو د حالت د ښه کېدلو لپاره یو لړ اهداف تعین کړي دي، لکه چې په ۳.۱۱ جدول کې ښودل شوي دي.

د یوناما د راپور له مخې، سره له دې چې یو زیات شمیر افغانان خپل هیواد ته راستانه شوي دي، خو بیا هم لږ تر لږه ۱،۷ میلیونه افغان کډوال د پاکستان په کمپونو او ښاري سیمو کې میشته دي. د ۲۰۰۹ کال د ډسمبر په ۱۵مه د پاکستان د بهرنیو چارو وزارت او د سرحد ایالت چارواکیو د پاکستان لومړي وزیر ته خپل وطن ته د افغان کډوالو د بېرته ستنېدلو ستراتیژي وړاندې کړه. لیکن د پاکستان حکومت UNHCR ته ډاډ ورکړ چې د راستانه شویو افغان کډوالو هیواد ته د بېرته ستنېدلو په اړوند به هیڅ ډول اقدام نکوي. په مخکنی استراتیژي کې درې واړو خواو (افغانستان، پاکستان او UNHCR) پدې هکله موافقې ته رسیدلي وه، نو د همدې ستراتیژۍ له مخې افغان کډوالو ته د ۲۰۰۹ کال د ډسمبر د میاشتې د ۳۱مې څخه وروسته په دې هیواد کې د پاتې کیدلو اجازه ورکړل شوې ده.[274]

## د جنس مساوات

په ۲۰۰۸ کال کې د UNIFEM (د ښځو لپاره د ملګرو ملتونو انکشافي بودیجه) ویلي دي چې سره له دې چې په افغانستان کې ښځې د زیاتو ستونزو او ننګونو سره مخ دي، خو بیا هم ښځې په ازادانه ډول په دولتي، شخصي او غیر انتفاعي مؤسسو کې کار کوي.[275] چې د لاندې شواهدو له مخې یې خپل روښانه شتون او موقف په ډاګه کړی دی، لکه د جمهوري ریاست ته کاندید کیدل، د والي په حیث کار کول (د بامیانو والي) د کابینې غړیتوب، قاضي، ژورنالیست او د کسب

جدول ۳.۱۱

| په ۲۰۱۰ کال کې د بېرته راستنېدونکو افغانانو لپاره د UNHCR کلیدي هدفونه | |
|---|---|
| **هدف** | **د اغیزمن شویو افغانانو شمیره** |
| بې کوره کډوالو او بېرته راستانه شویو بېځایه شویو کسانو ته د دوه خونو لرونکي سرپناه تیارول | ۱۸۸۰۰ راستانه شوي کسان |
| د اوبو برابرول | ۳۸۰۰ ټولنو لپاره چې کډوال او بېرته راستانه شوي کسان لري |
| د بېته راستنېدونکو کسانو لپاره د هغوي د اساسي اړتیاوو د پوره کولو په خاطر د ترانسپورټ او پیسو مرسته | ۱۶۵۰۰۰ راستانه شوي کسان |
| د معیشت او عاید د موندلو په موخه په ټولنه کې د کارموندلو فعالیتونه | ۳۶۰ راستنې شوي ټولنې |
| د خوراکي توکو څخه پرته د مهمو اړیتاو د پوره کولو لپاره چټك غبرګون | ۱۰۰۰۰۰ نوې بېځایه شوې کورنۍ |

سرچینه: UNHCR، "نړیواله غوښتنه: افغانستان، ۲۰۱۱-۲۰۱۰،" ۲۰۰۹\۱\۱۲، مخ ۲.

**کډوال:** د کډوالی هغه تعریف چې UNHCR د مؤسسې له خوا په ۱۹۵۱ کال کې د کډوالو د کنوانسیون له خوا برابر شوی دی داسې راپېژني: هر هغه څوک چې "د زور او زیاتي، تهدید، ګواښ، د ژوند ګواښ او داسې نورو دلیلونو لکه نژادي توپیر، مذهبي، قومي، د یوې خاصې سیاسي ډلې غړیتوب یا سیاسي عقیدې د درلودلو له امله د خپل هیواد څخه بهر په بل هیواد کې ژوند کوي او تر کډه شوي هیواد له خوا د حفاظت په تمه نه وي."

**بې ځایه شوي کسان/ کورنۍ:** په هیواد کې د ننه بې ځایه شوي کسان/ کورنۍ دا کسان د کډوالو سره په توپیر د خوندي ځای د موندلو لپاره خپل هیواد د سرحدونو څخه نه اوړي، بلکه پخپل هیواد کې د ننه تغیر مکان کوي. بې ځایه شویو کسانو ساتنه د هغوی د خپل حکومت لخوا تر سره کیږي. سره له دې چې حکومت د هغوی د بې ځایه کیدلو لامل ګرځېدلی وي. هغوی د یوه هیوادوال په څېر د بشر د حقوقو د قانون له مخې د خپلو ټولو حقوقو او امتیازاتو څخه برخمن وي.

**بېرته راستانه شوي کسان:** خپل اصلي ټاټوبي ته د کډوالو او په هیواد کې د ننه د بېځایه شوي کسانو بیرته راستانه کسانو ته ویل کیږي.

سرچینې: UNHCR، "کډوال،" آنلاین وکتل شو ۲۰۰۹\۹\۱۲. UNHCR، "بې ځایه شوي کسان،" آنلاین وکتل شو ۲۰۰۹\۹\۱۲. UNHCR، "بیرته راستانه شوي کسان،" آنلاین وکتل شو ۲۰۱۰\۶\۱.




او تجارت پر مخ وړل.[276] د ملګرو ملتونو پراختيايي پروګرام د هيواد په دواړو شوراګانو کې يو زيات شمير سيټونه/ څوکۍ ښځوته ځانګړې کړې دي. يعني د مشرانو جرګې د ۱۰۲ څوکيو څخه ۱۷ او د ولسي جرګې د ۲۰۹ څوکيو څخه يې ۶۲ څوکۍ د ښځينه استازو لپاره غوره کړې دي.[277] UNDP دا څرګندونه هم کړې ده چې په سطحې کچې د ښځو د بنسټيزه سياسي ګډون څخه په لوړه کچې کې لاسته راوړنې به لږه اغيزه ولري. اوس مهال په سيميز کچې کې د ښځو استازيتوب کمرنګه دی.[278]

په هيواد کې د ستر او بورقې په سر کولو د ټينګار په پام کې نيولو سره هغه ښځې چې ستر نکوي او بورقه نه په سر کوي د طالبانو او د هغو د پلويانو پام ځان ته را اړوي. زور زياتي د افغانستان په ځينو سيمو کې زيات شوي دي لکه: د ښوونځيو په ښځينه زده کوونکو تېرى چې په دې اړوند د نجونو په مخونو د تېزابو پاشل هم شامل دي. چې په دې اړوند د نجونو په مخونو د تېزابو پاشل هم شامل دي.[279]

د افغانستان حکومت د ملي پراختيا په استراتيژۍ کې يو هدف ټاکلی دی چې د هغه له مخې به يو داسې افغانستان رامنځ ته کيږي چې په هغه کې به نارينه او ښځينه په سوله او امنيت کې ژوند کوي، يو شان حقونه به لري او همدارنګه د ژوند په ټولو اړخونو کې به د يوه شان فرصتونو د موندلو چانس لري.[280] د جنس د مساوات په هوډ د ټينګار لپاره د افغانستان حکومت د ښځو لپاره يو ملي اکشن پلان تيار کړی دی. چې د دې لس کلن اکشن پلان له لارې به د ښځو د حقونو په هکله هوډونه پوره کړل شي. د افغانستان د اساسي قانون او ANDS کې د NAPWA د اهدافو هغه لاسته راوړنې چې د جنس د مساوات لپاره معيارونه ګڼل کيږي، ځای لري.[281] NAPWA د لوړې کچې په درې لاسته راوړلو ټينګار کوي.[282]

- دولتي اداري په پروګرامونو او نورو ډګرونو کې د استخدام، ارتقاء، پاليسي جوړول او د بوديجو په ځانګړي کولو کې د جنس په مساوات ټينګار کوي.
- د ښځو په وضعيت کې د اندازه کولو وړ بنه والی رامنځ ته کولې.
- په افغانستان کې په پراخه کچې د جنس مساوات ته ښه راغلاست ويل او همدارنګه د پاليسي په جوړولو او عامه چارو کې د هغوی ګډون

بې سوادي هميشه د جنس د مساوات پر وړاندې خنډونه رامنځ ته کوي. د کليو د پراختيا او بيا رغونې وزارت په وينا د نارينه پرتله ښځې ډېرې کمې د ليک او لوست سره بلدتيا لري. د ۳۴ ولايتونو څخه په ۲۷ ولايتونو کې د نارينه وو د سواد فيصدي د ښځو په پرتله ٪۱۰ لوړه ده.[283] د UNDP په وينا په افغانستان کې د خپلو ګاونډيو هيوادونو، د نورو جنګ ځپلو هيوادونو او په وچې کې ايسارو آسيايي هيوادونو په مقايسه د بې سواده ښځو کچې ډېره زياته ده.[284]

عنعنوي رسمونو او رواجونو هم په دې اړوند ننګونې رامنځ کړې دي. د بشري حقونو د خپلواک کميسيون په وينا د سړيو سره د نجونو تښتېدل، ښځې په بدو کې ورکول، په بدل واده کول، کورنۍ زور زياتي او نورې ټولنيزې ستونزې په افغانستان کې د پخوانيو دودونو او دستورونو څخه په ميراث پاتې دي.[285]

UNDP دې ته هم اشاره کړې ده چې د ښځو سره زور زياتی يوه عامه مسئله ده. کله چې دا مسئله د اوږدمهالو تربګنيو او دښمنيو سره غاړه شي، په هېواد کې د ښځو د وضعيت د لا خرابوالي د يو ستر فکتور په څېر عمل کوي.[286]

په NAPWA کې ځيني د اندازه کولو وړ عناصر عبارت دي له: د بېسوادي د کچې راټيټېدل، په تعليمي او روغتيايي پروګرامونو کې د ښځو د تناسب لوړېدل، د عين کار په بدل کې د مساوي مزد ترلاسه کول، د ميندو د مړينې کموالی، په رهبري او ژوند په ټولو ډګرونو کې د ګډون زياتوالی، د اقتصادي فرصتونو د موندلو زياتوالی، د عايد لرونکو املاکو ته لاسرسی او د هغه کنټرول، عدالت ته په کافي اندازه او په مساوي توګه لاسرسی، په کورنۍ او عامه ډګر کې د زور او زياتي په وړاندې د هغوی آسيب پذيري او داسې نور.

سرچينه: د افغانستان اسلامي جمهوري دولت، "د افغانستان د ملي پرمختيا ستراتيژي،" مخ ۱۴.

د بدو واده: په زور سره واده ته مجبورول

بدل واده: له قانوني عمر څخه مخکې واده

سرچينه: د سيګار د معلوماتو پوښتنې ته د USAID ځواب، ۲۰۰۹/۱۲/۱۰.

## د مذهب آزادي

د بهرنيو چارو وزارت د راپور له مخې د افغانستان ٪۹۹ وګړي د اسلام د مقدس دين پيروان دي، چې د دې جملې څخه ٪۸۰ يې سني مذهبه او ٪۱۹ اهل تشيع دي. داسې ويل کيږي چې د دې هيواد پاتې

انځور ۳.۳۳

د افغانانو مذهبي تړون




يادونې: د اعتماد وړ سرشميرنې نشته. شميرنې د څارونکو په اټکل بنا شوي دي. د عيسويانو شمير د 500 او 8000 تر منځ اټکل کيږي.

سرچينه: د بهرنيو چارو وزارت، "د مذهب د نړيوالې ازادۍ راپور 2009: افغانستان،" 2009\26\10.

يو فيصد غير مسلم وګړي د خپلو مذهبي مراسمو د ترسره کولو پر مهال آزار مومي، د مړي د سوځولو لپاره په آسانۍ سره ځای نشي موندلای او همدارنګه په دولتي ادارو کې دکار موندلو په مهال د ستونزو او ننګونو سره مخ کيږي.[287] ۳.۳۳ انځور په افغانستان کې د مذهبونو فيصدي ښيي.

د DoS د ۲۰۰۹ کال د اکتوبر مياشتې د راپور له مخې د افغانستان د اساسي قانون د مذهب د آزادۍ د مادي نفاذ په وړاندې يو شمير "جدي ستونزې شته دی". په دې ستونزو کې يو هم په خپله په اساسي قانون کې احتمالي تضاد دی. سره له دې چې افغانستان بايد د بشر د حقونو نړيوال اعلاميه تعقيب کړي د هيواد اساسي قانون دا هم وايي چې اسلام د افغانستان رسمي دين دی او دا چې "هيڅ قانون بايد د اسلام د دين سره په تضاد کې نه وي." څرنګه چې په اساسي قانون کې په دې اړوند کوم خاص مورد ندی وضع شوی، د ملګرو ملتونو په وينا د هيواد محکمې د اسلامي قانون له مخې چلند کوي.[288] د CRS د راپور له مخې په ۲۰۰۷م کال کې د افغانستان سترې محکمې د بايي عقيده د ارتداد د يوه بڼې په توګه اعلان کړه.[289]

په هر حال CRS د ځينو پرمختګونو يادونه کړې ده. د اهل تشيع پيروان چې زيات شمير يې د باميانو او دايکندي په ولايتونو کې استوګنه لري اوس اجازه ورکړل شوې ده چې په ډاګه سره خپل مذهبي مراسم ولمانځي، چې د طالبانو په وخت کې د دې آزادۍ څخه محروم پاتي وه. [290]

## د ولايتي بيا رغوني تيمونه

لکه څرنګه چې د دې برخې په سرکې پرې بحث وشو د متحده ايالاتو جمهور رئيس په افغانستان کې د يوې ډيرې اغيزناکې ملکي استراتيژي د تعقيبولو غږ کړی دی.[291] نو بنا پردې د بهرنيو چارو وزارت د افغانستان د حمايتي اداري له لاري د حکومتي ادارو تر منځ د ګډو هلوځلو فعاليتونه همغږی کوي چې د هغې پواسطه د ولايتونو د بياودانولو اورغونې په ټيم کې د ملکي کارمندانو شميره زياته شي. د ملکي پرسونل په زياتوالي سره به د حکومتدارۍ او د قانون د پلي کولو متخصيصين به يوې خوا د فساد پر ضد مقابله وکړي او له بلې خوا به په حکومتي او ادارو کې ظرفيتونه لوړوالی ومومي. [292]

په افغانستان کې ۲۶د ولايتي بيارغوني تيمونه کار کوی چې هر يوی په جلا ولايت کې

مرکزیت لری اما ځینی یی د یوه څخه په زیاتو ولایتونو کې کارکوی. متحده ایالات د ۱۲ ولایتي بیارغوني ټیمونو څخه ملاتړ کوي او فعالیتونه یې سمبالوي او همدا رنګه د ایساف غړي هیوادونه د ۱۴ ولایتي بیارغوني د ټیمونو د ملاتړ او سمبالتیا دنده پرغاړه لري.[293] ۳.۳۴ انځور هغه ولایتونه ښودل شویدي چې په هغوي کې د امریکا د متحده ایالاتو او د ایساف غړو هیواد ونو د PRT ټیمونه کار کوي. د USAID په وینا PRT یا د ولایتي بیارغوني ټیمونه هغه کلیدي وسیله یا لاره ده چې د هغي په واسطه د نړی نور هیوادونه او موسسي ولایتونو او ولسوالیو سره خپلي مرستي کولای شي.[294] د متحده ایالاتو ملکي مشاورین د دواړو ډلو PRT ټیمونو سره کار کوي او فعالیتونه یې د کار مندانو د ظرفیتونو په لوړوالي او همدا رنګه خلکو د کار او عایداتو د تر لاسه کولو د فرصتونو په موندلو تمرکز لري تر څو د دي لاري څخه د وزګارتیا کچې کمه او په سیمه کې د بې امنیتي مخه و نیول شي.[295]

انځور ۳.۳۴

هغه ولایات چې هلته د PRT قرارګاوي شته دی




یادونه: نقشه د PRT د قرارګاه خای ښکاره کوي؛ ځیني PRT تر یوه زیاتو ولایاتو څخه پروژي سمبالوي.
الف د بلخ PRT همدا رنګه د جوزجان، سرپل، او سمنګان ولایاتو ملاتړ هم کوي.
سرچینه: د بهرنیو چارو وزارت، د سیګار د معلوماتو پوښتني ته ځواب، 2010\6\1؛ ناتو، "PRT" 2009\29\4؛ USAID، "پکتیا" انلاین وکتل شو 2010\13\1.

## د متحده ایالاتو د PRT ټیمونه

په دې برخه کې په افغانستان کې د متحده ایالاتو لخوا ملاتړ شوي ۱۲ د بیا رغوني له ټیمونو څخه د ۳ هغو په اړه خبرې کیږي: د ګردیز PRT د پکتیا په ولایت کې، د بګرام PRT د پروان په ولایت کې (په ۳.۳۵ انځور کې ښودل شوی) او د فراه د PRT ټیم (په ۳.۳۶ انځور کې ښودل شوی).

### د پکتیا په ولایت کې دګردیز PRT ټیم

د USAID په وینا د پکتیا په ولایت کې سیاسي بې ثباتي او حرج مرج لا تر اوسه شتون لري دا ځکه چې پدې ولایت کې سیمییزو قومندانانو اغیز او ځواک د مرکزي حکومت پرتله زیات دی.[296] سره له دې چې پدې ولایت کې نا آرامی شتون لري خو بیا هم متحده ایالاتو هلته د شلو څخه زیاتې پروژې رواني کړیدي. د دې ځای سیمییز PRT د دري پروژو کارونه سمبالوي:[297]

- د ملکي وګړو سره د مرستو پروګرام ACAP: دا پروژه هغو خلکو او کورنیو سره مرسته کوي چې د ائتلاف د قواو او یاغیانو تر مینځ په عملیاتو کې زیانمن شوي وي
- د ښاري سیمو خلکوته معیشت د لارو د برابرولو پروګرام: د دې پروګرام له لارې امن او ثبات خلکوته په عارضي توګه کار او عوایدو د پیداکولو زمینه برابر وي ترڅو پدې توګه د غربت او وزګارتیا کچې راټیټه او په پایله کې د جګړه مارو او مخالفینو سره د خلکو د یو ځای کېدلو مخه ونیول شي.
- د سیمییزې دولتدارۍ او ټولني پرمختیا (LGCD): په بې ثباته سیموکې محلي دولتداري ځواکمنه کوی. سیمییزې ټولنی پرمختیا او ثبات ته هڅوی او همدا رنګه د هغو لاملونو پر وړاندې مبارزه کوي چې د بې امني او بغاوت سبب کیږی

### د پروان په ولایت کې د بګرام PRT

د USAID په وینا د پروان ولایت د سیل او میلو ځای دی. د سالنګ سیند پکې بهیږی ښه تازه ماهیان لري. چې ډیرخلک د کابل څخه هلته د مېلو او د ماهي خوړلو لپاره ورځي. اوس مهال د پروان په ولایت کې د USAID ډېرش پروژې رواني دي (د ACAP او LGCD پروژې) چې د ولایتي PRT له خوا چې مرکزيي په بګرام کې دی سمبالیږي.[298]

د بګرام PRT د کاپیسا د ولایت پروژې هم سمبالوي. د کاپیسا نفوس د پروان څخه لږ (۳۹۳۰۰۰وګړي) دئ خو د بریدونو اندازه یې څلور واره زیاته ده. پدې ربع کې ۵۸ بریدونه په کاپیسا او ۱۳ بریدونه په پروان کې تر سره شوي دي.[299] کاپیسا اساسي سړکونو په شمول د ډېرو بنسټیزو خدمتونو څخه محروم دی.[300]

په ۲۰۰۹ کال کې د بګرام PRT د ودانولو او بیارغوني په سیمه ایزه سروې کې ګډون کړئ دئ چې په هغې کې د تګاب د ولسوالی مرکزي سړک، د اله سای د ولسوالی سړک، د افغانیه سړک د کوهي د انجونو ښوونځئ او نورو ښونځیو او سړکونو پروژې ( د نجراب د ولسوالۍ) شامل دي. د ۲۰۰۹ کال د جولای په میاشت کې PRT د تګاب د ولسوالی د سیمییزو مشرانو سره غونده جوړه کړه او په هغې کې یې د نوموړې ولسوالی د سړک جوړولو په وړاندې د اند ېښنو په هکله بحث وکړ.[301] د USAID په وینا د تګاب ولسوالي د ترټولو زیاته د اړینو آسانتیا وو څخه محرومه و غیر مصئونه ولسوالي ګڼل کېږي.[302]

### د فراه PRT

د USAID د راپور له مخې د فراه وګړي په فقرا او غربت کې ژوند کوي، د جرمونو او د مخالفینو د فعالیتونو کچې پکې لوړه ده چې دې حالت هلته د دولتداري د پرمختګ او د خلکو سره د مرستو د ترسره کولو د پروګرامو مخې ته خنډونه رامنځته کړیدي.[303] سر بېره پردې چې هلته (ACAP-LGCD) پروژې رواني دیPRT پدې کال کې د ځینو نورو پروژو د بشپړېدلو خبر ورکړیدی. چې دوه ډېرې

انځور ۳.۳۵

د پکتیا ولایت

| | |
|---|---|
| اټکل نفوس: | 491,000 |
| په دې درې میاشتنې کې بریدونه: | 68 |
| د سواد کچه (2006): | مجموعي: 31.3<br>نارینه ٪38.8، ښځینه ٪21.6 |
| د PRT سمبالونکی هیواد: | متحده ایالات |
| د PRT کارکوونکي: | معلومات نشته |



د پروان ولایت

| | |
|---|---|
| اټکل نفوس: | 590,000 |
| په دې درې میاشتنې کې بریدونه: | 13 |
| د سواد کچه (2007): | مجموعي: ٪30.8<br>نارینه ٪43.4 ښځینه ٪16.1 |
| د PRT سمبالونکی هیواد: | متحده ایالات |
| د PRT کارکوونکي: | معلومات نشته |



یادونه: په بریدونه کې له 2009\1\10 نه تر 2009\27\12 پورې مستقیم، غیرمستقیم، پیچلي، او د IED بریدونه شامل دي، لکه چې د CSTC-A لخوا راپور ورکړل شوي دي.

سرچینه: USAID، "پکتیا"، انلاین وکتل شو 2010\13\1؛ USAID، "پروان"، انلاین وکتل شو 2010\18\1؛ د سیګار د معلوماتو پوښتنې ته د CSTC-A ځواب، 2010\4\1؛ د کلیو د پراختیا او بیا ودانولو وزارت، "د افغانستان په کلیو کې د سواد کچه د ټولو عمرونو لپاره"، 2006\10؛ د بهرنیو چارو وزارت، د سیګار د معلوماتو پوښتنې ته ځواب، 2010\6\1.

مهمي پروژې يې په لاندې ډول دي:

- د ۲۰۰۹ کال د مې په مياشت کې د افغانستان د راډيو تلويزيون د سټوډيو جوړول چې په هغې کې د ترانسمشن نوی برج او آنتن سيستم هم شامل دي تر څو د هغې پواسطه د نشراتو لمن پراخه او د لرې سيمو خلک هم ترې ګټه واخلي (USAID او انټرنيوز نټ ورک په مرسته)[304]
- د ۲۰۰۹ کال د جنورې په مياشت کې د عامه کتابخانې د رامنځته کولو د کار بشپړېدل، چې په هغې کې د مطالعې په خاطر د انجونو او هلکانو لپاره جلا خونې، هديه شوي کتابونه د کنفرانس خونه او کتابخانې دفتر شاملېږي.[305]

## د آيساف غړو هيوادونو د PRT ټيمونه

آيساف هيوادونه هم د افغانستان لپاره ډېر مهم او اړين د PRT ټيمونه په کار ګمارلي دي. د هغوی درې د PRT ټيمونه دلته يادونه کيږي: د هيواد په شمال کې د بلخ PRT چې د سويډن د هيواد له خوا سمبالېږي، د هيواد په جنوب کې د هلمند PRT چې د انګلستان د هيواد له خوا سمبالېږي او د هيواد په ختيځ کې د لوګر PRT چې د چک د جمهوريت له خوا سمبالېږي.

### د بلخ PRT

دا PRT چې د مزار شريف د PRT په نامه هم يادېږي د بلخ د ولايت په مرکز د مزار شريف په ښار کې مرکزيت لري. دغه PRT د هيواد شمالی ولايت بلخ (په ۳.۳۶ انځور کې ښودل شوی دی)، او همدا رنګه د سمنګان، جوزجان او سرپل په ولايتونو کې فعاليت کوي. د دغه PRT فعاليتونه د سويډن د هيواد له خوا سمبالېږي نوموړي هيواد دا دنده د ۲۰۰۹ کال د مارچ په مياشت کې د انګلستان د هيواد څخه تسليم کړه. د فنلند هيواد دغې PRT سره د پرسونل په برابرولو کې مرسته کوي.[306] پدې لاره کې د سويډن د هيواد د مرستو ژمنه په اوسلو کې د افغانستان د سفارت له خوا چې د ناروې، سويډن، دنمارک، فنلند او آيسلند د هيوادونو هوکړه پکې شامله وه ترلاسه شوې ده.[307]

په اوسلو کې د افغانستان د سفارت په وينا د بلخ PRT په هغو پروګرامونو ټينګارکوي چې د ملکي او نظامي همکارۍ له لارې د ظرفيتونو د لوړوالي ننګه او ملاتړ کوي. د نوموړي پروګرامونو هلې ځلې د افغانستان د ملي اردو په رهبرۍ، زده کړو او روزنو په پروګرامونو او ملکي پروژو تمرکز لري. چې نوموړې پروژې د بين المللي او افغاني غير دولتي موسسو د مرستې او ګډون په واسطه په



**د فراه د ولايتي بيارغوني ټيم** د حضوري ګزمې له بشپړولو وروسته د فراه په ښار کې د بالاحصار له پاتې شونو نه ليدنه کوي. دا بالاحصار يو له هغو کلاوو څخه وه چې د سکندر لخوا جوړ شوی وه. (د ايساف انځور، د متحده اياالاتو د سمندري پوځ د اړيکو متخصص پې او ۱ مونيکا آر نيلسون)

انځور ۳.۳۶

### د فراه ولايت

| | |
|---|---|
| اټکل نفوس: | 457,000 |
| په دې درې مياشتني کې بريدونه: | 51 |
| د سواد کچه (2007): | مجموعي: 17.8٪<br>نارينه 23.1٪ ښځينه 11.8٪ |
| د PRT سمبالونکی هيواد: | متحده ايالات |
| د PRT کارکوونکي: | معلومات نشته |



### د بلخ ولايت

| | |
|---|---|
| اټکل نفوس: | 1,145,000 |
| په دې درې مياشتني کې بريدونه: | 12 |
| د سواد کچه (2007): | مجموعي 44٪<br>نارينه 54٪، ښځينه 32٪ |
| د PRT سمبالونکی هيواد: | سويډن |
| د PRT کارکوونکي: | 378<br>378 افسران او سرتېرې<br>3 ملکي مشاورين |



يادونه: په بريدونه کې تر 2009\27\12 پورې مستقيم، غيرمستقيم، پيچلي، او د IED بريدونه شامل دي، لکه چې د CSTC-A لخوا راپور ورکړل شوي دي.

سرچينه: USAID، "بلخ"، انلاين وکتل شو 2010\13\1؛ USAID، "فراه"، انلاين وکتل شو 2010\18\1؛ د سيکار د معلوماتو پوښتنې ته د CSTC-A خواب، 2010\4\1؛ MRRD، "بلخ"، 2007\10، مخ 10؛ MRRD، "د افغانستان په کليو کې د سواد کچه د ټولو عمرونو لپاره"، 2006\10؛ CENTCOM، "سويډن،" انلاين وکتل شو 2010\13\1.

## د هلمند PRT

سره له دې چې د هلمند PRT د انګلستان د هیواد له خوا پرمخ وړل کېږي (۳.۳۷ انځور) خو بیا هم د دې هېواد سره د آمریکا متحده ایالات، ډنمارک، او استونیا هیوادونه د کارمندانو او مالي مرستو په برابرولو کې مرسته کوي. دغه PRT د هلمند په ولایت کې د سولې او امنیت په ټینګښت او اغېزناکه حکومت په رامنځته کولو کې مرسته کوي. په افغانستان کې د برتانیې د سفارت په وینا دغه PRT اوس مهال په یوه جامع پلان کارکوي چې اوه انکشافی ډګرونه ترخپل پوښښ لاندې راولي:[309]

- سیاست او پخلاینه
- دولتداري
- د قانون پلې کېدل (د عدلي قضایي چارې، پولیس او د زندانونو چارې)
- امنیت
- اقتصادي او ټولنیز پرمختګ
- دمخدره موادو پرضد مبارزه
- استراتیژیک افهام و تفهیم

په تېرکال کې PRT په نوموړي ولایت کې د درې لاسته راوړنو راپور ورکړی دی:[310]

- د ۲۰۰۸ کال دسمبر څخه بیا د ۲۰۰۹ کال د جون تر میاشتې پورې په ښوونځیو کې د زده کونکو د شاملېدلو کچې لوړه شوی ده: ٪۸۰ د هلکانو او ٪۱۴.۵ د انجونو
- د ۲۰۰۹ کال د اکتوبر په میاشت کې نوی زندان پرانېستل شویدی چې په هغې کې به د نوې ځانګې د جورولو کار په ۲۰۱۰ کال کې بشپړ شی
- په ولایت کې د نشه ایزو توکو لمړني پېژندل شوي متهمین/ مجرمین د ۲۰۰۸ کال د دسمبر د میاشتې څخه ۲۰۰۹ د اپریل پورې د جرمونو د څېړنې د عدلي او قضایي ګروپ له خوا ۱۹ تنه نشه ایزو توکو په اړوند مجرم ګڼل شوي دي



**د هلمند ولایت د ولایتي بیا رغوني ټیم** د متحده ایالاتو او بریتانیې ملکی پرسونل د ناوه د ښوونځی د سر معلم سره خبرې کوی .
(انځور د متحده ایالاتو د سمندري پوځ، ډلګی مشر جیمیری هریس)

انځور ۳.۳۷

### د هیلمند ولایت

| | |
|---|---|
| اټکل نفوس: | 822,000 |
| په دې درې میاشتنې کې بریدونه: | 1,706 |
| د سواد کچه: | نارینه تر ٪10 لږ،<br>ښځینه تر ٪1 لږ |
| د PRT سمبالونکی هیواد: | برتانیه |
| د PRT کارکوونکي: | 242<br>91 ملکي، 94 پوځي،<br>او 27 ملکي پولیس کارکوونکي<br>په لشکرګاه کې؛ 20 سیمییز<br>کارکوونکي |



یادونه: په بریدونه کې تر 2009\27\12 پورې مستقیم، غیرمستقیم، پیچلي، او د IED بریدونه شامل دي، لکه چې د CSTC-A لخوا راپور ورکړل شوي دي.

سرچینه: USAID، "هیلمند"، انلاین وکتل شو 2010\14\1؛ د سیګار د معلوماتو پوښتنې ته د CSTC-A ځواب، 2010\4\1؛ برتانیه، "له 2006 کال راهیسي ځیني لاسته راوړنې"، انلاین وکتل شو 2010\13\1؛ برتانیه، "د ولایتي بیا رغونې ټیمونو ته کتنه" انلاین وکتل شو 2010\13\1.

## د لوګر PRT

دغه PRT د چک د جمهوریت له خوا پرمخ وړل کېږي. د دې PRT مشن یا ماموریت (۳.۳۸ انځور وګورئ) د لوګر ولایت د پرمختیا سره مرسته، د افغانستان د حکومت د نفوذ زیاتوالی او خلکو ته وړتیا ورکول، تر څو هغوی په خپلو ورځنیو کارونو کې په فعاله توګه زیاته ونډه واخلي. د دې PRT په ملکي ټیم کې به د ملکي انجینرانو، زراعت، وترنري، طب، امنیت او نشراتو ماهرین او متخصصین ځای لري. د لوګر PRT په اتو لاندنیو ډګرونو کې هلې ځلې کوي:[311]

- امنیت او دولتداري
- د زېربنا وو جوړول
- د اوبو منابع او د خړوبولو چارې
- کرهنه
- د روغتیا پالنه
- زده کړه او روزنه
- د ښځو حقونه
- مېډیا

د PRT د ډېر تازه راپور له مخې د ۲۰۰۹ کال د اکتوبر په میاشت کې د انجونو د دریو ښوونځیو د جوړولو کار بشپړشویدی په نومړو ښوونځیو کې به د زرو تنو څخه زیاتې انجونې زده کړې کوي کومې چې له دې تر مخه یې د خېمو لاندې زده کړې کولې. د لوګر PRT د دې کار لپاره له پروژې سره مالي مرسته کوله. پداسې حال کې د ښوونځیو جوړولو چارې د لوګر ولایت د پوهنې د ریاست له خوا سمبال شوي دي.[312] د لوګر PRT دغه لاندې فعالیتونه هم ترسره کړیدي:[313]

- بزګرانو ته یې د میوو د وچولو او اوساتلو لپاره د سولر په سیستم چلېدونکي دستګا وې رانیولي دي او د هغوی سره یې د حفظ الصحوی میتودونو د کارولو په برخه کې لارښونه کړېده چې ددې ډول مرستو څخه د 900 تنو څخه زیاتو بزګرانو ګټه اخیسې ده.
- د PRT په ساختماني پروژو کې یې د ۱۰۰۰ تنو څخه زیات روز مزد کار ګران په کار ګمارلي دي. کار ګرانوته د اونۍ په اساس پیسې ورکړل شوي دي.
- د سرخاب د اوبو بند یې بیا رغولۍ دۍ چې د لوګر په ولایت کې یوا ځېنۍ بند دۍ.
- دوه روغتیایی کلینیکونه یې جوړکړي دي – چې رامنځته کول یې ډېر اړین وه

انځور ۳.۳۸

د لوګر ولایت

| | |
|---|---|
| اټکل نفوس: | 349,000 |
| په دې درې میاشتنې کې بریدونه: | 59 |
| د سواد کچه (2007): | مجموعي 21٪<br>نارینه 31٪، ښځینه 9٪ |
| د PRT سمبالونکی هیواد: | د چک جمهوریت |
| د PRT کارکوونکي: | 285<br>10 ملکي، 275 پوځیان |



یادونه: په بریدونه کې تر 2009\27\12 پورې مستقیم، غیرمستقیم، پیچلي، او د IED بریدونه شامل دي، لکه چې د CSTC-A لخوا راپور ورکړل شوي دي.

سرچینه: USAID، "لوګر"، انلاین وکتل شو 2010\14\1؛ د سیګار د معلوماتو پوښتنې ته د CSTC-A ځواب، 2010\4\1؛ MRRD، "لوګر: ولایتي پرولي"، 2007\10، مخ 8؛ د چک جمهوریت دولت، "د چک تر مشرۍ لاندې د ولایتي بیا رغونې ټیم په لوګر کې" انلاین وکتل شو 2010\13\1.




# اقتصادي او ټولنيز پرمختګ

د امريکا د ولسمشر ستراتيژي د ۲۰۰۹ کال د دسمبر په لومړۍ نيټه اعلان شوه، نوموړې ستراتيژي په دې ټينګارکوي چې د خوندي اوثبات لرونکي افغانستان لپاره اقتصادي پرمختګ يواړين توکی دی. د نوموړې ستراتيژي د پلي کيدو په موخه متحده ايالاتو د افغانستان د اقتصادي پرمختګ لپاره په سيمه ايزه کچه د خپلو ملکي مامورينو په شمير کې د رغنده زياتوالي تکل کړی دی. د ملکي مامورينو زياتوالی تر ډيره د کرهنې په برخه کې په کوم چې د ډيرئ افغانانو ژوند ولاړ دی راڅرخي.[314]

## اقتصادي وده

دا د افغانستان د اقتصادي حالت يو انځور او د هغه پرمختګ تازه حال وړاندې کوي چې د بنسټيزو خدمتونو په رسولو، د زراعتي جوړښت په بهترولو، او د خصوصي سکټور په زياتولو کې شوی دی. د افغانستان اسلامي جمهوريت د شميرنو مرکزي ادارې (CSO) ځينې اقتصادي شميرنې د دواړو لمريزو او زيږديزو نيټو پر بنسټ راټولې کړي دي. د بيلګې په توګه ۱۳۸۷ لمريزکال د ۲۰۰۸ کال د مارچ مياشتې او ۲۰۰۹ کال د مارچ مياشتې ترمنځ راځي.[315]

د افغانستان ټولټال ناخالص کورني توليدات (GDP) په ۲۰۰۸\۲۰۰۹ کلونو کې او د افغانستان کرنيز محصولات د وچکالۍ له کبله په ټيټه کچه بنودل شوي دي، ولې دا به په ۲۰۰۹\۲۰۱۰ کال په لړکې هيواد کې د وچکالۍ د له منځه تلو په صورت کې بيرته خپل لومړني حالت ته راوګرځي. د شميرنو مرکزي اداره اټکل کوي چې د افغانستان اقتصاد د ۲۰۰۸/۲۰۰۹ کلونو په لړ کې ۲،۳٪ وده کړې – نوموړې کړنې ښايي چې د طالب ټلوالې تر پرځولو وروسته تر ټولو کمزورې کړنې وي او حتی د ۲۰۰۷\۲۰۰۸ کلونو د ۱۶،۱٪ ودې څخه هم لږه وده ده.[316] نړيوال وجهې صندوق (IMF) شميرنې ښايي چې ورته بهير هم د ۲۰۰۸ کلنۍ وده ۳،۴٪ ښايي، او له پرتلې څخه يې څرګنديږي چې په ۲۰۰۷ کال کې ۱۲،۱٪ وده کړې ده.[317]

د افغان ملي محصولاتو له يو پر دريمه برخې زياته برخه کرکيله جوړوي.[318] نړيوال بانک اټکل کوي چې د باران ډيروالی به په افغانستان کې درمندونه زيات کړي او د ۲۰۰۹ کال د کرکيلې موسم به د افغانستان اقتصادي ودې ته د ليدو وړ پرمختګ ورکړي.[319] د افغانستان د کرنې، اوبو لګولو اومالدارۍ وزارت (MAIL) وړاندوينه کوي چې په ۲۰۰۹ کال کې د افغانستان د غذايي کرنيزو محصولاتوکچه ۶.۳۱ميليونه ټنو ته رسيدلې ده.[320] نړيوال بانک راپور ورکوي چې د کرنيزو محصولاتو نوموړې کچه به د افغانستان په ناخالص کورنيو توليداتو په وده کې ۱۰٪ او يا هم تردې زياته ۲۰۰۹/۲۰۱۰ کلونو کې د پام وړ پرمختګ راولي.[321] د متحده ايالاتو د خزانې وزارت وايي چې د افغانستان GDP به د ۲۰۱۰ کال په پای ته رسيدوسره ۱۵٪ وده وکړي.[322]

د افغانستان د قانوني اقتصاد بل برلاسی سکټور خدمات او صنعتي توليدات دي کوم چې د پرلپسې بيا ودانولو له بهرنۍ مرستې څخه د ودې په حال کې دی. د شميرو مرکزي اداره راپور ورکوي چې خدماتي سکټور د ۲۰۰۸/۲۰۰۹ کلونو په پير کې ۱۶٪ وده کړې ده، په داسې حال کې چې د صنعتي توليداتو وده ۷٪ اټکل شوې ده. ولې داسې بريښي چې په افغانستان کې د شخصي اوعامه سکټورنو پانګه

انځور ۳،۳۹

د GDP د ودې اندازه، 2009-2002 (فيصدي)




يادونه: شميرې په ګردۍ کولو اغيزمني شوي دي.

سرچينه: د افغانستان دولت، سي ايس او، "د ملي حسابونو جدولونه" آنلاين وکتل شو 2009\2\12.

اچونه راټيټه شوې ده. د شميرنو د مرکزي ادارې په وينا د کم قيمته پانګې اچونې فيصدي د GDP له مخې په ۲۰۰۷\۲۰۰۶ کلونو کې د ۳۳٪ نه د ۲۰۰۹\۲۰۰۸ کلونو په موده کې ۲۸٪ ته رالويدلې دی.[323] ۳،۳۹ انځور د ۲۰۰۲ څخه تر ۲۰۰۹ کال پورې د مجموعي ناخالص کورنيو توليداتو يا GDP وده ښايي.

> د ۲۰۱۰ کال د جنوري په ۱۳، نړيوال وجهي صندوق د افغانستان اقتصادي کړنو د شپږمې کتنې د لوړې د بشپړېدو او د ودې د اسانتيا (PRGF) ته په کتو سره د بشپړېدو خبر ورکړ. دوی دا موندلې ده چې افغان حکومت د ۲۰۰۹/۲۰۱۰ کلونو اقتصادي پلان په برياليتوب سره پلې کړی دی او پولي نورم يې ښکته ساتلی دی، لورامنيتي مصارف يې کړي دي، او نيرودې کم لګښت يې ساتلی دی، د نورو موخو په منځ کې. په پايله کې IMF د افغانستان اسلامي جمهوري دولت ته د نور ۸.۸۹ مليونه ډالرو د ورکولو خبر ورکړی او دا ټوله ورکړه د IMF لخوا افغانستان ته د PRGF ته په کتوسره ټولټال ۱۱۸.۵۳ مليونه ډالرو ته رسيږي.
>
> سرچينه: د IMF مطبوعاتي اعلاميه شماره ۴\۱۰، "د IMF اجراييوي ډله د افغانستان د اسلامي جمهوري دولت په اړه خپله شپږمه کتنه د لوړې د راکښته کيدواو اسانتياوو ودې ته په کتنه سره." ۲۰۱۰\۱۳\۱.

## پولي نورم، پولي واحد، او د راکړې ورکړې نرخونه

پولي نورم په افغانستان کې په کړکيچن حالت کې دی. خزانه راپور ورکوي چې پولي نورم په لويه کچه په ۲۰۱۰\۲۰۰۹ کلونو کې رالويدلی دی او علت يې د غذايي توکو د نرخ رالويدنه او محتاطانه اقتصادي پاليسي دي. ۱۲ مياشتنی پولي نورم د می ۲۰۰۸ کال له لوړې ۴۳٪ څخه منفي ۱۳٪ ته د ۲۰۰۹ کال په نومبر کې راکښته شوه. اصلي پولي نورم، د غذايي او نفتي نرخونو پرته، د نومبر ۲۰۰۸ کال له ۱۲٪ څخه د نومبر ۲۰۰۹ کال کې ۱۰،۶٪ ته راولويده.[324]

د نړيوال بانک پر وينا، د مياشتنۍ ګټې نرخونه د مارچ ۲۰۰۸ کال له لوړې ۱۶٪ څخه د ۲۰۰۹ کال د اګست په مياشت کې ۵،۶٪ ته راښکته شول.[325] د افغانستان مرکزي بانک (د افغانستان بانک) د افغانۍ له ثبات سره ډيره مرسته کړې ده او لامل يې د هميانۍ د راکړې ورکړې ساتنه د ۲۰۰۳ کچې په اندازه د امريکايي ډالر پر وړاندې دی، ولې وړاندې وروسته والی بياهم رامنځ ته کيږي.[326] د ۲۰۱۰\۲۰۰۹ کال کې مرکزي بانک بياهم د هميانۍ اندازه د GDP له نرخونو سره يو او يا هم ترهغه لږ ښکته ساتي او دا د نړيوال پولي صندوق سره په همغاړيتوب کې وړاندې وړل کيږي.[327]

## بانکداري

د سيګار د وروستنی درې مياشتني راپورله مخې د افغانستان بانکي سيستم په وروستيو کلونو کې د ستر پرمختګ په پړاو کې دی. د ۲۰۰۸ کال د مارچ څخه د ۲۰۰۹ کال تر مارچ پورې تجارتي بانکونوته دسپارل شوو پيسو اندازه دوه چنده شوې ده. دا اندازه له ۱.۱۸ بيليون ډالروڅخه نيږدې ۲. ۲۸ بيليونه ډالروته رسيدلې ده.[328] د ۲۰۰۹ کال د مارچ په مياشت کې د ټول هيواد په ۲۷ ځانګړو موقيعتونوکې ۱۴۷ بانکي څانګې د ټولو بانکي خدمتونو فعالې دي، او دا شميرې د افغانستان اولنی مالي پانګه اچونې دملاتړ د بانک (MISFA)لخوا اخستل شوې دي.[329]

د اولنيو مالي ادارو (MFIs) شميره هم مخ پرزياتيدوده. د مرکزي بانک د راپورله مخې نوموړې اداره د نورو تجارتي بانکونو په پرتله ۱۲ ځله زيات د مشتريانو باورله ځان سره لري.[330] د ۲۰۰۹

کال د مې د مياشتې وروستي مالومات ښيي چې د (MFIs) اداري په افغانستان کې تر ۴۵۰،۰۰۰ زيات مشتريان لري.[331] هلته په ډېر ه لويه پيمانه د مالي موسساتو د ودې لپاره امکانات شته: د MISFA په وينا يوازې ۲،۶٪ افغانان د سپما بانکي حسابونه لري.[332]

يو څواکمن بانکي سيستم له اقتصادي ودې سره ډېره مرسته کوي. د نړيوال بانک په وروستي راپور کې چې په افغانستان کې د پانګې اچونې په اړه ترسره شوی دی ښايي چې، د سروې شوو شرکتونو ۳۸٪ سلنه وايي مالي امکاناتوته نه لاسرسی د دوی پر وړاندې او کارونو د ودې لپاره سترخنډ دی.[333] په هرصورت، سروې موندلې ده چې د هغه شرکتونو شمير چې بانکي حسابونه پرانيزي د ۲۰۰۵ کال راپدې خوا په چټکۍ سره پرمخ روان دی. د سروې شوې شرکتونو له شمير څخه ۵۱٪ سلنه وايي چې دوی بانکي حسابونه لري اويوازې ۵٪ وايي چې له مالي موسساتو څخه يې قرضې اخيستې دي. شته پانګه په ځانګړې توګه له عوايدو څخه لاس ته راځي. د ښځو د سوداګرۍ چارواکو هم خبر ورکړی چې د پانګې نشتوالی د دوی پر وړاندې تر ټولو ستر خنډ دي.[334]

## کارموندنه

د سيګار د راپور له مخې، په هر ډول د افغانستان د کارموندنې په اړه لا تراوسه بشپړ معلومات په لاس کې نه شته، ولې د متحده ايالاتو د پرمختيا نړيواله اداره (USAID) وايي چې په افغانستان د بې کارۍ کچه شاوخوا ۴۰٪ ده.[335]

د خوراکي توکو کموالی د غبرګون پروګرام چې د د متحده ايالاتو لخوا د ښاري خلکو لپاره په کار اچول شوی دی، نوموړی پروګرام د اغيزمنو خلکو لپاره لنډمهالي کارونه پيداکوي. د ۲۰۰۹ کال د دسمبر په ديرشمه د متحده ايالاتو د همغږۍ مسوول د اقتصادي چارو د پرمختګ او د ناولو اوبو د پاکولو ځانګې د کابل ښاروالی د مسوولو ځانګو سره د کابل ښار لپاره د پاکوالي د يو نوي پرګرام پرانست ناسته وکړه. په لومړيو کې به نوموړئ پروګرام د کابل څه د پاسه ۳۰۰۰ اوسيدونکو لپاره لنډمهالي ژمني کارونه وټوکوي او دا به د هغه کساونوسره وي چې د خوراکي توکو د کمښت له ستونزو سره مخ وي. د نوموړي پروګرام موخه داده چې کابل ښار له ۸۰،۰۰۰ ميتريک ټنو کثافاتو څخه پاک کړي. USAID خبر ورکوي چې نوموړئ پروګرام د هغه ۶۰ مليونو ډالرو نغدي مرستې څخه ده د کوم پوسيله چې په سلګونو او زرګونو افغانانو ته لنډمهالي کارونه پيدا شي.[336]

په ټولو اقتصادي چارو کې د ښکيلو افغانانو د وړتياوو د پرمخ بيولو د چارو پر وړاندې يو له مهمو ننګونو څخه دی. د نړيوال بانک سروې (په ۲۰۰۹ کال کې خپره شوې) چې په افغانستان کې د پانګې اچونې د حالت په اړه ترسره شوې ده په ډاګه کوي چې د معلوماتي ټکنالوژۍ کمښت او د ظرفيتونو روزنه په هيوادکې د خصوصي سکتور او کارموندنې پروړاندې سترخنډونه دي. د سروې له مخې د هغو شرکتونو شمير چې له بريښناليک څخه د چارو پرمخ بيولو کې ګټه پورته کوي د ۲۰۰۵ کال راپدې خوا دوه ځله زيات شوي دي؛ په هر صورت، د سروې شوې شرکتونو له شمير څخه له ۱۰٪ کمو شرکتونو له انټرنيټ څخه ګټه پورته کوله. له هغه شميرو څخه نيږدې نيمايي يې خپلې خدمتي چارې په هره مياشت کې د ۵۰ ساعتونو لپاره ځنډولې وې(۱۳ سلنه او يا تر هغه څه زيات) د ډېر لږو شرکتونو راپور ورکړل شوی دی چې له تکنالوژي څخه ګټه اخلي او دا هم د بهرنيو خداماتي کمپنيو لخوا ورته اجازت ليکونه ورکړل شوي دي.[337]

د هغه هڅو له برخې څخه چې د ښځو لپاره د کار موندنې په ډګر کې رامنځ ته شوي دي. USAID په ننګرهار کې د پوهنتون ۳۵ ښځينه زده کوونکو ته د معلوماتي ټکنالوژۍ روزنه ورکړې ده چې دا شميره د ننګرهار پوهنتون د ټولو ښځينه محصلينو نيمايي برخه تشکيلوي.[338]

## اړين خدمتونه

اړينو خدماتو ته په لاسرسي کې له افغانانو سره مرسته د افغانانو لپاره د ښه هيواد جوړونې او روښانه

**د IMF د وروستي راپور له مخې، هغه افغان بانکونه چې کورنيو مشتريانو ته قرضې ورکوي تر ډيره به له زياتو قضايي او غيرسنتي قراردادونو د پلي کولو له امله**
**له ډيرئ سيستماتيک خطرسره لاس اوګريوان شي.**

سرچينه: IMF کاري اسناد، ۰۹\۱۵۰ دبيليوپي راپور، "په افغانستان کې د تجارتي بانکې سيستم پرمختګ: خطرونه او لاس ته راوړنې،" ۲۰۰۹\۷، مخ ۱.

**د ۲۰۰۸ کال د سپتمبر څخه د نومبر مياشتې پورې، نړيوال بانک په يولسوافغان ښارونو کې د ۱،۰۶۶ خصوصي سکتور**
**د موسساتو په سروې کې د خصوصي سکتور د پرمختګ او د کارموندنې حالت ځارلی دی.**
**نوموړې سروې په ۲۰۰۹ کال کې خپره شوه او د هغو هڅو يوه برخه وه د کوم پوسيله چې بايد په افغانستان کې د خصوصي سکتور د ودې اړخونه وڅيړل شي او شته فرصتونه او ننګونې په ګوته شي.**

سرچينه: نړيوال بانک، "د افغانستان د پانګه اچونې حالت په ۲۰۰۸ کال کې،" ۲۰۰۹\۲۰\۱۱. مخ vi.

راتلونکي لپاره تر ټولو مهم ټکی دی. د نوموړې ټولګې يوه برخه راپور ورکوي چې په دې وروستيو کې ديرئ افغانان برېښنا، ښوونې اوروزنې، تګ او راتګ او روغتيايي خدمتونو ته لاسرسی لري. دا برخه د کرهنې پر زياتوالي او د کرهنې پر وړاندې پر شته خنډونو ټينګار کوي. د نوموړو څو د ليدو وړ ټکي د کچکي د بند بيارغاونه ده، اوله شمال څخه د يوې نوې اکمالاتي موادو د لارې پيلول، پر ښوونځيو د بريدونو په شميره کې زياتوالی، په کرهنيزو پيداوارو کې بيا پرمختګ او موسمي بارانونه، او د کرهنيزو چارو د ډلو کړنې د ملي څارنې د مرکز پوسيله.

## برېښنا

لکه څرنګه چې د سيګار په درې مياشتنی راپور کې راغلي دي، د افغانستان د برېښنا په اړه د کره مالوماتو لاس ته راوړل ډير ستونزمن دي، ولې په هرصورت دا تر ډيره امکان لري چې له تاريخي پلوه شميرې لاس ته راوړو. د سيګار د ۲۰۱۰ کال د شميرو له مخې چې د افغانستان د برېښنا په اړه ترسره شوې دي، له ۱۷۷۸ نه تر ۲۰۰۲ کال پورې جګړو او بې ثباتی د افغانانو لاسرسی برېښنا ته يو پر دريمه راښکته کړ.[339] او له ۲۰۰۱ کال څخه تر ۲۰۰۹ کال تر سپتمبر پورې، که څه هم متحده ايالاتو او نورو مرسته کوونکو هيوادونو د افغانستان شته برېښنا له ۴۳۰ ميګاواټو نه ۱،۰۲۹ ميګاواټو ته لوړه کړې ده.[340] د سيګار د راپور له مخې د امريکا نړيوال پرمختيايي پروګرام يا USAID راسآ د ۱۹۹ ميګاواټه برېښنا په زياتولو کې مرسته کړې ده چې افغان برېښنا د توليد نيرډې ۲۰٪ برخه تشکيلوي.[341]

د ۲۰۰۹ کال په سپتمبر کې، د افغان انرژۍ معلوماتي مرکز اټکل وکړ چې نيږدې ۱۵٪ ښاري کورنۍ او نيږدې ۶٪ کليوالي کورنۍ له برېښنا څخه برخمنې دي. که څه هم پرمختګونه تر کار لاندې دي خو داسې برېښي چې افغانستان به دې خپلې هغه ملي پراختيايي ستراتيژۍ (ANDS) موخې ته ونه رسي په کوم کې چې د مارچ ۲۰۱۰ کال پورې ۶۵٪ ښاري کورنۍ او ۲۵٪ کليوالي کورنۍ له برېښنا څخه برخمنې شي.[342]

د سيګار شميرنې وړاندې ښيې چې افغان حکومت د هغه ظرفيتونه له نشتوالي سره مخ دی کوم چې وکولای شي اړين عايدات راټول او وړ کسان د دندو د پرمخ بيولو لپاره وګماري، دبرېښنايي توليد شته سيستم ورغوي او پرمختګ ورکړي.[343] د افغانستان ټول عملياتي ظرفيت لکه څرنګه چې په ۳.۴۰ انځور کې ښودل شوی دی څه دپاسه ۶۰٪ ټولټال اټکل شوی دی.[344] د نوموړې مسلې په پر ښپړو جريياتو پوهيدو لپاره کولای شی دوهمې برخې ته سر ورښکاره کړئ چيرته چې د سيګار شميرې د کابل د برېښنا د بټی د پرمختګونو، ننګوونو او د شته ظرفيتونو په اړه ترسره شوې دي.[345]

افغانستان بياهم د ډيزلي برېښنا پرتوليد تکيه دی کوم چې ډير په لوړه بيه تماميږي، ولې نه په هغه ارزان بيه بديل سيستمونو لکه طبيعي ګاز او يا هم د برېښنا واردول.[346] د سيګار د ۲۰۰۹ کال د جولای مياشتې په مهالنې راپورکې ويل شوې هغه لومړنی لاره چې نوموړې ستونزې ته د متحده ايالات او يا مرسته کوونکي هيوادونه د پای ټکی کيږدي هغه د شمال ختيز برېښنايي سيستم (NEPS) رغاونه ده. تر ډيره به نوموړی سيستم د هغه زيربناو په چمتو کولو راڅرخي د کوم په وسيله چې به برېښنا له شمالي ګاونډيو هيوادونو افغانستان ته راواردېږي.[347]

د برېښنايي اکمالاتو پر وړاندې ستره ننګونه بې امنيتي ده. د بيلګې په توګه USAID هڅه کوي چې د کچکي د برېښنايي بند پر دوه توربينونو باندې دريم توربين هم ورزيات کړي کوم چې په لومړيو کې نوموړی بند د متحده ايالاتو لخوا په ۱۹۵۰ کې رغول شوی وو. که چيرته نوموړی هايدرو پاور لرونکې بند ورغول شي نو دا به د افغانستان په زيربنايي تاريخ کې تر ټولو ستر ګام وي او د کندهار او هلمند ولايتونو څه د پاسه يو نيم ميليون اوسيدونکو ته به برېښنا ورکړي.[348]

شته دوه اصلي توربينونو له جملې څخه يې دوهم د ۲۰۰۹ کال په اکتوبر کې رغاول شوی دی او د توليد لپاره چمتوشوی دی، او ديرشو کلونو راپدې خو د برېښنا د توليد تر ټولو ستړې کچې ته رسيدلی دی.[349] ايساف راپور ورکړ چې دريم توربين هم د ۲۰۰۸ کال د سپتمبر په مياشت کې د ځواکونو په بدرګه سيمې ته وليږدول شو. د نوموړی توربين په ليږدولو کې ۴۰۰۰ افغان ملي او نړيوالو ځواکونو

د نړيوال بانک د سروې له مخې چې په افغانستان کې د پانګه اچونې په اړه ترسره شوې ده. ۶۶٪ د شرکتونو د برېښنا نشتوالی د دوی د کارونو د لمن د پراخوالي پر وړاندې ستر خنډ ګڼل شوی دی. ۵۷٪ ويلي دي چې دوی شخصي جنراتورونه استعمالوي، او ورته شميرې وايي چې دوی له خصوصي سکتور څخه برېښنا په بيه رانيسي. د برېښنا کټوالی ستونزې تر ډيره له ملي برېښنا سره تړلې وې: دوه پر دريمه برخه د دغه شرکتونو ويلي چې يوې مياشتې په لړکې د هغوی برېښنا ۲۳ ځله د ۱۱ ساعتونو لپاره کټ شوې ده. د برېښنا د کټ کيدو له امله اوښتې زيانونه د خرڅلاو د ۹٪ سره مساوي دي. د کابل او جلال اباد کې سروې شوو شرکتونو تر ټولو ناوړه عامه برېښنا ته لاسرسی درلود.

سرچينه: نړيوال بانک، "د افغانستان د پانګه اچونې حالت په ۲۰۰۸ کال کې،" ۲۰۰۹\۲۰\۱۱ مخونه ۱۹، ۳۰-۳۲. 19, 30–32.

انځور ۳.۴۰

دملي انرژۍ ظرفيت (ميګاواټ)




نصب شوی ظرفيت (1،028.5 ميګاواټه)

په کاراچول شوی ظرفيت: ( 621.4 ميګاواټه)

يادونه: شميرې په ګردی کولو اغيزمنې شوې دي.

سرچينه: د سيګار پلټنه 4-10، "دافغان برېښنا سکتور،" 1\15\2010، مخ 7.

لکه برتانيي، متحده ايالاتو، کاناډا، ډنمارک او استراليايي ځواکونو ګډون کړی وو.[350] ډيری لويي نظامي بدرګي ته اړتياوه ځکه چې په سيمه کې ياغيان ول، او همدا رنګه د ځمکنيو ماينونو خطر هم شته وو.[351] د ۲۰۰۹ کال په دسمبر کې د متحده ايالاتو له سفيرسره په مرکه کې ويل شوي چې د دريم توربين ځای پرځای کول ترهغه ځنډيدلی دی چې د ساحې شاوخوا سرکونه بايد پاخه کړای شي ترڅو اړين توکي ساحې ته په اسانی سره وليږدول شي.[352]

## ترانسپورټيشن

په افغانستا ن کې لومړنی د ټګ او راټګ شبکه چې د افغانستان لوی ښارونه يوله بله سره نښلوي حلقوي سړک دی. د USAID د معلوماتو له مخې د ۲۰۰۹ کال د سپتمبر په دريشمه نيټه د نوموړي سړک ۱۸۶۶ کيلومتره برخه چې ٪۸۶،۴ برخه جوړوي بشپړ شوی دی. پاتې ۲۹۲ کيلومتره (٪۱۳.۶) اټکل شوی دی چې په ۲۰۱۱ کې پای ته ورسيږي. متحده ايالاتو ۸۳۱ کيلومتره سړک پخولو سره مرسته کړې ده او ۷۱۶ کيلومتره خپله د USAID پوسيله بشپړ شوی وو او ۱۱۵ کيلومتره سړک په ګډه د USAID او د عربستان د شاهي حکومت په مالي ملاتړ بشپړ شوی دی.[353]

په ټګ راټګ کې تر ټولو مهمه مرحله ۲۰۰۹ کال کې بشپړه شوه: د متحده ايالاتو ځواکونو يوه مهمه ترانزيتي لاره د غيرنظامي موخو لپاره تاسيس کړه او دا به تر ډيره د سوداګری لپاره په کار ويوړل شي. دا لاره د شمالي ويشني د شبکې په نوم ده (NDN) چې په ۳.۴۱ انځور کې ښودل شوی ده.[354] د متحده ايالاتو د ترانسپورټي اداري له مخې، د متحده ايالاتو بيرغ لرونکي سوداګريزي وسيلې به د وداني‍زو چارو په موخه د ساختماني توکو ليږد له نوموړي لارې ترسره کوي.[355] دری لارې دي NDN

د نړيوالو ستراتيژيکو څيړونو مرکز (CSIS) د وروستي راپور له مخې، د شمال ويشونکي ترانزيتي لاره به د يوې نوې وريښم لارې په بڼه له اقتصادي ودې سره مرسته وکړي، او د افغانستان او د هغه د ګاونډيو هيوادونو ترمنځ به قانوني سوداګريزې اړيکې لاغښتلې کړي.

سرچينه: CSIS، "د شمال ويشونکي شبکه او افغانستان: د سياسی جغرافيې موقيعت فرصتونه او ننګونې. جنوري، ۲۰۱۰، مخ ۹.

انځور ۳.۴۱

د شمال ويشونکي شبکه




سهيلي واټ　شمالي واټ　دقزاقستان، قرغزستان او تاجکستان واټ

سرچينه: CSIS، د شمال ويشونکي شبکه او دوربينمونوی لاره، 2009\12 مخونه 11-9.

د سړکونه هم د ليږد راليږد لپاره، سړکونه، داورګاډي پټلۍ او د پخواني شوروي اتحاد پوسيله جوړشوو نظامي نښانونو او برخو څخه هم کاراخستل کيږي کوم چې په کال ۱۹۸۰ کې جوړشوي دي. د شمال ويشونکې شبکه د متحده اياالاتو ځواکونو لپاره يوبل بديل دی چې ګټه ترې واخلي ځکه چې د پاکستان له سرحد راتيريدونکې لاره ډيره نا امنه ده.[356]

## ښوونه او روزنه

لکه څرنګه چې د سيګار په وروستني درې مياشتني راپورکې راغلي دي، تشدد او د تشدد سره تړلو خطرونو په افغانستان کې د ښوونې او روزنې پر وړاندې ولې په ځانګړې توګه د نجونو د ښوونې او روزنې پر وړاندې ستر خنډونه جوړوي. د ۲۰۰۹ کال د دسمبر په مياشت کې پاملرنې په افغانستان کې د ښوونې او روزنې پر وړاندې د پرتو خنډونو يوه بشپړه څېړنه خپره کړه. نوموړې سروې د نړيوال بانک او د افغان ښوونې او روزنې وزارت له پلوه د پاملرنې په وسيله ترسره شوې ده، موخه يې يوازې او يوازې دا وه چې پر افغان ښوونيزو بنسټونو، کارکوونکو او زده کوونکو باندې بريدونه په هراړخيزه توګه وڅيړل شي. په نوموړې سروې کې ۱،۰۳۷ مرکې شاملې دي او ۴۸۱۹ کسانو پکې ګډون کړی دی او په ۸ مهمو ولايتونوکې ترسره شوې ده.[357]

د پاملرنې د سروې له مخې، پر ښوونځيو، زده کوونکو او ښوونکو د بريدونه شميره په افغانستان کې د جنوري ۲۰۰۶ کال کې له ۲۴۱ نه خپلې لوړې کچې ۶۷۰ ته رسي د دسمبر ۲۰۰۸ کال کې.[358] په نوموړې پيرکې د بريدونو شمير ټولټال نيږدې ۱۱۵۳ ته ورسيده.[359] ښوونځيو ته اور ورته کونه د بريد لومړئ مهم ډول دی، ورپسې بمي بريدونه (له لاسي بمونو تر ماينونو او راکټونو پورې) ليکلي او شفاهي اخطارونه، بريدونه په زده کوونکواو ښوونکو او لوټول د بريدونو هغه ډولونه وو چې ترسره شوي وو.[360] تر ۱۰۰ زيات افغان زده کوونکي وژل شوي چې دا د پاملرنې لخوا دهغه ځايي څارنې او د يونيسف د معلوماتو د څيړنو په پايله کې لاس ته راغلي چې له کال ۲۰۰۰ د مې ۸ څخه تر ۲۰۰۹ کال مې پورې ترسره شوې شوي دي.[361] پاملرنې موندلې ده چې ۱۹٪ ښوونځي د نجونو زده کړې ته بيل شوي دي او ځلويښت سلنه د نجونو ښوونځي تر بريدونو لاندې راغلي دي.[362] USAID راپور ورکړی دی چې د ۴۱۵ ښوونيزو ساحو څخه په ټول افغانستان کې نيږدې ۲۰۰ ساحې هيڅ ښځينه ښوونکې نه لري.[363]

پاملرنې راپور ورکړی دی چې دولتي منظم ښوونځي تر ډيره د بريدونو ښکار ګرځيدلي دي ورته بريدونه پر ښوونځيو افغان حکومت دې ته اړ کوي چې ښوونځي وتړي، بيايې ورغوي، اوبيرته يې پرانيزي. د بيلګې په توګه د ۲۰۰۹ کال له مارچ نه ترجولای پورې په ټول هلمند کې اويا سلنه ښوونځي د تشدد او پرتو ستونزو له امله د زده کوونکو پرمخ تړل شوي وو. د افغانستان د پوهنې وزارت په دې وروستيوکې له هغه شميره ۱۰۰ ښوونځي بيا پرانستل.[364]

په وروستيو دريو مياشتو کې د ايتلافي ځواکونو د هڅو په لړ کې کوښښ وکړ چې په افغانستان کې پوهنيز بنسټونه خوندي وساتي او ښوونيزو چارو ته لا وده ورکړي. د ۲۰۰۹ کال په اکتوبر مياشت کې USAID د سردار کابلي د نجونو د ليسې لپاره د زلزلې پروړاندې د يو مقام تعمير د بنسټ ډبره کيښوده. له نوموړی درئ منزله او ۵۳ خونو لرونکی تعمير څخه به د کابل له ۴۰۰۰ څخه زياتې جينکۍ د لوست په موخه ګټه پورته کوي. نوموړی تعمير په افغانستان کې لومړنی ستر تعمير دی چې په نړيوالو معيارونو رغول شوی دی.[365] د ۲۰۰۹ کال له جولای نه تر اکتوبر پورې د متحده اياالاتو نړيوال پرمختيايي پروګرام د داخل خدمت ښوونکو لپاره يو ملي پروګرام په کار اچولی وو او په ۱۱ ولايتونوکې يې څه د پاسه ۱۵۰۰۰ ښوونکو ته د بشري زده کړې روزنه ورکړې ده. د هغه کسانو له ډلې څخه چې نوموړی پرګرام يې بشپړکړی دی ۲۷٪ يې ښځينه جوړوي.[366]

## روغتيايي خدمتونه

د افغان ملي پراختيايي ستراتيژۍ ستره موخه افغانانو ته د لومړنيو روغتيايي خدمتونو د

**په افغانستان کې ښوونه اوروزنه په ځانګړې توګه د افغان دولتي سيستم پوسيله وړاندې کيږي، چې په دې کې د افغانستان اسلامي جمهوري دولت د ټولنيزو ښوونځيو له مخې وړاندې کيږي (نيږدې ۴۰۲۱ درسي خونې جوړوي) او منظم دولتي ښوونځي (نيږدې ۱۰۷۱۴ درسي خونې جوړوي). پر دې سربيره د ګوتو په شمير افغان شخصي ښوونځي په ښاري سيموکې رغول شوي دي. پر لاره پرتو ستونزو سربيره د افغانستان د پوهنې وزارت د ۲۰۰۱ کال له ۹۰۰۰۰ څخه په ۲۰۰۸ کال کې ۶.۱ ميليونه زده کوونکي په خپلو ښوونځيو .کې راجستر کړي دي**

سرچينه: پاملرنه، "پوهنه په اورکې: په افغانستان کې د پوهنې خلاف بريدونه، ۲۰۰۹\۹ مخ ۶. د نوموړې راپور هغه شميرې د افغانستان د پوهنې وزارت د پلان دڅانګې لخوا ترسره شوې.

اسانتياوو برابرول دي. نوموړې موخې ته د رسيدو لپاره USAID د افغان عامه روغتيايي پروګرام سره ۷۲ ميليونه ډالره مرسته د ټول افغانستان په کچه کړې ده، او دا مرسته د هغه تړون له مخې ترسره کيږي چې د افغان حکومت د عامې روغتيا وزارت، د ماليې وزارت او لسو غيرحکومتي انجوګانو سره د کال ۲۰۰۹ د نومبر په څلورمه نيټه لاسليک شو. نوموړی قراداد به په ۱۲ ولايتونو کې ۴۶۲ روغتيايي اسانتياوې او ۴۰۰۰ روغتيايي مرکزونه په کارکونکو سمبال کړي او وبه يې رغوي.[367]

د کال ۲۰۰۹ د نومبر په مياشت کې افغان اولسمشر د متحده ايالاتو د مرستيال سفير سره يو ځای په هيواد کې د فلج د واکسينو کمپاين پرانست په نوموړي کمپاين کې به له پنځو کالو ټيټ عمر لرونکي ماشومان د فلج او نورو ناروغيو پر وړاندې واکسين شي.[368] USAID راپور ورکړی چې لا تر اوسه کره شميرې په لاس کې نلري چې څومره افغان ماشومان د پوليو او نورو ناروغيو پر وړاندې د واکسينو پوسيله واکسين شوي دي. د بيلګې په توګه، USAID دا خبره ياده کړه چې په ۲۰۰۹ کال کې د افغان عامې روغتيا د پوليو پر وړاندې د واکسين شوو ماشومانو شمير ٪۹۵ بنودلی دی او ٪۸۳ يې د نورو شپږو ناروغيو پر ووړاندې واکسين شوي دي. د ۲۰۰۷\۲۰۰۸ کال د ملي خطر او اغيزمنتوب بررسي (NRVA) اټکل کوي چې په ۲۰۰۷\۲۰۰۸ کلونو کې د افغان ماشومانو ٪۳۷ د اوو ناروغيو پر وړاندې واکسين شوي دي. په ۲۰۰۷ کال کې USAID خپله ځايي سروې ترسره کړه او ويې موندل چې ٪۳۳ ساحه د واکسينو تر پوښښ لاندې ده. USAID په ډاګه کوي چې د نوموړو شميرو تر منځ ناانډولتوب د سروې د ميتودونو د حساب له مخې تفاوت کوي. د افغانستان د عامې روغتيا وزارت له والدينو څخه اجازه اخلي، ولي د ملي خطر او اغيزمنتوب د څار اداره له والدينو څخه د واکسين کولو يو کارت ته اړتيا لري.[369]

USAID او نور نړيوال مرسته کوونکي هيوادونه پر دې کار کوي چې کره او پر وخت شميرې د افغانستان لپاره راټولې کړي ترڅو دوی وکولای شي په ښه توګه پروګرامونه تر کار لاندې ونيسي. په وروستيو دريو مياشتو کې USAID راپور ورکړی چې د زيرون په اړه د روغتيايي سروې ساحوي کار به چې د سيګار په تيرو درئ مياشتني راپور کې ورکړل شوی وو ۲۰۱۰ په پسرلي کې پيل شي، او اټکل شوی دی چې ۲۰۱۰ کې به دا سروې بشپړه شي او دا سروې به د سيګار له وروستی دريو مياشتو وړاندې پای ته ورسيږي.[370]

## اوبه او د ګنده اوبو د لېږد سيستم

متحده ايالاتو د افغانستان د اوبو لپاره يوه نوې ستراتيژي په کاراچولي ده چې په راتلونکو پنځو کلونو کې به نوموړې ستراتيژي په افغانستان کې د اوبو پر سرچينو او د هغې په مديريت باندې راوڅرخي. د DoS له مخې به پر څو هدف لرونکو بندونو باندې تمرکز وکړي او په افغانستان کې به اوبو لګولو او د اوبو پر مديريت باندې راڅرخي نه د خوراکي توکو په څو کسيزو پروژو باندې.[371]

USAID راپور وکړی چې په ۲۰۰۹ کال کې به CERP د ٪۳ بوديجې د پاکو اوبو د پروژو لپاره ځانګړې شي، او ٪۴ يې کرهنيزو پروژو ته ځانګړې شوې ده چې يو څه به يې اوبو لګولو باندې هم ولګول شي.[372]

## صنعت او د شخصي سکتور پرمختګ

لکه څرنګه چې د سيګار په وروستني درئ مياشتني راپور کې راغلي وو، په افغانستان کې د خصوصي سکتور د پرمختګ پر وړاندې پراته خنډونه په کمزورې دولتداري، نا انډوله بريښنايي شتون، د ځمکې د ګروئ مسلې، او د مالي اعتبار په نشتوالي، جرمونو او همدارنګه په اداري فساد پورې تړلي دي. ولي په هرصورت سره SCO راپور ورکړی چې په افغانستان کې شخصي سکتور (کرهڼه، رغاونه

**افغان ماشومان د پوليو او شپږو نورو ناروغيو پر وړاندې واکسين شوي دي: تورټوخي، نري رنځ، سرخکان، تيتانوس، ديفتري او انفلوينزا.**

سرچينه: USAID، ۲۰۱۰\۵\۱ د سيګار د معلوماتو پوښتنې ته ځواب.

او سوداګريز شرکتونه) مخ پر ودې دي، حتی د يو وړوکي بنسټ په کچه هم مخ پروړاندې ځي.[373] د نړيوال بانک د ۲۰۰۹ کال د سروې پوسيله منل شوی هم دی، او زياتوي چې افغان خصوصي سکتور د دولتي، امنيتي، او سرچينو د ننګونو سربيره هم د پرمختګ په ځواکمن حالت کې پرمخ روان دی.[374]

نوموړې سروې په ډاګه کوي چې د افغان حکومت د پاليسيو په پلي کولو کې ناتوانه دی او کړکېچن قوانين لاتراوسه د پرمختګ پروړاندې ترټولوستر خنډ دی.[375] ولې بيا هم په پايله کې نړيوال بانک زياتوي چې د شته ننګونو سربيره هم د افغان شرکتونو د ګټې اندازه زياته ده، ولې د نوو شرکتونو راميدان ته کيدل مخ پرکمزوري کيدودي.[376] همدارنګه بهرنی مستقيمه پانګه اچونه کمزورې ده.[377] ۳.۱۲ جدول کې د سروې مهم ټکي په ښه توګه ښودل شوي دي.

# زراعت

## اوسنی بهير

کرهڼه د ډيرئ افغانانو په کورني عايد او کورني ژوند کې رغنده رول لري، او تر ډيره په موسمی او ژمني واوره او بارانونو پورې تړلی دی. د متحده ايالاتو د کرهڼې وزارت (USDA) له مخې درمندونه او اقتصادي پرمختګ په افغانستان کې کال تربله د ليدو وړ تفاوت کوي.[378] ۳.۴۲ انځور په افغانستان کې له ۲۰۰۲ کال نه تر ۲۰۰۹ کال پورې په افغانستان کې د غله ايزو کروندو ټولټال توليدات ښيي.

د CSO د راپورونو پر بنسټ له ۲۰۰۷\۲۰۰۸ نه تر ۲۰۰۸\۲۰۰۹ کلونو پورې د افغانستان د کرهنيزو توليداتو بيه نيږدې ٪۱۷ کښته رالويدلې ده او لامل يې په افغانستان کې د درمندونو کمښت د وچکالۍ له امله ښود ل شوی دی.[379] د متحده ايالاتو د کرهڼې وزارت راپور ورکړی چې په افغانستان

جدول ۳.۱۲

| له هغو ټاکل شويو ستونزو سره چې د افغانستان د خصوصي سکتور شرکتونه مخ شوي دي | | |
|---|---|---|
| **ستونزه** | **بيلګه د سروې له ځوابونو څخه** | **سيمييز توپيرونه** |
| د حکومت لخوا د پاليسۍ کمزورې پلي کول | • بشپړ ٪۷۰ د پاليسۍ کمزورئ پلي کول په ګوته کړی دی. لکه د دولت ناتواني چې اغيزمني پاليسی راډګر ته کړي او په ښه توګه يې پلي کړي او د پرمختګ پر وړاندې تر ټولو ستر خنډ همدغه ټکی دی.<br>• يوازې ٪۱۴ ويلي دي چې د دولتي چارواکو پوسيله قوانين تر پښولاندې شوي دي.<br>• تر ټولو مهمه انديښنه داوه چې د هغه ژمنو ناکامي چې اجازت ليکونو او ځمکې ته دلاسرسي په اړه ورکړل شوي وې. | د هيڅ ډول مهمو تغيراتو راپور نه دی ورکړی شوی |
| د اړيني ځمکې نشتوالی د پرمختګ لپاره | • له هغه شمير څخه چې هڅه يې کړې چې ځمکه لاس ته راوړي نيږدې ٪۶۸ يې د ځمکې په لاس ته راوړلوکې پاتې راغلي دي.<br>• مهم لاملونه: د دولت لخوا د ځمکې نه پلورل، د ځمکې لوړه بيه، د ښې او وړ ځمکې په لاس ته راوړلو کې ناکامي، د مجرمينو ډلګی او يا هم په بدو پورې تړلې ستونزې.<br>• دځمکې لاس ته راوړلو لپاره، په منځنی توګه ۱۹۲ ورځې په کاردي چې رسمي کار يې پای ته ورسي او همدارنګه د ودانولو د اجازه ليک لپاره ۸۸ ورځې په کار دي چې تر څو د ودانيزو چارو اجازه ترلاسه کړي. | په مزار، کندهار او جلال اباد کې ډير لږ شمير شرکتونو ځمکې ته لاسرسی مهم لامل په ګوته کړئ دی ولې په کابل کې دا شميره تر ټولو لوړه ده. |
| پراخه بډې | • ځواب ورکوونکو ويلي دي چې د خپلې ګټې ٪۲ يې د چارو د ترسره کولو لپاره په غيررسمي توګه په بډو کې ورکړې دي لکه شريني اوداسې نور.<br>• ځواب ورکوونکو ويلي دي چې د شيريني ورکول چارواکو ته اوس يوه عامه خبره ده، په تيره بيا د اجازه ليک د چارو په ترسره کولو او يا د هغه په لاس ته راوړلوکې، د بريښنا لاس ته راوړل، د ودانيزو چارو اجازه، او يا هم اوبو ته لاسرسی د مالیي کتنې او اجرا په وخت کې.<br>• د بډو اندازه د صنعتي سکتور په تفاوت سره تغيير کوي، په دې کې ساختماني شرکتونه تر نورو وړاندې دي: څه د پاسه ٪۶۰ ودانيز شرکتونو راپور ورکړی چې اداري فساد د دوی لپاره ستره ستونزه ده. | د بيلابيلو سيمو ترمنځ د ليدو وړ توپيرونه او په هغه کې د بډو ورکولو د اندازې معلومول: د بيلګې په توګه په ډيرئ هغه شرکتونو کې چې په کابل، هرات او جلال اباد کې سروې شوي وايي چې اداري فساد د دوی پر وړاندې تر ټولو ستر خنډ دی. |
| جرم | • په هرو لسو شرکتونو کې يو ويلي دي چې دوی د غلا، ورانکارۍ، شوکو او بريدونو له امله زيانمن شوي دي.<br>• ٪۳۶ شرکتونه په خپله ځان ته امنيت ټينګوي.<br>• د خونديتوب په بدل کې پيسي دولت اويا هم نظامي چارواکو ته ٪۶ راپور ورکړل شوی وو. | د جرمونو له پلوه په هرات، کندهار او کابل کې د سروې شوو شرکتونو سرټکونه تر ټولو لوړه وه ولې په مزارشريف او جلال اباد کې دا شميرې بيا ډيرې ښکته ښودل شوې دي. |

سرچينه: نړيوال بانک، "د افغانستان د پانګه اچوني حالت په ۲۰۰۸ کال کې،" ۲۰۰۹\۲۰\۱۱ مخونه ۱۹، ۲۲، ۲۹-۲۵، ۴۲. 19, 22, 25–29, 42.

"د متحده ایالاتو
لپاره کرهنه په افغانستان کې د
غيرنظامي
اولويتونو په سر کې ده."

-د متحده ایالاتو د کرهنې وزير
ټام ويلساک

سرچينه: د بهرنيو چارو وزارت، "د متحده ایالاتو د کرهنيز سيستم پروګرامونه په افغانستان کې، اوسيمې ته په مخ کې پروت سفر،" ۲۰۰۹\۷\۱ آنلاين وکتل شو ۲۰۱۰\۱۰\۱.

کې د درمندونو او غنمو چې د خوراکي توکواصلي عنصر دی په هغه پيرکې ۵۵٪ راښکته شوی دی. ۲۰۰۹ کال د مارچ په لومړيو کې، په هرصورت اړينې باراني هوا دافغانستان د غنمو د کرکيلي سيموته دخوښئ پيغام ورکړ.[380] دې سره په افغانستان کې د خوراکي توکو د توليداتو لپاره نوې هيلې راوټوکولې. ۳.۴۳ انځور په افغانستان کې د هغه نباتی ګیاوو اندازه ښايي چې په ځمکو کې کرل شوي د مي ۲۰۰۸ کال په پرتله په مي ۲۰۰۹ کال کې، کله چې باران د کرکيلو سيمو باندې خپله لمن وغوړوله.[381]

د بارانونو په پايله کې، په ۲۰۰۹ کال کې د خوراکي توکو د کرکيلي توليدات ۶،۳۱ ميليونه ميتريک ټنوته وختل او دا معلومات دي MAIL لخواورکړل شوي دي. نوموړې د ۲۰۰۸ کال په پرتله

انځور ۳.۴۲

دغلي توليدات له 2002 تر 2009 پورې (ميليون ميتريک ټن)




يادونه: شميرې په ګردئ کولو اغيزمني شوي دي. د غلو اندازه د اوبو شوو او باران په اوبو د رسيدلو غنمو، ماشينی وريجي، مميزاو اوټکول شوې غلې.

سرچينه: MAIL، د کرهنې د وړاندوينې راپور، 9\8\2009، مخ 4؛ 2002-2009 او نوموړي مالومات د FAO\WFP لخوا د کرهنيز ماموريت لخوا ورکړل شوي دي او د MAIL د 2005 نه تر 2009 کلونو د مالوماتو پر بنسټ.

انځور ۳.۴۳

د نباتي ودې لاربنود، 2008-2009




يادونه: دنباتي ودې د لاربنود عادي تفاوت، د متحده ایالاتو د کرهنې وزارت له سټلايټي تصويرونو راټول شوي دي، داتصويرونه د نباتي ودې فزيکي بڼه د ځمکې پرسر ښايي.

سرچينه: د متحده ایالاتو د کرهنې وزارت د کرهنې دباندينيو خدمتونه، د محصولاتو مالوماتي راپور، "د افغانستان کرهنيز د غنموتوليدات به په 2009\2010کې خپل اصلي حالت ته راګرځي"، 1\10\2009.

۷۳٪ زياتوالی ښيي او د طالبانو له دورې وروسته په هيواد کې درمندونه ډېر زيات ول.[382] د د افغانستان د زراعت، مالداري او اوبه رسولو وزارت د سروې له مخې د کورني مصرف اندازه ۶.۵۳ ميليون ټنه اټکل شوې ده، خو سره له دې ۲۲۰،۰۰۰ ميليون کمبود شوو ته نوره هم اړتيا شته چې هغه هم له غذايي مرستې څخه پوره کيدای شي.[383]

د درمندونو په زياتوالي سره، د غنمو او وريجو نرخونه رالويدلي دي، ولې نرخونه يوتربل ولايت پورې ډېر توپير کوي. په شمالي ولايتونو کې د زياتو غنمو د شتون له کبله د غنمو نرخونه ډېر ټيټ دي، ولي بلخوا په مرکزي او جنوبي ولايتونو کې غلې کمې دي او د غنمو نرخونه ډېر لوړ دي. د خوراکي توکو نرخونه د افغان اقتصاد په پرمختګ کې رغنده رول لري: په ۲۰۰۷ او ۲۰۰۸ کلونوکې د NRVA ځيرنو پر بنسټ ويل کيږي چې د دې کلونوپه پيرکې ۷۷٪ افغان کورنيو خپل عوايد په غذايي توکو لګولی دی.[384]

د مخدره موادو او جرمونو پر ضد د ملګرو ملتونو اداره (UNODC) کوکنار په افغانستان کې د کرهنيزو توکو ترمنځ تر ټولو ګټور دی او په ۲۰۰۹ کال کې يې د غنمو د يو هکتار په پرتله درې چنده زياته ګټه درلوده. لکه د سيګار په تير درې مياشتنی راپور کې چې راغلي دي په ۲۰۰۹ کال کې د کوکنارو کرکيله او توليد راښکته شوی دی. UNODC راپور ورکوي چې په ۲۰۰۹ کال کې د نړيوالو هڅو په لړ کې د کوکنارو په ټولټال نرخ کې ۴۳۸ ميليونه ډالره کمښت راغلی دی.  دا د افغانستان د قانوني ناخالص کورني توليدات ۴٪ جوړوي چې دا په ۲۰۰۷ کال کې ۱۲٪ او په ۲۰۰۲ کال کې ۲۷٪ جوړوي. UNODC درې مهم ټکي د افغان هيروينو د نرخ په راټيټوالي کې په ګوته کوي: د ترياکو نا انډوله نرخونه، د کرکيلې بديل پروګرام، او له نورو کرهنيزو توکو سره د سوداګرو علاقه.[385] د زياتو معلوماتو لپاره د کوکنارو پر ضد برخې ته سر ورښکاره کړی.

> د UNODC د کال ۲۰۱۰ د جنوری د نولسمې نيټې په خپاره شوي راپور کې راغلي دي، په افغانستان کې د کوکنارو د له منځه وړلو پر ضد هڅو ته زور ورکول په هيواد کې د ټولنيز او اقتصادي پرمختګ لپاره ډېر مهم دی. راپور زياتوي چې د کوکنارو څخه لاسته راغلي پيسې په افغانستان کې کلتوري، ټولنيزې اړيکې زيانمنوي او د اداري فساد په پرمخ په ودې هيوادونکي ترلوړې کچې رسوي.
>
> سرچينه: UNODC، "په افغانستان کې اداري فساد: رشوت اخيستل لکه څنګه چې د قربانيانو لخوا راپور ورکړ شوی،" جنوري ۲۰۱۰، مخ ۴.

## د متحده ايالاتو غبرګون

متحده ايالاتو د افغانستان د کرهنې د پرمختګ لپاره يوه نوې ستراتيژي په پام کې نيولې ده او هڅه کوي چې د توليداتو په زياتوالي کې بنسټيز لوړوالی راولي. نوموړې ستراتيژي به د متحده ايالاتو د کرهنې وزارت او د متحده ايالاتو د نړيوال پراختيايي پروګرام د کرهنيزو ماهرو مامورينو لخوا له افغان حکومت سره په ګډه پرمخ يووړل شي.[386]

د متحده ايالاتو د کرهنې وزارت په وينا، د متحده ايالاتو د کرهنې وزارت په افغانستان کې ۵۴ کرهنيز ماهرين په خدمت بوخت دی او لس نور افغانستان ته د تلو لپاره چمتووالی نيسي.[387] د متحده ايالاتو د کرهنې وزارت په پروژو کې لاندې توکي شتون لري:[388]

- د بادي ژرندو نصبول د مالدارئ او ځمکو د خړوبولو لپاره
- د وترنرانو روزنه چې پرازيتونه په ښه توګه سره پيدا کړي
- په پوهنتون کې د کرهنې څيړنيز لابراتور پرانستنه
- د سيندونو او د اوبو لګولو د کانالونو رغول
- د درمندونو څخه د ساتنې د اسانتياوو برابرول
- د له منځه وړل شوو باغونو بيا رغاونه
- ولايتي کرهنې مسولينو ته د زده کړه ورکول ترڅو کروندګر د ځنګلونو او ونو ايښودلو هڅو ته زور ورکړي

پردې سربيره د متحده ايالاتو د کرهنې وزارت خبر ورکوي چې ۵۰ تنه افغانانو ته يې په متحده ايالاتو کې تر ثانوي لوړې کرهنيزې زده کړې په خپلو ښوونځيو کې ورکړې دي.[389]

د ۲۰۱۰ کال د جنورۍ په ۱۲ د متحده ايالاتو د کرهنې وزارت د ۲۰ ميليونه ډالرو مرستې خبرداری ورکړ او دا پيسې به MAIL ته په واک کې ورکړل شي چې د ظرفيت جوړونې پروګرامونه پرمخ بوزي. دا پيسې به MAIL ته د هغه اهدافو اړوند مشروط ورکول کيږي چې په افغانستان کې باید کرهنيز توليداتو

ته وده ورکړي، اوبو لګولو ته زور ورکړي، کارونه ومومي، او په افغانستان کې نوې کرهنيزه ټکنالوژي په کار واچوي. پردې سربيره، MAIL بايد د موضوعاتو په اړه بشپړه روښانتيا واچوي.[390]

په ۲۰۰۸ کال کې د متحده ايالاتو ځواکونو افغانستان ته د کرکيلي ټيمونه واستول.[391] له هغو ډلو څخه يې پنځه ډلې په افغانستان کې په خدمت کولو بوختې دي.[392] نوموړي ټيمونه به د افغان کرهنې مامورينو او افغان کروندګرو ته روزنه ورکړي چې د خاورې د حاصلخيزی لارې چارې، د غنمو توليد، د ميوو توليد، ځنګلونه، مالداري او د باغونو ساتنه ورته په ګوته کړي.[393]

USAID راپور ورکړئ چې له ډېرو ترلاس لاندې پرګرامونو سره چې د کرهنې د زيربناوو په موخه په افغانستان کې ترسره کيږي مرسته کړې ده. کوم پرګرامونه چې د کرهنې او مالدارۍ د روزنې په موخه ترسره کيږي، او د افغان کرهنې د توليداتو لپاره صادراتي اسانتياوې رامنځ ته کوي. USAID اداري راپور ورکړی چې هغوی پلان لري نيږدې ۱۰۰۰ مامورين په ټول افغانستان کې د کرهنيزو پروژو د پرمخ بيولو لپاره په کار واچوي.[394] د يو پروګرام په لړ کې چې د وردګ او پکتيا ولايتونو د باغ لرونکو لپاره په کار اچول شوی وو، باغ لرونکو ته د مڼو په ساتنه، شکولو، برابرولو او په يخچالونو کې د ساتلو په اړه د مڼو د کميت او کيفيت په اړه روزنه ورکړل شوه. USAID د هغه ارزونې مالي ملاتړ هم وکړ د کوم پوسيله به چې افغاني مڼې د هند بازار ته د خرڅلاو په موخه مخه ومومي. په پايله کې، د ۲۰۰۹ کال په نومبر کې د لومړي ځل لپاره له افغانستان څخه صادرې شوې مڼې دهند په بازارونو کې د خرڅلاو په موخه راښکاره شوې.[395]

د يو بل پروګرام په لړکې، USAID يو شمير افغان شپنو ته د خرڅلاو لپاره د لوړ کيفيت لرونکو وژغونو د توليد تخنيکونه وروښودل شول. USAID د ۲۰۰۹ کال د اکتوبر د ۲۴ نيټې معلومات ښيي چې نيږدې ۱۷۱۴۱۶ وزې لرونکې شپانه د دوی له غوښتنو هاخوا روزل شوي دي. پردې سربيره، USAID د يو ملي شبکې د جوړولوهڅې کوي چې په سيمييزه کچه د وزو د وژغونو سوداګرو ظرفيتونه وروزي چې د افغانستان وژغونې بهرني مارکيټ ته لاره ومومي.[396]



**د کنړ ولايتي بيارغاونې ټيم کارکوونکې** د يوې وزې د واکسين کولو پرمهال، تر ۴۶۰ زياتې وزې د وترنرۍ په کلينيک کې په وريا واکسينو واکسين شولې. د کلينيک د يوې برخې په توګه، ۸ کروندګور ته د نوموړي تګلارې د پرمخ بيولو لپاره روزنه ورکړل شوه. (د متحده ايالاتو ځواکونو انځور، بريدمن بين بايسويرت)

# دافغانستان اقتصاد ته لنډه کتنه

د سړي په سر د ناخالص کورنيو توليداتو په حساب، افغانستان د ۲۲۹ هيوادونو په منځ کې په ۲۱۹ درجه راځي کوم چې د نړۍ تر ټولو غريبو هيوادونو په شميره کې حسابيږي.[397] په هرصورت د بهرنيو چارو وزارت په ۲۰۰۹ کال کې راپور ورکړی چې په افغانستان کې د طالبانو تر پرځولو وروسته ډير پرمختګونه شوي، د طالبانو په دوره کې د افغانستان زيربناوو، بنوونيز سيستم، د اقتصاد نورو برخو ته درونډ زيان ورسيد.[398] د نړيوال پولي صندوق له مخې د افغانستان اقتصاد له ۲۰۰۱ کال څخه راپديخوا د پرمختګ په پړاو کې دی که څه هم د وچکالی په کلونو کې ډير ټکنی مخ پر وړاندې روان وو.[399]

## سوداګري او کرهنه

له تاريخي پلوه افغانستان د جنوبي برخې د وريښمو د افسانوي لارې يوه برخه وو، له تاريخی پلوه نوموړی لارې مديترانه له چين سره دځمکني تجارت له پلوه نښلاوه.[400] افغانستان په مرکزي اسيا کې د توکو د ليږد رالیږد په ستر مرکز بدل شو.[401] او نوموړې اړيکې د جګړو او لسيزو کورنيو شخړو په پايله کې په کلکه زيانمني شوې. د افغانستان په ملي پراختيايي ستراتيژی کې نوموړې لارې ته افغان حکومت لخوا ځانګړی ارزښت ورکړل شوی او د هغې د بيا راژوندي کيدو هوډ يې کړی.[402] د افغانستان په ملي پراختيايي ستراتيژی کې د انرژۍ په ستراتيژی کې راغلي دي چې افغانستان د هند بحر او کسپين بحيرې سره چې د طبعی ګازو شتمنه سيمه ده ترمنځ پروت دی. نوموړی موقيعت له افغانستان څخه د يوې تيريدونکي لارې څخه برخمن کوي د کوم پوسيله به چې په سيمه کې توليديدونکي بريښنا د افغانستان له لورې جنوبي اسيا هيوادونو ته وليږدول شي.[403]

د افغانانو لپاره کرهنه د دوی د عايداتو تر ټولو ستره سرچينه ده. افغانستان په يو وخت کې په هغه پيمانه خوراکی توکي توليدول چې خپلې اړتياوې يې ورباندې پوره کولای شوی اوحتی نورو هيوادونو ته يې صادرولای هم شول. ولې کلونو جګړې اوکورنيو شخړو، او وچکالی د افغانستان کرهنيز سکتور ته لوی زيان اړولی دی. افغانستان اوسمهال د خپلو کورنيو اړتياوو د پوره کولو لپاره په بهرنی مرستي باندې ولاړ دی. له بل پلوه د بارانونو نشتوالی د کرهنې پر وړاندې تر ټولو سترخنډ دی اوهمدارنګه د اوبو لګولو له نوو لارو چارو، توکو، تخمونو، د کيماوی سرو او د مضرونباتاتو له دواوو سره د کرونډګرو نابلدتيا.[404]

د کوکنارو له کرکيلي څخه لاسته راغلي پيسي د خوارو افغان کرونډګرو لپاره د عايد ستره سرچينه ده. د کوکنارو پيسي د افغان کرونډګرو لپاره د قانوني کروندو په اندازه څو ځله زيات عايد لري په داسي حال کې چې د کوکنارو بيه ورځ په ورځ مخ پر لويدو ده.[405] د کوکنارو او د هغې د بديل په اړه د لانورومعلوماتو د پيدا کولو لپاره (د مخدره مواد پر وړاندي د مبارزې) برخي ته سر ورښکاره کړئ.

## خدمتونه او صنعت

له ۲۰۰۲ کال راپه دې خوا د بهرنيو مرستو سيلاو وکولای شول چې د صنعت او خدمتونو کچې ته ساه ورکړي نو لدې پلوه افغان اقتصاد ډير پرمختګ وکړ.[406] لکه څرنګه چې د سيګار په تير درې مياشتني راپورکې راغلي دي د خدمتونو برخه د افغانستان د ناخالص کورنيو توليداتو سره زښته زياته مرسته کوي.

افغانستان د توليداتو يو لوی سکتور لري. نړيوال بانک ويلي چې د بيلابيلو توليداتو له پلوه د سترو ستونزوسره لاس او ګريوان دی.[407] په توليداتو کې ترهرڅه وړاندې د کرکيلې، باغوانی، د حيواناتو توليدات، د وچو ميوو په شمول، د چرم توليدات، او په دې وروستيو کې د څښاک لکه د ميوو جوس او داسې نور توليدات شامل دي. منسوجات او اوبدل شوې غالۍ د افغانستان په توليداتو کې لوموړی ځای لري.[408]

د کانونو توليداتو د افغانستان له ناخالص کورنی توليد سره يوازې يو سلنه مرسته کړې ده.[409] ولې د افغانستان د ټېو کانونو راويستل به د افغانستان د اوږدې مودې اقتصادي پراختيا سره مرسته وکړي. د نړيوال بانک او متحده اياالاتو د جيولوجيکي سروې د ۲۰۰۴ کال دراپورله مخې.[410] له نورو ړانديي دوه مهم مس او د اوسپنې ډېرې دي.

**کرهنه، خدمتونه، او د افغان اقتصاد صنعتي سکتورونه**

| کرهنيز سکتور | د خدمتونو سکتور | صنعتي سکتور |
|---|---|---|
| د قانوني کرهنې اصلي کرکيلې عبارت دي له جوارو، وريجو، وربشي، غنم، سبزيجات، ميوې، او مغزباب. لوی صنعتي توکي عبارت دي له: پنبې، تنباکو، مدر، لوبيا، چغندر. افغانان همدا راز پسونه، وزې او کورني مرغان روزي او شيدې، پنير، مستې او نور توليدات د حيواناتو په ساتلو سره لاس ته راوړي. | د خدمتونو لويه برخه عمده او پرچون خرڅلاو دی، رستورانتونه اوهوټلونه، ترانسپورټيشن، اړيکې، ماليه، د کورونو پلورنه، ټولنيز، اجتماعي او شخصي خدمتونه او دولتي خدمتونه. | د صنعتي سکتور ستر ه برخه د کانونو ويستنه، د تنباکو توليد، منسوجات، کمياوې مواد، د ډبرو سکاره، بريښنا، ګاز، اوبه او بيا رغاونه. |

سرچيني: CSO، "د کرنو له پلوه ناخالص کورني توليدات،" انلاين وکتل شو ۲۰۰۹\۱۴\۱۲؛ د بهرنيو چارو و زارت، "شاليد يادابنتونه: افغانستان" مخ ۸، انلاين وکتل شو ۲۰۰۹\۲۹\۱۲؛ ، د سيګار د معلوماتو پوښتني ته د USAID ځواب، ۲۰۰۹\۵\۱۱.

د دې څواک پيژندلو په لړ کې د افغانستان اسلامي جمهوريت د عينکو د مسو دکان ويستلو قرارداد لاسليک کړ، چې نوموړی کان د نړۍ د مسو تر ټولو ستر کان دی. (د هغه ادعاوو په پایله کې چې چارواکي له يوې چينايي کمپنۍ سره په بډو تورنوي، د کانونو پخوانی وزير له دندې ګوښه کړای شو.) د افغانستان اسلامي جمهوريت د هغو هڅو په لړ کې د کوم پوسيله به چې د افغانستان د ډېرو سکارو تر ټولوستر کان حاجيګک لپاره اجازه ليک واخستل شي.[411]

د متحده ايالاتو جيولوجيکي سروې وايي چې افغانستان د قيمتي او نيمه قيمتي کانونو د ستري برخي درلودونکی دی، چې په هغه ډله کې زمرد، ياقوت، ساپير، لعل، لاپيز، سپاينل، اصله کهربا او زبرجد دي.[412] د افغانستان د کانونو وزارت راپور وکړی چې د جواهرو قيمتي ډېرې د افغان دولت په واک کې نشته، او ډېرې قيمتي ډبرې په غيرقانوني ډول له هيواد څخه قاچاق کيږي.[413] هغه نورې کانيزې سرچيني چې په افغانستان کې موندل شوې دي له سره زر، سيماب، سلفر، کروميت، ټالک، پتاس او ګرافايت څخه عبارت دي.[414]

د افغان او متحده ايالاتو يوې مهمې ګډې جيولوجيکي سروې د افغانستان په جنوب او لويديځ کې د سترو هايدروکاربني ذخيرو خبرداری ورکړی دی. د نوموړو ذخيرو اندازه ۴۴۶۷ مليارده کيوبيک فيټه اټکل شوې ده چې له غير طبيعي ګازوسره تړاونلري، ۰،۹۱ ميليون بيلره يې د طبعي ګاز مايعات، او ۲۱۵۵ ميليون بيرله يې له تخنيکي پلوه پاکيدونکي تيل په لاس راتلای شي.[415]

د طبيعي ګازو پرمختګ په افغانستان کې کومه نوې خبره نه ده، او د لومړي ځل لپاره دافغانستان د کان ويستلو هڅې په ۱۹۶۷ کې پيل شوې. په رښتيا چې افغانستان د ګټې لپاره په کال ۱۹۸۰ کې د ۳۰۰ ميليون ډالروپه ارزښت طبيعي ګاز پيرودو، کوم چې د ټول هيواد په کچه ټولټال ۵۶٪ د هيواد صادرات جوړوي. د دې طبيعي ګازو زياتره برخه تر ۱۹۸۹ کال پورې پخواني شوروي اتحاد ته ليږدول کيدل، ولې کله چې شوروي اتحاد له افغانستان څخه د وتلو تاج په سر کيښود نو په هغه کال نوموړو صادراتو ته د پای ټکی کيښودل شو.[416]

## د مالياتو عوايد

د نړيوال بانک د راپورونو له مخې په افغانستان کې زياتره اقتصادي فعاليتونه په غير رسمي سکتورکې ترسره کيږي، کوم چې د افغان دولت له مالياتي او قانوني لمنې هاخوا دي.[417] په پايله کې له دې پلوه افغانستان په نړۍ کې د GDP په حساب د مالياتو په راټولولو کې د سلنې په حساب تر ټولو وروسته پاتې هيواد دی.[418]

د متحده ايالاتو کانګرس ته په وروستی ناسته کې په افغانستان کې د متحده ايالاتو سفير کانګرس ته ويلي دي چې د افغانستان د ناخالص کورنيو توليداتو ٪۷،۷ ماليه جوړوي، او دا دې ټيټوعايدو هيوادونو په شمير کې دی د کوم چې ناخالص کورنی توليد له ٪۱۱ تر ٪۱۲ جوړوي. سفير وراندې زياته کړه چې د اداري فساد له کبله د نيږدې ټولټال مالي نيمايي برخه افغان حکومت لخوا خزانې ته نه ده استول شوې. د نامنظمه مالي ټولونې د پروګرام له کبله به افغانستان په بهرنيو مرستو باندې ولاړ وي تر څو خپل کاري پرګرامونه پرمخ بوزي.[419]

خزانې راپور ورکړی چې د افغانستان اسلامي جمهوريت د دې په هڅه کې دی چې د مالي ټولونې هڅې ګړندۍ کړي. د افغانستان اسلامي جمهوريت تر ډيره په سوداګرۍ او خرڅلاو په ماليه، د دندو، او د نورو سوداګريزو اړوند ماليات په عايداتو ولاړ دی. په کال ۲۰۰۹\۲۰۱۰ کې اټکل شوی ده چې په افغانستان کې به د مالي ټولونې کچه د لومړي ځل لپاره ۱ مليارد ډالروته ورسيږي.[420]



**د نوو بنسټيزو** اوبو لګولو د سيستمونو، او د کرکيلې د توکونه شتون به د کرهنې عايدات په بارانونو باندې اړوند کړي. (د متحده ايالاتو د څواکونو انځور، ماج ترای پرايس)

# د مخدره موادو پر ضد مبارزه

د دفاع وزارت په وینا د مخدره موادو قاچاق د افغانستان د امنیت او ثبات پر وړاندې یو ستر ګواښ بلل کیږي.[421] د ۲۰۰۹ کال د دسمبر په ۹ نېټه د متحده ایالاتو سفارت راپور ورکړی دی چې افغانستان د مخدره موادو د کر او قاچاق او په هیواد کې د فساد د شتون له امله یواځی پاته شوی دی.[422] د CRS په وینا، له دې امله چې د افغانستان اقلیم د مخدره موادو د کرلو لپاره ډېر مساعد دی او تر څنګ یې د خلکو د اقتصادی حالت د ښه والي لپاره کومه بله بدیله لاره نه په سترګو کیږي نو د بزګرانو لپاره د ښو عوایدو تر لاسه کولو په خاطر ګټوره منبع ګرځېدلې ده.[423] د راپور پدې برخه کې به د مخدره موادو د کر او قاچاق پر ضد د مبارزې د فعالیتونو په څرنګوالي او د هغو ننګونو چې د هغې په وړاندې شتون لري یادونه وشي.

## حالت

د UNODC سازمان د ۲۰۰۹ کال د دسمبر د میاشتې د راپور له مخې د ۲۰۰۸ کال څخه را پدې خوا د کوکنارو/ تریاکو کر کیله ٪۲۲ کمه شوېده چې یواځې ٪۱.۶ د کرهنې په ځمکه کې چې ۱۲۳۰۰۰ هکتاره کیږي کرل شوي دي چې د ۲۰۰۵ کال را هیسې تر ټولو کمه کچې را په ګوته کوي د تریاکو ٪۹۰ کرکیله د افغانستان په ۷ سهېلي ولایتونو کې ترسره کیږي. هلته د ترهګریزو پېښو او بې امنیتي لمنه زیاته غوړېدلې ده. په دې اساس ویلای شو چې په هیواد کې بې امني او د ترهګریزو پېښو شتون د تریاکو د کر او قاچاق سره نږدې اړیکې لري.[424] په ۲۰۰۹ کال کې د تریاکو د تولید کچې ٪۱۰ د ۲۰۰۸ کال د کچې څخه را کمه شویده ۶۹۰۰ متریک ټنو ته راکښته شوې چې د ټولې نړۍ د تولید ٪۹۵ جوړوي.[425]

## له کوکنارو پاك ولایتونه

د افغانستان د ملي پراختیا د ستراتیژي یو لنډ مهاله هدف په هیواد کې ببلابېل ولایتونه له کوکنارو پاک ولایتونه دي چې دا کار به د هغه په عوض کې بزګرانو ته د عایداتو د ترلاسه کولو ښه بدیل د برابرولو له لارې - لکه بزګرانو سره د ښو عایداتو د ترلاسه کولو لپاره د حلالو او ګټورو زراعتي پیداوارو په ترلاسه کولو کې مرسته او هڅونه - د پرمختیا شرایط برابرول دي.[426] د UNODC په وینا چې تر دسمبر ۲۰۰۹ پورې د افغانستان د ۳۴ ولایتونو څخه ۲۰ ولایتونه د تریاکو د کرکیلې څخه خلاص شوي دي. کاپیسا، بغلان، او فاریاب په دې وروستیو کې په دې ولایتونو کې شامل شوي دي په داسې حال کې چې د ننګرهار ولایت په ۲۰۰۸ کال کې د تریاکو کر څخه پاک و خو بیا هم په ۲۰۰۹ کال کې هلته ۱۰۰ هکټاره څخه په کمه ځمکه تریاک کرل شوي دي.[427] د راتلونکي صفحې ۳.۴۴ انځور په ټول هېواد کې د کوکنارو د کر حالت ښیي.

د ۲۰۰۹ کال د نومبر په ۲۳مه په کابل کې د متحده ایالاتو سفارت او د افغانستان حکومت د بزګرانو سره د مرستې د پروژو لپاره د هیواد په ۲۷ ولایتونو کې ۳۸،۷ میلیونو امریکایي ډالرو په برابرولو موافقه وکړ. نوموړي ۲۷ ولایتونه په ۲۰۰۹ کال کې د کوکنارو د کرلو څخه خلاص او یا یې د کرلو کچې د ٪۱۰ څخه زیاته راکمه شوې ده. د بېلګې په ډول د هلمند په ولایت کې د ۲۰۰۸ کال په تناسب د کوکنارو کرل ٪۳۳ راکم شوي دي او د دې ولایت بزګرانو سره د مرستې لپاره لس میلیونه امریکایي ډالره ورکول کیږي.[428]




"د کوکنارو په کښت کښې کلنیز لوړوالی او ټیټ والی د حالت ټول انځور نشی ښوولای. بریالیتوب به هغه وخت تر لاسه شی چې د افغانستان بزګران د قانونی او روا معیشت ته پایښت لرونکی لاس رسی بېدا کړی، همدارنګه د مخدره موادو قاچاق بند او خلک د ابتدايِ خدمتونو لپاره د بهو ورکولو ته اړ نه وي.

- انتونیو ماریا کوسټا،
د UNODC عمومي مسؤول

سرچینه: UNODC، "د افغانستان د افیونو سروي: دسمبر ۲۰۰۹،" مخ ۳.

**د کوکنارو د کر څخه خلاص حالت هغه حالت ته وايی چي په هغه کي دکوکنارو کرل بند شوی وی. خو د نورو غير قانونی توکو کرل، پروسس کول او قاچاق له کوکنارو څخه پاکو ولاياتو کي شتون لری.**

سرچينه: د بهرنيو چارو وزارت د عمومي پلټونکی دفتر، راپور نمبر MERO-A-10-02، "د مخدره موادو په ضد د مبارزي نړيوال دفتر او د قانون د تنفيذ د دفتر حالت
په افغانستان کي د مخدره موادو په ضد د مبارزي د پروګرامونو چاري: د کړنو پلټنه، ۲۰۰۹\۱۲، مخ ۱۱.

## د مخدره موادو پر ضد د افغانستان د امنيتي ځواکونو عمليات

د متحده ايالاتو او د دفاع وزارت په وينا د افغانستان د امنيتي ځواکونو له خوا د مخدره موادو پر ضد د مبارزی لپاره عمليات او اقدامات تر ټولو لومړی د مخدره موادو پر قاچاق کوونکو او مخدره موادو پر نيولو تمرکز لري. د OSD د راپور له مخي د ۲۰۰۹ کال د اکتوبر څخه د دسمبر تر مياشتي پوري د ائتلاف او افغان ځواکونو په دی هکله د هيواد په جنو ب کي ۲۳ پوځي عمليات ترسره کړي دي. پوځي ځواکونو د دی عملياتو په دروان کي لاندي ذکر شوي اندازه مخدره مواد او د هغه د پروسس کيمياوي - مواد نيولي دي:[429]

- ۸۷۰ کيلو ګرامه هيروئين
- ۱،۷ متريک ټنه مورفين

۳.۴۴ انځور

د کوکنارو د کرلو حالت د ولايت په اساس، 2009




يادونه: يو ولايت هغه مهال له کوکنارو پاک ګڼل کيږي چي تر 100 هکتاره لږ ځمکه باندی کوکنار کرل شوي وي.

سرچينه: UNODC، "د افغانستان د اپيمو سروي: دسمبر 2009، " مخ 12.



**افغان او نړیوال ځواکونه** د مخدره موادو په وړاندې عملیاتو ته دوام ورکوي چې هیروین او نور غیرقانوني توکي ونیسي او له مینځه یوسي. (UNODC انځور)

- ۱۶،۹ متریک ټنه افیوم
- ۹۸،۴متریک ټنه خشخاش (تخم)
- ۷ متریک ټنه تریاک
- ۱۲۸۳۲ لیټره استیک انهایدرس (هغه کیمیاوي مواد چې افیوم په هیروئین او مارفین بدلوي)

د افغانستان ملي اردو هم د متحده ایالاتو د پوځ سره د مخدره موادو د نیولو په عملیاتو کې ښه برخه اخیستې ده. د هلمند په ولایت کې د مخدره موادو پر ضد د مبارزې پولیس خپل څلور تر ټولو تکړه افسران د بهرني ځواکونو د نومړو توکو د لټون ټولي ته وروپېژندلي دي. همدارنګه OSD د راپور له مخې د افغانستان پولیسو د افغان د سروې د پولیسو د یونټ سره په ملګرتیا په ۲۰۰۹ کال د نومبر په میاشت کې د کندهار په ولایت کې ۶،۸ متریک ټنو چرسو د نیولو په عملیاتو کې فعال رول لوبولی دی.[430]
د اکتوبر په میاشت کې CRS راپور ورکړی دی چې د قاچاق کوونکو شتمنو ډلي افغان بزګران د کوکنارو کرلو ته هڅوي او د پیسو په واسطه خلک د مخدره موادو د کرلو د مبارزې بهیر پر وړاندې مقاومت ته هڅوي. د دې ګواښ سره د مقابلې لپاره د متحده ایالاتو پوځي ځواک د افغانستان د دفاع له وزارت سره یو ځای کار کوي تر څو داسې یو پوځي یونټ رامنځ ته کړي چې هغوی د مخدره موادو پر ضد د مبارزې د عملیاتو د ترسره کولو لپاره امنیتي چارې سمبال کړي.[431]
۳،۱۳ جدول د افغانستان د قانون د پلي کولو ځواکونه او پوځي واحدونه چې د مخدره موادو پر ضد د مبارزې په فعالیتونو کې برخه لري ښودل کیږي.

## د مخدره موادو پر ضد د متحده ایالاتو او نړیوالو اقدامات

د ایساف ځواکونو د ۲۰۱۰ کال د جنوري د ۸ مې نیټې د راپور له مخې د کندهار ولایت د میوند په ولسوالۍ کې د مخدره موادو د نیولو خبر ورکړ، چې په دې مخدره موادو کې ۵۳۰۰ پونډه پروسس شوي تریاک، د ۱۰۰۰ پونډو څخه زیات اومه تریاک او د ۵۰ پونډو په شاوخوا کې هیروئین نیول شوي دي.[432]

جدول ۳.۱۳

**له مخدره موادو سره د مبارزې او قانون د تنفیذ فغان پوځي خواکونه**

| ځواکونه | تشریح |
| --- | --- |
| د مخدره موادو سره د مبارزې پولیس - افغانستان (CNP-A) | دځېړنو او عملیاتو ځواکونو د مخدره موادو پر وړاندې د مبارزې عملیات د متحده ایالاتو او انګلستان د هیواد په ملاتړ پلان او په لاره اچولي دي |
| د نشه ایزه توکو د لېږدولو د مخنیوي ملي یونټ | په دې اړوند CNP-A په ټول هیواد کې د ناڅاپه عملیاتو د ترسره کولو مسؤلیت برغاړه اخلي |
| د څېړنو ځیرک یونټ/ د مخنیوي تخنیکي یونټ | د څېړنو له پاره د عدلي او قضایي سیستم پر بنسټ د صلاحیت لرلو له لارې د نشه ایزو توکو د کر او قاچاق د څایونو په هکله د شواهدو د راغونډولو مسؤلیت لري او دا کار د بېلابېلو میتودونو د کارولو له لارې تر سره کوي |
| د محو کولو لپاره د پلان جوړولو مرکزي څانګه (CPEC) | د کوکنارو د کروندو په نښه کولو پر مخ تللي ټکنالوژۍ او سروې کاروي او په ترڅ کې یې د مخدره موادو د محوه کولو د عملیاتو د بریالیتوب ارزونه کوي. |
| د کوکنارو د محو کولو ځواک (PEF) | د CPEC د معلوماتو د کارولو له لارې په کروندو کې د کوکنارو فصلونو له منځه وړي |
| د مخدره موادو پر ضد د مبارزې پیاده کنډک | د مخدره موادو د محوه کولو او نورو اړونده فعالیتونو د تر سره کولو لپاره د سیمې امنیت پر غاړه لري |
| د مخدره موادو پر ضد د مبارزې افغان ځانګړی ځواک | د زیات اهمیت لرونکو اهدافو او په لرې سیمو کې عملیات تر سره کوي |
| افغان سرحدي پولیس | د افغانستان د سرحدونو ساتنه کوي |

یادونه: یادونه: که څه هم له تخنیکي لحاظه PEF اوس هم شتون لري، INL د هغوی د ملاتړ لپاره بودیجه نه ورکوي.

سرچینه: CRS، CRS-RL32686، "افغانستان: مخدره مواد او د متحده ایالاتو تګلاره،" ۲۰۰۹/۱/۱۰، مخونه ۴۱-۳۹. Defense.gov، "سرتیري د افغان سرحدي پولیسو څارنه کوي،" ۲۰۰۷/۵/۱۲، آنلاین وکتل شو ۲۰۱۰/۱/۱۱.

د UNODC په وینا په ۲۰۰۹ کال کې د مخدره موادو پر ضد د مبارزې په فعالیتونو کې د دې توکو نیول، د پټو لابراتوارونو ویجاړول او د مخدره موادو د پروسس په موادو کنټرول شامل دی. د ۲۰۰۸ کال د اپرېل څخه د ۲۰۰۹ کال تر جولای پورې د ایساف او افغان ځواکونو د هېواد په ۷ ولایتونو کې د مخدره موادو پر ضد عملیات په لاره اچولي دي چې په دې عملیاتو کې لومړی د ننګرهار او هلمند ولایتونو ته زیات پام اړول شوی دی. د دې عملیاتو په ترڅ کې د مخدره موادو د پروسس ۱۷ لابراتوارونه د هلمند او ۸ یې د ننګرهار په ولایت کې ویجاړ شوي دي.[433]

د متحده ایالاتو د مخدره موادو سره د مبارزې په خاطر د افغانستان سره خپلې مرستې زیاتې کړې دي. د OSD په وینا د متحده ایالاتو د مخدره موادو پر ضد د مبارزې اداره DEA د افغانستان د مخدره موادو د یونټ سره د لارښوونو مرستې کوي او همدارنګه د متحده ایالاتو د بهرنیو چارو وزارت په دې برخه کې حمایتي رول لوبوي. د متحده ایالاتو د استخباراتو اداره هم د مخدره موادو د قاچاق په هکله معلومات برابروي سربېره پر دې د افغانستان پوځي ځواکونو او د قانون د پلي کېدو ځواکونو سره د پرمختیا په هکله اړینې مرستې کوي.[434]

## د تریاکو د تجارت پر ضد مبارزه

د افغانستان حکومت له څو اړخو څخه د تریاکو د ستونزو سره مخ دی. په دې ستونزو کې د تریاکو محوه کول، د تریاکو د تولید کوونکو لپاره د بدیلو پروګرامونو موندل، د خلکو د پوهاوي فعالیتونه او همدارنګه د خلکو د کاري ورتیاوو زیاتول ځای لري.

### د تریاکو محوه کول

د ANDS د هدف له مخې د ۲۰۰۷ کال څخه تر ۲۰۱۳ کال پورې باید ٪۵۰ د تریاکو د محوه کولو هدف تر لاسه شي.[435] په ۲۰۰۹ کال کې د UNODC په وینا په ۱۲۳،۰۰۰ هکتاره ځمکه تریاک کرل شوي و چې د هغې جملې څخه یوازې ٪۴ (۵۳۵۱ هکتاره) ځمکې څخه تریاک محو شوي دي. د ۲۰۰۷ کال راهیسې په ټولیزه توګه د تریاکو تولید ٪۳۶ را کم شوی دی.[436]



**د تریاکو د راغونډولو** لپاره د کوکنار هره غوزه په نشتر وهل کېږي او دهغې څخه دشیرې د راوتلو او وچېدلو څخه وروسته راټولېږي. (UNODC انځور)

**د CRS د وینا سره سم، د کوکنارو د محو کولو پروګرام**
**د لګښتونو له اړخه اغیزمن نه دی،**
**او د محو کولو فعالیتونه ډېر وخت غبرګون ښودلي**
**دی. د کوکنارو د بوټو له منځه وړلو لګښت په یوه**
**هکتار باندې ۴۴،۰۰۰ ډالر**
**اټکل کیږي.**

سرچینه: CRS، CRS-RL32686، "افغانستان: مخدره مواد او د متحده ایالاتو تګلاره،" ۲۰۰۹\۷\۱۰، مخ ۱۹؛ د متحده ایالاتو سفارت، "د افغانستان او پاکستان لپاره ځانګړی استازی ریچارډ سي هالبروک، پاکستان، افغانستان او برسلز ته د خپل وروستي سفر په اړه څرګندونې،" ۲۰۰۹\۲۹\۷، مخ ۳.

د UNODC د راپور له مخې په ۲۰۰۹ کال کې د امنیتي وضعې د خرابوالي له امله د مخدره موادو د منځه وړلو په لاره کې خنډونه رامنځته کړي دي. لکه څرنګه چې په ټول هیواد کې او په ځانګړې توګه په هغه ولایتونو کې چې په لوړه کچې کوکنار کرل کیږي، د مخدره موادو پر ضد د مبارزې فعالیتونه د امنیت د خرابیدلو له امله کم شوي دي. د هغو ولایتونو شمیره چې د مخدره موادو پر ضد مبارزه پکې روانه وه د ۲۰۰۸ کال کې ۱۷ او بیا په ۲۰۰۹ کال کې ۱۲ ولایتونو ته را ټیټه شوې ده. په ۳،۴۵ انځور کې د ۲۰۰۵ کال څخه تر ۲۰۰۹ کال پورې د مخدره موادو څخه د پاکو شویو علاقو فیصدي د ټولې ساحې په پام کې نیولو سره چې کوکنار پکې کرل شوي دي ښودل کیږي. د مخدره موادو د له منځه وړلو یا محو کولو د فعالیتونو د کمزورې یا سست پرمختګ له کبله په ټولیزه توګه په ډېره کمه اندازه ۵۸۴۰ هکتاره ځمکه چې په ۲۰۰۸ کال کې پاکه شوې وه په ۲۰۰۹ کال کې ۵۶۸۷ هکتاره ته راټیټه شوې ده.[437] د والي په مشرۍ په لاره اچول شوی د کوکنارو د له منځه وړلو پروګرام له ۲۶۷۸ هکتاره او د PEF له خوا ۲۶۶۳ هکتاره ځمکې د کوکنارو د فصل څخه د پاکولو مسئولیت پر غاړه درلود.

د UNODC د راپور له مخې د DoS په وینا د ۲۰۰۹ کال د دسمبر د ۳۱مې نیټې راهیسې په دې لاره کې د PEF لپاره ملاتړ بند شوی دی.[438] د کوکنارو د له منځه وړلو مسئولیت اوس د افغانستان حکومت پر غاړه اخیستی دی (د افغانستان لپاره د امریکا د متحده ایالتو د سفیر په وینا)[439] د ۲۰۰۹ کال د جون د میاشتې په وروستیو کې د امریکا د متحده ایالتو د کوکنارو د له منځه وړلو د کوښښونو پر ځای د نشه ایزه توکو/ تریاکو او د هغو د پروسس کولو د موادو د قاچاق مخنیوی او د هغې د پروسس د لابراتوارونو د له منځه وړلو او همدارنګه خلکو ته د کوکنارو د کرلو پر ځای د بدیلو کښتونو د موندلو په لور پام اړولی دی.[440] سره له دې چې د امریکا متحده ایالاتو د مخدره موادو پر ضد د مبارزې په فعالیتونو کې بدلون راوستی دی، د افغانستان حکومت به د GLE د پروګرام له مخې د یوه هکتار ځمکې د محصول لپاره ۱۳۵ امریکایي ډالره ورکړي. د دې پیسو ورکول به د ۲۰۱۰ کال د مارچ په میاشت کې صورت ونیسي.[441]




یادونه: شمیرې په ګردۍ کولو اغیزمنې شوي.

سرچینه: : UNODC، "د افغانستان د اپیمو سروي: دسمبر 2009، " مخ 49.

## د کوکنارو د کښت بدیل پروګرام

USAID د بزګرانو د زراعتي پیداوارو، د سوداګرو او حکومتي خدمتونو د برابرولو د ډلو فعالیتونو ته د پراختیا د ورکولو اړتیا پیژندلې ده. دغه پراختیایي پروګرامونه به نه یوازې د هغو ولایتونو لپاره وي چې کوکنار پکې کرل کیږي بلکه د ټول هیواد په سطح به پلي کیږي. [442] د ۲۰۰۹ کال د دسمبر د ۸ نیټې راهیسې د مثال په توګه ۳۰۰ تنه بزګرانو د لغمان او خوست په ولایتونو کې د کرهنې په هکله د زده کړو او روزنو کورسونه بشپړ کړي دي او د هغه څخه د ګټې د اخیستلو په واسطه یې د یوې خوا د کار ښه فرصتونه موندلي دي او له بلې خوا یې د کرهنیزو حاصلاتو کیفیت لوړ شوی دی.

سربیره پر دې د خوست ولایت په پنځو ولسوالیو کې ۱۵۰ تنه ښځینه او نارینه کسانو ته چې عمر یې ۲۵-۱۵ کلو پورې رسیږي د حشراتو کنترول څخه نیولې بیا د زراعتي پیداوارو لپاره د بازار موندلو تر مهارتونو پورې زده کړې ترلاسه کړي دي. په همدې ډول د نوموړو مهارتونو په واسطه یې ۲۵ نوې ګلخانې (د سبزیجاتو ګرمې کوټې او چوپالونه) پرانستي دي.[443] USAID په ۲۰۰۹ مالي کال کې ۱۶۰۰۰۰ څخه زیاتو بزګرانو ته د زراعتي پیداوارو د ښه والي، مالي منجمنټ، د کسب او کار مهارتونو او د زراعتي پیداوارو د ذخیره کولو په باره کې زده کړې او روزنې برابرې کړي دي.[444]



د والي په مشرۍ د کوکنارو د فصلونو له منځه وړول: د والي په مشرۍ د اړولو د پروګرام ملاتړ د مخدره موادو د ضد مشاورتي ټیم لخوا کیږي چې په هغو مهمو ولایتونو کې کوکنار واړوي چیرته چې تر ټولو زیات کرل کیږي

د کوکنارو د له منځه وړلو ځواکونه: د حکومت د کوکنارو د فصلونو د له منځه وړولو ملي ځواکونه

سرچینه: د بهرنیو چارو وزارت، "د افغانستان پروګرام ته بیاکتنه،" آنلاین وکتل شو ۲۰۱۰|۲۰|۱۱، د بهرنیو چارو وزارت، "د افغانستان پروګرام ته بیاکتنه،" آنلاین وکتل شو ۲۰۱۰|۲۰|۱۱.

د CIA د وینا مطابق کرهنه او مالداري د افغانستان د عایداتو مهمه منبع ګڼل کیږي: ۸۰٪ افغانان د کرهنې او مالدارۍ په کار بوخت دي د CRS د تازه راپور له مخې د افغانستان د ۳۱٪ GDP د تریاکو پرته کرهنه تشکیلوي.[445] د متحده ایالاتو د کرهنې وزارت د افغانستان د کرهنې د ملاتړ لپاره ۲۰ میلیونه ډالرو د ورکولو پلان لري، چې نوموړې وزارت دا خبره د ۲۰۱۰ کال د جنوري د میاشتې په ۱۲مه نیټه اعلان کړې ده.[446] په دې اړوند د زیاتو معلوماتو د ترلاسه کولو لپاره د اقتصادي او ټولنیزې پرمختیا برخه وګورئ.

د پرمختیا لپاره بدیل پروګرامونه د هېواد او د تریاکو د کښت او تجارت ترمنځ د اړیکو د پرې کولو ډېر مهم میکانیزم بلل کیږي. د USAID په وینا د بدیل پرمختیایي پروګرامونه د دوه ډوله اقداماتو پر بنسټ ولاړ دي، د CRS د راپور له مخې. لومړی اقدام، د هیواد په شمالي، لویدیځو او ختیځو ولایتونو کې د کوکنارو د کښت کمول دی. په دې ولایتونو کې د مرستو برابرولو موخه د مثبتو بدلونونو رامنځ ته کول دي. دویم اقدام د هیواد سهېلي او

ختیځو ولایتونو ته پام اړول دي. دغه اقدامات به د کرهنې د پرمختیا پرهغو فعالیتونو تمرکز لري چې په چټکۍ سره خپله اغیزه په هغو سیمو کې چې نوي د امنیت د نعمت څخه برخمن شوي وي، خپله اغیزه ښودلی شي.[447]

لکه څرنګه چې د CRS په تازه راپور کې راغلي دي USAID د بدیلو پرمختیایي پروګرامونو د پر مخ وړلو لپاره د هیواد شمالي، مرکزي او لویدیځو برخو سره مرستې ترسره کړي دي، چې دا مرستې به د اقتصادي پیاوړتیا او خوځښت د هڅونې د پروګرام (IDEA-NEW) له لارې ترسره کیږي. د دې پروګرام له لارې هڅه کیږي چې د مرستو له لارې د کرهنې سکتور پیاوړی شي او د هغې په واسطه د کوکنارو په کر کې تر زیاته حده پایښت لرونکی کموالی راشي. د هیواد په سهیلي او ختیځو سیمو کې د کرهنې مرستندویه پروګرام چې د ۲۰۰۹ او ۲۰۱۰ کال لپاره پیشنهاد شوی دی د ووچر په بنیاد د چټکو پایلو لرونکي پروګرام بدل کړي.[448]

د ۲۰۰۹ کال د دسمبر په میاشت کې د مخدره موادو پر ضد د مبارزې وزارت د کابل ولایت د شکردرې ولسوالی کې ۹ کیلومتره سړک جوړ کړی دی چې د جوړیدلو پیسې یې د GPI له خوا ورکړل شوي دي. دغه سړک د نوموړې ولسوالی د بزګرانو لپاره بازار ته د زراعتي پیداوارو په لیږدولو کې ډېره آسانتیا رامنځ ته کړې ده. په دې اړه د متحده ایالاتو د سفارت په وینا د نوموړې سړک د ګټو له برکته خلک نور د تریاکو د کرلو فکر هم نه کوي. [449]

## د عامه پوهاوي فعالیتونه

د مخدره موادو پر ضد د مبارزې وزارت اوس مهال د هیواد په ۲۶ ولایتونو کې د عامه پوهاوي کمپاین د دیني عالمانو په واسطه او د میډیا له لارې په لاره اچولی دی.[450] په دې هکله په ملګرو ملتونو کې د افغانستان د دایمي استازي په وینا د دغه کمپاین له لارې د افغانستان ۱۵میلیونو څخه زیاتو وګړو ته پوهاوي ور په برخه شویدی.[451] د افغانستان د حکومت د عامه پوهاوي استراتیژی، سیمه ایزې ټولنی او دیني عالمان هڅوي تر څو هغوی د حکومت له خوا د نشه ایزه توکو پر ضد د مبارزې د پالیسیو ننګه او ملاتړ وکړي. او همدارنګه په ټولنو کې د مخدره موادو د کارولو او تجارت څخه خلک دعامه پوهاوي له لارې منع کړي.[452]

د امریکا د متحده ایالتو د مخدره موادو او قانون د نفاذ د چارو د نړیوالو بیرو، د نشه ایزه توکو پر ضد د مبارزې وزارت کې د ظرفیتونو د لوړوالي راپور ورکړی دی، چې د ظرفیت دا لوړوالی د مخدره موادو پر ضد د مبارزې د عامه پوهاوي د کمپاین په پایله کې رامنځ ته شوی دی. د دې پروګرام ستر هدف د MCN د وړتیاوو زیاتیدل دي، تر څو نوموړی وزارت وکولای شي چې خپل د عامه پوهاې فعایتونه د ټول هیواد په سطحه پلان، سرمایه ګذاري او پلي کړي. په ځانګړې توګه په دې کمپاین د مني په موسم کې د کوکنارو کرلو څخه تر مخه زور واچوي، تر څو خلک د کوکنارو پر ځای د نورو حلالو غلو دانو کرلو ته وهڅوي. د دې پروګرام له لارې MCN وزارت د کرکیلي څخه وړاندې د کمپاین لپاره د سیمو لست د جوړولو وړتیا موندلای شي.  د INL په وینا، هغوی همدا رنګه د مخدره موادو په خلاف خپل پیغامونه هم جوړ کړي دي.[453]

## د ظرفیتونو لوړوالی

د INL په وینا په افغانستان کې د اوسني د نشه ایزه توکو پر ضد د مبارزې پروګرامونه د دې لپاره طرحه شوي دي چې د افغانستان په حکومت کې د ظرفیتونو لوړوالی رامنځ ته شي. د PFE پروګرام چې نور یې INL ملاتړ نه کوي د افغانستان د حکومت وړتیا یې د کوکنارو د له منځ وړلو د پروګرامونو د پلان او پلي کولو لپاره لوړه کړې ده. (د ۲۰۰۹ کال د کوکنارو د منځه وړلو د موسم تر پایه).[454] په اوسنیو پروګرامونو کې GPI/GLE او CNAT شامل دي.  د GPI/ GLE پروګرامونه په مالي چارو او عملیاتو په برخه کې د مخدره موادو پر ضد د مبارزې د وزارت د وړتیاو د لوړولو په موخه کار کوي. د دې پروګرامونو نهایي هدف د MCN په یوه داسي وزارت بدلول دي چې د نړیوالې په لږه لارښوونه او نظارت په ښه توګه خپلې چارې پر مخ بوزي. د INL د راپور له مخې دغه موخه د پرمختګ په لورې د ښلا بیلو اړخونو په کچې شوې ده چې اصلي لامل یې د کارمندانو د شمېر د محدودیت دي چې دیو شمېر کارونو د ترسره کېدلو څخه د پاته کېدلو سبب شوی دی. د نا ترسره شویو کارونو د شتون سره سره INL راپور ورکړی دی چې د MCN ظرفیت د پروژو د پلي کولو په خاطر زیاتوالی

د USAID ووچر پروګرام خلکو ته په چټکتیا سره مرستې رسوي.
دا ډول پروګرامونه د دولتي او خصوصي موسسو له خوا په هغو سیمو کې چې کوکنار یې له منځه تللي دي او امنیت یې د افغان او ائتلافي ځواکونو له خوا تآمین شوئ وي پلي کیږي.

سرچینه: CRS-RL32686، "افغانستان: مخدره مواد او د متحده ایالاتو تګلاره،" ۲۰۰۹/۱۷/۱۰، مخ ۴۴.

مونډلی دی. لکه څرنګه چې دا کچې دغتو پروژو د بشپړېدلو د اندازه کولو له مخې چې په ۲۰۰۸ کې په کچې شوي دي سره له دې هم MCN دټولو پروژو هدف چې په ۲۰۰۸ کال کې بشپړې شویدي نه دی تر لاسه شوی. ( د INL د راپور له مخې د ۲۰۰۹ کال د دسمبر د ۳۱ نېټې راهیسې). [455]

CNAT هلې ځلې کوي چې د MCN په ولایتی دفترونو کې د ظرفیتونو لوړوالی رامنځته کړي. ددې هلو ځلو اصلي موخه به د کابل څخه بهر په ولایتونو کې د MCN حضور ښوول وي. پدې اړوند د INL د وینا له مخې دا کوښښونه بریالي دي ځکه چې د MCN ټول کارمندان افغانان دی. پدې اړوند دوه نړیوال مشاورین د CNAT د فعالیونو د نظارت او لارښووني مسؤلیت پرغاړه لري تر څو پدې وسیله د پروګرامونو دوامدار بریالیتوب یقیني شي. [456]

## ننګوني

دمخدره توکو پرضد د مبارزې د فعالیتونو پروړاندې ځیني ننګوني لکه امنیتي ستونزه، فساد او د کوکنارو کر کیلې مالي ملا تړ او داسې نور شتون لری. پدې وروستیو کی د متحده ایالاتو د بهرنیو چارو وزارت د دفتر عمومي څارونکي یوه بررسی او ارزیابی تر سره کړه چې د هغې پواسطه یې دا خبره و مونډله چې په افغانستان کې د مخدره موادو د تجارت سره د مبارزې پروړاندې دامنیت او ثبات نشتوالی غټ او مهم خنډونه بلل کېږي. د کوکنارو کر کیله د هېواد په سهېلي برخو کې زیات عمومیت لري، کوم ځای کې چې هلته ترهګریزو بریدونو او د بې امنیتی کچې ډېره لوړه ده. [457]



**د افغانستان د بیا ودانولو لپاره ځانګړی پلټونکی** ارنلډ فیلډز د خپل وروستي سفر په دوران کې د مخدره موادو پر ضد د مبارزې د عدلي او قضایي مرکز څخه کتنه کوي . د مخدره موادو د څېړنو او ګروېږنو د دغه مرکز خوندیتوب د افغانستان له خوا تامین کېږي. (د سیګار انځور)

د نوموړې اداري بررسي او ارزيابی داهم موندلې ده چې په دولتي ادارو کې تر حده زيات د فساد خپرېدل هم د نشه ایزه توکو سره د مبارزې د مشن پر وړاندې ستونزې او خنډونه را منځته کړيدي. لکه څرنګه چې ددې هېواد د دولتداري په هکله راپور ورکړل شويدی، افغانستان د فساد د شتون له اړخه په ۲۰۰۹ کال کې دشفافيت د نړيوالي درجه بندي په لست کې د ۱۸۰ هېوادونو په منځ کې ۱۷۹ هېواد ښودل شويدی.[458] د DOS IOG د وينا له مخې افغانستان د مخدره موادو سره د مبارزې د مسئلو په هکله د مسؤليت او تعهد نشتوالی ښوولی دی . سر بېره پردې يې د مخدره موادو پر وړاندې د مبارزې د پروګرامونو د بريالیتوب مخه نيولې ده. د بېلګې په ډول:[459]

- د افغانستان د حکومت له خوا د کوکنارو د لمنځه وړلو د پروګرام انتخابی بڼه لري، داسې چې د سياسي پارټيو پورې تړلو خلکو/ بزګرانو پروړاندې د عمل ښودلو څخه ډډه کېږي.
- سرحدي پوليس او د ګمرک مسؤلين د مخدره موادو د قاچاق کوونکو پر وړاندې د عکس العمل ښوولو څخه وېره لري او کله نا کله داهم ويل کېږي چې ځيني وخت هغوی خاص نقليه وسايط او بارونه نه تلاشي کوي.
- ځيني وخت د جمهوري رياست دفتر هغه کسان او مجرمين چې د مخدره موادو سره په تړاو نيول شوي وي د هغوی د آزادېدلو سپارښتنه کوی.

سربېره پر دې د DoS IOG د راپور له مخې، دهغو پيسو د ورکولو اندازه چې د کوکنارو د کرلو په خاطر ورکول کېږي د هغو پيسو څخه چې د کوکنارو د بديل فصل يا کښت لپاره ورکول کېږي ډېرې زياتې وي. په افغانستان کې د يوه کس په سر د عايداتو اندازه په کال کې ۶۰۰ څخه تر ۷۰۰ امريکايي ډالرو پورې رسېږي. لاکن هغه کورنی چې کوکنار کري د هغوي د يوه تن عايدات په کال کې تقريباً ۶۵۰۰ امريکايي ډالره دي. د دې لپاره جه د کوکنارو بديل کښت د کوکنارو دکښت سره سيالي وکړي نو بايد يا يې د کرلو لګښت دهغه څخه کم او يا د نوموړي کښت حاصلات ډېر زيات وي( د يو هکتار ځمکې په نظر کې نيولو په تناسب). سربېره پردې بديل کښتونه د کوکنارو پرتله په ځنډ کې رسېږي. د DoS IOG په وينا يو زيات شمېر بزګران د کوکنارو د کرلو په صورت کې د احتمالي خطرونو سره د مخ کېدلو د ګواښ لږ اندېښنه لرى او له هغې څخه د زياتو عايداتو په تر لاسه کولو عادت شوي دي.[460]

په افغانستان کې د مخدره موادو د تجارت په اړوند د خلکو عادت کېدل يا امخت هم د دې توکو پر ضد د مبارزې د پروګرامونو اغېزه محدوده کړېده. سره له دې چې بزګران پوهېږي چې د کوکنارو کرل غير قانوني عمل دی او د اسلام له نظره هم حرام او ناروا دي خو بيا هم هغوي د اقتصادي ملحوظاتو او نورو دليلونو له مخې کوکنار کري.[461]

DoS IOG يوه عنعنوي غير رسمی مالي سيستم ته اشاره کوي چې د حواله يا حوالي په نامه يادېږي حواله دار- د پيسو د راکړې ورکړې کاروباريان- ځيني وخت د غير قانوني پيسو په لېږدولو کې فعاليت کوي. د DoS IOG د راپور له مخې د حوالي په سيستم د پيسو لېږدول ځيني وخت اندېښني رامنځته کوي دا ځکه چې د افغانستان ٪۸۰ پيسي د همدې سيستم له لارې لېږدول کېږي. د نوموړې اداري په وينا يواځې په کابل کې لږ تر لږه ۳۰۰ حواله چلوونکی کسان او نمايندګی شتون لري چې بيا دا نمايندګی دهېواد په هر ولايت کې خپل استازي لري. مخدره مواد په هيواد کې ډېر عايد لري او تجارت يې دېرې پيسي راکاږي.[462]

اوس مهال به د افغانستان حکومت د متحده اياالاتو د مخدره موادو پر ضد د مبارزې د کوښښونو د جاري ساتلو توان ولري، پدې هکله پوره ډاډ ندی تر لاسه شوی. DoS OIG په وينا که پدې اړوند د متحده ايالاتو مرستي بندې شي نو د افغانستان حکومت به د مخدره موادو پرضد د پروګرامونو په هکله د تصميم نيولو او پرمخ وړلو اړينه وړتيا و نه لري.[463]

هغه ۱۲۳۰۰۰ هکتاره ځمکه چې په ۲۰۰۹ کال کې کوکنار پرې کرل شويدی ٪۸۴ يې د هېواد په ډېرو نا ارامه سيمو کې لکه هلمند، کندهار، اروزګان، زابل او دايکوندي ولايتونه دي.[464] د UNODC په وينا د حکومت مخالفين د هېواد په لوېديځو سيمو کې ډېر فعال دي. د هېواد په سهېلي سيمو کې د کوره بيا ستر سنګره مخالفين شتون لري

**حواله:** د يوه ځاي څخه بل ځاي ته د تعرفي پواسطه د پيسو لېږدولو ته وايي

سرچينه: نړيوال بانک، "په افغانستان کې د مخدره موادو د قاچاق او حوالي تر منځ اړيکي،" آنلاين وکتل شو، ۲۰۱۰/۴/۱۱.

او د هېواد لوېديځې سيمې خو بياد د مخالفينو جال ګرځېدلي دي.[465]

د همدې ادارې په وينا د ۲۰۰۳ کال راهيسې د مخدره موادو اړونده پېښې کال په کال زياتې شويدي چې روښانه زياتوالی يې په ۲۰۰۹ کال کې رامنځته شوې دی او زياتره يې د کوکنارو د کښت د له منځه وړلو په تړاو رامنځته شوېدي. پدې اړوند د مقاومت له کبله په ۲۰۰۹ کال کې ۲۱ تنه وژل شوي دي او ددې جملې څخه زياته مړينه پوليسو ته اوښتې ده.[466] په ۲۰۰۹ کال کې د GLE او PEF پر وړاندې ۳۴ بريدونه تر سره شوي دي ، د کوکنارو د کښت د له منځه وړلو په مهال ډېر بريدونه د هلمند او قندهار په ولايت کې پېښ شوي دي. ۳،۴۶ انځور کې د ولايتو په اساس د نشه ايزه توکو اړونده بريدونه او تلفات ښوول شوي دي.

۳.۴۶ انځور

د کوکنارو د محو کولو په جريان امنيتي پېښې، د ولايت په اساس، 2009




يادونه: شميرې په ګردی کولو اغيزمنې شوي.

سرچينه: UNODC : "د افغانستان د اپيمو سروې: دسمبر 2009، " مخ 52.

**د سرک سروې**

افغان قراردادیان چې د USAID لپاره کار کوي د کندهار ولایت د ولسوالۍ د ټولنې په مشترک مرکز کې د سرک سروې کوي. USAID د سرک د لاښه کولو له پروژې مالي ملاتړ کوي چې سیمییز انفراسټرکچر تقویه کړي. (د متحده ایالاتو د هوایي ځواکونو انځور، ام سارجنټ جوان والډیس)

# 4 د نورو ادارو نظارت



# د نورو ادارو نظارت

په هرو دريو مياشتو کې د افغانستان د بيا رغوني عمومي پلټونکی (سيګار) له نورو دولتي سازمانونو غواړي، چې د څار ټول راپورونه، چې دوی بشپړ کړي او یا يې بشپړوي، د نومړي دفتر ته ولېږدوي. لاندې ورکړل شوي سازمانونه په افغانستان کې د نظارت فعاليتونه سر ته رسوي او نتيجه يې سيګار ته ورکوي:

- د دفاع وزارت د عمومي پلټونکی دفتر (DoD OIG)
- د بهرنيو چارو وزارت د عمومي پلټونکی دفتر (DoS OIG)
- د دولت د احتساب دفتر (GAO)
- د متحده اياﻻتو د پوځ د پلټنې اداره (USAAA)
- د نړيوالي پرمختيا لپاره د متحده اياﻻتو اداره د عمومي پلټونکی دفتر (USAID OIG)

## د نظارت بشپړ شوي فعاليتونه

۴.۱ جدول د بيا رغوني يا امنيت سره اړوند شپږ د نظارت پروژې راښيي چې په دې درې مياشتنی کې بشپړې شوي وې.

جدول ۴.۱

**تر ۳۰ دسمبر ۲۰۰۹ پورې، د متحده اياﻻتو د نورو ادارو د نظارت بشپړ شوي فعاليتونه**

| اداره | د راپور شميره | د خپريدلو نيټه | د پروژې عنوان |
|---|---|---|---|
| DoD OIG | D-2010-032 | 12/31/2009 | د دفاع وزارت د پرمختلليو چاوديدونکو موادو او ماينونو پر خلاف سيستمونو قرارداد |
| DoS OIG-MERO | MERO-A-10-02 | 12/7/2009 | په افغانستان کې د مخدره موادو پرضد د پروګرام مؤثريت |
| GAO | GAO-10-178R | 11/5/2009 | د افغانستان امنيتي چاپيريال |
| GAO | GAO-10-187 | 11/2/2009 | د احتمالي پيښي له پاره قرار داد کول: په عراق او افغانستان کې د قراردادونو او د قراردادیانو د پرسونل د اداري څارنه کې لا ډير ښه والي ته اړتيا ليدل کيږي. |
| USAID OIG | 5-306-10-004-P | 12/15/2009 | د USAID\ افغانستان د ملکي خدماتو د ملاتړ پروګرام |
| USAID OIG | 5-306-10-002-P | 11/10/2009 | د انرژي د سکتور د ځانګړو فعاليتونو پلټنه چې د USAID/افغانستان د انفراسټرکچر او بيارغوني پروګرام لاندې تمويل شوي |

يادونه: MERO = د منځنی ختيځ منطقوي دفتر.

سرچينه: د دفاع وزارت د عمومي پلټونکي دفتر، د سيګارد معلوماتو پوښتني ته ځواب، ۱۰\۰۵\۱۱؛ DoS OIG-MERO، د سيګار د معلوماتو پوښتني ته ځواب، ۱۰\۰۵\۱۱؛ GAO، د سيګارد معلوماتو پوښتني ته ځواب، ۱۰\۰۶\۱۱؛ USAAA، د سيګار د معلوماتو پوښتني ته ځواب، ۱۰\۰۸\۱۱؛ USAID OIG، د سيګار د معلوماتو پوښتني ته ځواب، ۲۰۰۹\۱۶\۱۲؛

## د نظارت روان فعاليتونه

د ۳۰ دسمبر ۲۰۰۹ پورې، دي ادارو ۳۱ د بيا رغوني يا امنيت سره اړوند د نظارت فعاليتونه تر کار لاندې لرل. دا فعاليتونه په لاندې برخو کې د هرې ادارې لپاره بيل ښودل شوي دي. د دې فعاليتونو تشريح هماغسي راغلي لکه څنګه چې سيګار ته سپارل شوی وي، او يوازې هغه تخنيکي بدلونونه پکې راغلي دي چې د دې راپور له نورو برخو سره يو شانته والي پکې راشي. مخففات او لنډوني د بشپړو

نومونو په ځای کارول شوی دی؛ معياري ليکدود او املا او انشا کارول شوي؛ او د لومړی شخص پر ځای دريم شخص بيارغوني کارول شوي دي. ۴.۲ جدول د نظارت روان فعاليتونه راښيي کوم چې د نورو دولتي ادارو لخوا د ۳۰ دسمبر ۲۰۰۹ پورې پرمخ بيول کيږي.

جدول ۴.۲

**تر ۳۰ دسمبر ۲۰۰۹ پورې، د متحده ايالاتو د نورو ادارو د نظارت روان فعاليتونه**

| اداره | د پروژې نمبر | د پيل نېټه | د پروژې عنوان |
|---|---|---|---|
| DoD OIG | D2010-D000JA-0091.000 | 12/9/2009 | په افغانستان کې د متحده ايالاتو د ځواکونو لپاره د ځواک ساتني پروګرام |
| DoD OIG | D2009-D000LC-0237.000 | 6/11/2009 | د عراق د آزادي د عملياتو او د تلپاتې آزادي عملياتو په ملاتړ کې د هوايي کارګو ترانسپورټيشن قراردادونه |
